د پښتو ادب لنډ تاریخ

د پوهنتون د دریم او څلورم ټولګیو له پاره

لیکوال
علامه عبدالحي حبيبي

Ketabton.com

۱۴۴۶ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو ژبې موقعيت د ژبو په وېش کې

د ايشيا په ژبو کې دوه قسمه ژبې په منځنۍ او غربي ايشيا کې سته:

۱. يوه ډله يې اروپايي يا هندو اروپايي بولي، چې په هند او افغانستان او ايران او ماوراء النهر کې ويل کېږي او په اروپا کې هم دغه ژبې سته، لکه لاتين، جرمني، انګرېزي، فرانسوي او نوري. دا ژبې اريايي له دې جهته بولي چې له پخوانيو اريايي اقوامو څخه پاته دي. دغه اقوام څلور زره کاله تر ميلاد دمخه له يوه شمالي ځايه څخه چې هغه يې (اريانا وېجه) باله د افغانستان سيمو ته راغله، دوی په دغه وخت کې يوه ژبه ويله چې د هغې کومه بولګه او نخښه نه ده پاته او علماً يې (اريك) بولي يعني هغه ژبه چې اريائيانو ويله.

۲. بله ډله د ايشيايي ژبو څخه سامي ژبې بولي، چې په دغه کې عبري او عربي او سرياني او حبشي ژبې داخلي دي او د دغو ژبو څېړنه زمونږ په بحث اړه نه لري.

د اريايي ژبو وېشنه

اريايي ژبې پر دوه ډوله دي، يوه ډله يې سيتم بولي او بله ډله يې سنتم بولي. پوهانو فقط يوه کلمه د سنسکريت او لاتيني څخه اساس ګرځولې ده، يعني "سل" چې په سنسکريت کې سيتم او په لاتين يې سنتم بولي، لومړۍ ډله نون په دغه کلمه کې نه لري او دوهمه ډله يې لري چې د دې جدول څخه دغه تقسيم څرګندېږي :

سيتم		سنتم	
سنسکريت	سيتم	تاتيني	سنتم
دري	سد	يوناني	هيکاتون
پښتو	سل	انګليسي	هنډريډ
هندي	سو	الماني	هنډريډ
روسي	ستو	فرانسوي	سانت

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سنتم او سيتم پر علمي اساس ټولي هندواروپايي ژبي په لاندي ډول وېشلي کېږي :



له دې لاندي جدول څخه د دغو هندو اروپايي ژبو نزدېوالی سره معلومېږي:

فرانسوي	جرمني	انګليسي	لاتيني	اوستا	سنسکريت	دري	پښتو
پير	وانر	فادر	پتو	پيتر	پنتري	پدر	پلار
مير	موتر	مدر	ماته را	ماتر	ماتري	مادر	مور
سور	شوستر	سستر	سوردر	هوګهر	سواچر	خواهر	خور
فرير	برودر	برادر	فراتر	براتر	بهراتر	برادر	ورور

(c) ketabton.com: The Digital Library

اريايي اقوام

كله چي څلور زره كاله تر ميلاد دمخه اريايي اقوام د باختر ځمكو او د هندوكش لمنو ته راغلل دوی پسله ډېره وخته څخه دلته ډېر سول او د شرق او غرب خوا ته يې هجرتونه وكړل، د شرق په خواكي تر اباسين تېر سول او په شمالي هندوستان كې خپل مدنيت خپور كړ، هلته دوی په هغه ژبې چي له اصلي اريايي ژبې څخه جوړه سوې وه يو كتاب وليكه، چي (ويدا) نومېږي او اوس يې څلور برخي موجودي دي :

١. ريگويدا
٢. سامه ويدا
٣. يجورويدا
٤. اتهرواويدا

دا اريائيان چي د ويدا سندري يې ويلې له افغانستانه هلته تللي وو، نو په ويداكي د افغانستان د ځايو او خلكو او قبيلو او مشرانو او غرو او دريابو نومونه راغلي دي، چي د دغو ټولو مطالعه د پښتو ژبې په تاريخ كي زمونږ سره كومك كولای سي. دوهمه ډله غربي خوا ته تلونكي اريايان وو، چي دوی د افغانستان په غربي خواكي تر استانبوله پوري خپل مدنيت خپور كړ، له دوی څخه په دوو ژبو ځيني نوشتې پاته دي، يو د اوستا كتاب دئ، چي زردشت له بلخ څخه خپور كړ او په ټول اېران كي ومنل سو، دا كتاب ټول (٨١٥) فصله او (٢١) نسكه و، په اوستا كي هم ډېر د افغانستان د ځايو او پاچاهانو او خلكو نومونه راغلي دي، او ډېر كلمات يې د پښتو ژبې سره نزدې دي، له دې جهته اوستا هم د پښتو په ادبي تاريخ كي زمونږ په درد خوري.

بله ژبه چي د غو غربي اريايانو له خپلې قديمي ژبې څخه جوړه كړه هغه زړه پارسو بولي، چي ځيني نوشتې يې پر ډبرو باندي پاته دي او مطالعه يې د پښتو په ادبي تاريخ كي مفيده ده، د افغانستان په شمالي خواوو كي د دريای امو پر ها بله څنډه له اريايي ژبو څخه سغدي او خوارزمي هم داسي ژبې دي، چي د پښتو سره نزدېوالی لري نو د دغو ژبو مطالعه هم د پښتو له پاره ګټوره ده.

پښتو او اريايي كلمات

هغه ژبه چي تر اريايي هجرت دمخه ويل كېده دغه قديمه ژبه وروسته په نورو ژبو تبديله سوه او پوهان داسي وايي، چي دوه زره څلور سوه كاله ق م د اريايي اقوامو ژبه يوه وه، خو يو زركال پس يعني د (١٤٠٠ ق م) په شاوخواكي تر اوسه د دوی ژبې سره بدلي سوي دي. د بعضو قديمو اريايي كلماتو له څېړني څخه داسي ښكاري چي په پښتوكي تر اوسه پوري هم هغه قديمي ريښې سته، چي د مثال په ډول يو څوكلمې دلته ښوولي كېږي :

اول - د اريا كلمه :

د اريا دكلمې معنی اوس مؤرخين اصيل او نجيب يا زارع بولي، ډاكټر جيګر المانی محقق وايي، چي د اريا كلمه له (آر)

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه مشتقه ده، چې په سنسکریت کې د اصل او بنیاد په معنی وه.
د دې په مقابل کې مکس مولر یو بل عالم وایي چې (آر) کرهنې او زراعت ته وایي، نو له دې جهته (ارین) کرونکی او بزګر دئ، د دې دواوړو خبرو تحلیل د پښتو کلماتو په اساس کېدای سي. مثلاً که مور (ار) د اصل او بنیاد په معنی واخلو نو دا کلمه په پښتو ادب کې مستعمله ده، مثلاً ملا الف هوتك وایي :

دی له "آره" و ښاغلی
څه که شو په ویر نتلی

بل شاعر پیرمحمد میاجي داسي وایي :

شیخ متي چې خلیلي و
دی له آره لـــوی ولي و

که داسي وي چې د آر کلمه د زراعت او کښت په معنی واخلو نو دا کلمه هم د پښتو په یوه خاصه محاوره کې موجوده ده چې د کښتونو د رېبلو پر وخت کله چې زارعین لوکوي نو د هغه خلکو حال داسي بیانېږي :
"اره اره لور پر غاړه" چې په دې ځای کې هم اره د زراعت معنی لري او دا ښکاره ده چې قدیمو اریایي اقوامو زراعت ته په ډېر ښه نظر کتل او زراعت د هر اصیل او شریف اریایي سړي کار و، نو له دې جهته لومړی قول او دوهم سره نزدې کېدای سي.

دوهم - ایانا وېجه :
هغه وخت چې اریایي قبیلو له خپله اصلي او قدیمه ټاټوبي څخه د باختر خوا ته هجرت نه وکړی، دوی هغه خپل قدیم د استوګني ځای (اریانا وېجه) باله.
د دې کلمې ریښه هم اوس په پښتو کې ژوندۍ پاته ده. په کندهار کې اوېجه د سرزمین په معنی وایي، مثلاً : "احمد محمود د خدای پر اوېجه نه پرېږدي" له دې څخه ثابتېږي چې وېجه هم پخوا دغه معنی لرله.
چې معنی یې هغه د ښاغلیو او اصیلو ټاټوبی ده، دغه کلمه اوس په پښتو کې د ورشو په شکل موجوده ده، چې معنی یې د څړ ځای دئ، ځکه چې د قدیمو اریائیانو ژوند په مالداري و، نو دوی د خپلې استوګني ځای او د څړ سیمه ورشو بلله. ورته او رشه دواړه یوه ریښه لري، هر وخت (س) په (ش) اوړي، مثلاً کتل او کسل چې (ت) په (س) باندې اوښتې ده، او د (س) اوښتل په (ش) هم ډېر سته لکه راسه او راشه.

پښتو او ویدي ژبه

ویدي ژبه اریائیانو په هند کې د اریایي هجرت سره نږدې ویله، له دې ژبې څخه هم یو څو کلمې د مثال په توګه دلته د اوسنۍ پښتو سره مقایسه کوو.

سیند :
دا کلمه په ریګویدا کې سیندهو او په اوستا کې هندو وه، په اوسنۍ پښتو کې سیند هم په هغه قدیمه معنی هر رود ته وایي او اباسین هم له دغې قدیمې ریښې څخه د لوی والي په سبب پر اوسني دریایي سیند باندې اینبوول سوی دئ.

کولا :
قدیمو اریائیانو کورنۍ او خاندان ته (کولا) ویله او دغه کلمه اوس هم په پښتو کې د کهول او کاله په شکل موجوده ده، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

معنی یې هغه خانواده ده.

ستان :

دا کلمه په سنسکریت کي د ځای او مرکز او مملکت معنی لري، چي په پښتو او دري کي اوس د (ستان) په شکل مستعمله کلمه ده، لکه ګلستان، افغانستان، هندوستان وغیره، کله چي اریائیان په هندوستان کي خپاره سول دوی هغه مملکت دیوستهان وباله، چي معنی یې د عبادت ځای دئ، دغه کلمه په مفرد ډول هم په پښتو او دري کي استعمالیږي، مثلاً ښکارندوی د پښتو د غوري دورې شاعر وایي :

د اسلام د دین شهاب د نړۍ لمر دئ
تور "ستان" یې کــړ رښا په جهادونه

دغسي هم د فارسي ژبي لیکوال فخر مدبر لیکي :

"به ستان لوهور در میان شدند"

سوما یا هوما :

پخواني اریایي اقوام چي د افغانستان په غروکي اوسېدل دوی یو مقدس بوټی سوما باله او له هغه څخه به یې یو مشروب جوړاوه چي هغه به یې د عبادت پر وخت استعمالاوه، دغه نوم په اوستا کي هوما او په ویدي ژبه سوما راغلی دئ، چي په عربي یې (هوم المجوس) بولي، دغه کلمه اوس په پښتو کي د اومه یا هومان په شکل پاته ده، چي هغه خپل قدیم شکل یې **خوندي کړی دئ.**

اشلوك :

دا کلمه په سنسکریت کي د نظم او شعر په معنی ده، او دې ډول نظم په هندي اریائیانو کي رواج درلود، چي د هند د اشعارو په کتابو کي ذکر سوی دئ. په پښتو قدیم ادب کي دغه کلمه هم مستعمله وه، مګر معنی یې فقط منظوم کلام و او پیودلي ویناوي وې، چنانچه دغه کلمه په همدغه معنی د غوري شاعرانو په پښتو اشعارو کي راغلې ده، لکه ښکارندوی غوري چي وایي :

په بر بټ چي ږغ د چونیو نغوړېده شي
ته وا چـــــندي سره پیودي اشلـــــکونه

په دې بیت کي بر بټ د لوړ باغ او چونی د بلبل، نغوړېدل د اورېدل، چندي د شاعر او اشلکونه د نظمونو په معنی دي.

دسیو :

په اریایي ژبو کي د (ش) یا د (ژ) یا د (ښ) یا د (س) یو پېښوند (سابقه) وه، چي د نفرت او بدۍ اوکرکي مفهومونه یې لرل له دغي سابقې څخه په قدیمو او اوسنیو ژبو کي ډېر کلمات راوتلي دي، چي له هغو څخه په ویدا کي دسیو یا داسه کلمې جوړي سوي دي او مطلب هغه خلك وه، چي پخوا په هند کي اوسېدل او د اریایانو دښمنان وو. په پښتو ژبه کي له دغه ریښې څخه د (نون) په نښلولو سره یو صفت جوړ سو، چي معنی یې هغه د کرکي مفهوم لري، لکه دښن او دښنه په فارسي هم له دغي ریښې څخه دشمن او دشنام، دشوار، دوزخ، دزد او داسي نور کلمات جوړ سوي دي، چي ریښه یې هغه د پښتو **سره مشترکه سابقه ده او تاریخ یې تر ږګویدا پورې رسېږي.**

کشتري :

په پخوانو اریانانو کي د پاچاهانو او لښکریانو ډله کشتري بلله کېده، دا کلمه هم په ویدا کي ذکر سوې او بیا په سنسکریت او ویدي ژبو او هندي کي تر اوسه موجوده ده. په پښتو ادب کي دغه کلمه د پیر روښان په خیرالبیان کي د تورکښي په شکل راغلې ده، یعني هغه څوك چي توره کاږي او مقصد یې هم عسکري او د جنګ خلك دي، د لومړۍ کلمې لومړۍ ټوټه هم کښ او دوهمه ټوټه تري کټ مټ دغه معنی لري او د دغو ژبو سره نزدېوالی څرګندوي : کښ (توري) کشتري یعني شمشیري. له دغو مثالو څخه د پښتو ژبې مشارکت له ویدا او اوستا سره ښه معلومیږي مګر له دغو قدیمو ژبو څخه چي په غربي اریایانو او اېران کي ویله کېده زړه پاړسي هم ده، چي تر میلاد دمخه تقریباً (۵۰۰) کاله ژوندۍ وه، په دې ژبه کي کوم کتاب نه دئ پاته مګر ځیني ډېرلیکونه سته، چي پر هغو باندي د زړې پاړسو یو څه نوشتې پاته دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو او زړه پارسي

زړه پارسي (۲۵۰۰) کاله دمخه په پارس کي ويله کېده او د هخامنشي پاچاهانو د دربار ژبه وه، خو د دې ژبي کوم کتاب نه دئ پاته، فقط د اېران او مصر پر ځينو ځايو باندي د دې ژبي يو څو ډبرليکونه په ميخي خط پاته دي، چي ټول (٤٠٠) لفظونه کيږي.

د هخامنشي کورنۍ يو لوی پاچا داريوش دئ (٥٢٢ تر ٤٨٦ ق م)، د ده په امر د بهستون پر غره يو ډبرليك کيندل سوی دئ، چي په څلورم ستون کي درې مسرۍ يوه اخلاقي حماسه ليکلې ده او هغه په دې ډول ده :

دا درې مسرۍ داسي لوستل کيږي :

نې اړې که اهم.

نې دروجه نه اهم.

نې زوره که ره اهم.

د دې شعر هره مسرۍ شپږ شپږ هجاوي لري او که مونږ ورته ځير سو، نو دغه درې مسرۍ په لږ تغير داسي په پښتو را اوړي :

نې اړيکه اوم.

نې دوره جنه اوم.

نې ځورکړه اوم.

د کلماتو تطبيق

اول : نې Né د نه مخفف دئ.

دوهم : اړيکه Arika په پښتو کي د اړ له مادې څخه اړيکی اوس مونږ استعمالوو چي معنی يې پای بند او مسامع او عضو ده دغسي اړتيا مشکلي او احتياج ته وايي.

دريم : اوم د وم يا ومه يو شکل دئ چي اوس يې هم بعضي پښتانه (اوم) وايي.

څلورم : په دوهمه مسرۍ کي د دروجنه کلمه اوس کټ مټ د دروه جن په شکل موجود ده چي معنی يې مکار او فريبنده ده.

پنځم : ځورکړه – اوس د پښتو ځورکړه يعني ځورکوونکی او ظالم او ستمګر ځني جوړيږي او په دې ډول دغه کلمات په لږ تغير د پښتو له اوسنۍ کلمو سره برابر کېدای سي او دا مونږ ته د پښتو او زړې پارسي نزديکي راښيي، چي تر اوسه په دې لاره کي نوره وسيعه مقايسوي مطالعه نه ده سوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو او زړه دري

د افغانستان په شمالي خواوو او د هندوکش په لمنو کي (۳۰۰۰) کاله دمخه يوه ژبه ويله کېده، چې د اوسنۍ دري ژبي مور ګڼل کيږي، له دې ژبي څخه فقط يو ډبرليك په (۱۹۵۱ م) کال د بغلان په سرخ کوتل کي پيدا سوی دئ، چې (۲۵) سطره او (۹٤۷) يوناني حرفونه لري او ټول کلمات يې (١٦٥) دي خو د هري کلمې په منځ کي يوه فاصله په دې شکل (ه) موجوده ده. په دې کتيبه کي (۲۸) حرفونه په دېواني رسم الخط استعمال سوي دي:

الف او زور
ب
پ
ف
ت
ث خ
خ
د
ر
ز
س
ش
ښ
ك
ګ
نګ
ل
م
ن
و
حفيف (و)
هـ
معروفه (ي)
مجهوله (ې)
فتحه
پېښ
کسره
فاصله

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو او قديمي دري مشابهت

دغه (۲۸) علامې چې د بغلان په کتيبه کي په (۱٦۰) کلمو کي استعمال سوي دي د پښتو سره يې ټول حروف ببله (ف هـ) مشترك دي، مخصوصاً (٦) نمبر حرف، د پښتو (څ) ته نزدې دئ، دغسي په دغه الفبا کي (۷) نمبر حرف د (خ) آواز لري مګر په (۱۳) نمبر حرف (ښ) کي (ش) او (خ) سره يو ځای سوي دي او د پښتو (ښ) ږغ اداکوي، او له دې څخه ښکاري چې دغه ږغ قديم دئ او په قديمه دري کي هم و، ځکه نو په پښتو کي اوس هم دغه دري سره آوازونه ببلي ببلي معناوي افاده کوي، مثلاً :

شندل -پراګندن
ښندل -بخښش
خندل -خنديدن

له دې څخه معلوميږي چې په قديمه دري کي هم د (ښ) صوت موجود و، مګر د پښتو خاص ږغونه لکه (ټ، ړ، ډ، ړ) په قديمه دري کي هم نه وو او په دې کتيبه کي هم نه ليدل کيږي، نو دلته بايد سړی ووايي چې د ژبو د تقسيم له پاره د اباسين او هلمند تر منځ يو ايزوګلاس (هغه ځای ته وايي چې په هغه کي دوې ژبې سره يو ځای کيږي) پيدا کيږي، د پښتو او دري ږغونه او کلمات سره مشترك کيږي دغه دوې ژبې په ځينو نورو ګرامري خصوصياتو کي هم سره نزدې دي، مثلاً :

اول حالت (condition) په اوسنۍ پارسي کي د کلماتو شکل يا حرکات د ګرامري حالت په تغير سره نه تبديليږي، مګر په پښتو کي ډېر کلمات د ګرامري حالت په تبديل سره خپل شکل يا آواز اړوي او په دغه خاصيت کي زړه دري د پښتو سره شريکه ښکاري، مثلاً په دغه ډبرليك کي د کانيشکا نوم کله کانيشکي او کله کانيشکو راغلی دئ او ځيني نور نومونه هم دغسي سته، چې د فاعلي يا مفعولي حالت په تغير سره اوښتي دي.

دوهم په توصيفي ترکيب کي هم په زړه دري کي لکه اوسنۍ پښتو صفت تر موصوف دمخه ويل کېده، مثلاً (مشت خرګومن) يعني لوی خرمن يا لکه (بك شا) يعني لوی شاه.

دريم : ابتدايه ساکن : اوسنۍ دري ژبه ابتدايه ساکن نه لري، مګر په قديمه دري کي لکه پښتو په ساکن ابتدا کېدله، مثلاً د بغلان په کتيبه کي (STAD) ستاد د اوسني (ايستاد) په معنا يا د اوسني فرمان کلمه په قديمه دري کي فدومان (Fadoman) غرومان د (ف) په سکون تلفظ کېده.

د ځينو کلماتو سره نژدېوالی

د بغلان په ډبرليك کي چې کومه دري قديمه ژبه استعمال سوېده، ځيني داسي کلمات لري چې اوس د پښتو په يوه لهجه کي کټ مټ يا په لږ تغير موجود دي، چې دلته يې د نمونې په ډول يو څو کلمې ښوول کيږي :

بګ : دا کلمه پخپله د بګ لنګ په نامه کي موجوده ده، چې پخوا د بغلان نوم و، په اوستا او قديمه پارسي کي بګه (Baga) او په سنسکريت کي بهاګه (Bahaga) و، په روسي کي هم اوس بغ د خدای په معنا موجود دئ، دا کلمه په دغه کتيبه کي د يوه بل نامه په سر کي هم سته او دا کلمه بکپور (Bagpur) ده، چې معنا يې شهزاده وه. دغه بګ چې په ډبرليك کي جلا په معنا د خدای او عظيم يا بادشاه او د کلماتو په سر کي هم په دغو معناو ذکر سوی دئ، اوس د پښتو په محاوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د لوی او عظیم په معنا سته. په کندهارکي وایي : پلانی بګ سړی دئ، یعني جسماً لوی دئ، د پښتو شاعر شمس الدین کاکړ، چې د (۱۲۵۰ هـ) په حدودو کي ژوندی و داسي ویلي دي :

هسي شوم طالع زما دئ
باطن وړ په ظـــاهر بګ

د بګپور دوهمه ټوټه یعني (pur) هم د پښتو سره مشترکه کلمه ده، چې په تربورکي ژوندیۍ پاته ده، نو د دې کلمې تاریخي تحول داسي دئ :

زړه دري (پوهر puhar) اوسنۍ پارسي پور، لکه شاهپور، پښتو بور لکه تربور، (تره بور). یوه بله کلمه چې په دغه ډبرلیک کي پښتو ته ډېره نژدې ده ایر(EIR) ده، چې د آتش پر ځای استعمال سوې ده او دا کلمه تر اوسه هم د پښتو په وزیري لهجه د (ایر) او په نورو لهجوکي د (اور) په ډول پاته ده، خو د پښتو په یوه بله کلمه کي چې (ایره) د خاکستر په معنا ده په ښه ډول موجوده ده، دغسي هم (مال) په ډبرلیک کي د وخت او هنګام په معنا راغلي دئ، چې تر اوسه هم په پښتو کي (مال یا مهال) وخت ته وایي او د پښتو په قدیمو اشعارو کي دا کلمه راغلې ده او دا ثابتوي چې دغه کلمه اصیله پخوانۍ کلمه ده او له عربي څخه نه ده اخیستل سوې. یوه بله ډېره ښه کلمه چې په دې کتیبه کي راغلې ده الوښال (ALOSHXAL) ده، دا کلمه که مور تجزیه کړو اوله ټوټه یې الو ښکاري، چې د پښتو او اوسنۍ فارسي (اروا) یې اوسنی پاته سوی شکل دئ او په اوستا کي دا کلمه اورونت وه، چې په پهلوي کي اوروان او په فارسي کي روان ځني جوړ سوی دئ، نو د زړې دري (الو) د اوسنۍ پښتو د (اروا) له فارسي ژبې (روان) سره له یوې ریښې څخه دي.

د کلمې دوهم جزو پښتو اوسنی (ښاد) او د فارسي (شاد) او د پهلوي ژبې (شات) او د اوستا (شاته) او د زړې فارسي (شیاتي) و، د (د) او (ل) او (ت) ابدال په اریایي ژبوکي ډېر دي، لکه دست او لاس یا لس یا ده، نو مجموعاً د زړې دري الوښال د پښتو اروا ښاد دئ، چې معنا یې هم د عربي (مرحوم) او فارسي ژبې شاد روان ته نژدې ده، یعني هغه څوک چې له دې دنیا څخه تللی وي او په بله دنیا کي اروا خوښه وي.

تر دې ځایه د پښتو ژبې او قدیمو اریایي ژبو مقایسه او پرتله وسوه، چې د دغو ژبو پخواني روابط سره ښکاره کوي. ځینو پوهانو پښتو له هندي ژبو څخه د سنسکریت له لمسیانو څخه ګڼلې او ځینو هم اېرانۍ ژبه بللې او د یو څو پوهانو دا هم عقیده ده، چې د ساکا له ژبو څخه پیدا سوېده. د سنسکریت او هم له اوستا او هم له نورو اریایي ژبو سره اشتراک لري نو نه خالصه هندي ده او نه اېراني. بلکي د افغانستان په لساني او فرهنګي ایزوګلاس کي له اصلي اریایي ژبې څخه راپاته ده، چې ډېر قدیم ممیزات یې هم تر اوسه خوندي کړي دي، چې په تېرو څېړنو کي د پښتو نزدېوالی له سنسکریت او اوستا او زړې پارسي او دري سره په لنډ ډول بیان سوي دي.

د تفصیل له پاره یې د پښتو ادبیاتو تاریخ لومړی او دوهم جلدونه وګورئ او هم هغه کتاب وګورئ، چې ما په دري ژبه د بغلان پر ډبرلیک باندي د (مادر زبان دری) په نامه کښلی او چاپ کړی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر خوشحال دمخه
پښتو ادب ته يو لنډ نظر

د پښتو ادب ليکل سوي آثار فقط په اسلامي دوره کي پيدا سوي دي، چي تر ټولو قديمتر شاعر اميرکرور د غور پادشاه پېژنو او د (۱۳۹ هـ) په شاوخوا کي ژوندی و.
هم په دغه زمانه کي د غزني اوګردېز له پاچاهانو څخه د لويکانو کورنۍ سلطنت کاوه، چي له دوی څخه هم فقط يو پښتو بيت لاس ته راغلی دئ، تر دي زمانې وروسته د غوريانو په دربارکي پښتو ادب نشو نما وکړه او ډېر شاعران او مؤلفان او نثر ليکونکي پيدا سول، په دغه زمانه کي د ملتان د لودي پاچاهانو کورنۍ د (۳۰۰ – ٤۰۰ هـ) تر منځ پښتو ويونکي پاچاهان وو، چي له دوی څخه هم پښتو شعرونه پاته دي.
په عمومي ډول داسي ښکاري، چي د پښتو ژبي د ادب ساحه له ملتانه بيا تر غوره پوري خپره وه، له دغي زمانې څخه بيا د خوشحال تر عصره پوري تقريباً زرکاله تېر سوي دي او په دغو لسو پېړيو کي مور د پښتو ژبي ادبي سير په لاندي ډول تلخيص کوو:

پښتو ادب د اميرکرور له عصره څخه يو خاص رنګ درلود، ژبه يې سوچه او سپېڅلې پښتو وه، ډېر داسي پښتو کلمات ژوندي وو، چي اوس يې مور نه استعمالوو او داسي ښکاري، چي پر پښتو باندي د نورو ژبو اثر هغه وخت ډېر لږ و، او وروسته ورو ورو د عربي او فارسي او هندي ادب تاثيرونه پر سوي دي.
د فکر او موضوع له پلوه هم د پښتو پخوانی اثر خاص يو پښتني او محيطي شکل لري، يعني د شاعر او ليکوال د تخيل غورځنګ په يوه داسي محيط کي دئ، چي هغه له نورو محيطو څخه ځيني خاص امتيازونه لري، شاعر د يوه غرني اوکليوالي محيط څخه الهام اخلي، ملي او پښتني اخلاق او دودونه او رسمونه تصويرکوي، او په دې ډول خپل هنر ته يو خاص محيطي جوله ورښندي.
د دې دورې پاته سوي آثار يوه ښکلې او نفيسه ادبي مجموعه ده، چي له يوې خوا څخه خپلي محيطي ښېګڼې او مزاياوي لري او له بلي خوا څخه د نورو مجاورو ملتونو له ادبه څخه ځيني اثرونه قبلوي، نو په اشعاروکي د پښتو د ژبي خپل اوزان هم ساتل کېږي او د عربي او فارسي شعرو وزنونه او قواعد هم منل کېږي، نو د دغي دورې اشعار او آثار د معنی له پلوه حماسي، اخلاقي، ديني، تصوفي، تبليغي، عشقي اوکله کله فکاهي رنګونه لري، مګر په ظاهري جوړښت کي علاوه پر ملي اوزانو باندي قصيده، غزل، رباعي، مثنوي هم ميندل کېږي.
تر خوشحال خان دمخه په (۱۰۰۰ هـ) کال کي د پښتو ادب د سياسي تحولاتو څخه هم اغېزمن سوی دئ، په دې لسو پېړيو کي د پښتو ژوند د خپلې آزادۍ او پښتونولۍ د ساتني له پاره په يوه مسلسله مبارزه کي تېرېده، لوی لوی تاړاکونه پر دې مځکه باندي راغلل، غټ غټ سياسي او ديني او مذهبي تحولونه پېښ سول، خو پښتنو په دغو تحولاتو کي د دين او فرهنګ او ثقافت له پلوه ډېر نوي او ښه شيان ومنل، مګر خپله آزادي تر هر څه پر دوی ګرانه وه، نو سره د دې چي دوی د اسلامي جامعې کلك ملګري وه، او د اسلام د خپرولو له پاره يې تر بنګاله پوري جهادونه وکړل، مګر د ساسي تسلط قبلولو ته حاضر نه سول اوکه به زور ور باندي راغی نو د سمي څخه به غرو ته ولاړل او عمر به يې په کوچي ګري تېراوه، نو د پښتو ادب په دغسي يو کيفيت سره تر خوشحال خان پوري راورسېد، کله چي خوشحال خان دنيا ته راغی د پښتو ادب نظم پوخ سوی و او ډېرکتابونه هم پکښې موجود وه. د نثرکتابونه هم ليکل سوي وه، چي بهترينه نمونه يې د سلېمان ماکو د (تذکرة الاولیا) نثر دئ، چي په (٦۱۲ هـ) کي ليکل سوی دئ او دغه نثر لکه د پښتو شعر يو ښه سبك او ښکلې جوله لري. دلته دا نکته هم نه هېروو، چي د (۹۰۰ هـ) په حدودوکي پير روښان په خپل خيرالبيان کي يو داسي نثر ليکلی دئ، چي هغه د نظم او نثر تر منځ يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصنوع او متکلف نثر دئ، که څه هم د پیر روښان د آزادي خواهۍ جګړې او د پښتنو د ساسي وحدت له پاره د ده سعیه ډېره ښه او مشکوره ده، مګر په ادبي حرکت کي د ده د خیرالبیان نثر د پښتو ژبي یو ښکلی او هنري اثر نه دئ، نو خوشحال خان په داسي یوه ادبي او سیاسي محیط کي پیدا سو، چي په هیڅ ډول په زړه پوري محیط نه و. د پیر روښان په پیروي اخوند دروېزه او د ده کورنۍ او نورو لیکوالو قلمونه را اخیستي وه او په پښتو ژبه کې د مصنوعي او متکلف نثر لیکلو پیروي کوله، په سیاسي لحاظ هم پښتانه د هندوستان د مغولو تر اثر لاندي او مظلوم واقع سوي وه او خوشحال خان ناچاره و، چي په داسي یوه چاپېرکي په دوه ډوله مبارزه وکړي :

لومړی سیاسي او جنګي مبارزه د پښتنو د آزادۍ له پاره.

دوهم ادبي او واقعي مبارزه د پښتو ژبي د ادبي ارزښتونو د ساتلو له پاره.

خوشحال خان

د پښتو ادب منځنۍ دوره له خوشحال خان څخه شروع کیږي، دی د ختڅکو د ملك اکوړي له کورنۍ څخه و، د سرای په کلي کي د ربیع الثاني په میاشت (۱۰۲۲ هـ) د شهباز خان ختڅك په کورنۍ کي پیدا سو، دا کورنۍ د پېښوره تر اباسیند پوري د خپل عصر په سیاست کي پېژندل سوې کورنۍ ده او خوشحال خان د پښتنو د قومي سیاست په مرکز کي تربیه سو، ده د خپل عصر علمونه ولوستل او د قلم خاوند سو، په دغه وخت کي د ډهلي د مغلو له کورنۍ څخه شاه جهان پادشاه و او د سلطنت غربي سرحدونه یې تر قندهار او بلخ پوري رسېدلي ښارونه او لویي لاري د مغلو تر اداري لاندې وې، د قبایلو داخلي کارونه قومي جرګو سمول، د خوشحال خان د کورنۍ د استوګنې ځای د پېښور او کابل پر لویه لار باندي واقع و، نو همېشه د مغلو د دربار له خوا د دغي لاري ساتنه د خوشحال خان پلرو او نیکونو ته سپارل کېده او دغه کورنۍ د پښتنو په داخلي چارو کي مقتدر حکمرانان وو، مګر د مغلو د دربار سره یې هم دوستانه روابط ساتل، په (۱۰٦۹ هـ) کال اورنګزېب خپل پلار شاه جهان بندي کړ او پخپله پر تول هندوستان باندي مقتدر پادشاه سو. د اورنګزېب سیاست دا و، چي هغه د سلطنت په تول قلمرو کي له کلکتې څخه بیا تر بلخه داسي څوك نه پرېږدي، چي هغه په قوت کي له ده سره مقابله وکړي، اورنګزېب ته د افغانستان د مشرقي خوا ساتنه او د کابل او بدخشان او بلخ او کندهار اداره خورا مهمه معلومېده او دا لار د اباسیند تر غاړو پوري د خوشحال خان په لاس کي وه او ده غوښتل چي خپل اقتدار دلته ټینګ وساتي، په پېښور کي چي کوم حکمران د اورنګزېب له خوا مقرر و د هغه قدرت فقط په ښارکي محدود و، نو اورنګزېب د خپل حکومت او اقتدار د ټینګولو له پاره د خوشحال خان وجود په دغه سیمه کي مضر ګاڼه نو یې خوشحال خان په یوه دسیسه په پېښور کي ګرفتار کړ او په (۱۰۷٤ هـ) د روژې په میاشت کي دی له پېښوره ډهلي ته د محبوس په ډول واستاوه او کوښښ یې وکړ، چي د خوشحال خان په زامنو او کورنۍ کي نفاق واچوي. خوشحال خان څلور کاله په هند کي بندي و، چي وروسته په (۱۰۷۷ هـ) له اګرې څخه د خپلو پښتنو یارانو په ملګري راووت او ځان یې وطن ته راورساوه، دلته خوشحال خان خپل محیط وکوت او ځان ته یې دوې لاري د ژوند له پاره ومونديې، لکه چي وایي :

پس له بنده دئ دا عـــزم
د خوشحال د خاطر جزم
یا نیولی مـــخ مـــکې ته
یا مـــــغلو ســـره رزم

مګر په دې دوو کارونو کي خوشحال خان د مغلو سره مبارزه غوره کړه او دې مبارزې دوه شکله درلودل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

اول : د جنګ په میدان کي د توري مبارزه.
دوهم : په شعر او ادب کي د قلم مبارزه او د پښتو ژبي د روزلو له پاره د پښتنو د ملیت د ساتلو له پاره مبارزه، چي د خوشحال خان شخصیت هم دغه دوې خواوي لري. خوشحال خان د پښتنو د آزادۍ له پاره د اورنګزېب سره ډېر جنګونه وکړل او دا یې کوښښ و، چي په پښتنو کي د اتفاق او د ملي جهاد روحیه ژوندۍ وساتي او علاوه پر دې جنګي شخصیت د ده ادبي شخصیت هم ډېر فعال و، ده تقریباً څلوېښت تر پنځوسو زرو اشعارو پوري په پښتو ادب کي یوه مهمه ذخیره پرېښوده، چي حقیقتاً دی د پښتو ژبي تر ټولو لوړ شاعر ګڼل کېږي. ده په خپلو اشعارو کي حماسي او وطني او پښتني خصوصیات وروزل او هر ډول شعرونه یې په ادبي او بدیعي ښکلا وویل، ده قصیده د غوري دورې د قصایدو دورې ته ورسوله، د پښتو غزل یې د ژبي د روانۍ او سلاست سره په ډېرو ادبي ښکلاوو مزینه کړه، رباعي، مثنوي، مخمس، مربع، مسدس، معشر ټول د ده په دېوان کي سته.
خوشحال خان تر منظوم کلام علاوه د پښتو نثر ته هم توجه وکړه او د نثر لیکلو سبك یې داسي غوره کړ، چي د پیر روښان او اخون دروېزه لیکونه یې پرېښودل او د پښتو د نثر د قدیمتر سبك پیروي یې وکړه، یعني د سلېمان ماکو غوندي نثر لیکونکي لاره یې غوره کړه او کوښښ یې وکړ، چي د پښتو ژبي د محاورې له جریانه سره خپل مطلب په روانه او سلیسه پښتو ولیکي.
د خوشحال خان منثور کتابونه هم ډېر دي، دی د عمر په (۷۸) په ۲۸ ربیع الاول ۱۱۰۰ هـ کال وفات سو او وروستنۍ وینا یې دا وه :
"ما هلته ښخ کړئ، چي د مغلو سیوری مي پر خاوره ونه لوېږي او د مغلو سپرو ګردونه مي پر هدیره ونه لوېږي".
د خوشحال خان د کتابو څخه فضل نامه، دستارنامه او عیاردانش مشهور دي او کله چي دی تر جهان تېر سو نو یې یوه داسي ادبي ګرانبها ذخیره پښتنو ته پرېښووه، چي هغه به تر ابده پوري زمور په ادبي حرکت کي د لاري څراغ وي او د ده دا بیت به په رشتیا ومنل سي، چي ویلي و :

همېشه به پرې نارې وي د بلبلو
دا چي سازکړ نن خوشحال په ویل باغ

د خوشحال خان د شعر سبك په پښتو ادب کي ډېر شهرت او مقبولیت وموند او پښتو ادب د خوشحال خان په ادبي مکتب کي د هري خوا بشپړ سو، په دې سبك کي د ادبي فنونو او رواني ژبي مراعات ډېر سوی دئ او اشعار یې هم روان او خواږه او هم د صنعت په ګډه ښکلي سوي وه، د خوشحال خان د سبك خاصیتونه دا دي :
دې سبك د پښتو شعر ډېر پراخ کړ، علاوه پر غزل، مثنوي او قصیدې او رباعي چي تر خوشحال خان دمخه ویل سوي وه، ده نور ټول د عربي او پارسو د شعر اقسام په پښتو وویل او ځینې نوي قسم اشعار یې په پښتو کي زیات کړل، لکه مثمن او نور.
په دې سبك کي هر ډول صوفیانه، اخلاقي، فلسفي، فکاهي مضامین او مدح، هجو، مرثیه، محاکات، اجتماعي خبري سته، چي ملي ښېګڼې او خویونه هم تلقین کوي.
په دې سبك کي کله کله د پښتو او پښتونولۍ او ملي احساساتو څرګندونه هم سوېده او خاص بیا د خوشحال خان خپل اشعار د ملي جذباتو ډك دي.
په دې سبك کي اوږدې اوږدې قصیدي هم ویل سویدي، چي هره قصیده ځانته یو ټبل اجتماعي یا تاریخي یا تبلیغي یا د منظرنګارۍ یا نور موضوعات لري او په خپله د خوشحال خان او د ده د زامنو لکه عبدالقادر خان او اشرف خان هجري په قصیدو کي د غوري دورې د قصیدو تقلید او پیروي ښکاره ده او بدیعي صنایع او تلازمات او تشبیهات هم لري، مګر شاعرانو یې د اشعارو ساده ګي او سلاست تر صنعت او تکلف نه دئ جارکړی او ډېري پېچلي وینا وي په اشعارو کي نه راوړي.
په خپله خوشحال په دې سبك کي حماسي احساسات داخل کړل او شاګردانو یې لږ پیروي وکړه.
انتقاد او هجو (غندنه) هم په دې سبك کي سته او د پښتنو شاعرانو مخصوصاً د هندوستان د مغولي استعمار طلبانو سره ډېره قلمي مبارزه کړېده، خوشحال خان وایي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمـــا ژبه نه ده اور ده
ګوزارونه د ټوپك كا

د خوشحال خان د مكتب په اشعاروكي ډېر حكمتونه او نصيحتونه او فلسفي مطلبونه هم سته، چي د ژوندانه ژور اسرار پكښې ويل سوي دي، مثلاً اعتماد په نفس داسي تلقين كوي :

د مزريو مړنتوب په لښكر نه شي
مټ يې هر كله يوازي په خپل ځان شي

خوشحال خان د اجتماعي منافعو په توزيع كي داسي وايي :

دولتـــمند ســړی هـــغه بللی بويه
چي له سينده يې جدا د چا ويااله شي

خپل ثبات او ټينګه روحيه داسي ښيي :

د عالم ډېري خبري لور په لور توري لښكري
زړه مي نه ښوري له ځايه غر خو هسي وي كنه

د خوشحال خان په نظركي د انسان ټولي ګټي په خپل همت، شجاعت او توريالي توب پوري اړه لري او مړنی سړی قابل د دې بولي، چي نوم يې په تاريخ كي ياد سي او وايي :

كل ګټـــنه ده د توري
كه كابل دئ كه كشمير
مړني دي چي يادېږي
په ســـندرو هم په وير

په ادبي ارزښت كي هم دا سبك تر ټولو جامع او ښكلی دئ هم يې د معنی خوا قوي او هم يې ظاهري او شعري قالب ښكلی دئ، تر خوشحال خان دمخه د پير روښان د مكتب شاګردان په خپلو اشعاروكي معاني روزي، مګر د هغو شعر ښكلی او د هنر په ګټه مزين نه دئ، مثلاً د صوفيانو شاعرانو دا عقيده ده، چي د خدای تعالی نور په هر ځای كي تجلی كوي او وحدت په كثرت بدلېږي، نو خدای تعالی په هر ځای كي سته، دا مطلب ميرزا انصاري، چي د پير روښان مريد و داسي ويلی دئ :

د كـــــثرت په بازار راغی
په هر ځای كي دی مكين دئ

خوشحال خان هم دغه مطلب په داسي ادبي پيرايه اداكړی دئ، چي هم يې مقصد عالي دئ او هم يې الفاظ ښكلي دي او هم هنري ارزښت لري، لكه :

راشه وغـــړوه ســـترګي د جـــهان نندارهګوره
چي ښايست لري د ســـتورو د آسمان نندارهګوره
د دې خپل وجود په باغ كي په هر شان نندارهګوره
و هرګل ته چي نظركړې د باغـــوان نندارهګوره

په تخيل كي هم دا سبك ډېر ښه دئ، خورا لوړ او د نزاكته ډك شاعرانه تخيل پكښې سته، په خپله خوشحال خان او نور شاګردان يې د تخيل خاوندان او قهرمانان دي، اوكله كله ابتكارونه هم لري، مثلاً شاعرانو د معشوقې د مېلمستيا له پاره ډېر ډول ډول تخيلونه كړيدي، چا د زړه كباب ورته ايښی دئ او بعضي شاعران په دغه باب كي يو له بله څخه مضامين رانقل كوي، خوكوم ابتكار نه لري، د خوشحال خان زوی عبدالقادر خان په دې موضوع كي يو نوی مضمون پيداكوي اوكله چي د عشق په دنياكي سرې اوښكي تويوي هغه په دې ډول يوه ياقوتي مهماني بولي، او وايي :

سرې سرې اوښكي مي پر مخ عبدالقادره
نن و يار ته د ياقـــوتو مهـــــماني ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خوشحال خان په کورنۍ کي
د پښتو ادب روزنه

لکه چي خوشحال خان پښتو ادب ته درانه خدمتونه وکړه، ده په کورنۍ کي د پښتو ليکوال او شاعران زامن هم وروزل او دغه ادبي ميراث پښت پر پښت له پلاره زامنو ته نقل سو. د پښتو ادب په تاريخ کي که مورِ يوه درنه او ډېره فعاله کورنۍ وغواړو نو هغه هم دغه د خوشحال خان کهول دئ، چي دوی په نظم او نثرکي د پښتو ژبي اوله درجه آثار پرې ايښي دي، د خوشحال خان مشر زوی اشرف خان هجري دئ، چي دی هم د توري او قلم خاوند و او په پښتو يو ښکلی دېوان لري چي اشعار يې تر څلورو زرو بيتو پوري رسيږي. دی هم د پښتنو د آزادي خواهۍ په جګړو کي د اورنګزېب د لښکرو په لاس کي لوېدلی او په (۱۰۹۳ هـ) د دکن په بيجاپور کي بندي سوی، او وايي :

بيجاپور هجري په خـــوب ليدلی نه و
آخر پښې شي هغه کار چي يې قضا کا

د اشرف خان هجري په وينا کي د وطن د مينې تاوده احساسات پراته دي، لکه چي وايي :

بې وطـــــنه تنـــها پروت يم په غربت کي
نن له مـــا سره هـــمدم د وطـــن غـــم دئ
د هـــيواد اشـــنا په ســـترګو ليده نه شي
که په خوب راته حاضر شي بس کرم دئ
قاصـــــدان له روهـه نه رائي مـــدت شو
ســـــــلام باد را رســـــوي منت يې تـم دئ

د ده اشعار عشقي، اخلاقي، وطني او ساده او روان دي او کله کله داسي قصيدې انشاء کوي، چي د غوري دورې د قصيدو تقليد ځني ښکاري، د هجري دېوان په پښور کي چاپ سوی دئ، دی ښکلي معاني په ښکلو الفاظو ادا کولای سي، د صبر او استقامت ترغيب داسي کوي :

شورش مه کړه د ګردون له کشمکشه
لومه کلکه کړي مرغۍ په اضـطراب

دا غزله د ده د کلام نمونه ده :

سترګي هله کا ژړا چي زړه په درد وي		اه و سوز مي باطل مه ګڼه دروېشه
چي په داد د دهر پوه آزاده مرد وي		تخت و تاج ته به سر کوز د همت نکا
په مجلس چي د حق ورشي مخ يې زرد وي		هغه مرد چي په دغل سود و سودا کا
هر چي تل په فکر ډوب د اب و خورد وي		په حساب د فرزانه ترګاو بتر دئ
لا په ځ م که قرار نه بدن يې ارد وي		ګردنده ګردون چکۍ انسان دانه شه

دا مـحال دئ چي شاعر په پښـــتو کي
بل "هجري" غوندي په فن د شعر فرد وي

هجري پسله څورلسو کالو قيده څخه په (۱۱۰٦ هـ) کال کي هلته وفات سوی دئ چي آزاد خان د ده د مرګ تاريخ داسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويلى دئ :

د هـــجرت يې زر سل شــپر و
اشرف خان چې فوت شو ياره

د اشرف خان په شاعري کې د ظاهري ښکلا او د ادب د هنري مزيت له خوا داسي اثرونه معلومېږي، چې دى د پښتو شاعرانو د ډلې په لومړي صف کې ودروي او کله کله د فارسي شعر هم وايي، د ده د خپل هنر په خصوص کې دا دعوه ده :

په پښــتو ژبه مي سيال د شــعر نشته
د معنو په جهان شاه اشرف خټك يم

د بند او هجران په زمانه کې خپل وطن داسي يادوي :

د زړه باز يې تل د روه په ځــمکه ګــرزي
که هجري په دکن ناست خالي بدن دئ
کـــه نصيب بنده بندکـــړى په دکن دئ
دامنــګير يې همېشه عشق د وطن دئ

د اشرف خان په قصايدو کې د ده ادبي قدرت ښه ښکاري، چې وروسته به يې څېړنه وسي.

عبدالقادر خان خټك

د خوشحال خان بل ادیب او شاعر زوی عبدالقادر دئ، چې په (۱۰٦۱ هـ) کال پیدا سوی او تر (۱۱۲٦ هـ) پورې ژوندی و.
دی په نظم او نثر ډېر تالیفات لري، دېوان يې تقريباً څلور زره بيته دئ، چې غزل، مثنوي، قصايد، رباعي او قطعات لري. د ده شعر خورږ او روان دئ، د معناوو په ادا کولو کې ډېر قدرت لري او کله کله په تخيل کې ابتکار هم کوي.
عبدالقادر عملاً د تصوف په سلسله کې داخل او د شيخ سعدي لاهوري مريد و، نو ځکه د ده په شعر کې د تصوف رنګ هم سته او نور اشعار يې عشقي، اخلاقي او اجتماعي دي.
د اشعارو تر دېوان علاوه د عبدالقادر خان نور کتابونه دا دي :

(۱) ګلدسته :

چې د شيخ سعدي فارسي ګلستان يې په پښتو نثر ترجمه کړى دئ، په دې کتاب کې ده د خوشحال خان په پيروي يو ښه نثر ليکلى دئ، چې د شيخ سعدي د ګلستان مقاصد يې په پښتو ژبه ښه ادا کړي دي. دا ترجمه په (۱۱۲٦ هـ) کال تمامه سوې ده او په مقدمه کې عبدالقادر د هغه عصر د اجنبي حکومت په باب کې داسي ليکي :

"دستور د مصنفانو دئ، چې مدح د خپل وخت د پادشاه وکاندي، لکه چې شيخ سعدي عليه الرحمه نورالله مرقدهُ د ابوبکر سعد بن زنګي صفت په ګلستان کې کړى دئ، اما مور په داسي زمانه کې پيدا يو، چې حاکمان پادشاهان د دې عصر واړه ظالمان او مبتدعان دي. په مدح کې يې مادح د ذم شي يعني تر خالقه تر مخلوقه کوم شى چې په دنيا کې ښه عام پرې بدګمان شي په آخرت يې د دين زيان شي، لکه مولوي روم % فرمايلي دي :

می بلرزد عرش از مدح شقی
بدګمان ګردد زمدحش متقی

په دا سبب د عصر د پادشاه معينه مدح ونشوه ... هر پادشاه حاکم چې سعيد وي که قريب وي که بعيد وي که زنګي وي که فرنګي وي که ترك وي که تاجك وي که حبشي وي که د روم وي که پښتون که هندکي وي، چې عادل وي حق تعالي دي يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دنيا کي سيوری په مسلمانانو ممدوده لري او په عقبی کي دي يې مرتبه مسعوده لري.

مثنوي

پادشاهان چې عادلان شي عدل کاندي		په قيامت به وي د عرش تر سيوري لاندي
سرداران به يې ديندارہ نېکوکار شي		په هر قوم چې کرم دګردګار شي
بد صورت که د انسان لري شيطان دئ		ښه حاکم رحمت په خلکو د سبحان دئ
چې هيڅ عدل انصاف نه لري ظالم دئ		نښانه د خدای د قهر بد حاکم دئ
پکښې زړونه د عالم کا جلي بلي		په هر لوري کا د ظلم لمبې بلي
چې يې چېرته آرام شي هوريې ته لېږدي		که هر څو وطن شېرين وي خو يې پرېږدي

ظالــمان جــهان و جـــان لـــره بلا دي
هغه خوار شول چې په ظلم مبتلا دي

په دې ډول عبدالقادر خان د پاچا د صفت پر ځای د حکومت د طرز عمل په خصوص کي خپله نظريه او انتقاد څرګندوي، دا ځکه چې په هغه وخت کي پر پښتنو باندي يو اجنبي حکومت غالب سوی و او له دې څخه مور دا خبره فهمولای سو، چې د حکومت په باب کي د پښتنو پوهانو نظريه څنګه وه.

عبدالقادر خان د ګلستان په ترجمه کي د سعدي د نثر ښېګڼې او ادبي مزيتونه هم ساتي، مثلاً د فارسي دغه عبارت :

"ابلهی ديدم خلعتی در بر و مرکبی در زير، و قصبی مصری بر سر، کسی ګفت : سعدی ! چګونه می بينی اين ديبای معلم بر اين حيوان لايعلم؟ ګفتم :
خط زشت که به اب زر نوشته است".

عبدالقادر خان دغه فصيح نثر په پښتو داسي ترجمه کوي :

"شيخ وايي يو احمق په ښه تازي آس سور جامې اغوستي ورېښميني زريني په شان په شوکت تېرېده، چا راته ووې چي اې سعدي ! څرنګ يې وينې؟ وې مي خط دئ ناښکلی په اوبد د زرکښلی".

په دې ترجمه کي عبدالقادر آزاد تللی دئ، مګر د پښتو سلاست او شېريني يې پکښې ساتلې ده او مطلب يې هم په ډېرو لنډو کلماتو کي سره يو ځای کړی دئ، په دې کتاب کي نثر په نثر او نظم په نظم ترجمه سوی دئ او هغسي موفق دئ لکه د نثر په ترجمه کي، مثلاً د سعدي دا شعر :

زرد بينی شکـــــسته پيــشانی
توکه بازی به سرکنی با قوچ

عبدالقادر وايي :

ژر به ووينې سر مات ماغــزه وتلي
چي له مړ سره ټکر وهي پرې زغلي

حکايت

يو په لارکي مست پروت و د عقل ويست يې د لاسه پرېوتلې وه، د عابد پرې ګذر وشو، د ده په قبيح حال يې په کراهت نظر وکړ، هغه ځوان سر پورته کړ ويې وې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

قطعه

سپك نظر عاصي ته مه كړه پرهېزګاره
د رحمـــت د بخشـــايش په ده نظر كـــړه

(۲) پښتو يوسف زلېخا :

دا كتاب د مولانا جامي له فارسي مثنوي څخه په پښتو خفيف بحر ترجمه سوی او د اورنګزېب عالمګير په وختو كي په (۱۱۱۲ هـ) كال نظم سوی دئ، چي دلته يي د نمونې په ډول يو څو بيته را اخلو :

چي دولت يې بې احصا و		د مغرب په لور پاچا و
لوی يې ملك لوی يې ناموس و		د ده اسم شاه طيموس و
چي د ده و د بل نه و		مهيا ورته هر څه و
چي په حسن لكه حور وه		ترې زوولې يوه لور وه
چي مثال د دې معدوم و		زلېخا يې د لور نوم و
له دې بابه تل مقال كړم		كه يې وصف د جمال كړم
چي يې كا د چا قدرت دئ		لكه حق يې د صفت دئ
له خرواره موی نمايم		لږ به تا وته ووايم
تر قيامته شرمسار دئ		كه عرعر دئ كه چار دئ
په رفتار لكه تندر وي		قد يې سم لكه د سروي
به تر مشك و تر عنبر وه		چي وېښته د دې د سر وه
زړه پېيي لكه عقيق		په هر تار يې په تحقيق
د وېښتو په تار يې بند و		كه زاهد كه دانشمند و
چي يې زه كړم د سنبلو		څه نسبت يې د كاكلو
دا په سر د دلربا كي		سنبل اوسي په صحرا كي
تور مارونه كج ترې لاندي		دوې يې زلفي اوښزاندي
چي هر راز پكښې مبين و		صاف يې هسي رنګ جبين و
پټ احوال به ور ظاهر شو		چي به څوك ورته ناظر شو
لا بهتري وې ابروی		تر هلال يې د مهروی
هم دا به اختصار كړم		نور به څه تر دا زيات شمار كړم

سـر تر پايه خـــــزانه وه
هسي ښكلې جانانه وه

(۳) د پټې خزانې مؤلف محمد هوتك د عبدالقادر خان يو بل كتاب هم ليدلی و، چي نوم يې حديقه خټك و، مګر د دې كتاب كومه نسخه اوس نه ده معلومه.

(۴) عبدالقادر خان يوه نصيحت نامه هم لري، چي د ده د دېوانه سره يو ځای په كندهار كي چاپ سوې ده. راورټي انګرېز مؤلف د عبدالقادر خان تاليفونه تر شپېتو پوري شمېري. ده په خپل كلام كي متانت او سلاست دواړه ساتلي دي. استعارات او تشبيهات يې خبري ور ښايسته كوي او غزله يې خورا ښكلې او خوږه ده او په خپل ادبي قدرت او هنري ارزښت د خوشحال خان د مكتب لومړنی شاګرد دئ.

عبدالقادر خان د خپلې كورنۍ په حوادثو كي ډېر وخت له كوره ليري تللی، كله په هند او كله په كابل كي ښكاري، نو له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

جهته د ده په کلام کي علاوه پر محلي او پښتني خصوصياتو يو ډول جهان بيني هم ليدله کيږي او شعر يې د فارسي ادب ډېر اثرونه قبلوي، مثلاً د فارسي په تصوفي ادب کي د خپل ځان پر نېست کولو تاکيد سوی دئ، عبدالقادر خان د دغي فنا پر لار باندي تګ د مقصد وره ته رسېدل ګڼي، او وايي :

د نېستۍ پر لاري ځه عبدالـــقادره
ګوندي بيا مومې د يار د در سراغ

د عبدالقادر خان په کلام کي علاوه پر نورو صنايعو د حسن طلب مزيت هم موجود دئ او دا هغه معنوي صنعت دئ، چي يو شاعر د خپلي غوښتني له پاره يو ښکلی او شاعرانه منظر او په زړه پوري تخيل پيدا کړي، مثلاً :

باران اورېږي څڅواکي څـاڅي
نسيم راوالوت سنبل پرې ناڅي
اسباب د عيش واړه موجود دي
ساقي ته ګورو چي دی راپاڅي

صدر خان ختک

د خوشحال خان د کورنۍ يو بل ځلاند ستوری صدر خان د ده
زوی دئ، چي پخپله خوشحال خان د ده توره ستايي او دی د پښتنو په داستان ليکونکو شاعرانو کي محترم مقام لري او د پيدا کېدو کال
يې د (۱۰٦۵ هـ) څخه بيا تر (۱۰۷۰ هـ) پوري تخمين کيږي. صدر خان علاوه پر دېوان چي هر راز اشعار لري دوې قصې يې هم په پښتو نظم کړي دي، چي لومړۍ قصه يې (آدم او درخانۍ) ده او په (۱۱۱۸ هـ) يې نظم کړې ده.
دوهمه قصه يې (دلی او شهو) ده، چي په (۱۱۱۵ هـ) يې نظم کړېده. په دې دواړو قصو کي، چي د پښتنو له قديمو رومانو څخه ګټلي کيږي صدر خان خپل ادبي تکړه توب ښکاره کړی او دغه قصې يې په ادبي ګټنه ښکلي کړي دي.
صدر خان خپل تربيت د پلار په سيوري کي داسي بيانوي :

تربيت يې ډېر زمـــــــاکـــړ
هـــر تعلـــيم يې و ما راکـــړ
په تعليم يې سخـــندان کـــړم
په ويل يې سخـــنران کـــــړم
چي يې درست په دا فنون کړم
په ويل يې نور مـــاذون کـــړم

خوشحال خان دا اراده کړې وه، چي د آدم خان او درخانۍ داستان پخپله نظم کړي مګر په دې کار کي موفق نه سو، نو يې خپل زوی صدر خان ته وويل چي دغه قصه په نظم کي وساتي، صدر خان د خپل پلار له خولې داسي وايي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

له کارباره فرصت زما وي		که د عمر څه وفا وي
بویه ښې سخنرانۍ		له آدم له درخانۍ
یادګار پاتو په ستنه شي		چې منظوم یې یوه قصه شي
زه روان شم له جهانه		اوکه پاتي شي له ما نه
دا قصه په ښکلي نظم		ته منظومه کړه بالجزم

دی د خپل کتاب (دلي او شهۍ) په سرکي دغه معشوقه داسي ستايي:

په نامه حیات خان و ښه افغان و		هغه وخت په یوسفزوکي یو ځوان و
میشته په مېنه د توپۍ مېني دی و		لوی سردار د ملېزیو بنیری و
په نامه مسمی وه شهۍ ګلرویه		زوی یې نه و یوه لور یې وه نېکخویه
خوش خرامه آهو چشمه نېکفرجامه		شهي نامه سهي قده ګل اندامه
په ګفتار هرګور فصیحه وه بې عده؟		په رخسار هرګوره (ښکلې) وه بې حده
شوه به سروه سرنګونه زر غلتانه		چې به دا په لاري شوه سمه روانه
په ښه بوی به یې نسیم واړه بویا شو		په ښایست به یې د ځمکي مخ زېبا شو
چې هم درد وه د وګړي هم درمان وه		په چشمانو په لبانو هسي شان وه
په وحشت یې شاګرداني کل آهو وې		دواړه سترګي یې استادي د جادو وې
هم فتنې هم غمزه ګري هم شهلا وې		هم یې سترګي جادوګري هم بلا وې
د صاف تن یې د وښته وه ډېره وېره		ملا یې وه لکه وښته بلکه لاغره
رسېده به یې آزار و باریك تن ته		که ګل پانه یې خت شوې وای بدن ته
شاید دا د دې له رشکه پرې پیدا ده		د سپوږۍ په مخ سیاهي چې هویدا وه
د سرو لعلو په دبلي کي تل پنهان و		غاښ یې دودېرش ملغلري درخشان و
دواړه شونډې یې پیالې وې د شرابو		لینګي یې دواړه ګل وه د ګلابو
ویل کړل به همېشه په څو څو شانه		له ښایسته یې وګړي د زبانه
په ښه مخ کي بنفشه هم سمن زار ده		چا به وې شمعه یا باغ د نوبهار ده
بنفشه یې توري زلفي یا سنبل دي		اننګي یې یاسمن یا ګلاب ګل دي
دواړه سترګي یې نرګس غنچه دهن ده		سپینه پوزه یې کلي د نسترن ده
تر ښه قد یې ناڅېزونه د شمشاد وه		پابسته یې تر قیامت سرو آزاد وه
په ښایست کي پخپل دور یګانه وه		غرض دا چې د خوبیو خزانه وه
پرې ژوندی به شو مرده د سلوکالو		چې آواز به یې پیدا شو د خلخالو
تاو ځنځیر به د عشاقو شو په غاړه		چې اوږۍ ځنځیر به پورې کړه دې واړه
کله ژیړي زعفراني کله ورېښمیني		ښې جامې به یې اغوستې تل مینې
بې سوختن به پاتو نه شوه چېرته خونه		چې به دا په سرو جامو شوله ګلګونه

ورسره به رنګا رنګ جوني طـــنازي
مجلسي وې طربناکي خوش آوازي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې ډول صدر خان د ادبي تصوير په فن کي استاد ښکاري او دی يو سحرکار شاعر او داستان ليکونکی دئ، چي خپل هنر يې په دغه فن کي په اعلی درجه ښکاره کړی او حقاً يې ځان د پښتو په لوړه درجه شاعرانو کي درولی دئ.

ګوهر خان ختټك

د خوشحال خان د کورنۍ يو بل شاعر او نثر ليکونکی د ده زوی ګوهر خان دئ، چي دی د خپل وراره افضل خان ختټك د حکومت تر زمانې پوري ژوندی و او د ده د شعر دېوان تر اوسه پوري نه دئ پيدا سوی، خو ځيني متفرق اشعار يې موجود دي. ګوهر خان د پښتو په نثر کي يو کتاب د ترجمې په ډول پرې ايښی دئ، چي نوم يې (قلب السير) دئ، چي د فارسي څخه په پښتو په (۱۱۲۰ هـ) کال ترجمه سوی دئ، د ګوهر خان نثر په هغه ډول دئ لکه خوشحال خان چي (کليله و دمنه) پښتو کړې وه، د ده نثر له تاريخ مرصع سره چي په همدغه زمانه کي افضل خان ختټك ليکلی دئ، لږ څه فرق لري، يعني د افضل خان ژبه د ګوهر خان تر نثر لږ څه ساده او روانه ده، ګوهر خان د (قلب السير) په سيزه کي داسي وايي :

تأليف د کتاب

"دا چي اکثر کتابونه له عربي فارسيانو بزرګانو و خپل عالم ته چي په تازي ژبه کي به يې فهم پرې نه کېده په فارسي يې د دوی دپاره ترجمه کړل، سهولت يې شو او نه مينه به يې پرې پيدا کړه، مطالعه به يې کړه، ډېر کتابونه د فقه د مسايل د اخلاق و غيره بزرګانو فارسيانو بيان کړل چي معلوم دي. په پښتو کي دا رواج نه و، اخند دروېزه يو کتاب مخزن ويلی دئ، حق تعالی دې وبښي اکثر خلکو ترې فيض بيا مونده، زمور پلار مرحوم خوشحال خان ختټك الله تعالی دې په قبر نور کا، هر ګونه کتابونه يې تصنيف کړل، داد يې د بلاغت او فصاحت د پښتو ژبي ورکړ، فارسي ته يې په لذت نژدې کړه. د غزل، رباعي، مخمس، ترجيع بند، ترکيب بند و غيره صنايع شعر يې وکړ، د فارسي د شعر رواج يې و پښتو ته ورکړ، په عروض په قافيه کي درست ووې د نظم نثر يې نه کتابونه بيان کړل، چي خود په عالم مشهور دي، اګر چه د پښتو ژبه په علت د دورنشينۍ هومره لذت نه لري چي عربي، فارسي سره نسبت شي لاکن از راه ضرور پښتنو ته هم په پښتو ويل بهتر دي او سنت الهي ضرور پښتنو ته جاري دئ، هر کتاب چي نازلېده هم د هغه قوم په ژبه به نازل شو دا په دا چي د هر چا پخپله ژبه فهم کيږي.

رباعي

دوه ياران چي راز د زړه تر بله نمايي
بايده دئ چي پخـــــــــــپله ژبه وايي
د فارسيانو کن مکن ويل چه سود کا
پښـــتنو ته کــړه مکړه ويل نه ښايي

نور بل سبب د کتاب دا و، چي افضل خان زوی د اشرف خان مرحوم لمسی د خوشحال خان ختټك کرلانۍ غفرالله له چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سن زر سل شل دئ دی د پلار نیکه په ځای قایم مقام دئ ښه سرداري لري، نظر يې په نېکنامي په ابادانې دئ په دا قحط الرجال دی غنیمت دئ، اللهم تزد احسانه، حق تعالی دې شرم وساتي نور مساعي کا، چې د پښتوکتابونه له هره قسمه لکه فارسیانو کړي دي مرتب شي. د نیکه شعر يې واړه په بیاضونو هر ځای متفرق وه، د ده په تلاښ چې څو مدت په دا سعی کي و له هره ځایه يې جمع کړ، دېوان يې مرتب کړ، بلکه کلیات د شعر يې چې څه و په نظم نثر لکه دستارنامه، فراقنامه، فضل نامه او دېوان و غیره کتابونه يې واړه په کاتبانو په څو څو ځله وکښل په اطراف به يې د شعر دپاره و هر چا و ته استول حق تعالی دې توفیق د نېك رفیق کړه. په مجلس کي به يې همېشه ویل چې که د چا په طبیعت قوت وي چې پښتوکتابونه لکه فارسیانو له عربي په فارسي ترجمه کړل څوك يې له فارسي په پښتو ترجمه کاندي. و ما ته به يې اکثر اوقات مخ راجاریوست. اګر چې ځما قوت هونبره نه و، لیکن چې نظر مي په تضیع وکړ، ومي لیده چې عمرګرانمایه ضایع درومي، په هر حال مي و دې محنت ته ملا وټړله، نور مي اکثر دکتابونو مطالعه کړه چې له یوکتاب چې په قال په حال مضبوط او معتبر وي له فارسي ژبي نه يې په پښتو ترجمه کړم. داکتاب مي بیا موند چې نهایت په افعال په قال په حال د مور د پیغمبر صلی الله علیم وسلم پخته او معتبر و، چې تعریف يې د پختګی مصنف په فارسي کي نهایت طولاني کړی دئ، (چې که پداکتاب کي يې راوړي ګنجایش نه لري)[1]، نور مي شغل ورسره واخیست چې دا شغل مي عظیم نعمت دئ له فارسي مي په پښتو ژبه ترجمه کړ، نوم يې قلب السیر کښېښود شو.

نظم

داکـــــتاب په پښـــــتو ژبه غـــــــنیمت دئ
په لوستوني يې نازل د خدای رحمت دئ
چې يې لولي يا يې کښـــینه ما دي یادکا
په تکـــــبیر په فـــاتحه مي دي ډېر ښـادکا

دګوهر خان د نثر نمونه دغه وه، چې د پښتو یو متوسط نثر شمېرل کېږي، اوس به د ده د شعر یوه نمونه هم ولیکو :

غزل

چې په مهر دي نظر شي هر انسان ته		په بهانه بهانه يې وبولې خپل ځان ته
چهرته فارس چهرته به شام یا مدینه وه		چې دي وښیله لار راسته آسمان ته
مجوسي آتشپرست یار د احمد کړې		چې هیڅ نه رسېږي عقل اوګمان ته
عجمي له اهل بیت سره حساب کړې		سکه تره د احمد خوشي کړې شیطان ته
په مکه کي بولهب څرنګ ګمراه کړې		له ملکونو سلمان راولې ایمان ته
بوالحکم د مکې څرنګ دوزخي کړې		له حبشه بلال ورولې رضوان ته
ځای د دم وهلو نشته هر څه کاندې		حیراني ده په هرکارکي و سبحان ته
و خاکي بنده ته څو مراتب ورکړې		د ملك غوندي يې ګشت وشي آسمان ته

شفیع کړی مي سلمان دئ ستا و در ته
ما "ګوهر" ایماندار بیایه بل جهان ته

[1] په لښدیو کي نیول سوی عبارت، په اصل کي نسته، ما د اروښاد علامه حبیبي د یوې مقالې څخه چې دګوهرخان تر سرلیک لاندي خپره سوې ده، راواخیسته. (روهیال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاظم شیدا

د خوشحال خان په کورنۍ کي یو بل ادیب او شاعر د پېژندلو وړ دئ، چې دی کاظم خان نومېږي، او د افضل خان زوی دئ په (۱۱٤۰ هـ) کال د خټکو په افضل آباد کي زېږېدلی او عمر یې په کشمیر او سرهند او رامپور کي تېر کړی دئ. د ده اشعار عشقي او اخلاقي خواوي لري، مګر په پښتنو شاعرانو کي د ده امتیاز دا دئ، چې شیدا یو نازك خیاله او د قوي تخیل خاوند او په شاعري کي د سبك هند پیرو دئ. د شیدا پر ژبه او ادب د فارسي ژبي د سبك هند اثرونه لوېدلي دي، چې د ده شعر یې د پښتو له طرز ادا څخه لیري کړی دئ، مګر د شیدا امتیاز په همدې کي دئ، چې دی ډېر نازك او نوي خیالي مضامین پیدا کوي او هغه په داسي ژبه او داسي تعبیر وایي چې د فارسي ژبي نازکي او لطافتونه په پښتو کي ځایوي او د ده له شعر څخه یو خوږ او مرکب معجون جوړوي. د شیدا په شاعري او شاعرانه تخیلاتو کي د پردېسۍ اثرونه هم ښکاره کېږي، مثلاً خپله اواره ګي او د زمانې جفاکاري په داسي ژبه بیانوي او آسمان ته وایي :

د کورې نیل دي پوري په دیده کړه
بصارت د تمیز نه لرې آســـمانه !
زمـــانه په رعـــایت د ګاو خـــر ده
پرورش د علف زار بویه باغـــوانه
آخـــر وژاړي په شـــان د غـــریبانو
که هر څو د وطن صبحه ده خندانه

د شیدا په شاعري کي د یادولو وړ هغه برخه ده، چې ده د وطن په یاد ډېره مضمون آفریني کړې او د تخیل په میدان کې نیلی ځغلولی دئ، په دې رباعي کي د خپل وطن مناظر څنګه تصویر کوي :

په زړه مي ګرځي د غرونو څوکي
حـــملې د بازو د زرکـــو کـــوکي
ووایه څـــــه کا د روه نســـیمه !
ګـــیرا منـــګولي زېبا مشـــوکي

بل ځای د صبا باد ته داسي خطاب کوي :

چې ګذر وکړې صبا د سرای په لـــوري
آواره بلبل یې یاد په ګل زمـــین کـــړه

کله چې د هند د سبزانو حسن وینې د خپل وطن د ګلرخانو ښکلا وریادېږي او هند ته په خپل راتګ پښېماني کوي :

ســـبزان کله وي همـــــسر د ګلرخـــــانو
ببهوده راغی شـــــــیدا تر هـــــندوباره

په دې بیت کي د هند د خلکو سیاهي په شاعرانه تلازم د خپل وطن د معشوقانو د تورو سترګو سره داسي ښیي :

پکښې نشته سیاه مست د هغو سترګو
ګرزېدلی په درست هند په بنـــګاله یم

بیا چې د هند د سبزانو په پاڼو سرې شونډې وویني نو د وطن د غرونو د زرکو په یاد کي وایي :

چې د هند سبزو خوږلی پان وي
لعل و یاقوت یې دواړه لبان وي
زرکي چې ګرزي د روه په غـرونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښايسته روغي په دغه شـان وي

شيدا کله د هندي پېغلو په ناز و ادا مسحورکېږي، او دلته خپله پښتني ساده روحيه داسي بيانوي :

په هـــندي ادا يې وکـــړې په ما چـــاري
زه شـــيدا په زړه ســـاده د روه افـغان يم

شيدا د سبک هند د نازک خيالۍ او مضمون آفرينۍ يو ښه تکړه نماينده په پښتو ادب کي ګڼل کېږي او دی پخپله خپل هنر ته ملتفت دئ او داسي وايي :

د ســـوسن ژبه حـيرت کـړه سرمه سايه
چي شيدا په دا بهارکي سخنګوی شو

په دې بيت کي د خپل زړه بنديوالی له زلفو سره په ډېره نازکخيالي تعبيرکوي:

زما زړه يې کله رانيو ســـــــــتا له زلـــفو
که هر څـو يې شانې تاوکړه مـــړوندونه

د شيدا په شاعري کي د نوي مضمون آفرينۍ سره سره کله کله ډېرګټور اجتماعي او اخلاقي مطلبونه هم پيدا کېږي، مثلاً د اجتماعي ايثار په خصوص کي داسي مضمون آفريني کوي :

افروخته يې وي محـــفل په شان د شمعي
چي سوخته د بل په کارکي خپل دماغ کا

د ناتوانانو سره خپله همدردي او تعاون داسي ښيي :

دلـــــداري د هر ناتوان زما عـــــادت دئ
بار په دوش وړي د هر خس طوفان زمـــــا

همدغه مطلب په بل مضمون کي داسي ادا کوي :

دلداري لـکه غنـــچه د هر شـــــبنم کـــړم
تل د بل په اوښـــــــو تر زمـــــا استين دئ

د لوړهمتۍ تصوير داسي کوي :

د آفـــتاب په کمـــــند نه خېژم آســـمان ته
نه ږدم بار لکه شـــــــــبنم په دوش د ګلو

بل ځای دغه مضمون په بل ډول ادا کوي :

که دي جـام لکه حـــباب ونه نيو سين ته
آفـــــرين دي په همت شـــــيدا خـــــټکه

د بل چا له پاره خپل راحت قربانول په دې الفاظو ښيي :

چي راحت درڅخه ستړی ستومان مومي
خپل صورت دي لکه سيوری د ښېدیا کړه

د شيدا يوه غزله :

(c) ketabton.com: The Digital Library

مه آرزو د تخت و تاج مه د سپاه کړه		خسروي په هفت کشور لکه شاه راه کړه
چي آستان دي تل مرجع د خاص و عام وي		د دوام افتادګي علو د جاه کړه
مکدر په ګرم و سرد د دوران مه شه		په جهان کي زيست په شان د مهر و ماه کړه
چي زيردست سوزې په دا درازدستيه		زمانه دي لکه شمع دست کوتاه کړه
پرېشانه يې شوه جمع لکه شمع		چي په حال يې توجه روز سياه کړه
سرکښي دي په حباب لکه سېلاب ده		کروفر د زمانې په دا کلاه کړه

کاشانه بويه شيدا چي اشيانه وي
يعني وضـــع د بنا په پرکاه کـــړه

رحمان بابا

په پښتو شاعري کي بل د پېژندني وړ او لوی صوفي شاعر عبدالرحمن د عبدالستار زوی په قوم مومند دئ، چي پښتانه يې رحمن بابا بولي. په (۱۰٤۲ هـ) د پېښور په جنوبي خواکلو کي پيدا سوی و، دی د بهادر دکلي دئ چي د پېښوره تقريباً درې ميله د جنوب طرف ته پروت دئ او په دغه علاقه کي د رحمان بابا ځای هزارخانه نومېږي. د پټي خزانې د مؤلف روايت دئ، چي رحمن بابا د ملا يوسف څخه فقه لوستلې وه، د ده د وفات کال د (۱۱۱۹ هـ) په شاوخوا کي ټاکل کېدای سي. داسي معلومېږي، چي رحمن بابا يو باعمله صوفي او د يوه ساده ژوند خاوند و، مګر سره د دغه چي دی له غريبي طبقې څخه بلل کېدی د عشق او لوی همت په برکت د ده ژوند د استغنا او عالي همتۍ په سايه کي تېرېده، لکه چي وايي :

هـــم په دا چي نه له ځايه چېرته خوځـــم
نه د هيـــــخ يوه مخـــــلوق يم منت بار
آب و خـــور لکه آســـيا په ځای را رسي
پخپل کور کي مي سکون دئ هم رفتار

د رحمن بابا د ژوند زمانه د اورنګزېب د پادشاهۍ په وخت کي ده او دا هغه وخت و چي مغلو په پښتنو کي نفاق او مخالفتونه پيدا کول، چي دوی سره وجنګوي او خپله پادشاهي پر وکړي، نو ځکه په دغه زمانه کي جنګ جګړې او ظلمونه ډېر و، نو رحمن بابا دغو خونرېزيو ته په انتقادي نظر ګوري، او وايي :

هزار حيف دئ چي دا هسي رنګه چاري
واقـــع کـــــېږي د دنيا په ســـــود و زيان

د رحمن بابا د ژوند اکثره برخه تر هغه ځايه چي د ده د اشعارو څخه معلومېږي په دروېشي او انزوا کي تېره سوېده، دی ويني چي د استعمار د ظلم اور له ډهلي څخه پر پښتنو بل دئ او له دې جهته نو د خپل کور وکلي څخه تښتي او وايي:

په سبب د ظالـــــمانو حاکـــــــــمانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور او ګور پېښور درې واړه یو دي

د رحمن بابا پر شاعري باندې د خوشحال خان د فکر اثر هم لوړدلی دئ او دوی دواړه په یوه زمانه کي تر یوه اجتماعي سازمان لاندې ژوند کاوه، اما فرق یې دوني و، چې رحمن بابا د زمانې له ناوړو سره مبارزه نه کوله، خو استقامت یې درلود:

لکه ونه مستقیم پخپل مکان یم
که خزان راباندې راشي که بهار

مګر خوشحال خان خو یو مبارز او جنګي سردار و، نو ځکه دغه دواړه شاعران خو د مغلو د ظلمو څخه ژاړي، د رحمن بابا ژړا د یو صوفي او واعظ ژړا ده، چې په نتیجه کي صرف ظالم د دنیا په نابودي او د مرګي په تاخت و تاراج ببروي :

اورنګـــزېب چې آرایش د تخـت و تاج کا
تخت و تاج به یې مرګی تاخت و تاراج کا

دروېش رحمان بابا بې له دغه شاعرانه تهدیده بل څه په لاس کي نه لري او وایي :

په جهان کي به یې پاتو ښه بد نوم شي
ده زده چاري د کسری که د حـــجاج کا

اما خوشحال خان تنها په دغسي شاعرانه نصحیت ګویي نه قانع کیږي، بلکي دی د ظلم په مقابل کي توره هم استعمالوي او وایي :

د افـــغان په ننـــګ مي وتړلـــه توره
ننګیالی د زمانې خوشحال ختګ یم

د رحمن بابا په شاعري کي د تصوف لو برخه شامله ده، چې په هغه جمله کي یوه هم د وحدت او عشق مسئله ده، د وحدته څخه مطلب دا دئ چې صوفي شاعر په ټولو کایناتو کي د یوه خدای د نور تجلیات ویني او بې له دغي رڼا بل څه نه سي لیدلای، رحمن بابا وایي :

نه یې څوک په سترګو ویني نه لیده شي
خـــو بې چـــونه بې چـــګونه نمایان دئ

د رحمن بابا نظر د ابدي نور په تماشا کي هسي تېز و، چې په بت خانه کي یې هم دغه جلوه کتله، دی وایي :

دا زما د یار جلوه ده چې لیده شي
لـــکه نمر په صومعه په سومنات

او بیا وایي :

رحمن حسن د یار وینم په پرده کي
نه پټېږي نور د حسن په قـــاموس

رحمن بابا د پښتو د صوفیانه او عاشقانه تغزل استاد دئ، تر دې اندازې چې ده ته د عشق او جمال شاعر ویلای سو. وایي چې ده له موسیقیِ سره هم عشق درلود او په خپله به یې هم رباب ږغاوه، یعني ده د آرټ دوه مهم توکي سره یو ځای کړي وو، هم د کلماتو د انسجام او د معنی د پرورښت آرټیسټ و هم د ږغولو د ترتیب د رباب په تارو کي هنرمند و او دا خبره د ده هنري استعداد ښه ښکاره کوي. صوفي شاعر همېشه د عقل نارسایي د حقایقو په لیدنه کي ویني او ګوري چې ډېر پټ اسرار سته، چې د انسان عقل یې له درکه څخه عاجز دئ، نو له دې جهته رحمن بابا هم لکه نور صوفي شاعران د عقل او جدل له هرکارې څخه د عشق او محبت حریم ته تښتي، نو وایي :

څو د عشق په میخانه یې داخل نه کړم
پخـــــته نه دئ دغه خـــام عـــقل زمـــا

بل ځای داسي وایي :

لاس د عـــقل دي آســـــــــمان ته نه رســـــیږي
دا خو عشق دئ چې په عرش کرسي قدم ږدي

(c) ketabton.com: The Digital Library

صوفي شاعر دا دعوا لري، چي د عشق په وزرو سره اسمانونو ته ختلای سي او عقل په دې کارکي نارسا دئ، مګر د شلم قرن انسان د عقل په لارښوونه د سپوږمۍ کره تسخيروي، خو دا خبره هم د صوفي ادعا نه سي باطلولای، ځکه صوفي وايي چي د عشق په برکت د ده نظر دوني وسعت او تېزي مومي، چي علاوه پر سپوږمۍ نور ټول کاينات او نظام شمسي ليدلای سي :

عشوه مفروش بمن ای ملك الحاج که تو
خانه می بینی ! و من خانه خـــدا می بینم
حافظ

د رحمن بابا په نظرکي دروېش د انسانيت دکمال يو سمبول دئ او دا هغه ځوك دئ، چي ده خپل ځان او روح داسي روزلي دي چي دکايناتو د حقايقو کشف په خپل قوت سره کولای سي، او په هغه ځای کي چي د عقل پښه لنډېږي صوفي د عشق پر نيلي سپور او نامعلوم حقايق ويني، رحمن بابا وايي :

چي په يو قدم تر عرشه پوري رسي
ما لـــــيدلی دئ رفــتار د دروېشانو

رحمن بابا هم لکه نور صوفيان عشق د انسان د پيداکېدو اصلي محرك بولي او وايي :

دا جهان دئ خدای له عشقه پيدا کړی
د هـــمه وو مخـــــــلوقــاتو پلار دئ دا

دغه عشق د ساينس په ژبه عمومي جاذبه بولي، چي نظام شمسي ټول يو له بله سره ننښلوي او د رحمن بابا په نظر دوني وسيع دئ، چي د نظام شمسي ټول متعلقات په صوفيانه تعبير داسي ښيي :

دا آسمان چي لوی په عقل کي ليده شي
په محـــيط د عاشقۍ کي يو حباب دئ

د رحمن بابا په شاعري کي يو ډېر مفيد عنصر دا دئ، چي دی د اجتماعي ژوند د سمون له پاره ځيني ښه ښه نصيحتونه هم لريچي زمونږ په روزمره ژوند کي په درد خوري، مثلاً په ژوندانه کي آرزو او طلب دواړه د انسان له پاره ضروري دي او رحمن بابا داسي دغه مطلب راښيي :

د ذرې په څېر آفتاب په طلب خـپل کړه
لکه تيره هسي پروت په زمـــين مه شه
کار په تش لستونې نه کـېږي بې لاسه
لاس په ږيره کړه بې لاسه آستين مه شه

هنر او د انساني کارکړنې داسي ستايي :

بې هـــنرو لـره قــند زهر قاتل دي
قند يې وګڼه که زهر په هنر خورې

د انساني همدردۍ او خدمت په خصوص کي داسي وايي :

هغه زړه به لـــــه طـــوفانه په امـــــان وي
چي کښتۍ غوندي د خلکو باربردار شي

په دې بيت کي د پښتنو د ژوندانه يوه بده نقشه کاږي او د ځان له پاره له هغې څخه امان غواړي :

خدای امان راکــړه له هسي زندګۍ
چي ته بد وايې لـــــه بلــه بل لـــه تا

د رحمن بابا يو غزل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دنيا کي مخ د يار دئ نور څه نشته		هر څه دي د يار ديدار دئ نور څه نشته
چي و هجر و وصال ته يې نظر کړم		يو دوړخ دئ بل ګلزار دئ نور څه نشته
کارخانه چي د دې دهر ليده کړي		همګي د عشق سرکار دئ نور څه نشته
هر مژګان يې په ما هسي چاري کاندي		وايم عين ذوالفقار دئ نور څه نشته
بويه مرد چي يې له مخه زلفي واخلي		دغه ګنج دئ دغه مار دئ نور څه نشته
هر طبيب ته چي ځان وښايم دا وايي		چي له عشقه دي آزار دئ نور څه نشته

خوار "رحمن" که بې تا مينه په چا وکا
عين د قـــتل سزاوار دئ نور څه نشته

عبدالحميد مومند

د (۱۱۰۰ هـ) په شاوخوا کي د پښور جنوبي خوا ته په ماشوخېلو کي عبدالحميد پيدا سو، د ده ژوند تر (۱۱٤۸ هـ) پوري يقيني دئ او ښايي تر (۱۱٦۰ هـ) پوري لا ژوندی وي، مګر د مرګ يقيني نېټه يې نه ده معلومه او قبر يې د ماشوخېلو په هديره کي معلوم دئ، چې کله کله د پښور پښتانه پر هغه باندي مشاعرې کوي. د حميد د شعر دېوان په ټولو پښتنو کي شهرت موندلی دئ، چې تقريباً (۳۰۰۰) بيتونه لري او اکثره يې غزلي دي، د حميد دوهم کتاب د شاه او ګدا قصه ده، چې په (۱۱۳۷ هـ) داخوندزاده غلام محمد په اشاره په پښتو مثنوي ترجمه سوې ده، دريم اثر يې د مولانا غنيمت د فارسي نيرنګ عشق په پښتو مثنوي ترجمه ده، چې دا هم ډېر ادبي ارزښت لري. د حميد څلورم لوی کتاب د عربي شرعة الاسلام په پښتو مثنوي ترجمه ده، چې پنځلس زره بيتونه لري او په (۱۱٤۸ هـ) کي ختم سوی دئ، نو که مور د حميد دغه موجوده آثار وشمېرو تر شل زره بيته زياتېږي، مګر د حميد امتياز له نورو شاعرانو څخه يوازي د شعر په ډېروالي نه دئ، بلکي دي هنري او ادبي داسي لياقتونه لري، چې هغه په نورو شاعرانو کي لږ ليدل کېږي او مور لاندي د حميد د هنر خصوصيات شمېرو :

حميد پښتو شعر ته نازک تخيل او شاعرانه موشګافي راوستله مګر دی لکه شيدا خټک داسي نه دئ، چې د رنګين فکر د ادا کولو له پاره د پښتو ژبې له اصلي قالبه څخه ووزي، بلکي دی پخپله ژبه او خپل هنر باندي دوني غښتلی دئ، چې هر رنګه نوی مضمون او ښکلی تخيل په پښتو ښکليو الفاظو کي ادا کولای سي، خو د پښتو خپل خاص د ادا رنګ هم پکښې ساتي، د ده په کلام کي کي لکه شيدا فارسي جملې او تعبيرونه نسته.

په فارسي شاعري کي د سبک هند خصوصيت دا و، چې شاعر به د تخيل په مرسته ډېر نازک او دشوار مضمونونه په پېچلو الفاظو او ادبي تلازماتو او د شاعرانو په ظاهري او معنوي بديعي فنونو جوړول او په نتيجه کي به يې داسي شعرونه ويل چې فهم به يې مشکل و او هم به يې د بيان ظاهري اسلوب داسي و، چې د فارسي ژبې د عراقي ساده او روان سبک سره به يې ډېر تفاوت درلود او د همدې جهته دئ، چې د اېران خلك د سبک هند د شاعرۍ ځيني د مبالغې ډکي نمونې نه خوښوي، حميد پخپله شاعري کي د سبک هند نازکخيالي راداخله کړه او په همدې سبب د ذوق خاوندانو د ده دېوان (در و مرجان) او پخپله دی يې موشګاف وباله، مګر د حميد کمال دا و، چې خپلې شعري ښېګڼې يې د سبک هند تر موشګافۍ نه کړې قربان بلکي په متوسط ډول يې د هندي سبک ځيني ښکلاوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخپل شعر کي په استادانه ډول وروزلې که مور له فارسي شاعرانو سره د حميد او شيدا مقايسه وکړو نو حميد لکه صائب او کليم ګڼلای سو او شيدا لکه ناصر علي او بيدل او دا ښکاره ده، چي صائب او کليم د سبك هند معتدل استادان دي.

د حميد د هنر يو بل ارزښت هم دا دئ، چي د ده د شعر اقسام لکه غزل، مثنوي، رباعي مخمس ټول يو راز ادبي مزيتونه خوندي کوي، يعني د ده په شعر کي لوړ او ځوړ او نشيب او فراز ډېر ډېر ښکاري، لکه په غزل کي چي نازکخياله او مقتدر خيال پرست شاعر دئ دغه مزيتونه د ده په مثنوي او داستان سرايي کي هم ښکاري دا ځني ثابتېږي، چي دی يقيناً تکړه شاعر او استاد و او خپل هنري لياقت په هيڅ ځای کي د لاسه نه باسي.

حميد پخپله شعر يوازي په لفظونو بازۍ يا يوازي نظم جوړول نه بولي خو داسي نظر لري، چي شعر لکه يو هنر چي دئ دغسي هم د انسان له نازکو احساساتو او د زړه له دنيا سره علاقه لري، يو شعر به په ظاهري ښکليو الفاظو مزين وي، جمله بندي او ظاهري انسجام به يې هم سوی وي، مګر د زړه څخه به نه وي راوتلی نو داسي شعر ته مور شعر نه سو ويلای، بلکي نظم دئ. د پښتو ژبي ډېر دغسي نظمونه موجود دي خو هنري ارزښت هيڅ نه لري، حميد خپله هنري نظريه د نيرنګ عشق په مقدمه کي داسي څرګندوي :

غوږو ورکړه يو له بل مباركي		ما چي وپېيل دا دُر په باريکي
يا وتلی وروستی دم له خولې د مړه دئ		شعر نه دئ دا خوناب د زخمي زړه دئ
يا مجنون ته معما ښکلې ليلې ده		يا نغمه د نيم بسمل مرغه د خولې ده
يا له ښاره د حيرت وتلی فوج دئ		يا د وينو اباسين وهلی موج دئ
زياتوي زما خبري هومره خوند		څو وهي د فكر زامي باندي شخوند
چي قدم ږدي د دې ناوي په جوس		نه دئ کار د هر نااهل بوالهوس
د ښايست مخي يې نسته هيڅ پلو		که يې څوك له مخه پورته کا پلو
ازمېيلی دوباره ازمويه نه شي		دا ګوهر له نازکيه پېيه نه شي

دلته حميد د هنر او نظم فرق کوي او هر ناظم ته حق نه ورکوي چي د هنر د ناوي په ښکلي جوس کي قدم کښېږدي.

د حميد هنري استعداد هغه وخت ښه ښکاره کېږي، چي سړی د ده هنر د استعمال په مختلفو اړخونو کي وګوري، مثلاً په نيرنګ عشق کي د معشوقې نڅا او د هغې نازنين حرکات په داسي الفاظو تصوير کوي :

هـــــر اندام د ګل اندام به نخـــښده
لـــکه مـــــوم د اور له تاوه خـــځښده
کښاستو يې کښښول سل آفتونه
پاڅښدو يې پاڅـول سل قيامتونه

دا خو د حميد يو شاعرانه ښکلی تخيل و، چي د يوې ښکلي نڅا تصوير دئ، مګر کله چي جدي اجتماعي مطالب ليکي هغو ته هم د تخيل يو شاعرانه او هنري رنګ ورکولای سي، مثلاً وايي :

بيا به نه مـــومي بوسه د خـــــورو شونډو
څو دي زړه په شان د پانو پر خون نه شي
څو شبنم غوندي شبګير په سر وانه خلي
د ګلـــرخ سره به نه شي هـــم اغـــــوش

په دې بيتو کي د کوښښ او مجاهدې فلسفه د ژوندانه په عملي دنيا کي ښيي او د پانو په اصلي سرخي چي د محبوبانو شونډې ور سرې کوي او په دوهم بيت کي د شبنم شبګيري او په نتيجه کي يې له ګلرخانو سره هم آغوش شاعرانه استدلال

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي او دغه موضوع چي شاعرانو په قسم قسم ویلې ده یو هنري بیان خرګندوي. په ژوندانه کي احسان د اجتماع له پاره ډېر مفید عنصر دئ او که دغه شریف احساس د یوې جامعې په افرادو کي مونده سي هلته به د غریب او بډای فرق هم لږ سي، د دې نېك خوی د تبلیغ له پاره شاعرانو رنګا رنګ مضمونونه پیدا کړي دي، د حمید په دغه بیت کي دغه موضوع په یوه نوې شاعرانه تعبیر سره ویل سوې ده :

چي د اوسپني ځنځیر شلوي په ګوتو
هغه دېو په اومــه تار د احسان ننبلي

کله چي مورږ د حمید هنر د ده په شعرکي مطالعه کوو، نو دا په ټینګه ویلای سو چي حمید تر هر څه زیات د عشق او شریف احساس او د ښکلا یو مصور شاعر دئ او تر هر څه زیات به دی هنري مهارت لري، مثلاً د ده د ښکلا تعبیر یوه نمونه دا ده :

چي نظر په نوخېز حسن کړم د ښکلیو		راته هیڅ شي د بهار د ګلو خېز
زه د یار مړاوکتو ته حیرانېږم		چي ګذارکاندي په سسنه لینده تېز
شورماشورکاندي خلوت په خلوتیانو		چي ور وښیي جمال فتنه انګېز

که یې لب د شکر لب زبېښلی نه دئ
د حـــــمید زبان په څه شو شـــکر رېز

عبدالرحیم هوتك

عبدالرحیم له هغو شاعرانو څخه دئ، چي پخپله یې خپله اغلب سوانح په خپل دېوان کي ځای پر ځای ښوولې ده. د ده مسقط الراس او اصلي وطن کندهار دئ او په غربت کي یې ډېر ډېر یادوي[۱] د ده دېوان د مطالعې څخه معلومېږي، چي دی د هوتکو په عصر د کندهار په زاړه ښارکي اوسېدلی دئ او هلته یې دوستان درلودل[۲] او بیا چي د افشار نادر شاه په لاس د (۱۱۵۰هـ) په حدودو کي کندهار خراب سو نو عبدالرحیم په مفارقت او مسافرت کي هم د خپل ښار یاد له زړه نه دئ ایستلی.

عبدالرحیم ذاتاً له هوتکو څخه د ښه بولان (کلات) معلومېږي، او د زاړه او اوسني کندهار په حدودو کي یې هم ژوند کړی دئ او بیا نو له وطنه جلا سوی دئ[۳] دی پر لسم کال د څه ناچاریو په سبب له وطنه وتلی دئ[٤] د ده د مفارقت او غربت دا زمانه تر اتیا کالو پوري رسېږي، او د دې مفارقت او جدایۍ په عمرکي دی تل وطن او د وطن یاران یادوي او په سوران سوران ژاړي، او وایي :

زه رحـــیم په بخـــــارا کي آرزو کـــــــړم
که مي خدای کړي په بلاد د کندهار ګډ

عبدالرحیم د خپل مسافرت او پردېسۍ ځایونه ټول یادکړي دي، نیشاپور، تهران، ورامین او بیا له دې ځایو څخه بخارا ته تللی دئ او په تورکستان کي یې ډېر عمر په یو جهان سوز وګدازکي تېرکړی دئ[٥] د ترکستان په مشهورو ښارو بخارا او سمرقندکي یې پنځوس کاله په یوه اوږد انتظار او فراق کي پای ته رسولي دي[٦] بیا نو په دغه غربت او مسافرت کي بوډاتوب او سپین ږیرتوب ته رسېدلي، نور حالات یې نه دي ښکاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشعار او افکار :

عبدالرحیم یو مرتب او مردف دېوان لري چې تقریباً په (۳۰۰) مخو کې تخمیناً زر مردفي غزلي لري او ټول ابیات یې تقریباً شپږ زره ته رسیږي، مګر کوم دېوان چې زمونږ لاسو ته راغلی دئ، متاسفانه د سر او آخر پاڼې نه لري[۷] د دې دېوان متن په جلا خط لیکل سوی دئ، او د غزل پر سر یې لیکلي دي (وله ایضاً مد ظله تعالی) لکه چې د ده په ژوند لیکل سوی دئ او پر حاشیه باندې یې څه نوري غزلي په بل خط لیکلي سویدي، لکه پخپله د شاعر خط چې وي، عبدالرحیم په پښتنو شاعرانو کې د رحمان بابا د مکتب یو رکن دئ، دی طرفدار د ساده ویلو دئ. په کلام کې یې هیڅ تکلف نسته.

عبدالرحیم یو خوږ وینا مقتدر شاعر دئ د شعر ژبه یې خورا سلیسه، روانه او خوږه ده. دی هیڅکله په تلازم کې د طبیعت د دائرې نه وزي. د عبدالرحیم اشعار او غزلیات لکه په پارسي کې د حافظ دغسي خواږه، روان او د سلاسته ډک دي.

عبدالرحیم په اصل کې د وطن د علمي خلکو څخه و، ده غالباً د وطن متداول علوم، لکه : فقه، تفسیر، صرف، نحو، فلسفه، منطق ویلي دي[۸] په دغه سبب د ده په شعر کې قوت، متانت او علمي رنګ ښکاره دئ. د عبدالرحیم په شعر کې عشقي، اخلاقي، اجتماعي او فلسفي اقسام ټول سته.

د وطن محبت د ده د شعر یوه خاصه ممیزه ده. عبدالرحیم د روحاني دنیا سره ټینګه علاقه لري، غالباً له مادیاتو څخه تښتي، له دې جهته د ده په اخلاقي شعر کې د غزلت او تجرد، صبر او د نفس د اصلاح خوا ډېره ده، دی په دنیا کې د روحاني خوند او ذوق قائل دئ، د جد و جهد او کوښښ تبلیغ هم کوي.

د عبدالرحیم په شعر کې رباعي، غزل، قطعې او د شعر اکثره اقسام سته، دی لکه رحمان او خوشحال په اوله درجه شاعرانو کې ګڼل کیږي، اخلاقي او عرفاني مضامین ډېر وایي، مثلاً :

منبر وسوځه په اور کې شراب وخښه
درته وایم خو د زړونو آزار مه کړه
په ظاهر شکستګي فایده نه کاندي
په باطن کې ځان د هر چا خدمتګار کړه
ناخوانده له کوره مه وزه که مرد یې
چې دي نه بولي، مېلمه د خپل پلار مه سه
که ته غواړې چې په دوه کونه عزیز سې
بې له خدایه د مخلوق طمع دار مه سه

د خاموشۍ تلقین په دې ډول برهان سره کوي :

همېشه بې حلق شېرین لکه نبات وي
چې بسته یې خوله په مهر خاموشي کړه

د نورو د زړه زهیرولو بدۍ داسي ښیي :

که هزار ځله تقوا پرهېزګاري کړې
ښه دي نسته چې مدام دل آزاري کړې

دا خبره چې انسان باید پر ځان ویسا یعني پر خپل نفس اعتماد ولري، د اوسنیو اجتماعي ترقیاتو او اخلاقو اساس ده، عبدالرحیم دا پر ځان ویسا په داسي ډول بیانوي :

چې د پلار او د نیکه په نوم خوښیږي
لکه سپی ښادي په محض استخوان کړي
دا یې واړه بې عقلي ده که پوهیږي
چې هوس د نورو خلکو په بیان کړي

د سعي او عمل تلقین داسي کوي :

د هر چا برخه له خپله برآورده

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې کار ډېرکا و هـــغه وته مـــزد ډېر ســـو

د عبدالرحيم عشقي اشعار هم ډېر تاوده دي، خپل مشتعل احساسات په شعرکي داسي ښکاره کوي او د سهار نسيم خپل وطن ته داسي رالېږي :

سحر باده ! د اشنا پر مقام ورسه		ځما دپاره پکښې وګرزه کوتر سه
لوی وکم چې وي ټول ووينه په سترګو		په احوال سره د هر يوه خبر سه
هر يوه چې زما له حاله پوښتېدو وې		په ژړا ورته په اوښکو کي احمر سه
که خبري زما دپاره درته وکړي		مخ راکوزکړه زما و لوري ته چپر سه

د نسيم په زباء دي ښه نه سي "رحيمه"
د دلـــدار پر لور پخـــــپله قلـــندر سه

له دې لاندي بدلو څخه د عبدالرحيم دکلام سلاست او رواني او د مېني تاوده احساسات او د عشق د دنيا سوز او ساز ښه څرګندېږي :

راسه راسه ستا تر دواړو سترګو جار سم		هم تر مخ دي پروانه غوندي نثار سم
د زړه ولي مي په تا پسې پرې کېږي		راته وګوره قربان دي تر ديدار سم
شېرېني به دي د وصل هېره نه کړم		که هر څو غربت زده او خوار و زار سم
چې دي خيال په زړه کي راسي دننه		اور مي واخلي په نارو او په کوکار سم
د اختر په ورځ که مخ راته څرګند کړې		قرباني به دي په مينه د رخسار سم
جنتونه پر خاطر کله را دروي		چې په شوق ګډ ستا د حسن په ګلزار سم

ستا وصال په بخارا کي "رحيم" بيا موند
صـــــدقه تر ټوله مځـــــکه د بخار سم

بهار راغی خلك درومي و صحرا ته		رنګا رنګ ګلونه ډېر د غره و خوا ته
لوی اوکم دي پله ګډ ښادي هوس کا		ما له غمه ملا ترلې و ژړا ته
هر سړی يو کار لري مشغول په کار دئ		د مجنون دي دواړه سترګي و ليلا ته
د عاشق له خپله ياره سروکار دئ		بې له ياره کله ګوري و بل چا ته

اويا کاله د "رحيم" په عشق کي تېر سوه
عقل، هـــوښ يې مـــدام وي و دلربا ته

د وطن بېلتون :

دا بدله عبدالرحيم په بخارا کي د خپل ګران وطن په ياد ويلې ده :

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښايسته کندهار ډېر ډېر يادومه[۹]		نه هېرېږي که هر څو يې هېرومه
خصوصاً د ارغنداو باغ او ولو ته		زړه مي غورځي بې طاقت سم ندرمه
سرپوزه اوکاغانک چې پر زړه راسي		اور مي واخلي پر ځان پيك وښورومه
کوکران اوګندیګان د خدای په حکم		څه فيضونه باندي اوري کې شمېرمه
سرپوزه چې لو ویاله پکښې بهېږي		د ویل ږغ يې مدام پر زړه لرمه
يو دم کښېنه په ايوان د چلزينو کي		تماشا وکړه چې زړه دي سي بې غمه
څه فيضونه چې له دې ځايه زه وينم		چې له غيبه باندي تل اوري هر دمه
ما هم يادکړه که دي خدای کړي برخه لويه		چې غريب په بخارا کي يم له غمه
نيازمن درو له پر زړه نارې وهنه		چې دي ورسي ناره پر درست عالمه

دغه خوار "رحيم" چې دا اشعار بيان کړه
غـــــرض دا چې قـــــدردان وژړومه

لمن ليکونه :

(۱) ښايســـته کـــــــندهار ډېر ډېر يادومه
نه هېرېږي کـه هـــر څـــــــو يې هېرومه

(۲) پر زاړه ښـــــــار مي راوړای قـــــدمونه
د فـــــراق نارې مي وکـــړای په کوکار
هـــــغه ښـــه ياران چې ما لـــــيدلي ونه
پرې پوهـــــيږم يو به نه وي په قـــــرار

(۳) ستا قسمت سو بخـــارا عـــــبدالرحيمه
عزيزانو اختـــــيار ټولو ښـــه بولان کړ

(۴) لـس کلن له ملـــــکه ووتم ببرون ســوم
په ســـراغ د مهوشانو ځـــګرخون سوم

(۵) بخارا او ســـــمرقند مي زړه زخـمي کړ
غـــوارم پاځـــم په زيارت دکـــــندهار

(٦) پنځوس کاله زيات وکم وسوه رحـــيمه
په سراغ د اشـنا ناست په ترکستان يم

(۷) د پښور د اسلاميه کالج په کتابخانه کي د دې دېوان مکمله نسخه سته.

(۸) صـــرف و نحـــوه، فلســـفه، تفســـير او فقه
ټول مي هېرکړه چې مي زړه په عشق خبر سو

(۹) په دې بدله کي دکندهار شاوخوا سرسبزکلي ارغنداو او سرپوزه، کاغانک، کوکران، ګندیګان، چلزينه ستايل سوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمدشاه بابا

اعليحضرت احمدشاه بابا د زمان خان زوی د دولت خان لمسی د سرمست خان بن خواجه خضر بن سدوکړوسی و.
دی په ختې سدوزی او د بامیزو پښتنو له پښته و، اعلیحضرت احمدشاه بابا د پښتنو یو فاتح او برمیالی شهنشاه او د منځنۍ آسیا لوی بریالی دئ، چې د (۱۱۳۵هـ) په حدودو په هرات کې زوکړی، او پلار او اکاګان یې د هرات پاچهان وه، اعلیحضرت احمدشاه بابا په (۱۱٦۰هـ) د افشار نادرشاه تر مرګ وروسته کندهار ته راغی، او د شهرسرخ په کلي کې د پښتنو مشرانو په پاچهي وټاکلی، احمدشاه بابا پخپله پاچهي کې پښتانه سره یو کړه، او د افغانستان طبیعي حدود یې فتح کړه، په بخارا، خراسان، او هند کې یې ډېر فتوحات وکړه، په خراسان کې یې شاهرخ میرزا پاچا کی، او د بخارا د پاچا شاه مراد بېګ سره یې روغه وکړه، نه واره هند ته ولاړ او هلته یې لوی لوی فتوحات وکړه.
اعلیحضرت احمدشاه بابا د پښتونوالي په دود د ډهلي تر نیولو وروسته د هغه ځای مغولي پاچا هلته پر خپل حال پرېښود، په (۱۱۷٤هـ) کې چې یې د پاني پت پر ډګر د تقریباً لسو لکو مرهټانو سره جګړه وکړه، په دې جنګ کې اعلیحضرت احمدشاه بابا او پښتانه چې تقریباً (۸۰) زره تنه وه بریالي سوه او تر دوه لکه پوري دښمنان یې مړه کړه، بیا هم احمدشاه بابا د ډهلي تخت شاه عالم مغولي ته وسپاره او خپل وطن ته فاتح راغی.
اعلیحضرت احمدشاه بابا یو مدنیت روزونکی او عالم او متدین پاچا و، دکندهار او د تاشقرغان ښارونه ده جوړ کړي دي، د سند د حیدرآباد ښار هم د ده نائب الحکومه جوړ کړ.
احمدشاه بابا د اوسني افغانستان د سلطنت مؤسس دئ، چې دا مملکت یې په خپله توره او تدبیر سم کی، تر (۲٦) کالو پاچهۍ وروسته د جمعې په شپه ۲۰ رجب (۱۱۸٦هـ) وفات او دکندهار په ښار کي ښخ سو[۲].

ادیب او شاعر احمدشاه بابا :

تر اوسه خلك احمدشاه بابا د منځنۍ آسیا یو نامور بریالی او معروف شهنشاه ګڼي، او دی د توري او مېراني خاوند بولي، چې په دغو اوصافو یې مځکي نیولي او د افغانستان د شاهنشاهۍ لومړۍ تیره یې کښېښوه، مګر احمدشاه بابا لکه د آسیا دمخني فاتحین (چنګېز، تېمور، نادر) یوازي پخپلو عسکري سوقیاتو او د توري په برکت جهانګیري نه ده کړې، بلکي ده د خپلي توري سره قلم او د خپلي سربازۍ او توریالیتوب سره علم او فضیلت، تقوی او ادب هم ملګري درلوده، ځکه نو دی د پښتو ژبې یو زبردست ادیب، یو عالم او عادل پاچا، لوړ شاعر، او اجتماعي مصلح او روحاني مقتدا هم ګڼل کیږي.
اعلیحضرت احمدشاه بابا د شعر یو مدون او مردف پښتو دېوان لري، چې په (۱۳۱۹ش) پښتو ټولنې نشرکړی دئ او تر (۳۰۰۰) بیتو پوري رسېږي، دا دېوان بدلي، قطعات، رباعیات او نور د شعر اقسام لري او د ده په شعرکي د ده لوړ فکر او هسك همت او د پښتونوالي جذبات او د شاهنشاهۍ جګ افکار، د بخښني او ښندني هسك عواطف، د توریالیتوب برجسته احساسات د جهانګیرۍ د شجاعت عزم د ایمان او عقیدې ټینګار، د عشق سوزان دردونه، د مینې د دنیا عجیبي پېښي ښکاره دي.
احمدشاه بابا د توري پر میدان یو بریالی او ننګیالی سرباز دئ، د پښتونوالي پر ډګر بشپړ پښتون دئ، د سیاست او مشرتوب له پلوه، د خپل عصر لوی سیاسي مشر او فاتح دئ. په اجتماعي دنیا کي تکړه مورالیسټ Moraliste یعني اخلاقي شاعر دئ.
ویل یې ډېر ساده مؤثر دي، شعري صنایع او بدیعي فنون هم د ده پر وینا اثر لري، د تصوف له دنیا څخه ډېر ږغېږي، شاعري

[۲] د احمدشاه بابا سوانح له سراج التواریخ او تاج التواریخ او تتمة البیان او خورشیدجهان او نورو څخه خلص سوه، ځینې مؤرخین د ده عمر (۵۰) کاله ښیي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې د تصنع او نمايش له پاره نه ده بلکي د زړه ږغ يې دئ، تشه وينا نه ده پخپله وايي :

بې له عشقه شعر وايې
له ويلو شـــــرم ته کـه

احمدشاه بابا په شعرکي د رحمان بابا مکتب ته نسبت لري، وينا يې له تعقيد او ابهامه تشه ده، خپل لوړ افکار او د سوي زړه ږغ په ساده او خوږو الفاظو څرګندوي، ګران تشبيهونه نه لري، له وينا څخه يې پښتونوالی ښکاره دئ، د تصور او تخيل په دنيا کي د پښتونوالي تر حدودو نه وزي. اوس به مور د ده د وينا ځيني توټې تاسي ته در وړاندي کو:

د وطن مينه :

احمدشاه بابا د خپل وطن سره دومره مينه لري، چي په لږو شاعرانو کي ليدله کيږي، لکه ده چي عملاً هم خپل وطن ګران ګاڼه او دغه خاوره يې د ټولو افتخاراتو او ادبي او عمراني او اقتصادي چارو مرکز ګڼه، دغسي هم قولاً خپله مېنه ستايي.
احمدشاه بابا د شهنشاهۍ د شوکت او عظمت سره د هندوستان په ځنګلو کي پروت دئ، د ده بريالی لښکر د ډهلي ښار فتح کړ، او د پښتنو پلار په برم او جلال ور داخل سو، مګر په دې حال کي هم د خپلو غرو خوږ نسيم نه هېروي، او د زړه ګل يې بې له دې وړمې نه غوږيږي.

د زړه ګل به مي له خاورو کا سر پورته
که نســـــيم له کوهســـــتانه وزېده

په دې رباعي کې هم خپل وطني احساسات ښه څرګند کړي دي :

د زړه فـــــرياد مي له جـــــدايۍ
اور مي ورك نه سي د آشـــنايۍ
چي پر وطن وي زړه څه قرار وي
يم بې طاقـــــــــته په پردېـــسۍ

د احمدشاه بابا دا لانديني وطني بدله د يوه دېوان قيمت لري او د پښتو په وطني ادب کي خورا مهمه ده :

ستا د عشق له وينو ډك سوه ځګرونه		ستا په لاره کي بايلي ځلمي سرونه
تا ته راسمه زړګی ځما فارغ سي		بې له تا مي اندېښنې د زړه مارونه
که هر څو مي د دنيا ملکونه ډېر سي		ځما به هېر نه سي دا ستا ښکلي باغونه
د ډهلي تخت هېرومه چي را يادکړم		ځما د ښکلي "پښتونخوا" د غرو سرونه
د رقيب د ژوند متاع به تار په تارکړي		چي په تورو پښتانه کا ګزارونه
د "فريد" او د "حميد" دور به بيا سي		چي زه وکاندم پر هر لوري تاختونه
که تمامه دنيا يو خوا ته بل خوا يې		زما خو خوښ دي ستا خالي تش ډګرونه

"احمدشاه" به دغه ستا قدر هېر نه کا
که ونيسي د تمام جـــــهان ملـــکونه

په دې بدله کي تاسي وګورئ چي زمور ښاغلي پلار د شاهنشاهۍ ټوله ښېګڼې او خوندونه تر خپله وطنه پوري هېروي، او د شېرشاه سوري (فريد) او سلطان حميد لودين د پښتونوالي رونې دوري پخپل همت او وطنخواهي بيرته جوړوي.

ملي وحدت :

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمدشاه بابا ډېر مدبر او هوښيار سړی و، دی پوهېدی چې د پښتنو لوړتيا په ملي وحدت اړه لري، د پښتنو تاريخ يې کتلی او دا يې ځني را ايستلې وه، هرکله چې پښتانه سره يو سوي دي، نو يې هري خوا ته خپل د برم او جلال توغ جګ کړی دئ، نو ځکه دا پوه او نومیالی پلار خپل ښاغلي ملت ته د ملي وحدت تبليغ کوي او وايي :

قافله د عشق راغلې له کوم خوا ده ټوله يو دي که غلجي دي که اودلي چې عمل يې د نېکۍ وي مېړه هغه		پر زړګي باندي مي سته کا څه غوغا ده ښه هغه چې يې ښيښه د زړه صفا ده که اغوستې يې ځدله د خمتا ده

[۳]پښتانه دي ټوله لاس سره يو کاندي

چې مو نن غزا هر لوري شاوخوا ده

د بري لار :

احمدشاه بابا په ژوندون کي د ټولو لوړتياوو او بريو لار زيار او مبنود ځني، لکه چې وايي :

بې زحمته راحت چيري مونده نه سي
د "احمد" ځکه پر هر لوري غـــــزا ده

احمدشاهه دلته جوړه سربازي ده
د لوړتيا خريد کـوه له دې بازاره

احمدشاهه څو دي کار په لاس دي مټ کړه
حيف هغه چې په تېر کار موږي لاســــــونه

حماسيات :

احمدشاه بابا د پښتنو په دود لوړ لوړ حماسيات لري او لکه عملاً چې هم يو بريالی قوماندان و، په ويناکي يې داسي لوړ احساسات ښکاره دي :

راته يو دئ بحـــــــــــــروبر
که څـــه ســـــمه دئ که غــر
په همت به يې تسخير کړم
شـــــــاهانه په شـــــان وفر

په برېښنا د توري ژوند کوه "احمده"
د بري جـولان پر لور د هـــــر ديار کړه

په پښتونواله کي پت او ننګ هغه مقدسات دي، چې تل يې پښتون په سر ساتي، احمدشاه بابا د پښتونوالي پر دغه ښېګڼه داسي ټينګ ولاړ دئ :

[۳] ابدالي په پښتو اودل بولي دا د درانو زوړ نوم دئ، پښتو متل دئ : "د خدای داسي رضا ده، چې اودلي ودوي ترين يې ورا ده".

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر ننګ مړ خو څه مړ نه دئ لاس به وانه خلم له ننګه چې سر پرې کړې "احمدشاهه"		د بې ننګه ژوند جفا ده که په ننګ پاته دنیا ده د هغو مینه رشتیا ده

په دې بدله کې زمور د پلار حماسي او رزمي افکار ښه برېښي :

چې برکړی مي خدای لاس پر رقیبانو چې د هند د ملکو فتح مي روزي سوه پر داکړي داد دي خدای نه سي ناراضه چې ځما د ولایت فتحه روزي سوه		ترو به زه د هند پر لور په تماشه ځم نور اېران لره په توغ په نغاره ځم تر نګین مي اېران لاندي شاهانه ځم ترو به څه د یار له نازه کناره ځم

اخلاقيات :

د احمدشاه بابا د وينا اخلاقي برخه هم خورا مفيده او ښه ده، مثلاً د شاهنشاهۍ د برمه سره هم ځان نه ورکوي :

یاره زه خـو هغه ســـتا د درګدای یم
څه سو نن که احـــمدشاه درانی یم

تکبر داسي غندي:

تکـبر دئ له شیـــطانه مه یې نغوړه
چې په کبر به سر وچ کړې لکه لوخه

عجز داسي ستايي :

کمیني شکســـتګي ستا کمال دئ
خـــــودبیني په بډایي ګنه ګـــــــناه

د وفا ضرورت داسي بيانوي :

مـرګی ښـــه دئ په دنیا کي
نه چې څـــوك سي بې وفا
سر په تېغ پرېکړی ښه دئ
تر بې پتـــه په دنیـــــــــا

رشتيا په څه ښه ډول ستايي :

په رشتیني بازار تل قلـــپي کـــــوټه ځي
سخ د هغو چې په دې بازار مخ سپین کا

اجتماعي پېرزوينه :

په اجتماعي تعاون کي احمدشاه بابا داسي پاڅه افکار لري :

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د يار په درد رضا کا له اخلاصه		په دنيا کې دغه هسې کار د مرد دئ
يو د بل په درد او غم چيرې خبرېږي		مګر هغه چې په درد يې بيا همدرد دئ
يار هغه دئ چې په غم د يار شريک وي		چې په غم يې غمجن نه، هغه نامرد دئ
يار چې ښه وايي له ياره هغه يار دئ		کله يار دئ چې له ياره يې نبرد دئ

"احمدشاهه" بې پتي ننګ کړه يارانو
چې پر پت د يارې سر ښندي اوس فرد دئ

تصوف :

د احمدشاه بابا د وينا لويه برخه تصوف دي، مګر دا تصوف يو راهبانه منفي تصوف نه دئ چې سړی به ضرور دنيا پرېږدي، او د رهبانيت په ګوټ کي به ميشتېږي، بلکي د احمدشاه بابا د تصوف افکار له هغه کانونه تاوده سوی دي، چې د حضرت شيخ احمد فاروقي کابلي مجددي الف ثاني ټوله عرفاني او سلوکي اصلاحات پکښې سته. احمدشاه بابا د ميان فقيرالله جلال آبادي ثم الشکارپوري لوړ جناب ته ارادت درلود او د تصوف درس يې له ده څخه لوستی و، د دوی په تصوف کي جهاد او عمل او د خلکو هدايت ډېره برخه درلوده، نو ځکه احمدشاه بابا يو مجاهد او مصلح او متشرع صوفي و، د ده په دېوان کي ډېري د تصوف خورې بدلي سته، چې دلته يو څو بيته راوړو:

د انسان فطرت :

دا ځـــــما د صورت خټه
په څـــــلور عنـــصره پټه
که څلور عنـصره واخلې
پخپل څېر ده دا کټ مټه

د انسان د اصلي وطن ياد :

چې د روح په رونړا ورک ســـــــــــوم
ځـــــــکه مـــــا لـــــــــــيدلی يار و
"احمدشاه" اوس که يك تنها سوې
ســـــــــــتا وطن د يارکـــــــــــنار و

علم ته تشويق :

احمدشاه بابا عالم پاچا و، نو ځکه په خپله وينا کي ملت ته د علم ډېر تشويق ورکوي، مثلاً :

څو ډېوې د علم دي همېشه بلي		د غفلت په تياره څوګرزې عجوزه
دا يقين علم له ځانه سره مله کړه		د همت په وزر الوزه، الوزه
له څلور خوا به دُر درته ځليږي		که د علم رونړ څراغ ته درته بل کړې
روح له علمه رنړا اخلي هله زده کړه		"احمدشاهه" چې بدخوی په ښه بدل کړې
علم ګوره څه څرګنده لوی درياب دئ		بيا هم دی رابهېدلی په څو باب دئ
دا د علم درياب هر چيرې محيط دئ		علم زده کړه چې د علم لوړ جناب دئ

بديعي صنايع :

(c) ketabton.com: The Digital Library

د احمدشاه بابا کلام بديعي صنايع هم لري، چي يو دوې نمونې يې دا دي :

طباق :

زړه مي تورو زلـــــــفو بند کړ
اوس ارمان د سپين رخسار کړم

تجنيس تام :

ستا پر مخ ګوره اوربل دئ
ځکه اور بل په کــوګل دئ

د احمدشاه بابا يو څو بدلي :

ګوره بيا په سره ګلزار کي		لاله رنګ په سپين رخسار کي
لونګين يې تل په غاړه		بلبل مست کا په چيغار کي
هوسيږم ورته ګورم		خزان سوی په ناتار کي
د وصال نوبت مي دا دئ		نن د ګلو په بهار کي
يار مي ګل او ګلبدان دئ		لکه زرکه په رفتار کي
مخ يې لمر غوندي ځليږي		زلفي مشك دي په تار تار کي
رنګا رنګ ګلونه ډېر دي		د بلبل عشق په ګلنار کي
تا چي حسن د ګل واخيست		زړه به څه وي په قرار کي
څه علاج يې څه طاقت دئ		چي شها سي په سينګار کي
همېشه يې روزګار دا دئ		مين زړه نيسي په ښکار کي
لښدې وروځي بانو غشی		عاشق ولي په کنار کي

ناړې وکړه "احـــــــمدشاهه"
د روغ خوی نسته بيمار کي

څه سوه زه که په ظاهر صورت زهير يم		چي د خپل يار نظر سته په زړه امير يم
بډايي هرګز پخپله لويي نه کړم		همېش ستا د قدمونو دامنګير يم
که مي برق د سپيني توري بيا برېښنا کړي		ستا په مهر په هر لوري عالمګير يم
و بل لوري ته مي هيڅ مخ مخی نسته		ياره زه چي ستا و ور ته تل فقير يم

د رقيب له لاســـه نه ژاړم و تـــــا ته
د بېلتون په توره شپه احمد په ويږ يم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیرمحمد کاکړ

دکندهار د خوا له پښتنو شاعرانو څخه و، چې په شعرکي يوه خاصه شهوه لري. پيرمحمدکاکړ دئ، چې د (۱۱۲۰ هـ) په حدودوکي په ډوب کي پيدا سوی او عمر يې په کندهارکي تېرکړی دئ.
پيرمحمد د احمدشاه بابا د دربار يو نامي او عالم او محترم سړی و د خپل اصلي ځای څخه يې دکندها ښار ته هجرت کړی او د شهزاده سلېمان د احمدشاه بابا د زوی استاد و، په (۱۱۹٦ هـ) د ده د شعر دېوان تمام سوی او يو د پښتو ژبي لنډکی ګرامر يې د معرفةالافغاني په نامه هم په (۱۱۸٦ هـ) هغه وخت کښلی دئ، چې د ده دغه شهزاده شاګرد په دغه کال د احمدشاه بابا تر مرګ وروسته په کندهارکي موقتاً پاچا سوی و.
وايي پيرمحمدکاکړ يوکتاب د پښتنو په تاريخ کي ليکلی و، مګر د دغه کتاب نسخه اوس نسته، اما دېوان يې چې تخميناً (۵۰۰۰) بيته کيږي خوشبختانه پاته دئ او دا د پښتو ژبي د اولي درجې شاعرانو له آثارو څخه شمېرل کيږي، چې هم د معنی له رويه متين او قيمتي دئ او هم يې د يوه هنري اثر په حيث په پښتو آثاروکي لومړی مقام نيولی دئ، پيرمحمد ځان ته يو خاص سبك لري چې د خوشحال خان دکلام رواني او سلاست او د رحمان بابا د وينا معنوي ښېګڼې او روحانيت او د حميد موشګافي او نازکخيالي يې ټوله پخپل هنرکي سره يو ځای کړي دي، دی نازکخيال مبتکر شاعر دئ، مګر داسي نه دئ لکه شيدا خټك چې صناعتي او بديعي ښېګڼې په فارسي يا هندي تعبيرونوکي پېچي او د پښتو ژبي د بيان خپل مزيت نه ساتي، بلکې پيرمحمد نوي فکرونه په داسي ساده او د پښتو ژبي له بياني جوړښته سره سم بيانوي، چې د ژبي نوامېس ساتي، مثلاً د صوفيانو دا فکر و، چې انسان له يوه الهي مبدا څخه را جلا سوی او د بېلتانه يوه دوره تېروي څو بيرته هغه مبدا ته وصل سي، دا فکر په دري ادب کي مولوي بلخي ښه روزلی دئ، دی وايي چې (نی) کله چې له نيستانه جلا کيږي نو د شکايت نارې د بېلتانه په دنيا کي وهي، د ده د مثنوي لومړي بيتونه همدغه قصه بيانوي، لکه چې وايي :

بشنو از نی چون حکايت می کند
وزجدائيها شکايت می کند
کز نيستان تا مرا ببريده اند
از نفيرم مرد و زن ناليده اند
هرکس که او دور ماند زاصل خويش
باز جويد روزګار وصل خويش

په پښتو او فارسي ادب که دغه فکر ډېر وسيع سوی او د ادب يوه مهمه برخه يې نيولې ده، پيرمحمد دغه مطلب په يوه داسي ژبه بيان کړی دئ، چې هم صوفيانه رنګ لري او هم اجتماعي خوا لري، دی وايي :

بېلتانه په غم شريك کړم د غمجنو
د هر چا په غاړه ژاړم لکه نی

په دې بيت کي د نې د ژړا صوفيانه تعبير هم موجود دئ، چې له اصلي مبداء څخه بېلتون او ژړا ده، مګر په دوهم مصرع کي شاعر د يوه همدرد انسان په ډول د ټولو غمجنو سره د دوی د درد د سکيندې له پاره ورسره ژاړي او په اجتماعي او انساني دردونوکي د همدردۍ پوره برخه اخلي، خو دغه دوه مطلبه په يوه بيت کي په ساده تعبير ادا سوي دي، مګر بديعي ښېګڼې هم لري او هغه دا دي، چې په پښتوکي غاړه دوې معناوي لري، حقيقي معنا يې حلقوم ده، مګر مجازاً د نل د وهلو خاصه طريقه هم ده، چې نی وهونکی وايي : "نل ته غاړه ور واچوه" دلته نو د نی وهونکي غاړه او د نل وهلو غاړه او د يوه ژړاند مهجور انسان غاړه چې ژړا ځني راوزي ټول په دغه يوه بيت کي ادا سوي دي، چې د شاعر د تعبير او تخيل او ابتکارکمال ځني معلومېږي، د پيرمحمد شعري تعبيرونه اکثراً طبيعي او له يوه واقعيته څخه راوتلي دي، مثلاً د معشوقې خوب او پر پلنګ را اوښتل په داسي طبيعي تشبيه سره بيانوي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

محبوبا پر پلنګ واوښته له خوابه
که هوسۍ وه د بهار پر ګلو رغښته

د معشوقې والي په داسي لطيفه تشبيه سره ستايي :

دا شـــــبنم د ګل په پانو پوري يخ ســـو
که په غوږ د ګلرخ پوري سپين والي دي

دلته د شبنم سپين والی او د محبوبا د باړخو سوروالی د تجاهل عارف په ډول د ګل او د شبنم د يخي سره تشبيه سوي دي، دا تشبيه هنري ارزښت ښووي، مګر د پښتو بيان يې هم خوږ او د ژبې له اصلي جوړښته سره برابر دئ، يعني لفظ يې تر معنی نه دئ قربان کړی او معنی يې هم په ښه ډول ادا کړېده.

پيرمحمد د خپلي زمانې دمخه تېر سويو شعراو باندي دقيق نظر درلود، او داسي ښکاري چي ډېر د رحمن او خوشحال خان معتقد و، په يوه غزل کي وايي :

که هر څـــوك وايي نازك شاعران شعر
ولي دوی ګـــنې معجز د رحـــمان شعر
هـيڅ تر شعر د رحمان به څه کـــــم نه وي
و منصف ته د ختك خوشحال خان شعر

نو له دې جهته د پيرمحمد په دېوان کي ډېري غزلي سته، چي د رحمن يا خوشحال خان په پيروي ويلي سوي دي، مثلاً رحمن بابا وايي :

تا چي مخ د پري ســـــترګي د آهـــو کړې
نه پوهـــــيږم چي آهـــو يې که جـــادو کړې

پيرمحمد وايي :

ته چي ښکار په برندو سترګو د آهو کړې
نه پوهـــــــيږم دا هـــنر دئ که جادو کړې

د خوشحال خان د يوې غزلي مطلع دا ده :

که زه نه وای تا به ځـــان لره بلل څـــــوك
په پلـــنګ به دي دا هسي درخـــتل څوك

پيرمحمد داسي وايي :

که زه نه وای عشـــق به تا لره بلل څـــوك
پر بل اور به دي د حســـن کـــــړول څوك

په لومړيو بيتو کي د رحمن او پيرمحمد د تخيل لار يوه ده، خو د پيرمحمد په بيت کي برندي سترګي يو پښتني خاص تعبير دئ، چي د نظربازۍ له يو خاص حاله څخه حکايت کوي، اما په دوهمو بيتو کي د خوشحال خان تعبير عريان او لوڅ او رندانه دئ، مګر د پيرمحمد تعبير لږ څه اخوندي رنګ لري او د حيا مراتب په عشق کي ساتي، مګر که شعر د انسان د واقعي احساساتو نمايندګي کوي نو د خوشحال خان شعر په شاعرانه نظر ډېر ارزښت لري، د پيرمحمد اشعار کله کله د خپلي زمانې اجتماعي اوضاع هم څرګندوي او شاعر د دغو اوضاعو انتقاد هم لري، مثلاً د غريبانو حال په خپله زمانه کي په دې بيت کي د اشارې په ډول يادوي :

څو به سنګيندلو ته ژړا کړې پيرمحمد ه!
غـــــور چي هيڅ نه سي په دا دور د غريب

د ده په وخت کي هم لکه چي ځيني نالايق خلك لوړو مرتبو ته رسېدلي وو، چي په دې بيت کي ډېره نازکه اشاره ورته کړې :

دا فلك که څه سفله عالي منصب کا

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيا هم رغړي پر شپوه لـــــکه کرکـنډه

داسي معلومېږي چي پيرمحمد د خپلي زمانې د خلکو څخه يا دا چي له خپلو روزلو شاګردانو څخه ډېره جفا ليدلې وه تر دې اندازې چي په اخيرکي و سختي ښرا ته مجبور سوی او وايي :

در پر در دي کړم غـــفاره در پر در سې
شرمنده هم تر همزولو په محـــشر سې
نه مي حق و ته غوږ نيسې نه حق اورې
که به حــق د معلم وي کـــور وکــر سې

داسي معلومېږي چي پيرمحمد ډېر عمر درلود او سپين ږيري توب ته رسېدلی و، پخپله وايي :

ښه موسم د شباب تېر پر پيرمحمد سو
بوالـــــهوس هـــــنوز هوا د ګلو مل کا

د پيرمحمد د ژوند دوره له ۱۱۲۰ هـ څخه ټاکلای سو، ځکه چي دی د احمدشاه بابا د وفات په کال (۱۱۸٦ هـ) سپين ږيری و او تر (۱۱۹٦ هـ) دمخه وفات سوی دئ.

د پيرمحمد د اشعارو يو څو نمومې :

رباعي

مور له هيواده تنـها راغلي يو
د بڼ توتيان يو په دام وتلي يو
غـــمازه ظلم راباندي بس کړه
د ښــو يارانو فـــــراق نتلي يو

غزل

هسي کښېوتم د زلفو په کمند		چي خلاصی مي ځني نه سي په هيڅ پند
د جفا په تېغ مي قتل معلومېږي		خپلي ناړي راکوي د وينو خوند
ما به حال و يار ته وې که اغيار نه وای		ولي خار د ګل له ښاخه سو پيوند
زه له درده همېشه پرله پېچه سم		مار د زلفو يم وهلی بند پر بند
مردمك مي د دلبر پر لبو ونښت		پر سکروټو دانه وسوه د سپند
د هجران خواري مي تل پر زړه تېرېږي		هيڅ په وصل د يار نه سوم ارجمند

حاصل دا چي مين خوار دئ پيرمحمده !
چي دلـــبر يې وي خـــودرايه خودپســند

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمدي صاحبزاده

محمدي صاحبزاده په کام څمکنی د میا عمر صاحب زوی دئ، میا عمر صاحب د پښور په څوکنو کلي کي ښخ دئ، محمدي په پښتو شاعرانو کي د لومړۍ درجې آخر مقام لري. د ښه فکر خاوند دئ، د ده اشعار او ادبي طبع ډېره خوږه او ښه ده، محمدي صاحبزاده له داسي کورنۍ څخه دئ، چي پخپله خوا کي روحاني مقام لري، او خلك يې د ارادت په سترګه ويني، د ده د پلار زيارت تر اوسه هم د خاصو او عامو مرجع دئ. محمدي د کاظم خان شيدا معاصر او د ده له ملګرو څخه شمېرل کېږي، چي پسله (۱۱۵۰ هـ) د ده د شاعرۍ او ادب ډګ لوړ سوی، او په پښتو ادیبانو کي يې ښه مقام موندلی دئ.

کاظم خان شيدا د خپل دېوان په دېباچه کي دا زمور شاعر داسي معرفي کوي: "او سبب د تالیف دا و چي مخدوم زاده عالي مقدار والاتبار محمدي سلمه الله خلف الصدق د شيخ الاجل ولي الاکمل ميا محمد عمر دام برکاته طبع جيده لري، او سليقه د سخن شناسۍ کامله، په دبدبه د سخن آرايي قصب السبق له همسرانو وړي، او په کوکبه د خوش سرايۍ مقدمة الجيش د همکارانو دئ، اکثر دواوين د اسلافو يې فراهم کړي دي او په مطالعه يې تفريح د قلب کوي".

په دې ډول محمدي صاحبزاده خپل معاصرين هم د قريحې په صفت او ادبي اقتدار مني.

اشعار:

د محمدي اشعار عموماً عشقي دي، د يوه ګرانبها او ډېر نادر دېوان خاوند دئ، چي نه موندل کېږي، فقط څو بدلي يې د مستر هيوز کليد افغاني مور ته راساتلي دي. دا شاعر د خپل مبتکر فکر او ښې قريحې په زور، زاړه مضمون ته نوی رنګ ورکوي، لکه چي ده د زلفو يو زوړ مضمون چي د شاعرانو په ډېر استعمال بالکل مبتذل سوی دئ د يو فقهي تلازم په اثر دومره نوی کړی دئ، چي بالکل بکر او تازه ايسي، دی وايي :

ستا د زلفو درې ډېر ډېر کاږه سم کړه
لا د سپي غـــماز تعزير نه دئ نصيب

محمدي په شعر کي د حميد مهمند پر سبك ځي او اشعار يې سلاست لري، محمدي هم په هغه تاريخي مشاعره کي چي د عبدالقادر خان په برخه کي مو اشاره ورته وکړه شامل سوی او د خپلي رونې طبعي قوت يې پکښې ښکاره کړی دئ، هغه بدله چي په دې مشاعره کي محمدي ويلې ده، دغه ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا سور اور دئ که څه نور دئ او که تاو د بېلتون هسي
لکه وړی چي مي وريت کړ په تنۍکو لړمون هسي
سپلني ځان سره لمبه کړ چي ترق وچاود په لوګي کي
زيست جدا له ياره څرنګ، څه په کار دئ ژوندون هسي
نه يوازي لاله ګل دئ، ډوب د سرو وينو په جام کي
ستا د غم وژلي واړه ځي ښخيږي ګلګون هسي
په لېندو دکړو ورځو، د بنو تېز ويشتيو
هغه يار مي زړه غلبېل کړ، چي يې ونيو زنګون هسي
ستا د سرو شونډو په نوم اخيسته عقل له ما لاړ شو
دا مستي نه د شراب شته او نه کيف د معجون هسي
که پاچا د وخت اقليم وي د اسمان دوره يې خوارکا
لکه ما غوندي به نه وي سر د غم په زنګون هسي
نه يې حسن ستا په شان و نه يې عشق زيات و له ما نه
د ليلی کيسه که شته ده په عالم د مجنون هسي
خط پر مخ د نګار راغی ښايست خپل بار وليږل لاړ شو
اوس يې څه په ملا لولم د دې خط دئ مضمون هسي
په لمبه د آه و نه شو شين په هغه شان مدام دئ
ستا د غم بوټي په زړه کي چي ځما شو زرغون هسي
ومړ ستا په بېلتانه کي د ديدن په ارمان ګوره
"محمدي" غوندي لا بويه چي پيدا شو پښتون هسي

شمس الدين کاکړ

د (۱۱۸۰ هـ) په شاوخوا کي دکندهار په نزدوکلي کي زېږيدلی او دکندهار ښار په شرقي خوا کلچابات کي اوسېدی او هم هورې پس له (۱۲۳۸ هـ) وفات سوی او د دغه کلي په هديره کي ښخ دئ، چي قبر يې تر اوسه پوري خلك پېژني، شمس الدين يو پښتو دېوان لري، چي بيتونه يې (۵۰۰۰) پوري رسېږي او يو څوکتابونه يې هم ليکلي دي، چي يو له هغو څخه سراج الموتی نومېږي او په شعر کې غزل ډېر دئ، او مخمس، قصيده، رباعي، مثنوي او هر قسم بديعي اشعار هم لري، د شعر اکثره صنعتونه يې روزلي دي. داسي معلوميږي چي شمس الدين د خپلي زمانې مروج علوم لکه فقه، تفسير، حديث، رياضي او فلسفه او ادبي علوم لوستلي وو، ځکه چي دی په خپلو اشعارو کي د دغو علومو اصطلاحات يادوي، مثلاً د هندسې اصطلاحات په عشقي تعبير داسي ښيي :

نه يې ضـــلع قايمه نه زاويه سته
نو به څه سي رامعلوم د عشق حد

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شمس الدين دېوان په (۱۲۳۸ هـ) کال ختم سوی دئ، د شعر ژبه يې روانه، خوږه او ساده ده، مضامين يې عشقي او اخلاقي دي او ځکه چې دی ډېر عمر له وطنه په پنجاب اوکشمير کې پردېس سوی دئ نو د وطن په يادکې ډېر موثر اشعار هم لري، دی اکثره شعري صنايع اداکوي، مګر د ژبې رواني او خوږوالی له لاسه نه باسي او وطني اشعار يې ډېر خواږه او اغېزه ناک دي، مثلاً وايي :

مدام ژړاکـــــړم په ناري ناري
يار مي يادېږي وهم کوکاري
د هند ځنګلي راته قفس سوې
ورکي له ما سوې د وطن لاري
د هـــــند هواکړم خوار و حزين زه
له حـــــــــرارته يم اتشـــــين زه
ســـــــايه د زوزو د وطن غـــواړم
چې زړه ځنګ کړم په ترنجبين زه

کله چې په هندوستان کي مسلسل برساتونه رائي نو دی داسي خطاب ورته کوي :

د هـــــند بارانه آهســـته اوره !
يار مســـــافر دئ درسره ژغوره
د سايې ګل وي په ناز لوی سوی
وتلی نه دئ هـــرګـــز له کـــــــوره

د شمس الدين په اشعارو کي عشق او احساسات ځای سوي دي، دی په خپل شعر کي د زړه وينې نغاړي اوکله چې له ياره جلا کېږي داسي يو شعر وايي :

وخت د سحر دئ مرغان چغېږي
جـــرس آوازکا زړه مي ويلـــېږي
ســـترګي غورځـــېږي بانډه رېږي
د يار د تللو ـــــبري کـــــــېږي

شمس الدين په هغه دوره کي ژوندکاوه، چې د پښتنو د امپراتورۍ انحطاط په هندکي شروع سوی و، هلته پر پښتنو باندي هندي قوه غالبه سوې وه، مګر کشمير لا د پښتنو په لاس کي و، خو پنجاب سکانو نيولی و، شمس الدين دغه په غم لړلی منظر په خپلو سترګو ليدلی دئ او په يوه قصيده کې داسي شکوه کوي :

ربه ته پر پښتانه وکړې نظر		په عزت دي وي د خپل خيرالبشر
د اسلام غيرت يې هسي له زړه ووت		دکافر د لاسه ګرزي در پر در
فراري په دا شان کړې سره جمع		چې يو ځله سره سي شير و شکر
اتفاق صلاحيت يې کور په کورکړې		چې به يو له بله بولي برادر
که ملتان وکه ډېره وه که کشمير و		ځني ونيول سکانو په لښکر
پاچاهي يې منحصر سوه په درې ښهره		دي کابل اوکندهار او پښاور
د هرات عالم له وهمه په فرار دي		په هرکال باندي حمله وي د غجر
پېښينه خلکو ګټلې ځني ولاړل		ناخلفه مه سه لوی د چا پدر
يو له بله سره وژني ناقصان سول		صبح و شام يې دئ په کورکي شور و شر

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمس الدين په دې ډول د وطن پر خرابي او خانه جنګي باندي ژاړي، مګر د ده ژړا کوم اثر نه درلود، ځکه چې ټول هند نه بلکې پخپله د پښتنو سيمې هم د دوی د لاسه ولاړې.

د شمس الدين د کلام نمونه :

په ځير ځير چې مي و يار ته وکاته		په دغو کتو مي کسي وواته
له کتلو به مي ولي دلبر بد وړې		هر بلبل کوي وګل ته الواته
و عالم ته مي د مينې راز څرګند سو		که هر څو مي په خپل زړه کې پټ ساته
چې د وصل په نعمت سره معمور و		هغه کور مي نن ورځ هجر وناته
په خروړو سپيو سې د کور ساتنه		رقيبان ځکه د يار په ور پراته
د هغې کوټې روزن د عرش له لوري		چې پرکېږي د دلبر ننواته
مرګ د يار د څنګه ښه دئ نه بې ياره		ستی ځکه کړي و اور ته پرېواته
روح مي هلته قبول کړی د عشق رنځ و		چې زما غمګين قالب سره راته

شمس الدين صورت به څه نيستان نه وي
چې تر زړه يې دغـــه غشی وخـــــاته

رحمت داوی

رحمت په قوم داوی او د پښتنو شاعرانو د لومړۍ ډلې څخه دئ، چې د شاه زمان په وخت کې په قندهار کې اوسېدی.
رحمت ډېر سفرونه کړي او ډېر په کوهستان او کشمير کې اوسېدلی دئ. په کشمير کې د سردار عبدالله خان پوپلزي ملګری و او تر (۱۲۱۰ هـ) کال پورې يې ژوندون يقيني دئ.
د رحمت له آثارو څخه مورږ ته دوه کتابه پاته دي، چې يو د ده د شعر دېوان دئ چې تقريباً دوه زره بيته لري. بل کتاب يې د ليلی او مجنون قصه په پښتو لنډ مثنوي کي ده، چې د شاه زمان د سلطنت په دريم کال يې نظم کړې او په (۱۲۱۰ هـ) کال کې تمام کړی دئ، چې تر پنځه زره بيته زيات دئ، ده په کوهستان کي دا مثنوي شروع کړ او په کشمير کي يې د سردار عبدالله خان افغاني نائب الحکومه په نامه ختم کړ، دکتاب په سر کي داسي وايي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

غمو ملك راباندي تنګ کړ		زړه مي ځکه دا آهنګ کړ
چې پښتو ليلى مجنون کړم		ښايي غم له زړه بهرون کړم
په فارسي هر چا ويلې		پښتو نه ده چا ليدلې
ځکه زه په پښتو ژبه		دا قصه کړم عجايبه
پښتون هم خوښ باندي زړه کا		او دعا و ماته وکا
سلطنت د شاه زمان دئ		دى خاقان ابن الخاقان دئ
پلار نيکه يې پادشاهان وو		دويه تاج د هر افغان وو
شکر شکر شاه زمان		غنيمت دئ دا زمان
نن ورځ دى سيورى د خداى دئ		عدالت کا عالي راى دئ
چې يې پښه کړه په رکاب		نورې کفر کړ کرياب
بيا يې مخ په هندوستان کړ		ده برهمه کفرستان کړ
ښه عادل پاچا غازي دئ		سر د کفر په بازي دئ
سرداري د عبدالله ده		خلقه واړه آګاه ده
ښايسته نېکخويه ځوان دئ		ډير هوښيار سخندان دئ
د کشمير ملك يې روښان کړ		ورك يې ظلم د جهان کړ

رحمت د پښتو يو بزمي شاعر دئ او په لومړنيو قصه ليکونکو شاعرانو کې ګڼل کيږي، کلام يې ډېر ساده او سليس او متين دئ، هر راز فکر په شعر کي اداکولاى سي او په دې سبب د پښتو شاعرانو په لومړۍ درجه کي حسابيږي.

رحمت د ليلى او مجنون قصه له نظامي ګنجوي څخه ترجمه کړې ده مګر دى وچ کلك ترجمه کوونکي نه دئ، بلکي ځيني نوي نوي فکرونه او اداګاني هم لري.

په پښتو شاعرانو کي يو بل متأخر شاعر نعمت الله هم دا قصه په پښتو کړې ده، مګر د دې دوو شاعرانو کتابونه هر يو ځان ته ښې قيمت لري.

نعمت الله خو په قصه کي ډېر تغير پيښ کړى او په متوسط بحر کې ويلې ده، مګر رحمت که څه هم د نظامي پر لاره تللى دئ بيا هم په ځينو ځايونو کي نوي نوي فکرونه لري او له هغو زړو مقدماتو څخه نوي نتيجې اخلي چې مثال يې دا دئ :

د ليلى پلار خبر سو، چې د مجنون د عشق افسانه رسوا سوښده، او د کوچنو او لويو په خولو کي لوښدلې ده، نو ده يو سړى ور واستاوه چې مجنون مړ کي، نظامي فقط دومره وايي، مګر مکتبي شيرازي کيسه اوږدوي، او وايي چې هغه قاتل مجنون ته راغى، وچ کلك بدن يې وليد، غشى او لښده يې وغورځول او ويې ويل :

چون مرده جز استخوان ندارد
او را چه کـشم که جـان ندارد

مکتبي خو دا برخه ډېره خوږه زياته کړښده، مګر اوس وګورئ چې زمور رحمت څه کړيدي؟ رحمت غواړي چې کيسه يوازي د عشق او بزم او مينې پر خبرو نه کي تمامه، بلکي ځاى ځاى ځيني اخلاقي افادې هم وکړي، او خپل پښتانه ويونکي د خوږې کيسې په منځ کي ځينو اخلاقي حقايقو ته هم ملتفت کړي، او په بل ډول يې د ادب هغه حقيقي پلو، او واقعي مخ هم وبرښوي، زمور پښتون اديب خو داکار ډېر ښه کړى دئ، او د ادباوو له پاره د تقليد وړ دئ. وګورئ رحمت له دې حکايته د بد عمل جزاء او نتيجه په څه اديبانه ډول څرګندوي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې مجنون په عشق ابتر سو	کُل عالم باندې خبر سو
په هر ځای د ده کلام و	که خواص وو که عوام وو
چې مجنون نومی یوځوان دئ	دی په عشق کې ډېر اریان دئ
د لیلی په زلفو بند دئ	ډېر ډېر ژاړي او دردمند دئ
چې ژړا یې په وای وای سوه	افسانه یې په هر ځای سوه
ډېر مخلوق د ده دښمن سوه	ټول ګویا په دا سخن سوه
چې دوستان څوک د لیلې وو	د لیلی له قبیلې وو
د لیلی و پلار ته راغله	هم د ده دربار ته راغله
واړو دا مذکور آغاز کړ	نه یو ځله په باز بازکړ
چې یو ځوان په مینه زېر دئ	د لیلی ذکر یې ډېر دئ
په فلاني بیابان کې اوسي	دی زمور په زیان کې اوسي
بدنامي یې تر حد تېره	په عالم کړه زمور ډېره
هره ورځ غزلخواني کا	دی په نام یې د فلاني کا
چې په مور راسي افسوس کا	ګاهي رقص ګه زمین بوس کا
هر دم هسي غزل وایي	چې لیلی ورپکښې ستایي
دی د غم له سوزه سازه	ډېر خوشخوان دئ خوش آوازه
په هر دم چې دی بلغاک کا	روغ تندرست زړونه چاک چاک کا
وایي دی خلک یې یادکا	زمور د ملک نامه بربادکا
لیلی هم ورپسي داغ ده	دی پتنګ دئ دا یې څراغ ده
ته یې وترټه بسیاره	چې لاس واخلي له دې کاره
د لیلی پلار چې خبر سو	په دا حال خور یې ځیګر سو
په خوله لال سو له حیرته	پیچ یې وخور له غیرته
ده ویل درومئ سر یې پرې کړئ	سپینې توري په ده سرې کړې
چې و چاته نصیحت سي	او بل چا وته عبرت سي
که یې څوک دعوه د خون کا	بیا دی ځما احوال زبون کا
تاسو خلاص یاست همه واړه	د ده خون ځما په غاړه
نور ترې پورته یو سه ځوان سو	د مجنون پر لور روان سو
همېشه یې په لار یون کړ	جستجو یې د مجنون کړ
ناګهان یې په بیابان	مجنون ولیده عریان
د جهان ننګ یې پرې اینبی	تنها ناست له خلقه ګوښی
ور نژدې چې هغه ځوان سو	تېغ یې وکښې ور روان سو
چې ګذار یې پرکاوونه	لاس یې هسك ودرېدنه
وچ سو هسي دی پر پاس	چې کوز نه سو هغه لاس
په دا لاس یې کله درېغ کړ	په بل لاس یې هغه تېغ کړ
چې یې بیا قصد په وهل کړ	دا بل لاس یې هم خدای شل کړ
کرامت چې ور څرګند سو	د قاتل زړه په ګزند سو
ژر نسکور د ده پر پښو سو	په مخ سر د پښو په مښو سو
په بار بار زاري یې کړله	هم منت باري یې کړله

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته که څه هم رحمت داسي يو حکايت راوړی دئ، چي ظاهراً په طبيعي حساب سره نه منل کيږي مګر نتيجه ښه ځني اخلي او داسي وايي :

و قاتل ته مجنون ويل :		ځما بزرګو ډېر دي ښه ويل
چي په بدو پسي ګرځي		عاقبت په څاه کي پرزي
چي د بدو طلب ګار سي		خود په بدو ګرفتار سي
چي نيکي بدي انسان کا		دواړه ځان لره عيان کا
چي نېکي کړي نېکي مومي		چي بدي کړي بدي مومي
څو دي لاس رسي نېکي کړه		پسله دې ترکه بدي کړه

اوس ورد رومه لاس دي جوړ سه !
او لـــه بدو دي زړه ســـــوړ ســه !

د رحمت د غزلو دېوان په مردف ډول ترتيب سوی دئ، چي نسخي يې لږ پيدا کيږي. دی په غزل کي خاص ذوق لري چي په کلام کي يې اغلاق او اشکال نسته، په ساده ژبه پېچلي مضامين ادا کوي او د ده غزل بايد بزمي وګڼله سي، ځکه چي ډېر لږ د تصوف يا اخلاقي شاعرۍ رنګ لري.

د ده د غزل نمونه دا ده :

هيڅ سو هيڅ سو و آشنای ته زما درد		ځکه پروت يم زړه کباب په ګونه زرد
ملاست د هجر په بستر يم خوب مي نسي		پر خاطر مي پرېوتلی د غم ګرد
د اشنای مينې ضعيف کړم ګرم څه نه يم		زه چي کاږم و هر چا ته اه سرد
تاس د غم مي غورځوي په سينه باندي		لکه څوك چي شش و پنج کاندي پر نرد
لکه شمع کي مي سر په مقراض غوڅ کا		که خاموش سوم هله يمه زه نامرد
په جفا سره يې درست عالم تاراج کړ		له وفا يې هيڅوك نه سو بهره ورد

د رقيب نمرود له لاسه که اور بل سو
د خليل په څېر دا اور ســـو پر ما برد

رحمت کله کله ځيني فارسي کلمات په خپل شعر کي هم استعمالوي او داسي معلوميږي، چي دی به د فارسي ژبو سره ډېر اوسېدلی وي، لکه چي وايي:

خود به خود مي مجـــروح که دريغه
په خـــــندان سره بيا ووايي که کـــرد

کله کله د قافيې په سمولو کي داسي جدي سي چي تذکير او تانيث هم پرېږدي، مثلاً دی يوه غزل لري چي وايي :

يار چي هسي مـــخ پوتې کا
زمـــــا اوتيسي به ندی کا؟
که څه ظلم که ســـــــــتم دئ
نور څوك نسته واړه دی کا
له هر څه يې ســـــــــم فارغه
که يار را د شـــونډو می کا

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې ډول د غزلي تر آخره پوري قافيه تعقيب کړي، مګر په يوه بيت کي وايي :

د هـــــجران تاريکي راغلل
چي تياره د مخ سپورمۍ کا

په اول بيت کي ندی او په آخر بيت کي سپورمۍ دواړه په پښتو کي مونثي کلمې دي، مګر رحمت په دې غزلي د مذکرو کلماتو په ردیف کي راوړي دي او دا يو قسم سهل انګاري ده.

ميا نعيم متې زی

دی د شيخ محمد شعيب زوی او د محمد سعيد لمسی په کام خليل دئ، په شپږم پښت کي شيخ امام الدين ته رسيږي، چي هغه په پښتنو کي يو ستانه سړی او د پښتنو د تاريخ مؤلف دئ. د ده نسبت په نهم پښت کي شيخ متي ته رسيږي، چي هغه په کلات کي ښخ او د پښتو ژبي ډېر لوړ صوفي شاعر دئ، دې کورنۍ د پيښور په خليلو کي ډېر روحاني نفوذ درلود، او ميا نعيم په هغه ځای کي زيږېدلی او وروسته د شاه زمان سدوزي په زمانه کي کندهار ته راغلی او د ناکودك په کلي کي مېشت سوی او په (۱۲۳۰ هـ) کال يې د اشعارو دېوان ترتيب کړی دئ.

داسي معلوميږي چي ميا نعيم د پيښوره د شخصي مخالفانو د لاسه کندهار ته هجرت کړی و او پخپله وايي :

چي شاړه دی غمازانو له وطنه
نعيم ځکه کندهار او کابل ونيو

په کندهار کي ميا نعيم روحاني مقام درلود او اولاده يې تر اوسه پوري هم ستانه بلل کيږي، دی خپل معاصرتوب د شاه زمانه سره په دې بيت کي ښکاره کوي:

نوکري کوم د يار په عاشـــــقي کي
منت بار د سدوزي شاه زمان نه يم

د ميا نعيم پښتو دېوان تقريباً درې زره بيته دئ، د شعر مضامين يې عشقي او تصوفي دي، دېوان يې غزلي او رباعيات او مخمس او قصايد لري، نازکي تشبيه او استعارې لري او د پښتو شاعرانو د لومړۍ ډلي په پای کي درپيږي، دی د تصوف سره عملاً آشنا دئ او لکه رحمن بابا پخپلو اشعارو کي صوفيانه مضامين ځايوي. په پښتو شعر کي د پښتو ډېر نادر لغات راوړي، په وينا کې متانت او سلاست دواړه سته، او ځيني بدلي يې په رواني او خوږوالي کي د لوړو استادانو د بدلو خوند لري، په دې بيت کي د معشوق کلك زړه او د خپلو اوښکو ډېروالی داسي تمثيل کوي :

چي دي زړه زمـا په اوښو نه نرمـــــيږي
د درياب په منځ کي پروت حجر دئ دا

د زلفو او رخسار تشبيه داسي کوي :

خيال د زلفو د رخسار زما په زړه کي
زرغونه کړه تور سنبل او سره ګلاب

په دې بيت کي زرغون او تور او سور صفتونه سره يو ځای سوي دي، مګر زرغون کول د پښتو يو خاص تعبير دئ او بيا د اولي او دوهمي مسرۍ تر منځ مرتب لف و نشر دئ :

چي مي ستا د مينې داغ په خاطر يووړ
زرغـــــــــونه به مي لالـــه سي له تربته

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته د داغ رنګ په دې ډول بیان سوی دئ، چې تصریح نه دئ، مګر د لاله کلمه دلالت کوي چې دغه د وینو سور رنګ لري. د شکرلبانو د اختلاط نتایج داسي ښیي :

زر به ګانې لـــــکه ګنی سي د غـمونو
چا سره چې ډېر شکر لبان کا اختلاط

ګل په اوربل کي داسي تصویر کوي :

زانګي پکښي زړونه د عاشقو سره په وینو
ته چې چیري کښېردې سره ګلونه په اوربل

د فلك له ظلمه داسي شکایت کوي :

رباعي
فلـــــکه څرنګ دي ناقـــرار کړم
چې نیمه خوا دي جدا له یار کړم
لـــکه کب پرېوزي پر وچه باندي
زه دي له ژونده هسي بېزار کړم

دلته نیمه خوا دوې معناوي لري، یوه معنی یې دا ده چې په نیمه لاره دي د یاره جدا کړم، بله دا چې نیمه خوا محروم او ناکام ته وایي.

د غزل نمونه :

په وصال کي مي زیاتېږي شر و شور لا		ستا بېلتون رابانديِ ولګوی اور لا
د ابروی متاع که غواړم په یاریِ کي		په سودا کي ستا د مینې شم سر تور لا
که په مینه کي تهمت په ما وایه شي		د عشق کار مي پخته کېږي په پېغور لا
که هر څو یې په امید ورشم تر زلفو		لګوي مي خوله پر زړه باندي منګور لا
په ژړا مي هیڅ پروا د ښکلیو نه شي		په باران د باغ ګلونه شي سمسور لا
لکه موم یې ویلي کېږم د مخ لمر ته		په وصال کي راښکاره کا هسي زور لا
چې یې خیال د زنخدان و زړه ته تېر کړم		په کوهي کي مي غوزار کاندي نسکور لا

که "نعیم" ته ځان ښکاره لکه آفتاب کړې
لـــــکه ګل هسي یې زړه شي ورته خپور لا

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپينه

سپينه يوه پښتنه شاعره ده، چې د وزير يارمحمد خان الکوزي د حکومت په وخت د هرات په شاوخوا کې اوسېدله. دا پښتنه د نورمحمد خان الکوزي لور وه، او هغه وختي ايرانيانو په ۱۲۵۵ هـ کال هرات کلابند کړ او د هرات پښتنو د دوی د مېرانې مقابله وکړه، زمور پښتنه شاعره ژوندۍ وه، د هرات محاصره خو يو کال او اته مياشتې اوږده سوه مګر پښتنو ځان تسليم نه کړ، او هرات يې نه پرېښود[٤].

په دې جګړو او مېرانو کې د پښتنو سرداران شاه کامران سدوزی او وزير يارمحمد خان الکوزي وو، دوی د پښتنوالي ټينګ او راسخ عزم په دې مقاومت کې خرګند کړ.

زمور پښتنه شاعره سپينه هم په دې ملي جګړه او د آزادۍ ساتنې په محارباتو کې ژوندۍ وه، او ډېر خواږه اشعار يې په ملي لهجه د پښتنو د توري او ننګياليتوب په ستاينه کې ويلي دي، چې د پښتنو ښځو حماسي افکار ښه ځنې خرګندېږي.

سپينه د دغې محاصرې او جنګ په ټولو واقعاتو خبره ده، ا ودا ښکارېږي چې دا او خپلوان يې د دغې ننګې په لار کې ولاړ وه او ټوله وقايع يې په سترګو ليدلي دي.

که مور تخمين او اټکل وکړو، چې په دغه وخت کې دا پخه ښځه وه، ځکه چې افکار و احساسات يې هم پاخه دي، نو به په دغه محاصره کې د دې عمر له ٤٠ تر ٤٥ تخمين کړو او د تولد کال به يې هم پسله ۱۲۰۰ هـ وبولو، د سپيني د اشعارو له مضامينو دا هم را ايستل کېږي، چې د دې کورنۍ د وزير يارمحمد خان له کورنۍ سره خپلوي يا نژدې تماس درلود، ځکه چې د محاصرې او جګړې ډېر خصوصي وقايع يې راوړي او نظم کړي دي.

د پښتنې حماسيات :

دې شاعرې په خپله ملي ژبه مور ته يوه مفصله کيسه په څو سوه بيته کې پرې ايښې ده، چې د هرات د محاصرې منظوم تاريخ ګڼل کېږي، په دې کيسه کې پښتنه شاعره، د خپلو وروڼو مېرانې ستايي، او په خورا ساده او سپېڅلو الفاظو د دې جګړې مختلف مناظر تصوير کوي.

د کيسې په ابتدا کې په يو څو بيته د کامران او وزير يارمحمد خان ستاينه او وروسته بيا نو په کيسه شروع کوي.

د سپيني پښتني شاعرې حماسي احساسات ډېر پياوړي او ننګيالي دي، په شعر او کملاتو کې تاثير او اغېزه سته، وينا يې د حماست يوه ټوټه ده، او د پښتنوالي او مېرانې نمايندګي کولای سي، د سپيني پښتنې شاعرې نور څه اشعار مور ته نه دي را رسېدلي، فقط د دغې محاصرې منظوم تاريخ چې د مثنوي په ډول دئ ځينې برخې زمور څخه سته، او هغه هم بشپړ نه دي، د دې مثنوي په سر کې پښتنه شاعره په حمد او نعت ابتداء کوي، وروسته نو د شاهزاده کامران او وزير يارمحمد خان په ستاينه شروع کوي.

د دې له مضامينو داسې ښکاري چې سپينه يوه عالمه او فاضله په تاريخ او د پښتنو په حال خبره ښځه ده، که څه هم اشعار يې ټوله تاريخي دي، وقايع او حوادث بيانوي، مګر د حماسته هم ډک دي، ځکه چې دا اشعار خورا سليس او روان او خواږه دي نو مور لاندې ټوله هغه برخې چې لاس ته راغلي دي ليکو يې، پښتنه سپينه په خپله کيسه داسې پيل کوي :

---

[٤] تتمة البيان د سيد جمال الدين.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی څښتن د ټول عالم ستایمه		بیا محمد رسول اکرم ستایمه
درود پر واړو اصحابانو دي وي		د پاك نبي پر ښو یارانو دي وي
دی و استازی د کونینو بادار		په دوه جهانو د نبیانو سردار
د ګنهکارو شفاعت کوینه		رحم پر خپل خسته امت کوینه
بیا منقبت د ابوبکر وایم		صدیق یې نوم په صداقت یې ستایم
دی لومړی یار و د خاوند د رسول		په لوی دربار په دوه جهانه مقبول
په یار غار د پاك نبی دئ مشهور		توره تیاره یې په انوار وه د نور
دوهم فاروق عمر و خدای ته نژدې		د عدالت یې پر جهان نندارې
شور و د نیل له پرتمه کښته		مړه کافران د ده له ډېره هیبته
د عدالت دُره یې هسي کاري		چې رپېدی به ځني زړه د مزري
درېیم عثمان ذی النورین و نمر		هم و جامع د پاك قرآن د اکبر
حلم و حیا کي و بادار د امت		ابن عفان مو سو سردار د امت
څلورم یار و شېر د خدای وکرار		علی حیدر و تل په لاس ذوالفقار
د خیبر ور یې ذوالفقار ته و مات		په بریښ د توري یې تل ورك ظلمات
بیا نوکومه په خوښۍ په عزت		د پاك نبي د اصحابانو صفت
چې دوی وه ستوري د آسمان څلېده		تل وه خوشحاله پاك رسول یې لیده

د خدای رحمت دي وي پر دوی تر ابد
خـــــالق دې عفوکي په روی زمور بد

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پاچا او وزير په ستاينه کي

اوس نو شروع کړم د پاچا په صفت		ځمور شاهزاده دی ننګیالی په غیرت
دی دئ ډېوه د سدوزو د ټبر		په څړېنو کي نن دئ دی لکه لمر
د احمدشاه غازي پښتون له کوره		نن ده کامران شاهزاده کښلې توره
غليم له ده نه پر حذر دئ جانه		د ده له توري نه ابتر دئ جانه
په ننګیالیو توریالی شهزاده		په غیرتمنو بریالی شهزاده
د درانو ناموس په ده دئ خوندی		د پښتنو ټبر په ده دئ قوي
په درانه سیوري يې هرات سو آرام		له دښمنانو يې وکښو انتقام
دی په رشتیا نعم الخلف د محمود		خالق دې کاندي په دارینو مسعود
د پښتنو په ننګه کلك دئ ولاړ		ټول غلیمان د ده له توري لټار
بل يې وزير يارمحمد خان توریالی		په سپین میدان کي ځني ږيردي زمري
دی په تدبیر آصف نظام د هرات		ښه يې سنبال کړ انتظام د هرات
دی ننګیالی د الکو د ټبر		د غني خان د سترګو تور د زړه سر
ده سپینه توره يې له تيکي بدر		د شهزاده دی مړنی برادر
پښتون پر ده راټول د جنګ پر میدان		ستړ يې په توره کړ غلیم دښمنان
خالقه دا د پښتنو توریالی		وي د هرات پر سیمه تل دي ژوندی
څو چي شینکی آسمان ولاړ پر مځکه		څو چي سپوږمۍ او نمر خاته لوېده که
د پښتنو سر دي په دوی وي بلند		هم په عزت و ټول جهان ته څرګند
وروسته تر مدح د کامران شاه شهزاده		واوره چي کاندم د جنګو ښه قصه

°له "سپـــــيني" څـــــــخه به نه وي آثار
دا به وي خاوري پاته سي به يادګار

° وايي چي آصف د سلېمان E وزير و، او له نظامه مطلب نظام الملك د ملكشاه سلجوقي وزير دی، چي د دوی په نومو په دې بيت کي تلميح ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هرات اوکندهارکي د سدوزو پاچهي

راسه چي تاته حکايت کومه	د سدوزو د سلطنت کومه
پخوا تر دې و د هرات پادشاهان	د سدوزو و ذوالفقار، زمان خان
دوی سرداران د پښتنو د هرات	غليم يې تل له تېرې توري و مات
د پښتنو توري به تل ځلېدې	د دښمن سترګي له برېښنا وې ړندې
دوی وو مېړونه پښتانه توريالي	پر ننګه ټينګ وه د وطن ننګيالي
په جنګ کي هر يو غټ شين مزری	د سدوزو هر ځلمی بريالی
چي به يې توره له نيامه وکښه	غچ اوکينه بې له ايامه وکښه
د هرات خوا وه له غليمه خالي	دلته خپره وه هوسايي خوشحالي
ټول پښتانه په اتفاق وه ولاړ	کار د دښمن د دوی له لاسه ويجاړ
چي به پښتون ځلمی په خوب کي دښمن	وليد له وېرې به يې رېږديد بدن

متاسفانه تر دې وروسته اشعار له دغي کيسې څخه زمور لاس ته نه راغله، له دغو څخه هم ويونکی زمور د پښتنې افکار او د طبع رواني او نور علمي او تاريخي معلومات پرته کولای سي. دغه بيتونه هم له دغي کيسې څخه لاس ته راغلي دي چي د محاصرې د يوه جنګ حال ښيي.

غليم په ښهر بيا هجوم راوړی		مخ تې ولاړ دئ يارمحمد پياوړی
زمور پښتانه لکه زمري جنګيږي		ولې د وينو پر حصار بهيږي
هرات په وينو د پښتون سوګلرنګ		پښتون زخمي دئ د غليم پر خدنګ
يارمحمد وايي پښتنو زما زمرو		ټوله راووزئ وسله دار له کورو
پر غليم وکړئ يو هجوم ګړندی		هرات له لاسه په ژوندون مه باسی
دا زمور کور دئ زمور وطن دينه		دا زمور ټاټوبی زمور مامن دينه
کفن په غاړه دا وطن وساتئ		زمور د پلرو ښکلی مدفن وساتئ
دلته پراته دي ننګيالي نيکه ګان		دلته بهيږي ويني تل د افغان
هرات زمور دئ زمور کور دينه		زمور نغری دئ زمور ګور دينه
دښمن راغلی تر دېواله دکور		ولاړ سئ دا دئ د پښتون لوی پېغور
کامران نارې کړې چي پښتونه قامه		توره راباسه مره پر ننګ و نامه
مه بايله ځان اوسه ولاړ پر حصار		د پښتانه پر ننګه ځان کړه ايثار
بويه غيرت چي مو ناموس خوندي سي		نوم د پښتون نوم د اولس خوندي سي
ځلمو چي واروېدې نارې غلبلې		له يارمحمد له کامرانه دلې
له کلا ووانه زمريانو په څېر		پر دښمنانو يې جوړ کړ لټپېر
سرونه يې غوڅ کړه د دښمن په توره		.....
دښمن سو مات راغی دوران دکامران		د يارمحمد د بري ستوری ځلان

(c) ketabton.com: The Digital Library

میرزا حنان

د محمدحسن زوی او د (۱۲۰۰ هـ) په حدودو کي د کندهار په مرت کلا کي زېږېدلی او پس له (۱۲۷۱ هـ) کاله هم په دغه ځای کي وفات سوی دئ، میرزا حنان د خپل عصر مشهور شاعر دئ، چې د پښتو دېوان یې تر (٤۰۰۰) زرو بیتو پوري رسېږي. د ټول دېوان غزلي یې اووه اووه بیته دي، د کتاب په آخر کي ترجیع بند او مخمس او مثمن او څو رباعیات او یو مثنوي لري.

حنان په خپل شعر کي د حمید پیروي ډېره کوي، پخپله وایي :

د حمـــــید د شعر بحر ته حـــــــــــنانه
یو څو څاڅکي دي لوېدلي ستا ابیات

د حنان شاعرانه تخیل ډېر لوړ او د نوو مضامینو میندونکی او بداعت خوښوونکی دئ، دی هم لکه حمید نوي تلازمات او نوي استعارې او ښکلي تشبیهات لري، مثلاً د غافل زړه جزا داسي بیانوي :

دا غـــفلت نیولی زړه به رېز مـــرېز کـــړم
ماتېده د زنګ وهـــــلي کلپ کـــــیلي ده

حنان د حمید په نازکخیالۍ کي پوره پیرو دئ، پخپله هم دغه خبره مني، مثلاً حمید ویلي وه :

دا شرف د عاشـــقۍ نه دئ نور څه دئ
چې سینه سوه د حمید دوکان د مشکو

حنان دغه مضمون داسي ادا کړی دئ :

د حـــــنان سینه نوخطو تور سکاره کړه
که ســـــینه وه د حمید دوکان د مشکو

د حنان په کلام کي نوي نوي مضامین او شعري تلازمات په هغه ډول میندل کېږي لکه چې د حمید او شیدا په شاعري کي د فارسي ادب د هندي سبك په پیروي موجود و، مګر فرق یې دا دئ چې د شیدا د بیان طرز ډېر د پارسي ژبې تر اثر لاندي او د حمید بیان هم ډېر عالمانه او د لږ تکلفه سره ښکاري، مګر حنان دا صفت لري چې هغسي د سبك هندي غوندي شاعرانه تلازمات په داسي ژبه بیانوي، چې هم ساده ګي لري او هم خوږوالی، مثلاً د معشوقې خیال چې کله د ده زړه ته راځي نو دی په شاعرانه هنر سره دغه موضوع داسي بیانوي :

چې دې خیال راتی زړه مخ لره ور ووت
کورنۍ وزي مبـــــــلمه لره له ســـــرایه

کله چې د عاشقۍ په دنیا کي حنان خطاوزي او رویبار ته د زړه حال وایي بیا نو داسي پښېماني کوي :

تر ما دی پر یار عاشـــق و خـــــــبر نه وم
د زړه حـــال مي خوشي ووایه رویبار ته

کله کله د عاشق تند تندکاته هم په معشوق باندي نه پېرزوکېږي، او دا ډول خلك له تندوکتو منع کوي :

شـــوخ کاته یې ډېر ډېر مـــه کوه و مخ ته
نازك تن یې زخـــــمي کـــــــېږي په کتو

په دې لاندي بیت کي د معشوق د مېلمستیا اسباب داسي بیانوي :

زړه کباب او تروې اوښکي د اه اور مي
دا اسباب د یار د خیال د مهـــــمانۍ وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

حنان پخپل شعر کي کله کله شعري صنايع هم راوړي، مثلاً په دې بيت کي د تقابل صفت موجود دئ :

په ګلشن کي ګل تر تا خوشحاله نسته
نه په مينه کي بلبل تر ما حـــــــزين سته

په دې لاندي بيت کي تجنيس دئ :

د جبين په چين يې زړونه واړه چين کړل
وايې خيست په دغه چين له چـــينه چين

شاعران کله د لاله ګل د زړه له داغه سره تشبيه کوي يا يې د رخسار
د سره رنګه سره مګر دا مضامين شاعرانو ډېر استعمال کړي دي، خو
ميرزا حنان دغه مضمون په نوي ډول د يوه ادبي برهانه سره داسي ادا کړی دئ :

په رخسار کي دي لاله دعوه کا څه سو
تل نصيب د صـــــحراشينو جاهـلي ده

د حنان د غزلو يوه نمونه :

ناچاري کړم له آشنايه څخه ليري		چي تل اروم د رقيب سړې خبري
مور په سوي يو زاهده ته پرهېز کړه		عاشقي نه ده تحقيق دئ اور د سري
د ګلرخو په وصال هغه خورسند وي		چي همېش د يار د غم سکروټي نغري
د جنت معامله ته کړه زاهده		عاشق نه ګوري په عشق کي نژدې ليري
د عشق درد و هغه چاته معلومېږي		چي پوخ سوی وي يو وار له دغه شري
چي تعريف د شکر لب د خولې په کاږم		د قلم تر نی مي توی سولې شکري

حنان بيا څه دُر له ژبې څخه توی کړه
ولي نې رانيسي هيڅوك په کودري

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو ادب په تاريخ کي قصيده[٦]
قصيده څنګه او چيري پيدا سوه؟

قصيده د شرقي ادب يوه ډېره مهمه اوګرانبها برخه ده، چي د عربي او فارسي او پښتو او اردو ادب يوه غوره او ښکلې ذخيره هم دغه قصيده ده.
قصيده په عربي اصطلاح هغه جيد او منقح او متصل شعر و، چي د بيتو شمېر به يې تر (١٦ يا ١٧) کم نه و، دا نوم د قصد له مصدره جوړ سو، چي معنی يې استقامت او اتصال او سموالی او برابري او سوچه توب و، (وګورئ المنجد ترجمان اللغة لسان العرب).
قصيده په عربي ادب کي تر اسلام دمخه لا موجوده وه او داسي ښکاري چي قصيده په دغه موجوده شکل او تعريف عجمي ملتو له عربو څخه اخيستې ده.
د عربو له جاهلي ادبه اوس مور ته هغه اوردې او خورا فصيحي قصيدې د نمونې په ډول پاته دي، چي معلقات سبعه يې بولي او د دغو شاعران تر اسلام دمخه په عربو کي تېر سوي وه.
عربي قصيده د رېګستان د قبايلي ژوند يو ښکلی تصوير و. شاعر به د کلو کنډوالې، د معشوقې پر بانډه د هوسيو خرام او د اوښانو پر شا سفر او د خپل قبايلي ژوندون مناظر او د محبوبا ساده حيات او عشق په عربي فصيحو او بليغو ابياتو کي تصوير کول او هره قصيده به هم له (١٦) تر سلو بيتو پوري رسېده.
په قصيده کي به حماسي مناظر هم تصوير کېده او قبايلي مفاخر به ستايل کېده او د عربو قصيده د بني اميه تر خلافته پوري هم په دغه بدوي او خاص عشيروي رنګ او فصاحت کي وه، څو چي د خلافت مرکز له دمشقه بغداد ته رانقل سو او د عجمو د مدنيت او کلتور او ثقافت اثر په عربي ادب کي ښکاره سو، نو دلته قصيده هم په عجمي فکر او رنګ ورنګېدله او مخصوصاً د خراسان او افغانستان عربي ويونکو شاعرانو په عربي قصيده او ادب خپل خاص کالي واغوستله.
دا خبره د تحقيق وړ ده، چي د خراسان خلکو تر اسلام دمخه قصيده درلوده که يه؟ او د دوی په ژبو يعني اوستا او پښتو او پهلوي کي دغه ډول اشعار موجود وه که يه؟
د اروپا ځينو محققانو چي پر دې خبره باندي تحقيقات کړي دي له دوی څخه کريستن مين او هينينګ داسي وايي :
"چي د فارسي ژبي د نظم قواعد له عربي څخه نه دي اخيستل سوي، بلکي تر اسلام دمخه دوی داسي قواعد لرله او ښايي چي عربو هم د جبره(؟) دولت په وخت کي دا شاعري صنعتونه هم له دوی څخه زده کړي وي".
البيروني د غزني مشهور عالم او محقق پخپل کتاب الهند کي د خليل بن احمد د عروضي قواعدو او د سنسکريت د قديمو اوزانو د شعر د لارو چارو تر منځ ډېر مطابقت او شباهت بيانوي او بيا نو وايي چي ښايي خليل بن احمد به د عربي عروضو په ترتيب کي د سنسکريت اوزانو قواعد اروېدلي و.
له دغو روایاتو څخه ښکاري چي په خراسان کي تر اسلام دمخه شعري اوزان موجود وه، او لکه د اروپا پوهانو چي تحقيق کړی دئ د پهلوي منظومات او اشعار هم يوازي پر هجايي اساس ولاړ نه وو، بلکي نور اوزان او اقسام يې درلودل او لکه ځينو پوهانو چي ليکلي دي د پهلوي يو زوړ نظم (شه وهرام ور ژاوند) قصيده ده، چي هره مسرې يې (١٢) هجاوي او قافيه

[٦] د علامه حبيبي مرحوم د پښتو ادب لنډ تاريخ په پای کي د پښتو قصيدې په باب څېړنه سوېده چي سرليک يې (قصيده په شرقي ادب او پښتو کي) دئ، خو د هغه مرحوم د دغي څېړني بشپړ شکل په ١٣٥٧ ش کال په کتابي ډول د افغانستان د علومو اکاډيمۍ لخوا په (١٥٦) مخونو کي (د پښتو ادب په تاريخ کي قصيده) تر سرليک لاندي خپور سو، دلته ما د هغه کتاب بشپړ شکل را اخيستی دئ، چي البته د پښتو ادب د لنډ تاريخ د څېړني څخه زيات اضافات پکښې سوي دي خو په کوم ځای کي چي د لنډ تاريخ څېړنه تر نوموړي کتاب اضافه توب لري هغه مي هم ورسره يو ځای کړي دي. (م. روهيال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري، (د مهر مجله ۳ شماره پنځم کال).
دغسي هم د پهلوي هغه قديم متن چي جاماسب اسانا چاپ کړی دئ قصيده ده چي مطلع يې دا دئ :

دارم اندرزی از داناگان
ازگفت پيشـــــينگان ...

د دې قصيدې بيتونه ټوله په آخرکي د ان قافيې لري، (وزن شعر فارسی، ص ۳۵). له دې پخوانو اسنادو څخه ښکاري چي تر اسلام دمخه خراسانيانو او پارسيانو قصيده درلوده اوکوم وخت چي دوی په دري خپل قصايد نظم کړه نو دوی په دې فن کي قديمه تجربه او مهارت درلود او پاخه وو، په دري کي هم لومړي قصايد په سيستان کي ويل سوي دي، چي د افغانستان د پخواني ثقافت او ادب په غېړکي پرورښت کېدی.
د هجري (۲۵۰) کال په شاوخوا کي يعقوب ليث په سيستان کي د افغانستان د آزادۍ بيرغ ودراوه او ځان يې د بغداد د خلافت له تسلطه خلاص کی، ده غوښته چي د خپل وطن استقلال او عظمت او پخوانی کلتور وساتي، يوه شاعر د ده په ستاينه کي عربي قصيده نظم کړه، يعقوب هغه ته وويل :
"داسي خبري ولي کوې چي زه نه په پوهيږم".
دلته نو د يعقوب د دربار لوی منشي ولاړ سو او په دري يې يوه قصيده وويله او پس له دې به نو شاعرانو په عربي قصيدې نه ويلې، بلکي د دوی پخپله ژبه به وې.
د سيستان تاريخ دغه ابتدايي قصايد په تفصيل ليکي او مور ته رابنيي چي د قصيدې د پرورښت ځای دغه زمور افغانستان دئ.

د شرقي قصيدې موضوع :

قصيده په دري ادب کي د ستايني او مدح له پاره لکه د عربو قصيده استعمال سوه. په سامانې او غزنوي دورو کي د درباري شاعرانو په خوله او قلم داسي د لويانو او پاچهانو په ستاينه کي ومروړله سوه، چي په دغو دورو کي بې له مدح او ستايني بل څه لږ پکښې ليدل کيږي، د رودکي او فرخي او عنصري او منوچهري او منجيك او غضايري او نورو مشهورو شاعرانو قصايد چي وينو په سل کي نهه نوي د مقتدرانو ستايني دي.
مګر په همدغه غزنوي عهد کي حکيم ناصر خسرو د قصيدې مخ له تشي مداحۍ څخه د حکمت او موعظت خوا ته وګرزاوه او قصيده يې د اخلاقي تبليغ او اجتماعي او ديني اصلاح او فلسفې او حکمت په ګرانبها مرغلرو جړاو کړه.
ناصر د دې مهم کار اساس کښېښود او حضرت حکيم سنايي په غزني کي پسې تکميل کړ، ده هم له مداحۍ څخه ځان وژغوره او قصيده يې د اخلاقو او موعظت او حکمت او تصوف او انساني ښېګڼو په ستاينه ښايسته کړه او دا ښکلې محبوبا يې له درباره راوايسته او د دروېشانو په خانقاه، د دردمندانو په کوډله، د عارفانو په درسګاه او د رندانو په بزم کې ودروله، دلته نو مورګورو چي هغه درباري قصيده اوس روحاني ښکلې نغمه سوه.
په هغه غزني کي چي فرخي قصيده د سلطان محمود په ستاينه کي داسي په مبالغه آميزه وينا ډکوله :

شهنشاهی که شاهان را زديده خواب بر بايد
زبيم نه منی ګـــــرزش به جا بلـــقا و جـا بلـــسا
دل خـــــار از بين تيغ او خون ګـشت پنداری
که آتش رنګ خون دارد چو بيرن آيد از خارا

سنايي په دغه قصيده داسي ښکلي روحاني کالي واغوستل :

ازين مشت رياست جـــوی رعـــنا هـــيچ نکـــشايد
مســـــلمانی زسلمان جـــــــوی، و درد دين زبودردا
به صـــــاحب دولتی پيوند، اګـر نامی همی جويی
که از يك چاکری عيسی چنان مصروف شد يلدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

قصيدې په عربي ادب کي خاص تکنيك درلود، او د قصيدې ويلو آداب او فني چاري ښې او ټاکلي وې، قصيده به په يوه تشبيب يا نسيب شروع کېده، دا تشبيب د معشوقې د مينې او شوق او عشق ستاينه يا به د شاعر د احوال بيان و. نسيب په عربي لغت کي هم د معشوقې د ښکلا وصف او د محبت او مينې بيان دئ، (المعجم في معايير اشعار العجم، ٤٠٦ مخ). د اغاني په روايت په اسلامي دوره کي د نسيب ګويانو امام جميل بن محمد هغه عاشق شاعر دئ، چې د عبدالملك بن مروان معاصر و او خلکو به هغه په دغه سبب امام المحبين باله، (الاغاني ٧ – ٨). ځينو شاعرانو به د خپلو قصيدو په تشبيب کي د ځينو ښکلو پېغلو توصيف کاوه او هغه به داسي خوښې سوې، چې شاعر به يې مېړه کې، لکه نصيب چې د عبدالعزيز بن مروان مريى و په تشبيب کي يې يوه ښکلې نجلۍ (هند) وستايله او هغې دى په خپله مړوښۍ ومانه، (آداب اللغه).

دا نسيب په دري قصايدو کي هم دغه ډول ليدل کېږي، خو فرق يې دوني دئ چې د عربي ادب د نسيب موضوع د معشوقو ښکلا او جمال وي مګر د غزنوي دورې د قصايدو تشبيب د شاهد يا نګار يا صنم په وصف جړاو کېږي. مثلاً دغه نصيب وايي :

اروني قبا انظر اليه فانني
احب قبا اني رايت به هندا

يعني ما ته قبا (غر) راوښيئ، دا غر پر ما ځکه ګران دئ چې ما هلته هند (خپله معشوقه) ليدلې وه. فرخي سيستاني د سلطان محمود د يوه وزير په مدح کي د قصيدې تشبيب داسي شروع کوي :

بردم اين ماه به تسبـــــيح و تراويح بسر
من و سيکى و سماع خوش و آن ماه پسر

مګر د فارسي قصيدې تشبيب پر دغه حال محسور نه سو پاته، چاپېر او ثقافت او زماني پر هغه باندي اغېزه وکړه او دا ځکه چې د خراساني شاعر په مخ کي د طبيعت ښکلي مناظر او د کوهسار ښايسته لمني، د ګلشن او چمن تازه هواوي او د بلبلانو خواږه ږغونه او د اوبو ډك بهانده سيندونه او داسي نور ښکلي منظرې پرتې وې. له دغو لېدنو اوکتنو څخه هم شاعر د قصيدې په تشبيب کي کار واخيست او د خپلو قصيدو پيل يې په پسرلنيو نندارو وکى، مثلاً د فرخي د يوې قصيدې تشبيب داسي شروع کېږي :

بر آمـــد نيلـــــګون ابرى زروى نيلـــګون دريا
چو راى عاشقان ګردان چو طبع بيدلان شيدا

د ابوالفرج روني د يو تشبيب مطلع دغه ده :

نوروز جوان کرد بدل پير جوان را
ايام جوانيست زمين را و زمان را

د شرقي ادب د قصيدې دغه خاصر رنګ و، چې شاعر به په نسيب يا تشبيب قصيده شروع کړه او پسله دغه به يې د خپل شعر آهنګ او مضمون داسي ترتيب کړ، چې د خپل ممدوح ستايني ته يوه د ګرېز لار ومومي. دلته د شاعر وظيفه درنښده ځکه دا ګرېز بايد په داسي ډول سوى واى، چې ډېر ښايسته او مناسب او په زړه پوري واى. دغه حال ته يې په ادبي اصطلاح (حسن تخلص) هم وايه، چې کله کله به دغه ګرېز او تخلص پر (حسن طلب) او دعا ختمېده او قصيده به هم ورسره تمامېده.

دا ټول مراحل يعني تشبيب او تخلص، حسن طلب او دعا د شاعر په مهارت او استادۍ اړه درلوده، چې څنګه يې ادا کوي او کوم الفاظ او مناسب او په زړه پوري مضامين پکښې ځايوي. داسي قصيده په ادبي اصطلاح مشببه بلله کېده چې بې تشبيبه قصيده به يې مقتضيه بلله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو قصیده هم پخوانۍ ده

تر ډېره وخته د پوهانو دا خیال و، چې په پښتو ادب کې د قصیدې آغاز له خوشحال خان خټکه دئ، مګر کوم وخت چې د محمد هوتك پټه خزانه زما لاس ته راغله نو ښکاره سوه، چې تر خوشحال خان دمخه هم د پښتو قصیدې خپل ځلانده مراتب تېر کړي دي.
د قصیدې د نشو نما او پیدایښت زانګو خو ما وویل چې دغه زمور وطن و، پهلوي او دري او فارسي قصیدې ټوله په دغه ادبخېزه مځکه کې روزلي سوي وې، نو پښتو قصیده هم په دغه مځکه کې پالل سوې او دا ښکلې اوګلالۍ غوټۍ په همدغه بڼ کې غوړېدلې ده.
د پښتو تر ټولو قدیمه قصیده، چې د محمد هوتك په همت مور ته را رسېدلې ده د سلطان محمود په عصر اړه لري، او د دې قصیدې له براعت او بلاغته داسي ښکاري، چې په پښتو ادب کې تر دې دمخه قصیدې ډېر پخواني مراحل تېر کړي وه، چې د (٤٠٠ هـ) په شاوخوا کې و دې پخوالي او براعت او فني اعتلا ته ورسېده.
محمد هوتك دا قصیده د شیخ کټه له (لرغوني پښتانه) کتابه څخه رانقلوي چې دغه شیخ هم له تاریخ سوري څخه را اخیستې وه. دا قصیده په پښتو بوللـه یاده سوې ده او داسي ښکاري، چې په پخوانۍ پښتو کې قصیده (بوللـه) بلله.
د غور سوري پاچهان خو تر اسلام دمخه لا هم په غور کې د برم خاوندان وو، کوم وخت چې د سبکتګین کهول پر غزني مسلط سو نو د سلطان محمود او د دې غوري کورنۍ اختلاف پیدا سو او په دغه وخت کې د غور ټولواك امیر محمد سوري و، چې د مؤرخینو په قول په (٤٠١ هـ یا ٤٠٥ هـ) کال سلطان محمود دی په آهنګران کې ونیوی او هغه له ډېره غیرته زهر وخوړه او ځان یې مړ کی، (طبقات ناصری ج ١، ١٧٢ بیهقی، ج ١، ١١٧ و الکامل ٩ – ٩٩).
د دې غوري امیر په دربار کې یو پښتون شاعر اوسېدی، چې نوم یې شیخ اسعد بن محمد سوري و او محمد هوتك د پخوانو کتابو لرغوني پښتانه او تاریخ سوري په حواله د ده مړګ د زمین داور په بغني کې په (٤٢٥ هـ) کال ښودلی دئ.
شیخ اسعد د امیر محمد سوري په ویرنه یعني رثا کې یوه اورده بوللـه یعني قصیده وویله، چې (٤٤) بیته ده او تر اوسه چې مور په پښتو ادب کې معلومات لرو نو دغه قصیده تر ټولو زړه او پخوانۍ بوللـه ګڼله کېږي او د ژبې ډېره لرغوني پنګه او ادبي تومنه راښیي.

د مضمون له پلوه د قصیدې اقسام

قصیده د مضمون له پلوه ډېر اقسام لري، د عربو قصیدې خو په جاهلیت کې پر حماسي ویاړونو او قبیلوي افتخاراتو او عشقي احساساتو بنا کېدې، مګر په اسلامي دوره کې خاص بیا د عباسي دربار او امیرانو په مخ کې قصیده د مدح او ستاینې او انعام ګټنې ذریعه سوه.
په دري کې هم مدح تر هر څه دمخه د قصیدې غایه او هدف وه او عاشقانه تشبیبونه صرف د قصیدې د ښکلي کېدو له پاره و او د مینې له خلوصه او تودو جذباتو څخه تر هغه خالي وه، چې سنایي په قصیده کې د روحي او ملکوتي جذباتو اور او حرارت پیدا کاوه.
دمخه مو ویلي و : چې کوم وخت په افغانستان کې یعقوب لیث د آزادۍ ښکلی بیرغ د سیستان د زرنج پر شاهي مانیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورپاوه، هم په دغه وخت کي پارسي قصيده د دربار همدمه سوه او په خوښۍ او نشاط، په جنګ او روغه او ستاينه او وېرنه کي د شاعر د لاس ډېر کارآمده او په زړه پوري متاع و. کله به يې د عيش او نشاط او جمال دوستۍ بزمونه په قصيده تودول کله به يې زلمي د جنګ پر ډګر په قصيده پارول او کله به يې په ټوکو او هزالۍ د همدې قصيدې په وسيله خلک خندول، خو کله کله به د بډايانو او اميرانو د مړيني پر وخت د ويرِ او اعزا او رثا په ټولنو کي هم قصيده اورېدله کېده.
مګر د رثايي قصيدې او وېرني رنګ ښېل و دلته به شاعر خپل هنر او د وينا کمال او قوت هسي په کار اچاوه چي هغه د مرګ واقعه به يې ډېره هولناکه او غمجنه او د ويرِ او ژړا وړ ښوولې. د خلکو د ژړا او ويرِ او ساندو او کړوِ مناظر به يې تصوير کول.
ښايي چي په دري ادب کي هم دغسي وېرني دمخه لا وې، خو اوس موږ ته فقط له رودکي څخه د رثا ځيني شعرونه پاته دي او تر ده وروسته نو مرثيه ويل عام سوي دي.
د رودکي مراثي اوس د قطعاتو په شکل کي پاته دي، خو ممکنه ده چي په اصل کي به قصايد وه او نور بيتونه به يې ورک سوي وي. دا بيتونه له هغې وېرني څخه دي چي رودکي د يوه هم عصر شاعر مرادي په مرګ د (۳۰۰ هـ) په حدودو کي ويلې وه :

مرد مرادی نه همانا که مرد		مرگ چنان خواجه نه کاریست خرد
جان گرامی پدر باز داد		کالبد تیره به ما در سپرد
آن ملك باملکی رفت باز		زنده کنون شد که تو گویی بمرد
کاه نبد او که ببادی پرید		آب نبد او که به سرما فشرد
شانه نبد او که به مویی شکست		دانه نبد او که زمینش فشرد
گنج زری بود درین خاکدان		کود و جهان را به جوی می شمرد
قالب خاکی سوی خاکی فگند		جان و خرد سوی سموات برد
صاف بد آمیخته تا در دمی		بر سر خم رفت و جدا شد ز درد
در سفر افتند به هم ای عزیز !		مروزی ورازی و رومی کرد
خانهٔ خود را بازر و دهر یکی		اطلس کی باشد همتای برد
"خامش" کن چون نقط ایرا ملك		نام تو از دفتر گفتن سترد

دا د پارسي مرثيې يوه لومړنۍ نمونه ده، چي بې ځايه تکلف او تصنع نه لري، وينا يې صافه او روښانه او سپېڅلې ده او شاعر خپل احساسات په زړه سوي او صميميت پکښې ځای کړي دي.
په رثايي قصيده کي تشبيب نه ځايېده او نه د تغزل وخت و. نو پخوانو شاعرانو به لومړی پلا پخپل مقصد او د ويرِ په څرګندولو پيل وکړ. خو وروسته چي رثا هم درباري او تشريفاتي سوه، نو د رثايي قصيدې آغاز او انجام هم ځيني خاص صفتونه وموندل، مثلاً فرخي د سلطان محمود پر مرګ باندي د غزني د ښار مناظر او د وېرني مراتب په دې قصيده کي تصوير کوي :

شـــهر غزنين نه هـــــمانست که من ديدم پار
چي فتاده است که امسال دګرګون شد کار؟
خان ها بينم پر نوحـــه و پر بانګ و خـــــروش
نوحه و بانګ و خروش که کـــــند روح فګار

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو پخواني قصايد

د امير محمد سوري په ويرکي د شيخ اسعد سوري بوللـه

په تېر بحث کي پر پارسي رثا خبري وسوې، او دا دئ اوس په پښتو ادب کي پر رثايي قصيدې خبري کېږي :
د شيخ اسعد سوري قصيده هم يو راز خاص فني آغاز او ترتيب لري. دی خپله وېرنه د فلك په شکوه پيل کوي او د آسمان د ګردش اثرونه په کاياناتو کي ښيي.
د قصيدې اوله برخه دغه تمهيد دئ، چي د قصيدي د تشبيب ځای يې نيولی دئ. دلته شاعر د خپل مقصد په څرګندولو او ادا کي ډېر قدرت ښکاره کوي، (۱۹) بيته وايي او د فلك د تېري او ظلم مناظر ښيي او دا تمهيد په استادي داسي ږدي:

د فلك له چارو څه وکړم کوکار — زمولوي هر ګل چي خاندي په بهار
هر غټول چي پر بېديا غوړېده وکا — رژوي يې پانې کاندي نار په نار
ډېر مخونه د فلك څېړه شنه کا — ډېر سرونه کا تر خاورو لاندي زار
د واکمن له سره خول پرېباسي مړ سي — د بېوزلو ويني توی کاندي خونخوار
چي له برمه يې زمری رپي زنګلو کي — له اوکوبه يې ډاري تېر و جبار
هم يې غشی سکنې ډال د ژوبلورو — رستمان ځني ځغلا کاندي په ډار
چي يې ملاوي نه کېږي په غښتليو — دا فلك پر وکا څه کاري ګذار

۷

په يوه ګـــردښت يې پرېباسي له برمه
نه يې غشی نه لېندئ وي نه يې سپار

تر دې ځايه د قصيدې تمهيد په تدريجي ډول تر مطلبه پوري را رسېږي او اوس نو شاعر غواړي، چي د دغو تېريو او ظلمونو تر بيان وروسته پخپله د فلكه سره وينا وکي، په دغو تېرو بيتو کي خو شاعر له يوه غائبه حکايت او شکايت کاوه، مګر وروسته له غائبه مخاطب ته التفات کوي او دا هم يو فني ترتيب دئ، چي لومړی د ګيلې او شکوې آغاز له غايبه وسي او داسي فرض کړای سي، چي ګويا هغه هلته نسته او نه اروي او شاعر هم نه غواړي چي خپله شکوه د هغه غوږ ته ورسوي. مګر وروسته چي د ده تأثر ډېرېږي او حوصله يې هم تنګېږي نو لکه په غشي ويشتلی زخمي پر اصلي ويشتونکي باندي حمله کوي او فلك له غيابه حضور ته راولي او له هغه سره خپلې ګيلې او مانې حضوراً وايي. دا التفات په صنعتي لحاظ دلته ډېر خوږ او مفيد دئ. چي پسله يوه تمهيده له غايبه مخاطب ته التفات کوي، دلته فلك ته په يوه احتجاجي مخاطبه داسي پيل کېږي :

څه تېری څه ظـــلم کاندې اې فلـــکه
ســـتا له لاســـه نه دئ هيڅ ګل بېله خار
په ويرژلو لور[۸] نه کړې په زړه کراړيه
پر نتلـــــــيو اوروې د غـــــــــم ناتار

---

[۷] اوکوب :- عظمت.

[۸] لور : مهرباني

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا مخاطبه هم يوولس بيته ده، او په ډول ډول د فلك تېرى او جفا څرګندوي او په پای کي په ډېره استادي او مهارت خپل مقصد ته ګرېز او تخلص کوي، او دا مرحله د ادبي معاييرو سره بالکل سمه ده او په ادبي اصطلاح (حسن تخلص) ورته ويلای سو.

کله غـــــورځـــــــوې واکـــــمن له پلازونو[9]
کله کښـــــــــــــېنوي په خـــــــاورو کي بادار
زمور پر زړونو دي نن بيا يو غشی وويشت
ودي ژوبلـــــــــله په دې غشي هـــــــــــــزار
پر ســــــوريو باندي وير پرېووت له پاســــــه
محـــــــمد واکـــــــمن چي ولاړی په بل دار

دلته اسعد د امير محمد عدالت اوکردار ښيي او بيا نو د ده پر اسارت او مرګ افسوسونه کوي او په دې ويرکي د غوريانو د درد او الم ترجماني داسي کوي :

په دې وير د غور وګړي تور نمري سول
په دې وير رڼا تياره ســــــــــوله د ښـــــار
ګوره څاڅي رونې اوښي له دې غـــرونو
دا کړونګی[10] ساندي لي په شـــــورهار

شاعر دلته طبيعت ته رجوع کوي او د غور ښکلي مناظر په دې ويرجنه پېښه کي هم نه ځني هېرېږي او چاپېر د شاعر په طبيعت کي داسي جلوه ګري کوي :

نه هغه زرغا د غرونو د بېديا ده		نه د زرکيو په مسا دئ کټهار
نه غټول بيا زرغونېږي په لاښونو		نه بامي بيا مسېده کا په کهسار
نه له غرجه بيا راځي کاروان د مشکو		نه رادرومي غور ته بيا جوپې د شار
د پسرلي اوره تودې اوښي تويوينه		مرغلري به نيسان نه کړي نثار
دا په څه چي محمد ولاړ له نړيه		په وېرنه يې سو غور ټول سوګوار

وګورئ ! دلته د طبيعي شعر ښکنې ښې څرګندېږي، د شاعر تکيه ټوله پر طبيعت ده او خپل نظر پر طبيعي مناظرو باندي ځغلوي او په درد او ويرکي هم خپل محيط او چاپېر نه هېروي، د ساندو اوکوکارو په وخت کي هم د غور غرونه او دښتونه، د سرو غاټولو فرشونه، د مښکو کاروانونه او د پسرلي د بارانو مرغلري شيندنه او د زرکو کټهار او د ګلونو مسا يادوي او دا ټوله د ميحط او طبيعت يوه ښکلې ترجماني ده.

دلته تاسي د فرخي هغه قصيده هم ولولئ چي د سلطان محمود پر مرګ يې ويلې ده. دا شاعر د خپل محيط ترجمان او د ښاروالو د احساساتو او احوال مصور دئ او داسي وايي :

---

[9] پلاز : تخت.

[10] کړونګی : آبشار.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهر غزنین نه همانست که من دیدم پار		چه فتاده است که امسال دگرگون شده
خانه ها بینم پر نوحه و پر بانگ خروش		نوحه و بانگ و خروشی که کند روح فگار
کویها بینم بر روی زنان همچو رمان		چشمها کرده زخونابه برنگ گلنار
حاجبان بینم خسته دل و پوشیده سیه		کله افگنده یکی از سرو دیگر دستار
مطربان بینم گریان و ده انگشت گران		رودها بر سر و بر روی زده شیفته وار

فرخي يو ښاري او درباري شاعر و، د ده د تفکر او تخيل مجرا هيله وه. په کوم ځای کي چي احمد د غرو ښکلا او ښايسته مناظر په ساندو کي هم تصوير کول، دلته فرخي د غزني د کوشو او کورو حال څرګندوي چي خلکو په ژړا ژړا دلته او هلته ځغستل او مهترانو خپل مخونه په څاپېرو وپېرسول، حاجبانو خولې او لنګوټې ورکي کړې او ډمانو سرناوي او ډومبکي پر خپلو سرو او مخو باندي د لېونو په څېر ووهل.
د دواړو قصيدو دغه فرق ته ځير سئ، چي دغه خصايص په ټول ادب کي ښکاره کېږي. د قصيدې دغه آخر بيتونه هم ښکلا او ښايست او ځانته رنګ لري :

نه ښکارېږي هغه سور د سور په لتو	نه ځليږي هغه لمر پر دې ديار
چي به نجليو په نڅا پکې خندله	چي به پېغلو کا اتڼ قطار قطار
هغه غور په وير ناتار د واکمن کښېنوست	هغه غور سو د جاندم غوندي سوراړ

[11]

دلته نو شاعر د قصيدې مخ ګرځوي او بيا له فلکه سره داسي د زړه له درده وينا کوي :

لاس دي مات سه اې فلکه ! چي دي وکا
محـمد غوندي زمری د مـــــړيني ښکار

په وروستنيو بيتو کي شاعر خورا تندېږي او د وير اورني او تند احساسات په مهارت ښکاره کوي :

شين زړګی فلکه ! ولي لا ولاړ يې		اې د غور غرونو په څه نه سوئ غبار
مځکي ولي په ريږدلو نه پرېوزې		لاندي باندي سه چي ورک سي دا شعار
چي زمري غوندي واکمن ځي له جهانه		چي څوک نه کړي پر نړۍ باندي قرار

د فرخي د قصيدې پای د سلطان محمود سره په ويناووکي داسي دئ:

زينت و قيمت و مـــــقدار جهـــان را بتو بود
تا تو رفتی زجهان اين سه برون شد يکبار
شـــــعرا را بتو بازار بر افـــروخـــــــته بود
رفتی و با تو بيـــــــکبار شـکست آن بازار

دلته خو هم فرخي خپله استادي ږغوي او قصيده په مهارت تماموي، مګر د لوړ بيته څخه لږ څه توزنه هيله هم ښکاري، چي ښايي شاعر په دغه ويرکي د خپل بازارکوټه والي هم نه وه هېره کړې او دا يو ډول ځاني او طبقاتي شعور دئ، چي په يوه

[11] سوراړ : ګرم دښت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عمومي ماتم کي نه ښايي. اما اسعد خپله قصيده په بل ډول پای ته رسوي او بله نتيجه ځني اخلي، چي يو ډول ملي غرور او ننګ او اجتماعي شعور ځني ښکاري.
دلته د پښتنو عنعنوي ننګه بيانيږي، او د سوري تپر ويارنه پر بنا کيږي، چي په اجتماعي او اخلاقي لحاظ مهمه ده، دی وايي :

سخ په تا اې محمده ! د غور لمر وې ته پر ننګه وې ولاړ په ننګ کي مړ سوې که سوري دي په مرګ ويرکاندي ويرمن سول		په نړۍ به نه وي ستا د عدل سار هم پر ننګه دي پر ننګه کا ځان جار هم به ويارې ستا په نوم ستا په تپار

دا د پښتو د هغي پخوانۍ قصيدې تحليل و، چي تر دغي دمخه مورِ اوس بله زړه قصيده په لاس کي نه لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په غوري دوره کي
د ښکارندوی قصیده

د پښتو قصیده خو د زمانې په رنګ ورنګېدله او له خپل چاپېر څخه يې ډېر څه په ځان کي ومنله، د عربي او پارسي ادب اغېزې هم پکښې ښکاره سوې، مګر بيا يې هم خپل سبك او آهنګ او خصوصيات خوندي کړل.
د شيخ اسعد د غزنوي دورې تر پخوانۍ قصيدې وروسته مورِ ته د غوري ښکارندوی يوه د ستايني بوللـه بيا هم په هغه پټه خزانه کي د رښو مرغلرو په څېر راپاته سوې او خوندي سوې ده او دا ښکارندوی هغه پښتون ستايوال او پياوړی شاعر دئ، چې د (۵۸۰ هـ) کال په شاوخوا کي د غور په دربار کي اوسېدی او محمد بن علي د تاريخ سوري ليکوال د ده د بوللو يو غټ دېوان په بُست کي ليدلی و (پټه خزانه).
د غور له تاريخي لوړتيا او عظمته او د سور د درنې شاهنشاهي کورنۍ څخه اوس مورِ ته تشي د ښاروکنډوالې او د فېروزکوه يو جګ منار پاته دئ، چې د دغو پښتنو صنعتي ذوق او د عمران لياقت ځني څرګندېږي.
خو د دغو پاتو آثارو سره سره د شيخ اسعد او د ښکارندوی ادبي مرغلري هم د بليغو او غرا قصايدو په لړکي د پښتو ادب پر خول باندې په ډېره ځلا او رڼا برېښي.
د سوريانو د درنې کورنۍ نامتو بريالی او د هند فاتح سلطان معزالدين يا شهاب الدين خو د سلطان محمود په څېر په واور وارو د هند پر لور لښکري بېولې او هلته يې د اسلام او عدالت او د اخلاقو او تهذيب رڼا خپره کړې ده[۱۲].
داسي ښکاري چې ښکارندوی د ده د دربار ستايوال شاعر هم په دغو جنګي سفروکي ورسره ملګری و، اوکله چې شهنشاه پر اباسين باندې تېرېدی، نو ښکارندوی د ده په ستاينه کي يوه قصيده ويلې وه.
دا قصيده په پوره فني دود په يوه پسرلني تشبيب شروع کېږي او شاعر خپل نهايي قدرت د پسرلي د مناظرو په تصويرکي ښکاره کوي، کوم حيات، کوم حرکت، کوم نشاط او ښورښت چې د پښتونخوا په پسرلي کي سته او د پارسي شعر د قصايدو د تشبيب يو ښکلی او په زړه پوري زېور دئ په دغه قصيده کي هم پروت دئ، لکه چې وايي :

د پسرلي ښکلونکي بيا کـــړه سينګارونه
بيا يې ولـــــــونل په غـــــــرونو کي لالونه
مخکه شنه، لاښونه شنه لمنې شنې سوې
طـــيلسان زمـــــردي واغوســـته غـــرونه

د نسيب ادبي او فني لوازم او ښېګڼې خو دا دي چې شاعر خپل مقصد ته يوه ډېره مناسبه او سمه لار پيدا کي او خپل اروښدونکی په خوږو الفاظو او په زړه پوري مضمون داسي راکښېباسي، چې د ده هغه اصلي مقصد په پوره زړه او مطمئن نفس واروي. د قصيدې مضامين سره پوري او متناسب وي استحالت عقلي ونه لري[۱۳].
درانه او خواتوري کلمات پکښې نه وي اوکه ستاينه کوي هغه هم په داسي ډول وي چې ادب، نزاکت او د مادح او ممدوح مقام پکښې خوندي سوی وي. د ښکارندوی د قصيدې نسيب خو يو د ښکلا بهېر او د جمال انځور او د ښايست بېخي ښه منظر دئ، هر بيت يې پر خپل ځای ښه ښکاري او د ښکلا ترجماني کوي، مثلاً دګلو ښه بوی خو هر څوك ستايي، مګر دغه مقصد په فني ډول او لطيف تشبيه سره اداکول د پياوړي شاعرکار دئ، وايي:

هـــر پلو دګلو ورځم دئ لـــونلی
ته وا راغله له ختنه کاروانونه

[۱۲] طبقات ناصري.
[۱۳] المعجم في معايير اشعار العجم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته د پښتو د تشبیه له نازکو اداتو څخه ته وا داسي لطافت لري چي د ختن د کاروانو وړمې ډېري خوندوري کوي او مضمون د حقیقت خوا ته نزدې کوي، له اغراقه یې پاکوي، ځکه چي اصلاً خو د ختن کاروانونه او هغه هم په مشکونډیو بار نه دي راغلي، مګر شاعر په خپل ادبي اعجاز د پسرلي له ګلو څخه دغسي وړم تون جوړوي.
د قصیدې خورا دقیق او ځیرتابه ځای هغه دئ، چي شاعر خپل مقصد ته هڅه کوي او غواړي چي ستاینې یا وېرنې یا کوم بل مقصد ته مخه کي. په فني ژبه دغه تخلص یا ګرېز د شاعر په مهارت اړه لري، چي رکیك او سپك نه سي. منوچهري د یوه نوروزي او بهاري نسیب په پای کي د خپل ممدوح ابوسهل زوزني ستاینې ته داسي د ګرېز لاره مومي :

شاخ بنفشه بر سر زانو نهاده سر
مانندهٔ مخـالف بوسـهل زوزنی

دا تخلص خو ظاهراً ډېر ښه او ماهرانه ښکاري، مګر په انتقادي نظر خو لږ څه سپکي هم لري، ځکه که دلته د بوسهل زوزني مدح مطلب وي نو د ده د مخالف تشبیه له شاخ بنفشه سره چي ډېر دلچسپ او ښکلي او لطیف شی دئ ناوړه خبره ده.
خو د ښکارندوی تخلص د حسن ادا او صنعتي لطافته ډك دئ او دلته د بلبل ستاینې چي د پسرلي د ګلونو په مدح کي خواږه ږغونه راباسي یادوي او په یوه خوږه تشبیه داسي د ګرېز لاره ځان ته پیدا کوي :

نه به چونې په ستاینو د جنډیو موږ سي
نه به مـــــــوږ سم د سلـــطان په صفتونه
د شـــــنسب د کـــهاله خـــــتلی لـــمر دئ
د پسرلي په دود ودان لـــه ده رغـــــــونه

تر دې وروسته شاعر د ستاینې ډګر ته وردانګي او دا ستاینه ټوله رزمي رنګ لري او د غوري سلطان مړاني، لښکرکشۍ، بریالتیاوي، زغلونه او یونونه یادوي. د تورو ځلا، د زمریو یرغل، د مځکي فتوحات، د زلمو جنګي کارنامې، د هند د تورو مځکو لوټونه، د جګړنو بهېرونه د ده د ستاینې موضوعونه دي، مګر د ستاینې دا ټول شاعرانه زیار او هڅه پر داسي خوا روانه ده، چي کوم فني عیب نه لري، تشبیهونه او استعارې او کله کله اغراق خو د شاعرۍ ښکلي پلوونه دي، مګر د ښکارندوی په دغو صنعتي تخلیقاتو کي کوم عقلي استحالت نسته او دا د ده کمال دئ، چي د شعوري صنایعو په پېچومو کي داسي ګرزي راګرزي چي د انساني تصور او تعقل له دایرې څخه نه وزي، چي سبا فني نقادان د ده شعر ته ګوته ونیسي او ووایي چي شاعر د مداحۍ په څپو کي هسي لاهو سوی دئ، چي د تعقل تر خند دباندي وتلی دئ.
مثلا شمس الدین محمد بن قیس رازي د اووم هجري قرن نقاد د انوري دا بیت د عقلي استحالت له پلوه غندي او دا د ده د شعر ناولیتوب بولي، چي خپل ممدوح په داسي ډول ستایي چي عقل یې نه مني، انوري وایي:

اگـــــــر فـــنا در هســـتی بگل براند اید
ترا چه باك نه ذات تو مستعد فناست

داسي فني عیوب د لویو او مشهورو شاعرانو په آثارو کي هم لیدل کېږي، د عربو متنبي غوندي شاعر هم د مداحۍ په زغل کي داسي ټکرونه خوري، چي وروستني کره کتونکي د ده دا بیت ډېر غندي او هغه رازي وایي چي په دې بیت کي متنبي د خپلي مور پر اوږو سپرېږي او د ممدوح مخي ته ځي :

لواستطعت رکبت الناس کلهم
الی ســـعید بن عـــبدالله بعرانا

یعني که ما کولای سوای ټوله خلك به مي اوښان کړي وای او پر هغو باندي به سپور د سعید حضور ته تللی وای.
رشتیا هم دا ده، چي د شاعر دغه مضمون آفریني او ستاینه ډېره بارده او رکیکه ده او د انتقاد ګوته ورته نیوله کېږي.
اوس نو تاسي د ښکارندوی دغه طبیعي او معقوله ستاینه چي له عقلي استحالته تشه ده او هیڅ رکاکت نه لري هم لوستلای سوای، چي څو بیتونه یې را اخلم :

په جـــوپو جوپو جـــګړن یې هـــند ته یون کا
چي د غـــــور بادار همت کـــا په زغـــلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

څـــپان ســـيند يې هـــــــم له ډاره ايلايي کا
پر اوږو وړي د غـــــوريانو ښـــــه اټړونه[14]
په هـــــرکال اټك د ده ښــه راغـــلی کاندي
غـــوړوي په څـنډو خـــپل پاســـته سالونه
پښـــتونخوا ښکلي زلمي چي ځغلي هند ته
نو آغلـــــيه پېـــــــغله کانـــدي اتڼـــــــونه

دلته به مور د تاريخ هغه وقوعي او رشتياني مناظر را په يادکو، چي د غوريانو کاروانونه هند ته روان دي او د اباسين پر څپانو اوبو باندي د دوی بېړۍ نڅا کوي او د سيند غاړي په پستو رېګو فرش دي او په دې خوښي کي ښکلي پېغلي د اټك پر ګذرګاه خاندي او ناڅي.

ښايي چي ځيني ښاغلي لوستونکي به دلته دا غواړي چي د پښتو قصيدې فکري ذخيره او د ستايني د دغي قصيدو اجتماعي او ادبي اړخونه او د شاعر د فکر قدر او قيمت په ټولني تطورکي په انتقادي نظر اوکره کتني سره واروي.

خو زه به دغه مباحث د دې څېړني اخيرنيو برخو ته پرېږدم، مګر دا نکته به اوس هم ووايم چي د پښتو شاعر د تفکر او تخيل جولانګاه هم د پښتو او پښتونوالي ښکلی او واقعي غولی دئ او دغه پښتانه زلمي چي د جګړې مهيب ډګر ته په خندا او نڅا راغلي او د يوه لوی ملي مقصد له پاره سرونه بايلي دوی له کانړو بوټو څخه نه دي پيدا سوي.

دغه ښايسته او آغلي پېغلي د دوی خوندي مېندي او خپلي دي، پر دوی خپل زلمي ګران دي خو بيا هم دوی د فراق او بېلتانه پر وخت له خوښۍ او نشاطه اتڼونه کوي او خپله خوښي د اتڼ او نڅا په زړه وړونکو نندارو کي ښکاره کوي.

دا ولي ؟ ځکه دلته يو ملي لوړ هدف او لوړه غايه مخي ته ده او دغه هم د پښتانه شاعر او پښتو ادب هغه امتيازي ټکی دئ.

قصيده د روښانيانو په مکتب کي

تر غوري دورې وروسته د پښتو ادب په تسلسل کي يوه ناوړه تشه سته، ځکه چي له (٦٠٠ هـ څخه تر ٩٠٠ هـ) پوري مور ډېر لږ آثار اوس په لاس کي لرو او په خاصه توګه بيا په دغو درو سوو کالو کي د قصيدې نمونه تر هغه وخته نه لرو، چي د پير روښان پياوړي شاګردان لکه دولت او انصاري او ارزاني او مخلص او نور تر (٩٥٠ هـ) وروسته په قصيده خوانۍ پيل کوي.

دا رکود او انفصال طبيعي هم دئ، ځکه چي تر (٦١٨ هـ) وروسته د چنګېز وحشي يرغلونه پر پښتونخوا راغله، دوی د غزنويانو او د غوريانو د عظمت مانۍ په غزني او باميان او فېروزکوه او هرات او بلخ کي ونړولې او بيا هم ګوډ تېمور دا هيواد پسې سپېره کی، په دغو تاړاکو او يرغلوکي چي غټ غټ ښارونه په سپېرو ډاګو بدلېدل او يو متنفس هم نه پاتېدی نو هلته علم او ادب او پوهنه هم پوښاه کېدل او پښتانه هم د لويو غرو سرو ته ختل چي له دې وحشيانه تاړاکه ځانونه وژغوري.

دلته نو د دوی سلسله له غوره سره وشلېدله اوکوم وخت چي ابن بطوطه عربي سياح تر پښتونخوا د هند خوا ته تېرېږي د ده په قول افغانان د سليمان د غرو په سلسلوکي خپاره او مېشته وو او هم له دغه سببه د قصيدې تسلسل دغه درې پېړۍ له خپله لرغوني کانون سره پرې کړی ښکاري.

مګرکله چي د لسمي هجري پېړۍ په نيمايي کي بيا د پير روښان په فکري او ادبي مکتب کي قصيده نه په هغه قوت او

[14] ايږ : کښتی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انجام ښکاره کړي نو مور ته دا خبره زباتېږي، چې په دغه تشه دوره کي به هم قصيده په ادب کي وه خو که تر اوسه د دې دورې د قصيدې نمونې زمور لاس ته نه وي راغلي له سابق او لاحقه دا معلومولای سو، چې دا طلايي مزي بالکل نه وو شلېدلي او د غورې دربار د قصيده سرايانو لرغوني روايات د لسمي او يوولسمي پېړۍ د شاعرانو په مخ کي پراته او موجود وه.

په دغو وختو کي پښتو قصيده د پير روښان او بيا د خوشحال خان په مکتب کي وروزله سوه، مګر پس له غوري درباره درې پېړۍ د قصيدې نمونې اوس مور نه لرو، خو بيا چې د پير روښان په روحاني بزم کي وغلېدله نو رنګ او جوله يې بالکل بېله وه، يعني هغه قصيده چې په غوري دربار کي په فني او ادبي ګټو ښکلې د مدح او رثا له پاره ويله کېده د پير روښان په بزم کي خاص د تصوف او الهي تفکر په رنګ رنګېدلې راووته. د روښانيانو قصيدې خو د وحدت او تصوف په افکارو ډکي او غني دي، مګر د صنعت او ادب او بيان له پلوه وچې کلکي او بې خونده او تشي توري دي او د دوی د شاعرۍ او فني کمال او صنعتي جمال خوا سپېره ښکاري.

د ارزاني او ميرزا قصايد :

د دولت او ارزاني او انصاري کوم قصايد چې اوس مور ته پاته دي د مضمون او انسجام له پلوه بالکل نوي کړه وړه لري او داسي ښکاري چې د سنايي تر فکري تحول وروسته د تصوف او حکمت او موعظت قصايد او بيا فخرالدين عراقي د جذبې او حاله ډکي ويناوي په دغو اوقاتو کي دوني مقبولي سوي وې، چې د رندانو او زړو د خاوندانو بزمونه هم په دغو خبرو تاوده وه او د پير روښان د مکتب شاګردان هم ټوله په دغو مردافګنو ميو مست وه.

د سنايي وجد او حال، د عراقي درد او سوز، د مولانا جلال الدين بلخي مستي او نشاط او د وحدت په متلاطم درياب کي د دوی لاهو کېدل، د روښانيانو د قصيدو اصله شمزۍ ده، مګر فرق دوني دئ چې د روښان په مکتب کي ادبي قدرت او د شاعريت حقيقي جلوې ډېري کمي دي. نه هغه شاعرانه اقتدار او طمطراق سته، کوم چې د غزنوي او غوري دورو په قصايدو کي ليدل کېږي، او نه هغه مترنم او د انګازو او خوند او ښکلا ډك کيف سته چې مور دمخه د اسعد او ښکارندوی په قصيدو کي وليد.

که څوك د روښانيانو دواوين په انتقادي نظر وګوري او د صنعتي ښکلا تجليات هلته نه مومي او د دوی په بيان او کلام کي د خوند او ذوق کمی حس کوي نو بايد چې د روښانيانو ادب او خاص بيا قصيده وچه او له صنعتي او ادبي ښکلاوو څخه تشه وبولي او دا د پښتو ادب يوه خاصه دوره ده، چې مور يې په ادبي انحطاط قايل يو او ښايي چې دا هم د هغه خاص کيف اثر وي، چې دغه پښتانه روښانيان په هند کي له محيط څخه ليري پاته سوي او له پخوانو ادبي روياتو او ښکلاوو څخه بيرته سوي وه. نو ځکه د دوی په کلام کي هغه خوږوالی او هغه پياوړتوب نه و، چې مور يې د اسلافو په آثارو کي په ښکاره ډول وينو.

ښايي چې ځيني پوهان به د دغه ادبي رکود او تيارې علت دا وګڼي، چې روښانيانو په پښتو ادب او قصيده کي د تصوف او عرفان او الهيت روح پوکړی دئ او دغه مضامين د دوی غايي مقصد او هدف و، نو ځکه د شعر په ښکلا او د ادب په ذهني تخليقاتو پسې نه ګرځېدل.

مګر دا خبره هم د دوی عذر نه پر ځای کوي، ځکه چې تصوف او عرفاني مضامين خو د شرقي ادب او فارسي قصيدې چاشني وه او د خوند او خوږوالي او مستۍ او نشاط سبب يې سول او په دغه رنګ کي ځيني ادبي شهکارونه لکه حديقه او مثنوي لرو، چې تصوف په هيڅ ډول د هغو آثارو ادبي مقام او صنعتي او هنري قيمت نه دئ ورکښته کړی.

نو ځکه د روښانيانو د دورې ادبي انحطاط پخپله د دوی د هنري لياقت لږوالي ته منسوبوو او دا وايو، چې تر دوی وروسته د خوشحال خان له ادبي نهضته سره بيرته قصيده په هغه پخواني آب و تاب ژوندۍ سوېده.

ميرزا انصاري چې په (۱۰٤۰ هـ) د دکن په يوه جګړه کي وژل سوی او د روښان پير لمسي دئ په يوه قصيده کي عرفاني معروفي خبري په داسي ډول کوي، چې هيڅ ادبي خوند يا صنعتي ښکلا نه لري، دی وايي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

معشوقه چې حجاب واخلي		ترو عاشق به نزدېکت کا
آواز ښه واړه د يو دئ		ګهي قهرګه رحمت کا
چې په زمکه په آسمان دي		د يوه مولا صفت کا
په هر صورت سامع پوهيږي		او سرود يې زيات لذت کا
عارفان به پرې خوښيږي		کم دليل ځني وحشت کا
هر واصل چې يګانه شي		نندارە به د وحدت کا
په يوه کي دويم نشته		نه زياتی نه کمامت کا

اوس نزدې دغه مضمون ته د حضرت سنايي له ملکوتي ارغنونه دا نغمه واورئ، چې په څه قوت او سلاست او پوخوالي په فضا کي انګازې اچوي :

ممقدسی که قديمست از صفات کمال		نزهی که جليلست بر نعوت جلال
هر آنکه شربت سبحانی و اناالحق خورد		به تيغ غيرت او کشته در هزار قتال
زآهوان طريقت هر آنکه شير آمد		نهاده است به پايش هزارگونه شکال
زما زم ملکوتش کند دلم چون خون		مراست جام وصالش هميشه مالامال
بنغمه های مز امير عشق او مستم		شراب وصلش دايم مرا شدست حلال

(ديوان سنايی ۱۹۲ مخ)

اوس دغه مطالب د روښان پير د بل شاګرد يعني ارزاني خويشکي څخه هم واورئ، چې د زرم هجري کال په شاوخوا کي ژوندی دئ، دی وايي:

د اثبات په کور دننه		د احد ډېوه کړه بله
ستا زړه جام جهان نما دئ		او وې کاږه له بغله
يو څراغ دئ چې بليږي		پوشيده دئ له احوله
د دغه څراغ رڼا ده		تر اعلی هم تر اسفله
چې منصور په سر د دار دئ		د انا لول يې ښيله
بايزيد سبحاني ولوست		د خپل زړه له هيکله؟
د ملا پر کتاب نشته		د رندانو له عمله
د کامل تخته ده پاکه		د دې غير له امله

همدغه مضمون ته ورته مضمون دمخه عراقي په داسي ښکلو او خوږو الفاظو په شاعرانه مهارت بيان کړی و :

(c) ketabton.com: The Digital Library

روشنان آئینه دل چون مصفا بینند از پس آئینه دزدیده برویش نگرند عارفان چونکه زانوار یقین سرمه کشد در حقیقت دو جهان آئینه ایشانست		روی دلدار در آن آئینه پیدا بینند جان فشانند بروکانرخ زیبا بینند دوست را هر نفس اندر همه اشیا بینند که بدو دررخ زیباش هویدا بینند

(دیوان عراقی ص ۷۵)

دلته نو اوس پخپله ښاغلي لوستونکي اټکل کولای سي، چي په غزنوي او غوري دورو کي خو پښتو قصیده اوږه پر اوږه له پارسي قصیدې سره تله او په ځینو خصایصو کي لا ځني دمخه کېده هم، مګر د روښانیانو په مکتب کي خو قصیده ژوندۍ وه، اما جوله او بڼه یې کورټ اوښتې وه او هغه لرغوني ښېګڼې او خوږتیاوي او د جړاو او سینګار ګڼې یې نه درلودې. مګر دغه وچه کلکه او توره تیاره دوره اوږده نه سوه او خوشحال خان بیا د قصیدې دلربا ناوې په هغه سینګار او ښایست راوایسته چي په لفظي او معنوي خصایصو او فني معیارکي هغه لرغوني قصیدې ته ورته ده.

قادر داد :

هم له دغي ډلي څخه قادر داد د محمد زمان زوی د روښان پیر له کورنۍ څخه تر (۱۱۱۸ ق) پوري ژوندی و، چي پلار یې هند ته فرار سوی او هلته به مړ وي، دی هم اوږدې عرفاني غزلي لري، چي کله کله یې دغه غزلي د قصیدې درشل ته هم قدم ږدي.

د ورکي خزانې مؤلف (۱۳۹۵/) د ده څه نظمونه راخوندي کړي دي، چي د روښان پیر د ادبي مکتب یو ورك پلو را روښانه کوي.

قادر داد د روښانیانو په صف کي د کریمداد بنګښ تر څنګ

(مګر وروسته) د درېدلو حق لري. ځکه چي په کلام کي یې شعریت تر واصل، درونډ ښکاري. عمومي موضوع خو یوه ده، مګر کله کله هنر

هم پکښې ځایږي او سړی ویلای سي، چي غزل یې د شعر ښکلاوي لري، لکه :

چي مدام په زړه کي خـــیال لري و جـــنګ ته
څوك به څه وایي دې مست شوخ و شنګ ته
چي پرې اه د عـــــــاجـــــزانو اثـــر نه کـــه
د نرمۍ خـــــوی به څه ســـتایي و ســـنګ ته
لـــکه زه چي د هجـــــران په اورګـذار شـــوم
خدای دي هسي ساعت پښې نه که نهنګ ته
اندېښـــنې لـــکه خـــــــارونه رالګـــــېږي
په آرام مي اړخ نه لـــــــــګي پالـــــــــنګ ته
عـــاقبت به ســـتا د غـــم حـــصار ته پرېوزم
چي ارتاو دي کـــــړم د مینې وکـــــړنګ ته
د تهمت درســـته رقیب کړه په مـــا تشه
د غضب توره په لاس ګرځي و څنګ ته
رقیبان د کوڅې سپي شوه قـــادر داده !
مـــــدام غـــاپي د دین وړي ملـــنګ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ورکه خزانه ۱/۱۱۳)

د قادر داد دکلام په نمونو کي يوه اوږده قصيده هم سته، چي په دې ډول شروع کيږي :

ابتدا چي د حمل په درست جهان شي
زمکه سبزه زرغونه هم کوهستان شي
رنګا رنګ ګلونه ګل شي په چمن کي
ډېر عالـــم يې و ديدن ته نګـــران شي
چي زپلي د خـزان ښايست بيا مــومي
آه سرد بيرون له جس په ســـندان شي
(الخ)

د تشبيب په سينګارولو کي د ده قدرت دغوني دئ، مګر په تخلص اوګرېزکي څه له شاعرانه مهارته کار اخلي او په هنر ځان خپل عرفاني او تلقيني مطلب ته نزدې کوي :

عـــندليب په ډېر هـــــوس ترګلوګرځي
مړاوی ګل په پرېشاني کي خـــندان شي
له مـــاضي فـــراقه ژاړي و چـــــــمن ته
ترس مي نه له مستقبل غم د هجران شي
دا اټکل يې هـــومره نه دئ په خاطر کي
چي به بيا دا زمـــا جـمع زړه پرېشان شي
نه به زه تر تله اوســـم په جـــــــهان کي
نه به پاته جـــــور دا هسي ګلســـتان شي
يا به زه وړاندي لـــه ګلـــــــه جدا کـــيږم
يا به وړاندي تر ما پېښ پرګل خزان شي

په دې ډول دی ورو ورو ځان مقصد ته څرمه کوي او د خزان مناظر، دګلو مړاوتوب، د پانو رژېدنګ، د سمسورو باغونو خمسوري تصوير کوي، خو ښه په پای کي وايي :

بې وفا دنيا به پاتي شي له واړو
په ارمان به ځني ولاړ شيفتګان شي
له دارا له سکندر يې وفا نکړه
څه اميد په دغه بې وفا دوران شي
اورنګزېب ولي پادشاه تر دنيا تېر شو
چي د عدل يې تعريف په هندوستان شي
چي دا هومره نصيحت کړم باور وکړه
ځان ته وايم تش مذکور د ديګران شي
همه واړه عيب وينم پخپل ځان کي
که بهانه په خوله دا نور نور آدميان شي
هيڅ سړی به غلط نه ځي قادرداده !
که پيرو د انصاري بايزيد روښان شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کریمداد بنګښ په دېوان کي قصاید :

د پښتو ادب د قصیدې په اوږده تاریخ کي چې کله مور د غوري دورې تر لوړو او ښکلو قصیدو راتېر سو نو د روښاني مکتب له بې خوندو منظوماتو سره مخامخ کېږو او داسي وینو، چې تر (۸۰۰ ق) را په دې خوا پر پښتو ادب باندي د هنري رکود او د ښکلا د فقر دوره راغلې ده. مګر کله کله پخپله په دغه ډله کي ځینې د ذوق خاوندان او د هنر او ښکلا روزونکي شاعران هم پیدا سوي دي، چې له هغو څخه یو کریمداد دئ، چې په دري شعر کي ځان "عیشي" بولي.

د روښاني ډلې د منظوماتو په لړ کي د کریمداد ځینې قصیده وشمه منظومې د هېرولو وړ نه دي. د ده دېوان اکثر په هغو اوږدو تغزلاتو ډک دئ، چې سړی یې غزل نه سي بللای، خو د قصیدې ټول خصوصیات او تعریفونه هم نه لري.

کریمداد هم عمر په هندوستان کي تېراوه، په قوم بنګښ و، ځینې فارسي غزلي هم د دېوان په پای کي لري، چې ادبي ارزښت یې متوسط دئ، مګر د پښتو وینا یې تر نورو روښانیانو قوي ښکاري او سړی ویلای سي، چې کریمداد یو ناظم و، چې د شعر درشل ته ور نزدې سوی و.

د کریمداد د زوکړې ځای د هند شمس آباد او د استوګنې ځای رشید آباد و، او دا ځای هغه رشید خان آباد کړی دئ چې د روښان پیر له لمسیانو څخه و، او د هندوستان کورګاني پاچهانو هلته فراره کړی او په (۱۰۲۹ هـ ق) کال یې د اورنګ آباد په صوبه کي مځکي او کروندې د جاګیر په ډول ورکړي وې، دی وایي :

زما ځای د قـــــناعت رشید آباد دئ
که هر څو ښهرونه ډېر دي بې شماره

د ماثر الامراء خاوند لیکي :

"رشید خان در سنهٔ ۱۰۵۸ ق در صوبه داری ناندیر بساط هستی در نورد، در شمس آباد دیهي آباد کرده، باغ طرح انداخته، نعش او را برده همانجا مدفون ساختند"، (مآثر دوهم ټوک، ۱۸۹۰ م)

نو کریمداد هم په شمس آباد کي د رشید خان په دغه کلي کي اوسېدی، چې وروسته رشید آباد سو، دی وایي :

دریغا سیر گلګشت رشـــــید آباد میـــخواهم
تماشای پری رویان شـــمس آباد میـــــخواهم
می و معشوق گلرخسار و آواز خوش مطرب
کنار گنګ و سرو ســــــوسن آزاد مـــیخواهم
(د کریمداد دېوان، ص ۹۸)

کریمداد چې په دري ژبه کوم خواږه اشعار ویلي دي، خپل تخلص (عیشی) او قوم بنګښ داسي ښیي :

عیشی ام بنګشی ام خاك رهم
دین و دل باخـــــته در راه تو ام

په هر صورت د کریمداد ژوند تر (۱۰۵۸ ق) پورې چې رشید خان مري یقیني دئ، پس له دې نه ده معلومه چې په هند کي و، که بیرته خپل وطن تیرا او بنګښو ته راغلی وي که یه؟

کریمداد په روښاني مکتب کي لوړ ځای لري، ځکه چې د ده د بیان قوت په دواړو ژبو پښتو او دري کي ځلېږي، او داسي ښکاري چې د عرفان په څرګندولو او بیانولو کي خپل هنري استعداد هم لري، او د ده ویناوي تشي بې خوندي منظومې نه دي.

تاسي وګورئ چې هنري استعداد څنګه د یوه هنرمن په تخلیقاتو کي اثر کوي، او خپله اغېزه ښکاره کوي. خبري هغه خبري دي چې دولت او میرزا انصاري یا پخپله روښان پیر په خیرالبیان کي کړي دي. مګر کله چې د عرفان هغه زر د یوه ماهر زرګر په لاس ورغلي دي نو ده پخپل هنري مهارت هغه داسي سینګار او جړاو کړي دي، چې د ښکلا یوه دلکشه نمونه ده، او سړی چې یې لولي نو خوند ځني اخلي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عاشق په نظر ګورئ		د محبوب د مخ جمال دئ
توري زلفي يې خورې کړې		پر سپين مخ يې ايښی خال دئ
ګلې سرو د چمن شي		بيا جنبش يې پر خپل حال دئ
ګه بلبل خوش الحان شي		ګه طوطي شېرين مقال دئ
توري سترګي يې مکحولي		هم يې قد په اعتدال دئ
بيا عجب يې کړې وروځي		چې تشبيه يې په هلال دئ
درست مجلس يې په می مست که		څه عجب ساقي کلال (؟) دئ
موجودات يې برګ بر شه		د وحدت د باغ نهال دئ
ګلې سازګلې يې مات کا		دی د کل باندوکلال دئ
ساتندوی د زنده سرو		د جمله حيوانو ګوال دئ
د اسلام په لوړه وخوت		بانګ يې ووايه بلال دئ
مقلد پکښې بندي شو		دا تقليد بې مثله جال دئ
چې له دې دامه بهرون شو		پر هغه ديدن حلال دئ
دا ديدن به هغه کاندي		هر چې تېر تر سر و مال دئ
چې يې آئينه شوه رنګه		پر هغه ديدن محال دئ
ذميمه اوصاف به څوکه		هر چې حميده خصال دئ
له بدئ به تل پرهېزکه		چې پسنديده افعال دئ
کريمداد دا بيان کښلی		په زر شېرۍ پنځوسم کال دئ
يادګاري يې ده پرې ايښې		بيان کړی يې خپل حال دئ
هر چې راشي پر دا دنيا		عاقبت يې ارتحال دئ

د کريمداد بنګښ د قصايدو هنري خوا :

کريمداد کله د قصيده سرايانو پر سنت برابر اول د بهار د مناظرو تشبيب لري، او بيا خپلو عرفاني او تلقيني مطالبو ته تخلص اوګرېزکوي، او دلته نو سړی دا مني چې زمور د پښتو ادبياتو کړئ د لوی افغانستان په سلسلة الذهب پوري نښلي، او هغه رنګه مطالب چې سنايي پخپلو عرفاني او اخلاقي قصيدوکي ځای کړي وو، دکريمداد په کلام کي هم هغسي ښکاري، لکه دا قصيده :

تشبيب

ښه نسيم چې زېری راوړی له بهاره		عندليب مي په فغان شه ترګلزاره
په وصال يې د ګل ډېره خوښي وشوه		چې په ځان يې محنت وځکاو له خاره
په چمن يې له ګلبانګه شراشورکه		په هر هر نفس يې ذوق دئ له دلداره
د نيسان او رو مدد ورسره وکه		په هر لورګلونو وتړل قطاره
مست بلبل لکه خليل پکي جاروزي		د نمرود اور شه څرګند له لاله زاره
د لاله پياله له سرو شرابو پر شوه		نرګس سترګي کړې ور پورته له خماره
څه راحت به له ژوندونه که په بخره		چې په هسي ښه موسم ګرزې بې ياره

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تخلص بيتونه

په جهان کي تفرج په تجربه کړي دغه زمکه لګد کوبه د هر چا شوه		لا څونه يې مقيم شوې له رفتاره چې مقيمه پخپل ځای وې نه د واره

اصل مطلب ته ګرېز

له طلبه يو زمان فراغت مه کړه حماقت به دي بدل په پوهه نه شي افرينش واړه پر تا دئ نثار شوی قافله دي د همت اوده په خوب ده سرو ځان د آزادیٔ و ملك ته ويوست قلپ زر به دي قبول پر صراف نشي په تحقيق به تر انجامه ورسيږي د ښتيني مينې قياس کړه له پتنګه د اشنا مينې مې زړه هسې دوه نيم که خشك و تر به يې يکباره سره بل که شراشور به د ديدن په اهل ګډ که توري زلفي تاريکي دي لکه ليله څوك له شوقه بې تسبيح که تل تر تله له عاشق سره يکتا شو بې پيونده له صوفي سره کلام د تصوف که که ګذر يې د قبور په عالم وشي چې هر ښهر دي معدن دئ د حورانو ښايسته يې په هر لوري په څو لونه په خوبیٔ دي هيڅ د يار برابر نه دئ د ما ځای د قناعت رشيد آباد دئ د "کريم" په دود به ژاړي د زړه وينې		خبر ته شه له هر ملکه له دياره څو له کوره دي سفر وي تر بازاره د خسيس په دود لاس مه وړه تر ستاره ته په بانګ د استغنا يې کړه بيداره مېوه داري وني لاندي وي تر باره څو يې ور نه وړې د عقل تر معياره هره چار چې په اخلاص کړي اختياره چې يې خپله هستي ځار کړه تر نګاره چې تشبيه يې په څه نشي بې انداره په هر زړه چې شي د عشق شعله حراره که يو ځل په جلوه ګا شي غمګساره تجلی يې د مخ زياته له نهاره او د ځينو سريکار شه له زناره په حجاب کي يې مخ پټ که له اغياره او له رنده ميخواره سره ميخواره شهيدان به ژوندي پاڅي له مزاره تر بهښته دي کم نه وينم هندوباره آراسته يې په انهار او په اشجاره تجربه ده ډېره کړې په ډېر واره که هر څو ښهرونه ډېر دي بې شماره هر چې ببل شو د دوستانو له قطاره

يو زمان له درد و غمه نه خلاصيږي
بېلــتانه مې رڼا ورځ کـــړه شب تاره
(ديوان، ص ٤٠)

د کريمداد ادبي او هنري استعداد په دواړو ژبو کي سره برابر دئ، او هغه دا چې ده د روښاني مکتب قصيده له رکوده او بې خوندیٔ څخه را ايستلې او بيا يې د هنر پر ښکلي تخت کښېنولې ده. علت يې هم دا دئ چې ده په دري ژبه کي هم دغوني غښتلی لاس درلودی، چې دلته يې يوه غزل رانقلوم :

(c) ketabton.com: The Digital Library

چو بلبل هر زمان آشفته گرد چمن گریم
بیاد قامت رویش بسر و یاسمن گریم
چو میرم در غمت ای جان ! بیا بعد از وفاتم بین
که از سوز، درون پنهان زمردم در کفن گریم
دلم خون شد، زحسرت تا بکی چون پیر کنعانی
جدا از یوسف خود مانده در بیت الحزن گریم
چنان در محنت راه و بلای منزل افتادم
که گاه از هجر یار و گاه بر یاد وطن گریم
گهی بر شورش و افغان مجنون نغمه یی گریم
گهی در بیستون با ناله های کوهکن گریم
ندارم همدمی اندر همه گیتی، مرا آن به که
در پیغوله غم، بعد ازین با خویشتن گریم
کجا از محرمان بزم وصل او شوم "عیشی" !
پس این کز شوق او چون شمع در هر انجمن گریم

(دیوان، ص ۹۰)

واصل :

د ده نوم پخوا مور اروپدلی و، خو ښه مو نه پېژاند. په (۱۳۵۳ ش) کال ښاغلي پوهاند رشاد د ده څو نظمونه خپاره کړل، چې د ارزاني او دولت او انصاري غوندي يې سړی په فکري لحاظ د روښاني فکر يوه کړی ګڼلای سي. خو په کلام کي يې هنري او شاعرانه ارزښتونه لږ دي.

په دغو خپرو سوو نظمونو کي يو څو اوږدې غزلي سته، چې د قصيدې تر تعريف لاندي نه راځي، خو په (۳۵) مخ کي :

هر چي يو سړی افګار شي ځيني دی غواړي ارمان کا		عيال درست پسې بيمار شي څوك د خپل صورت په ډار شي

قصيده ده چي (۳۵) بيته لري او په پای کي يې داسي ختموي :

نصيحت د کاملانو په اسلام باندي اقرار که هيڅ حيوان په لاري نه ځي وجود ونه د چندن ده		د نادان علاج په ډار شي چي يې سر په ذوالفقار شي څو علاج يې په اوسار شي نوس يې عين تور د ښامار شي

"واصـــل" واړه اجـــــاره کړه
تر حضور ديدن يې جار شي

دا سړی که څه هم د خوشحال خان معاصر او د لسم قرن ژوندی ښکاري، مګر په کلام کي يې کټ مټ د روښانيانو د نظم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړو قصیدو خصایص لیدل کیږي، او په هغه ژبه ګډه دئ، چي میرزا او دولت او ارزاني مو دمخه ولیدل.
اورکزی :
د ده نوم نه دئ معلوم، د قادر داد او د هند د روښانیانو سره محشور او معاصر و. داسي ښکاري چي د قادر داد تر مرګ وروسته هم ژوندی پاته سوی دئ (حدود ۱۱۷۵ ق). په غزل کي یې څه هنري ښکلا ځلیږي، خو په قصیده کي یې خوند نسته او نه په بحث او کره کتنه ارزي. خو دوني به ووایو، چي د روښان په مکتب کي د ذوق خاوندان او ځیني ښه شاعران هم لرو، چي د دوی قصیدې د پښتو ادب د تاریخ په تندي کي ځای نیسي او سړی ویلای سي، چي دا شعر دئ او تش بې خونده نظم نه دئ.

میر خان روښاني :
د دولت لوانې په دېوان کي (ص ۲۵۲ د کابل طبع) یوه اوږده قصیده د میر خان په نامه سته، چي تر (۱۰۰) بیتو زیاته ده. دا سړی هم د روښاني مکتب شاګرد ښکاري، مګر کله چي دولت ژوندی و (۱۰٦۸ ق) ښایي دا روښاني ناظم به مړ و. دولت د ګنج عارفین تر بیان وروسته چي د رسول) معجزات دي دا قصیده د دغي اصطلاح په شرحه کي راوړې ده، چي داسي شروع کیږي :

نن مي زړه له خفي ګنج که څو وینا		مخفي ګنج دئ بې شریکه بې همتا
یو عجیب ښایسته نور و بې مثاله		منزه له سبزو سرخه هم بیضا
نه یې رنګ نه یې مثال شته نه یې لوری		پاك ساده او منزه و تعالی
هم کامل هم مکمل او هم غني و		پاك له فقره له نقصانه له فنا
د غفلت او د نیسان اثر پرې نه و		دی علیم او خبیر و توانا
لوی علیم چي و خپل ذات و ته نظر که		یکباره شو پر خپل ذات باندي شیدا
چي دغه رڼا څرګنده شوه صبا شو		هر چي و له ده رڼا شوه هویدا
لوح، قلم، بهشت دوزخ له ده څرګند شو		عرش، کرسي، آفتاب و ماه ارض و سما

دا د ځینو صوفیانو هغه عقیده ده چي د (الله نورالسموات والارض) پر اساس یې دغه نور د کایناتو منبع ګڼي او بیا په دغه رڼا کي د رسالت او امامت مقام ښیي، او د رسول او اصحابو ستاینې کوي. خو په پای کي وایي :

اطاعت د حقي لاري پر تا فـــرض و
که عاقل یې اعتراض کړه له جهلا

وروسته څو بیته لري، ګمان کوم چي غلط به چاپ سوي وي، خو په دې بیتو کي خلك د روښان پیر لاري منلو ته راغواړي :

هر چي لار یې وي له خدای څخه موندلې		که نېکبخت یې ورپسې کړه اقتدا
رسالت د عارفانو که و حق ته		مشتاقان له خپله یاره که اشنا
ګماني سحاب یې درست له دلدار واخیست		له شها سره تل راز د عرفا

اې میرخانه ! قسمت شوی په ازل دئ
انتها راجـــــــــــع همـــــــبش د ابتدا
(ص ۱۵۲ د دولت دېوان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو په دغه ډول مير خان هم د روښاني ډلي په ناظمانو کي د قصيدې خاوند ګڼل کيږي. مګر څنګه قصيده؟ چي شعر خو نه دئ مګر نظم به وي.

د دولت لونې قصيده سرايي :

د پښتو ادب د روښاني ډلي په شاعرانو کي دولت لونې د داداو زوی هم نه سو هېرولای، دی پخپله ځان داسي ښيي :

اې دولته روښـــاني
حسن خپله نوحاني

بل ځای هم وايي :

د کمکوتې ثنا مـــګړه
د داداو نوحاني زويه

نوحاني خو د پښتو لونې يا لوانې يو هندی سوی شکل ښکاري، او په دې بيت کي خپل ځان ښه راښيي :

شيخ دولت مي نوم دئ هـــاتف ايښی
پر زبان د خلکو ياد "فقير دولت" يم

دولت خو په پښتو د غونډ دېوان خاوند دئ، او د پښتو نور شاعران يې هم په شاعري مني. خوشحال خان غوندي لوی شخصيت هم د ده وزن په پښتو شاعري کي داسي اټکلوي :

بل دولت فقـــير درې پاوه
زه ترې څو شېرشاهي تېر
(دېوان، ص ٣٨٦)

نور شاعران يې هم داسي ستايي :

د فقير پښتو خـــبري
لکه سپيني مرغلري
(ارزاني)

دولت ځان د ميا روښان لاس په لاس مريد او شاګردګڼي :

زه فقير دولت مريد د ميا روښان يم
له فتراکه به يې نه کاږم آســان لاس

له دې څخه ښکاري چي دی د روښان معاصر، ارادتمن او د (٩٨٠ هـ) کال د شاوخوا سړی دئ چي بايد د (٩٦٠ هـ) په حدودو کي زوکړی وي، او ژوندون يې تر (١٠٦٨ هـ ق) پوري يقيني دئ، ځکه چي په همدغه کال يې د الهداد انصاري ويرنه (مرثيه) ويلې ده.

د دولت ژوند هم اکثر په هند کي تېر سوی او د رشيد آباد او دکن په سيمو کي رورد دئ، او پخپل دېوان کي هغه افکار او عقايد ځايوي، چي د پير روښان د مکتب شاګردان يې لري. دی د قرآن او سنت او شريعت او سني مذهب تابع دئ او د خپلي شاعرۍ باغ د عرفان او ديني افکارو په ګلونو سمسوروي.

دېوان يې په (١٣٥٣ ش) کال د پښتو ټولنې په همت په (٢٧٩) مخه کي له کابله خپور سوی دئ.

د دولت شعرونه خو د عرفاني او ديني قالب په محدودو لرګيو کي راګير سوي او ډېري اوږدې قصيدې لري، او هغه چي د غزل په قالب کي اچول سوي دي هغه هم د غزل تر محدود قالب کله کله وزي او د تغزل شکل مومي. ښاغلي پوهاند رشاد هڅه کړې ده، چي د ده ځيني شعرونه د خليل بن احمد په عروضي قالب کي کښېباسي، او د عروضي تقطيع په کړاو يې اخته کي، (وګورئ د ده د مطبوع دېوان مقدمه، تر ١٩ مخ وروسته). دغه هڅه خو د علمي پلوه ښه او په زړه پوري ده، مګر د پښتو ژبي له طبيعته او جوړښته سره سمه نه ښکاري مثلاً دا بيت :

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای چي دايم يې جاجا څرګند
نه وينم غير بې له تا څـــرګند

دا خو سپك بحر (فاعلاتن – مفاعلن – فع لان) دئ، مګر زه داسي ګمان کوم چي د پښتو عروضي طبيعت د آريايي ژبو له وزمونو سره نښلي، او د دولت ګرده شعرونه به په عربي قالبونو کي اچول مشکل وي.
که مور په روښاني ډله کي دولت ته کومه درجه ټاکو نو بايد چي د شاعرۍ پر ډګر دی ترکريمداد وروسته د ارزاني او مخلص تر څنګ ودروو. خو په فکري لحاظ محقق ښکاري، او توحيد له اتحاد او حلوله بيانوي :

د توحيد وينا يې شوه پر زړه نزوله
مـــــبرا له اتحـــــــــاده هم حـــلوله

بل ځای وايي :

د يقـــــــين په نظر يو راته ښـــکاره شو
له اوله چي مي څوك په نظر سل کوت

قرآن وايي :
(چيري چي مخ کئ، هلته د خدای نن‌داره ده "اينما تولوا فثم وجه الله").
د روښان د مکتب مفکران له کثرته بيرته وحدت ته ځي او د اسلامي عارفانو په هغه ډله ننوزي چي د دويي له ډګره يکۍ ته ور تېر سوي وي :

چون يکی باشد همين نبود دويی
هم منی بر خيزد اين جـــا هم تويی

خواجه عبدالله انصاري ويلي و :
"از خود فروتر آی ورسيدی" (طبقات الصوفيه، ص ۹۱).
دا مرتبه چي سړی له خودۍ څخه وزي، او سل يو ويني د اسلامي عارفانو په کلام کي داسي شرح کيږي، چي نېستي سوي خلك د هستۍ پر ور درپيږي.

نيستانی که بر در هستند		نه کمر بر درش کنون بستند
کز ازل پيش عشق و همت و زور		خود کمر بسته زاده اند چو مور
جهد کن، تا چو مرگ بشتابد		بوی جانت پکوی او يابد
برگذر ! زين جهان پر او باش		گر بدي يانه، بر در او باش

(د سنايي حديقه)

دغه نيستان چي ځانونه يې د هستۍ له ډګره وړي وي او د وحدت په څپان سيند کي فاني سوي وي، د دولت په ژبه داسي وايي :

په قوت درياب چي ګډ شي يو يادېږي
په جهان کي هر څـــو ډېر دي دريابونه

د دولت لوڼ په قصايدو کي عرفاني مضامين:
د دولت په تغزلاتو او قصيدو کي عرفان، اخلاق او شرعيات سره ګډ دي، او سړی يې په پښتو کي د سنايي د قصايدو پيرو ګڼلای سي. مګر د سنايي د شعريت قوت نه لري.
د ده د فکر او ادبي قوت د ښکاره کولو له پاره دغه تغزل ولولئ، چي ټول يو ګڼي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ظاهر باطن چې ګورې سبحان یو دئ
صورتونه ډېر لیده شي جانان یو دئ
د کثرت په حسابونه غلط مه شه
مومنان هر خوا نیوه دي ایمان یو دئ
په صدف کي در خالص په مار کي زهر
بارنده پر هر ځای ابر نیسان یو دئ
پر اغزي پر ګل یې نور یو شان وښلی
تابنده پر جهان لمر درخشان یو دئ
رنګ رنګ ګل ځني پیدا شي په پټې کي
چې ګیاه پرې زرغونېږي باران یو دئ
که لښکر حشم یې ډېر لیده شي څه شو
چې په حکم یې عمل شي سلطان یو دئ
د دنیا بازار یې جوړ کا په څو شاني
د معنی په سترګو ګوري هر شان یو دئ
د احول سترګي کېږې دي یو دوه ویني
جلوه ګر، په عرش، کرسي کان مکان یو دئ
د شاهد لباس اغوستی دلبري کا
ذات واحد، بصیر، علیم، څو الوان یو دئ
چې د عاشقانو زړه په زلفو خال وړي
دلربای د زړونو ژر په جهان یو دئ
د معشوق عاشق جامه واغوندي راشي
عشق باقي، شاهد، مشهود بې ګومان یو دئ
پرې مومن، کافر، ماهی، چونګښه زیست کا
پاك دریاب بېحده لوی، بې پایان یو دئ
د مجاز په څو څادرکي یې مخ پټ کا
د "دولت" د زړه انیس پټ عیان یو دئ

(د دولت دېوان، ص ۱۷٦)

په دې ډول تاسي د دولت د بیان هغه اصلي جوهر او پرکلماتو او الفاظو د ده راڅرمه توب اټکولای سئ چې یوازي د عرفان فکري پانګه نه لري بلکي د بیاني هنر لږ څه ذوق او ذخیره هم ورسره ده.

ځان جهان په لا اله نېست کړه "دولته" !
د جـــانان په سترګو ګوره خپل جانان ته

د دولت قصیدې چې عرفاني او اخلاقي مضامین لري لکه د سنایي عرفاني قصیدې، اوږدې دي، او د ده کلام په پښتو ادب کي د عرفاني پانګي یوه غوره ذخیره ګڼلای سو. د ده شعر د شعر له پاره نه و، هدف یې د روښاني عرفان څرګندول و. د دې کار له پاره چې ده کوم هنري استعداد او د کلماتو ذخیره درلوده، هغه یې ټوله په دې لار کي کښېښووه. که څه هم ده لکه سنایي یو لطیف ادب جوړ نه کئ، مګر بیا هم په پښتو ادب کي د ده وینا تر ډېرو ناظمانو غوره ده، او کله کله د لطیف ادب پر پولو هم پل ږدي، او کله د تغزل میدان ته رادانګي لکه یو تکړه غزل سرا داسي مضمون آفریني کولای سي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

شہرین یار چي ما د زړه په سترګو تل کوت
هر ساعت به مي د مینې د ده ګل کوت
د دیدن شراب یې راکړه هسي مست شوم
چي هر جز مي د معنی په قوت کُل کوت
ځان جهان راښخه هېر شو په مستیِ کي
لور په لور به مي دلبر جلوه ګر کوت
چي په لا اله مي غیر وجود نفي کا
روحاني پادشاه مي ناست پر تخت د دل کوت
که نظر مي د صفات پر عالم وکا
بې آشنا مي نه جهان، نه ځان، نه بل کوت
د یقین په نظر یو راته ښکاره شو
چي اول مي د ګومان په سترګو سل کوت
د وحدت په باغ څړه بې سره ګډ شوم
ګل او خار مي یو لیده، زاغ مي بلبل کوت
که د زړه ارسیِ صفا کړې و به وینې
هغه مخ چي پاك ولي، نبي مرسل کوت
زه "فقیر دولت" هرګز په میان کي نه وم
دلبر خپل جمال پخپلو سترګو تل کوت

(دېوان، ص ۸۲)

اوس د دولت یوه قصیده را اخلو، چي دا هم د مضمون تسلسل لري او هم د تخیل سره ننښتون پکښې ښکاري، مګر موضوع یې هغه عرفان او هغه د روښاني مکتب د افکارو څرګندونه ده :

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر چې نوش د توحید می کا		د خودیٔ مرکب به پی کا
یو دیدن به د دوست ویني		هر نظر چې پر څه شی کا
دا هغه زه، ته پرده یم		په پرده کې بازي دی کا
وایي نه یم، نوازه شي		څه عجب اشارت نی کا
چې د شك ګومان مچ وخوري		د توحید نعمت په قی کا
کامل ځکه غلط نه ځي		تګ د پیغمبر په پی کا
هغه نه مري تل باقي شي		چې مړ زړه په ذکر حی کا
د خیر ساج په شان به		په رضا د ده مرګی کا
درست بدن د ذاکر ذکر		ګوشت پوست، هډ مغز رګ و پی کا
پر بیابان مجنون جاروزي		لیلی سیل د خپل حی کا
یو صفت په خپله ژبه		چین، ختن په هند، روم ری کا
په قدرت له یوې خاوري		سوار، پیاده، شتر، مزری کا
دېګ، طباخ، سرپوښ، ججری		خم، پیاله، بدنه، ګړی کا
ببل د غوښې له صورته		پی، شودې، شړومبې، غوړی کا
بادشاهان یې خدمت هسي		لکه ښه عاجز مریی کا
اولیا په یوه دم کې		تر مشرق مغرب لار طی کا

د دې قصیدې د تخلص په برخه کې داسي نتیجه اخلي او خپل مطلب ته ګرېزکوي :

غیر مه ګوره دولته!		خیر، شر سبب کل دی کا
په ساعت کې نېست نفي شي		د هستیٔ لافي لوګی کا
مراد هاله مومي مرید چې		سر د پښې تلی کا
عاشقان د ده له شوقه		تنن، تن، تنا له لی کا
په بهشت کې ګفت کم دئ		بې سلا مه بې علیکا

(دېوان، ص ۲۲ – ۲۵)

د دولت د قصیدو موضوعونه د عرفان په ارت چاپېرکي متنوع دي، او ډېر داسي څه پکښې سته چې سړی یې د اسلامي عرفان او د شرقي صوفیانه ادب نخوړ بللای سي. که یو څوك دغه افکار او ښکلي مضامین سره ببل او تر خپل عنوان لاندي کښېږدي، د عرفان او تصوف یوه ښکلې اوګلالیٔ باغچه به وي، لکه:

د دلـــــبر دیدن په هر لـــــوري عـــیان وینم
هر نظر یې په هر څه کې په څـــــو شان وینم
چې مي سترګي د باطن کړې پیرکامل رښې
په هر څه کې یو دیدن د پاك ســـحان وینم

(دېوان، ص ۲۱۲)

د سالك څه زده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن هغه سالك د دې لاري ادب زده
چې له دم سره يې ذکر د پاك رب زده
مرده دل د دل له سره خبر نه دئ
په تقليد يې په زبان د خدای لقب زده
غير دهوال به يې حجاب په ميان کې نه وي
چې يې سهل پر فلك لکه کوکب زده
زه "فقير دولت" به روغ په نور څه نه شم
کل زما درد و دارو د دلبر لب زده

(د دهوان ۹۹ مخ)

بې الحاده او حلوله خالص توحيد:

د توحيد وينا مي شوه په زړه نزوله
مبرا ده له الحاد هم له حلوله
يو الله دئ بې جهته تجلی کا
پوشيده دئ له دوبين، ظالم، جهوله

(دهوان ص ٤٣)

يو حق دئ !

په ظاهر، باطن، اول، آخر يو حق دئ
نصيحت په زړه کې ونغوړه زما دا
د احد په ملك کې بې احده نشته
تل دا حال په ژبه وايي کل اشيا دا

(دهوان، ص ١٨٦)

د وحدت د باغ مرغه د کثرت په نندارہ کې

د وحدت د باغ مرغه بلند پروازه
نندارې لره راغلی د کثرت يم
روحاني وطن مي نه هېرېږي هيڅ وخت
د صورت په ملك کې بند په ضرورت يم

(دهوان، ص ١٤٩)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خوشال خان خټک
په ادبي مکتب کي قصيده

اوس نو بيا د قصيدې سمسور موسم راغی او د پښتو پلار خوشحال خان خټک په خپل ادبي زيار او منبود کي قصيده هم تر لاس ونيوله، او د روښانيانو له خانقاه يې بيرته بزم او د رندانو ټولې ته راوسته.
پخپله خوشحال خان او تر ده وروسته د ده دکورنۍ ډېرو شاعرانو پښتو قصيده په صنعتي او فني لحاظ هم وپالله، او د مضمون د تنوع له پلوه يې داسي غني کړه چي اوس هغه د غوريانو او روښانيانو قصيده چي پرته له ستايني او تصوفه يې نور رنګونه، نه لرل په دوه ډوله مضامينو وپسوللـه سوه، او هر راز ادبي ښکلا يې بيا مونده.
اخلاق، حماست، افتخار، شکوه، غندنه، ستاينه، ښېګڼه او تلقين خو کله کله تصوف او توحيد او نور ډېر مضامين هم د قصيدې په ښکلولو کي داخل سوه.
په حقيقت کي خوشحال خان د نوي قصيدې ژوندی کوونکی دئ، پخپله دی د روښانيانو ادبي ضعف او کمزورۍ ته متلفت دئ او په يوه خوږه او ښکلې قصيده کي خپلي ادبي کارنامې او د سابقينو احوال داسي بيانوي :

په پښتو شعر چي ما علم بلند کړ		د خبرو ملك مي فتح په سمند کړ
مدعي د توري شپې اور اورکی و		د سهيل غوندي مي ځان باندي څرګند کړ
يو په حال او په ماضي کي هسي نه و		چي ښکاره يې د خبرو راته خوند کړ
د ميرزا دېوان مي ومانډه په ګوډي		مسخره مي ارزاني خويشکی زمند کړ
که دولت وکه واصل وکه دا نور وه		په خبرو مي د هر يوه ريشخند کړ
کتلمې مي ورته سازي کړې د قندو		د اوربشو په ډوډيو چي چا شخوند کړ
لعل و دُر مي ورته وپيل د نظم		د مشکنۍ بنجاره مي مستمند کړ
هر کلام مي واردات دي يا الهام دئ		چي موزون مي په تقطيع د بحر بند کړ
په تشبيه او په تمثيل او نزاکت کي		عذوبت مي د خبري چند در چند کړ
په تازه تازه مضمون د پښتو شعر		په معنی مي د شهراز او د خجند کړ
د بوستان وني مي واړه پيوندي دي		حقيقت مي د مجاز سره پيوند کړ

رشيتا هم دا ده چي تر خوشحال خان دمخه د پښتو قصيده د روښانيانو په دورکي داسي وه لکه چي سړی اوربشينه ډوډۍ خوري، خو اوس په خوږتيا او خوند او کيف کي په الهامي ډول او تازګي د خواجه حافظ او کمال خجندي د کلامه سره سياله سوه.
د خوشحال خان په قصيده کي د چا غندنه يا ستاينه يا کومه صله او ګټه مقصد نه وه، د ده کلام د زړه الهام او د محبت کمند و.

نه مي سود نه مي مقصود شته په داکارکي
محبت زمـــــا په غـــــــاړه داکـــــــمند کړ
عشـــــقه ته تر اورنګزېب پاچا بهـــــــتر يې
چي خوشحال دي په عالم کي سربلـــــند کړ

د خوشحال خان د قصايدو دېوان ټول تر دوه زره بيته پوري رسيږي، چي ما په ۱۳۱۷ ش کال له کندهار په بشپړ ډول خپور کړی و. په دې قصيدو کي د پند او موعظت ګټوره ذخيره، د پښتني اخلاقو او محسناتو ښېګڼه، د تعليم او روزني نکات او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

وطني سندرو خوندوره برخه، حمد او نعت، د جنګ او حماست خبري، د خپلې کورنۍ او قوم څخه ګيلې مانې، د معيشت او طب او حفظ صحت لارښوونې، پسرلني ښکلي تشبيبونه، منظر نګارۍ او غندنه او کله کله هزل او ملنډې هم سته.
نو په لنډو الفاظو بايد داسي ووايو، چې:
د خوشحال خان قصيده د ده د شعر يوه جامعه برخه ده، چې د شاعر پياوړتوب او فني اقتدار او ادبي مهارت ښه ښکاره کوي. هم د فرخي او منوچهري د قصايدو صنعتي ښېګڼې لري او هم د سنايي د حکمت او موعظت معنوي مزايا پکښې پراته دي او هم د پښتو او پښتونوالي يوه رڼه هينداره ده.
د خپل زوی نظام په وېرني بوللې کي وايي :

څه داغونه ږدې پر زړه باندې فلکه		چې نظام دي له ما ببل کړ خوا يې ډکه
خدايه ته خو ستمګر نه يې دا څه کړې		خلقه دي په دا کار کړه هکه پکه
په لحد کي هغه مخ خورې په چنجيو		چې د هيچا پرې پېرزو نه وه ځوانکه
کشکي ځوان د پښتانه په ننګ کي مړ واى		نه چې ګور لره روان شو له تلتکه
چې د قام په ننګ کي ومړ هغه زويه		په عالم کي د خپل پلار غاړه کا لکه

په شرقي شاعري کي خو تل شاعر تش ستايونکى وي، دى د دلاورانو او جنګيالیو مېړو جنګي کارنامې او بهادرۍ ستايي اما پخپله د جنګ ډګر ته نه ورځي. خوشحال خان د شاعرۍ سره سره يو جنګي سردار او د جګړې د ميدان توريالى سپاهي هم دئ. نو ځکه د ده وينا په جنګي مناظرو او د توريالیو په ستاينه کي پر يوه واقعي او حقيقي کيف بنا ده او تل له ځانه حکايت کوي نه له نورو، او که کوم وخت د کوم توريالي ستاينه کوي هغه هم هغه څوك وي چې د ده تر مشرتابه لاندې توري وهي، په يوه قصيده کي خپل زوی بهرام ته وايي :

څو دي توان توفيق رسېږي ببرون مه شه		په هر دم د پښتانه له ننګ و نامه
ته د چا و جام ته هيله اميد مه کړه		حريفان دي باده نوش وي ستا له جامه
يا تکيه د يوه خداى ده يا د توري		په جرګو مرکو نه شي کار تمامه
که دي نفش د توري کښېنې راته غوږ کړه		کامروا به شې هاله له هره کامه
ښه ځوانان به خپل هوډ پرېږدي له لاسه		که يې سر شي د خوني مزري تر ژامه
که تل توري غشي خوري ماتي د جنګ وړې		مرد به سوړ نه شي په زړه له انتقامه

په يوه بله قصيده کي خپل وروستنى ارمان او د فلك د ناوړو سره ډغري وهل داسي ښکاره کوي، چې د شاعر لوړ همت او پر ځان ويسا ځني څرګندېږي :

مـرګه ! هومره مهـلت راکړه په جـــهان کي
چې جـــمدر د مــدعي په وينو ســـور کړم
که يې درست د متو زور راته ښـــکاره کړ
بيا فلك سره کشتي په خپل دستور کړم

د خوشحال خان د قصيدو د منظرنګارۍ او د بهاري تشبيبونو ډګرېز او تخلص ځاى بيرته هم هغه د پښتونوالي ښکلې دنيا او د ننګ او ناموس تودکانون دئ. په يوه غرا قصيده کي په تشبيب داسي پيل کوي :

د نوروز منت پر باغ دئ پر صحرا هم
نوراني يې شي له فـــيضه هغه دا هم

دا بهاري تشبيب خو ډېر ښکلى دئ، اما داسي ښکاري چې شاعر د بند او له وطنه د ليري تابه په حال کي ويلى دئ نو ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قصيدې په تخلص لهجه داسي وراړوي :

د قفس بلبلي ژاړي ګرياني کا		چې به چيري په ګلګشت والوزو بيا هم
په هغو زما سلام ما دي هم يادکا		په ګلزارکي چې نګار لري صهبا هم
څو بهاره مي بې ميو معشوقو ځي		دا خودرای فلك څه چاري کا په ما هم

دلته د شاعر لوړ همت او د پښتونوالي غرور بيا ښکاره کيږي، پخپل ارت زړه کي د جهان غمونه ځايوي او له دنيا او مافيها څخه استغنا مومي، وايي :

چې و خپلي کامرانۍ ته مي شاکړه		غم اندوه د فلك نه لرم پروا هم
د منت داروکه مرم په کار مي نه دي		که علاج لره مي راشي مسيحا هم
د پرښتو امين منت دئ په دعاکي		لا جرم ورځني پټه کړم دعا هم
د جهان غمونه واړه پکښې ځای شول		شکر دا چې زړه يې لوی راکړ و ما هم

په دې دوني جنګي او حماسي تاو او د پښتونوالي په شورماشورکي خوشحال خان د سنايي په دود د حکمت او موعظت ويناوي هم لري، چې سړی له دې مادي دنيا څخه د يوې بلې معنوي نړۍ په يادکي هم اچوي، لکه چې په يوه اوږده قصيده کي وايي :

مخ د هغو تور شه چې يې مينې نفساني دي
يوه مينه باقي ده نوري کل مينې فـــاني دي
مه کړه د نس نغوته د هوا په لوري مـــــه ځه
واړه د نس چاري شيطاني نه رحـماني دي

د قصيدې په پای کي شاعر خاصه روحاني جوله ښکاره کوي، او د خپل زړه د مقاصدو د پوهولو له پاره کوم ترجمان ته هم اړتيا مومي، وايي :

چا و ته ويل کړم ترجمان نشته په منځ کي
زه سمرقندي يم ياران واړه ملـــــتاني دي

خوشحال خان او د ده زامن او لمسي لکه د پښتو ادب په نورو څانګو کي چې د استادۍ لاس لري او زمور ژبه د دوی د ادبي تخليقاتو مرهونه ده، قصيده هم د دوی په ادبي مکتب کي په ښه ډول روزل سوېده، او د ادب دې څانګي ته هيڅا دوني پرورښت نه دئ ورکړی لکه د ختڅکو درنې کورنۍ چې په دې ښکلي بڼ کي رنګي او مسوونکي ګلونه زرغونه کړيدي. اشرف خان هجري او عبدالقادر خان او ګوهرخان زامن او شيدا د ده لمسی د قصيدې پياوړي روزونکي دي، چې له دوی څخه د پلار په شان ډېر غرا و بليغ قصايد په پښتو ادب کي پاته دي او که د دوی دغه زېبا او خوندور آثار نه وای نو به د پښتو ځولۍ د قصيدې له ښکلو ګلونو څخه هم تشه وای. د دوی په زمانه کي د هند د بابري کورنۍ تاړاکونه پر پښتنو جاري وه.

د مغولو دا تېری او ناتار خو د دوی له پاره تريخ و مګر د پښتو په ادب کې يو خاص باب پرانيتی دئ، ځکه دا سرداران شاعران چې به له وطنه ليرې سول دوی به د احساساتو رقت او د قريحې حساسيت او د زړه نرمي بيا مونده او دغه صفات د ښه او مؤثر شعر په تخليق کي ډېر اغېزه ور دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشرف خان هجري :

اشرف خان هجري چې کله کله ځان روهي هم بولي د خټکو دکهول يو پوخ او پياوړی قصيده سرا دئ. د ده په قصيدو کي د وطن د بېلتانه درد او سوی پټ پروت دئ او دې بېلتون د ده کلام ته خاص اثر او رقت او د آتشينو احساساتو تودوالی او د وطني اشعارو خاص رنګ و آهنګ ور بخښلی دئ. د دکن په منفا کي د روه دغه شېرين نوا بلبل هسي درافشاني کا :

ما هجري ته يې هجران دکن لمبه کړ
ځکه تل د يار له غـــمه در افشان يم

هجري د هنر دوست او د فنان ذوق خاوند و په يوه اوږده قصيده کي د هنر لوړ مقام او د پښتنو شاعرانو هنري منزلت ټاکي او په انتقادي نظر د دوی هنر تجزيه کوي، دا قصيده داسي شروع کېږي چې په ادبي اصطلاح يې مقتضيه يا محدوده بوللـه ګڼلای سوای، ځکه چې کوم نسيب يا تشبيب نه لري :

د مردانو بډايي علم و هنر دئ د هنر پېشه زېور د زيرکانو		آرايش د ګلرخانو په زېور دئ هر چي فخر په دولت کاندي بقر دئ

د هجري په نظر کي آرټ او صنعت په دې نړۍ کي يوه لايزاله پديده ده او په داسي حال کي چې نور اعتبارات نېستي کېدونکي دي فقط هم دغه صنعت د نړۍ ښکلا ساتي او خپل اثر جاويدان پرېږدي، دی وايي :

په اقبال د دهر ځای د غرور نشته په هغه يار فرزانه کله نازېږي مهين يار تر علم نشته په دنيا کي که عالم په علم جوړ ملك يې بوله		د بقا زوال يې ژر لکه ديګر دئ چي يې نن په غېږ کي يو سبا ډګر دئ په دوه داره مدعا لره رهبر دئ بلکي لا تر پرښتو نه نېکوتر دئ

دلته هجري د شاعرۍ فن ته ورګرځي او داسي يې ستايي :

هر صفت چي خالق ايښی په بنده کي هيڅ تميز به يې ونه شي له حيوانه ګويايي اګر چه کسب د انسان ده که سبب يې ګويايي د زبان نه ده		تر همه وګويايي والا ګهر دئ خو په ژبه آل ممتاز ديو البشر دئ ولي هر چي سخنور هغه بهتر دئ سکه په څه بلبل په طيرو کي سرور دئ

دلته هجري د خپل قوم د هنري فعاليت لړوالي ته ملتفت کېږي او پر دغه تريخ حقيقت په داسي ډول اعتراف کوي چي د ده نقاد نظر ځني ښکاري :

دانايي حکمت نصيب د سرو مغولو پښتون ذات چي رب پيدا کړ له ازله که همه قوم پره کړي سر له سره		پښتانه ته جهل خوږ لکه شکر دئ دود د علم و د هنر پکښې کمتر دئ دا حکمت په څو مکانه مقرر دئ

هجري د خپل پلار په استادۍ او فني مهارت ويارې او ځان يې مستقيماً خلف او شاګرد ګڼي او وايي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

اولاً به د استاد له حاله وايم		چې يې شعر جهانګير لکه قمر دئ
په پښتو ژبه چې شعر چا بيان کړ		د همه وو نظم ستوري دي دی نمر دئ
څه خوبي د هغه نمر وايې مهجوره		چې يې نوم دهر نيولی سر په سر دئ
ټول يې وسپاره په ما سرير د نظم		هغه نمر چې نن د خاورو په بستر دئ
نن حريف د ځواب نه وينم په دور		نه مي يو له مړو په شعر برابر دئ
زه محتاج د شاهد نه يم په دا قول		په راستي مي دا غرا شعر محضر دئ
که څوک خيال د جدل کا زما له نظمه		دغه ګوی دغه ميدان دغه احقر دئ

زهبا شعر هسي زړه د هــجري يووړ
لکه زړه د سفله وړی سيم و زر دئ

د هجري په کلام کي د پخوانو قصيده ګويانو اغېزې لفظاً او معناً ښې ښکاري، تاسي دمخه ولوستل چې شيخ اسعد سوري د پښتو پخوانی بولونکی يعني قصيده سرا د امير محمد سوري پر مرګ څنګه له فلکه سره ګيلې مانې کولې، او څنګه يې د هغه وېرنه يعني رڼا په مهارت او غني لياقت سره ويلې وه، اوس د هجري يوه شکوه هم وګورئ، چې د هغه زاړه فکر او بلاغت بخرکي ښه پکښې ځليږي او د منظرنګاری او استعارې کمال ځني ښکاري :

هسي چاري په انسان ولي سما کا		چې يې کار همه په څټ د مدعا کا
کيفيت يې مشابه له بازيګرو		نوی نوی مخ له غيبه هويدا کا
ماه و نمر جوړه مهرې د حقه بازو		په ماښام يوه په خوله بله پيدا کا
توره شپه ګويا پر ده د نېرنګيو		و هر چا ته روزانه بازي نما کا
سره مهره په لپو ونيسي تياره شي		بيا عطسه د شپې مصدره د سبا کا
زمکه سره لکه شهپر شي د مورانو		چې پيدا له فمه زاغ د زرو ها کا
د مراد باده څرګنده کا سړي ته		بيا يې ژر ور ځني پټه په جفا کا
نه به يار و يار ته وبخښې قسم دئ		نه به څوک ځني حاصله تمنا کا
بيا به کله درخو وکا سينګارونه		چې لېمه د حسن سترګي پې جلا کا
نه به بيا آدم شمله په څېره کېږدي		چې درخو يې سينه يخ په تماشا کا
د ګردون هسي روش دئ له ازله		دوه مين په زجر تل سره سوا کا
هر زمان چې خنجر وکاږي د قهر		له ګدايه برابر لوی امرا کا
د فاضل په فضيلت يې رقت نشته		نه يې توره لږ ادب له اولیا کا
دا ويل به ارمان کېږي په وګړي		که قرائت يې په منبر باندي ملا کا
چې آخر وفا له مرده مونده نه شي		مرد هغه چې په حيات همه تر شا کا

هجري دُر دي پيوسته د حقيقت کړه
کيفيت يې کانې زړه هـــــم په ژړا کا

وګورئ د شاعر په فکري چاپېر کي تل د زمانې سياسي او اجتماعي اوضاع اغېزه من وي. د اسعد سوري او د خوشحال خان د زوي رڼايي قصيدې هم وېرنې او شکوې دي خو هغه وخت د پښتنو سياسي عظمت د فکري استقلال او پر ځان ويسا او د روحي ټينګار او صلابت موید و، په وير او ماتم کي هم شاعر له دنيا څخه فرار نه کاوه او د يأس او قنوطيت څپو نه لاهو کاوه، مګر د هجري عصر خو د مغولو د پردۍ سلطې او اقتدار د لوړتيا وخت و، دلته د پښتنو ملي مرکزيت د دوو غښتلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاهنشاهيو تر منځ تري تم او خوشحال خان غوندي پياوړی سردار او د آزادیٔ د جنګ نومیالی مبارز او اور ژبی شاعر تر خاورو لاندي سوی و، نو ځکه د هجري په کلام کي يو د يأس او نا امیدیٔ رنګ ښکاري په کوم ځای کي چي اسعد سوري او خوشحال له خپلي وېرني او شکوې څخه هم د ژوند او قومي افتخار له پاره نتيجه راباسي هجري د ملي مړيني په ګروم او ويرکي دنيا و مافيها ته شاکوي او وايي :

مرد هغه چي په حيات همه تر شاکا

دا دئ د بلواکیٔ او بدبختیٔ لوی نښان، چي زمونږ په قومي شاعري کي د مغولو د مظالمو او جفاوو څخه پيدا سوی و او پښتنو پوره درې سوه کاله د دغه اجنبي تاړاکه سره مبارزه کوله، مګر سره د دې چي د پښتو ادب د دغي دورې په آثارو کي ډېري الميې او د ګرومه ډکي انګازې پاته دي، بيا هم پښتون مهجور شاعر خپل وطن او د خپل ملي ژوند او افتخار مرکز نه دئ هېرکړی، لکه چي هجري وايي :

کـــه نصيب بنده بندي کړ په دکـــن کي
دامنګير يې همېشه عشق د وطـــن دئ
د زړه باز يې د روه په زمـــکه ګـــــرزي
که هجري په دکن ناست خالي بدن دئ

عبدالقادر خان ختک :

د خوشحال خان بل زوی عبدالقادر خان چي د (۱۱۰۰ هـ) کال په شاوخوا کي ژوندی و او د پښتو له ښو قصيده سرايانو څخه و، دی د خوشحال خان د مکتب پياوړی شاګرد دئ، او د شعر په ښېګڼو او ادبي مزاياوو کي پس له پلاره دی استاد ګڼل کيږي.

د ده ورونه هم د پښتو مقتدر شاعران دي خو پخپله اشرف خان هجري هم عبدالقادر پس له پلاره په لومړي پوړ شاګردانو کي ګڼي او وايي :

اوس يې وايه حقيقت د شـــــاګردانو
چي هـــــر يو له دې هـــنره بهره ور دئ
قادر خان که بحـــــر بولم دروغ نه دي
چي يې فکر د اصلي دُرو مصدر دئ

د عبدالقادر خان له قصيدو څخه اوس مورږ فقط نه قصيدې د ده په چاپي دېوان کي مومو، چي ما په (۱۳۱۸ ش) کال له کندهاره چاپ او خپورکړی دئ.

په دغو قصيدو کي ثنا، عرفان، حکمت، موعظت، رثاء، شکوه، انتقاد او منظرنګاري ټوله سته، او ځيني قصايد يې ښکلي تشبيبونه هم لري.

عبدالقادر خان د وينا په رواني او خوږتابه کي خپل پلار ته ورته دئ او په لفظ او معنی کي هغسي پياوړتوب لري او غزل يې ډېره مستانه ده، مګر په قصيده کي يې روحاني رنګ غالب دئ او هغه مطالب وايي چي سنايي پس له خپلي فکري اوښتني پخپلو عرفاني قصيدو کي ويلي وه.

ښايي دا به د هغه څه اثر وي، چي عبدالقادر د خپل سياسي کړاو او بېلتانه په وخت کي د نقشبندي طريقې د يوه مشهور عارف شيخ سعدي لاهوري لاسنيوی کړی و او دغه طريقت به د ده فکر خاص هغو معناوو ته ګرځولی وي چي د يوه مطيع مريد سره ښايي.

د عبدالقادر خان په غزلو کي شور او مستي او د تغزل ښکلی آهنګ او د شاعريت مظاهر ډېر سته خو په قصيده کي دغه مزايا لږ دي، که څه هم پر الفاظو بشپړ سلطه لري خو د فني تخليقاتو اندازه يې په قصيده کي لږ ده او په واعظانه ډول خپل مطلب سِده اداکوي. مثلاً د جهانداریٔ او سياست د ښېګڼو په تلقين کي د ده له قصيدو څخه دغسي بيتونه راوزي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د ظلم اور يې بل کړ په عالم کې		ظالمان به ځان سوخته په دغه نارکا
پخپل ځان باندې ستم کا نه پوهيږي		چې ستم پر بېوزلانو ستمګارکا
چې پر تله تر پلې لا د سپاره سخت دي		بډايي پر پلي ولي شهسوارکا
لايزال دئ سلطنت د ګدايانو		د زوال وېره يې نشته نه يې ډارکا

د پښتو شاعرانو په وينا د مېړنتوب د صفاتو په څرګندونه کې ښه ذخيره سته او دا د پښتو د اخلاقي شاعرۍ يوه غوره برخه ده. خو هر شاعر د خپل فکري استعداد سره د دغو صفاتو څرګندونه او څېړنه کړې ده او خپل نظر يې د مېړه د لازمي صفاتو په شرح کې ښکاره کړی دئ، چې مور له دغه ډول اشعارو څخه د هغه شاعر فکري سويه او د ده د تخيل مجاري معلومولای سو، مثلاً خوشحال خان د مرد په ستاينه کې د ده له پاره دغه صفات ضروري ګڼي :

مرد هغه چې همتناك برکتناك		د عالمه سره خور په زيست و ژواك
مخ يې مخ قول يې قول عهد يې عهد		نه دروغ، نه يې فرېب، نه تش تپاك
چې خبره د پستۍ د بلندۍ شي		په لويي لکه آسمان په پستي خاك
په تمکين کې لکه سبر په پستۍ کې		په هر لور يې خانګې ږنګړي له تاك
لکه ګل شګفته روی تازه په باغ کې		همېشه د ښو بلبلو پر بلغاك

د خوشحال خان د تصور او تخيل نيلی د مېړنتابه په څرګندونه او توضيح کې تل د پښتونوالي او مادي نړۍ پر ډګر ځغلي، له ژوندانه سره اړه لري او د ژوندانه خبرې کوي.

مګر د ده د زوی د تخيل چاپېريال بېل دئ، عبدالقادر په تصويرکې د ملائيت ځيني نخښې ښکاري او داسي څرګندېږي چې د مدرسې او خانقاه ماحول د ده په قصيده کې اوځار اثرونه پرې ايښې دي او هغه څه چې خوشحال خان د مېړنتابه په لوازمو کې نه ګڼل، د ده زوی هغه هم پکښې داخل کړي دي، او دا هم د عصر د هغې خاصې ديني روحيې اغېزه ده، چې د شرق اکثر اخلاقي شعر همدغه رنګ لري، حتی چې حضرت سنايي شاعر ته هم د دغې لارې تلقين کوي، او وايي:

تو ای مرد سخـــــن پېشه ! که بهر دام مشـــتی دون
زدين حـــــــــق بما ندســـتی، به نيروی سخـــــندانی
چه سستی ديدی از سنت، که رفتنی سوی بيدينان
چه تقصير آمد از قرآن ! که گشـــتی گـــرد لامـــانی

عبدالقادر خان د مېړه په ستاينه کې دغسې مادي او ديني صفات سره ګډوي، د ده يوه قصيده داسي شروع کېږي :

مرد هغه چې په بخښش لکه درياب وي		په ښه بد باندې مشفق لکه آفتاب وي
لکه مځکه هسې پست په تواضع وي		د واړه عالم مرجع وي هم ماب وي
په ثبات کې تر غره لا ثابت قدم وي		په صفات او په نرمي کې لکه آب وي
تل يې وچولی د مياشتي غوندې ويل وي		دوست دښمن يې له ديداره کامياب وي
قناعت لکه همای په استخوان کا		نه ظالم نه حرصناك لکه عقاب وي
چې د ظلم لمبې بلي په عالم شي		پرې بريان د ده خاطر لکه کباب وي

تر دې وروسته زمور د شاعر په تصورکې د خانقاهي تلقيناتو اثر داسي ښکاري:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نعمت کي شکر کا په محنت صبر		زړه يې ټينګ په مسبب نه په اسباب وي
په قضا د حق راضي خرم خورسند وي		ورته يو جنت دوزخ ثواب عقاب وي
يو زمان يې زړه خالي نه وي له يادو		که په ناستي که په تللو که په خواب وي
اوامر لکه سنت ادا کوينه		پټ څرګند له نواهي په اجتناب وي
که اشيا ورته ښکاره کماهي شي		مناجات يې زدني علماً يا وهاب وي
عام عالم ته ناست ښکارېږي په رفتار کي		د وصال تر شپې لا تله د ده شتاب وي
لاتاثيره يې بد ښه لکه سره زر شي		په لمبو د عشق سوخته لکه سيماب وي
څو چې ګرزي د دنيا په خرابات کي		په باطن کي آبادان ظاهر خراب وي
د ډك سيند غوندي آواز نکا بهېږي		نه پر شوره، پر غوغا لکه سېلاب وي
د دانا سوال ځواب په ادب ورکا		و احمق ته يې په پټه خوله ځواب وي
د ښو بوی يې په همه د يار پرېشان وي		درست وجود يې په معنا د مشك ناب وي
په ظاهر جامه له خلقه سره خلق		په باطن کي تابعين وي يا اصحاب وي

هغه مرد ولي ګڼه عـــــــبدالـــــقادره
چې عمل يې په سنت او په کتاب وي

وګورئ د فکري تحول آثار چې له پلاره تر زويه پوري يې څونې فرق کړی دئ، د خوشحال ايډيل مېړه يو عالي همت او پر خپل بول ولاړ، رښتين او دروند او د ورين تندي خاوند پښتون دئ، چې وسله يې پسول او تکيه ګاه يې فقط خپل همت او خپل مړوند دئ. مګر عبدالقادر خان مېړه يو شاعر او صبور او له خدايه وېرېدونکی ذاکر او پر کتاب او سنت ټينګ او خاموش غوندي خانقاهي زاهد دئ، چې تلقين يې هم هغه له دنيا څخه فرار او د نفس او ژوندانه او د هوا او د هوس د کوډغلي وراني ده.
عبدالقادر خان په يوه قصيده کي وايي :

د بقا بهبود يې هيڅ نشته فاني ده		په دنيا چې مينه کاندي ناداني ده
د دنيا د خلقو کار راته ښکاره شو		د سېلاب په مخ يې کړې وداني ده
دا چې ته يې وداني ګڼې ناپوهه		د عاقل تر فهم عين ويراني ده

عبدالقادر د خپل پلار خوشحال خان او خپل ورور معظم پر مرګ رثايي قصايد هم لري، مګر د دغو قصيدو فکري جوله هم هغسي خانقاهي او ملايي ده، د کوم خاص او نوي فکر پرورښت نه پکښې ښکاري. خو سره د دې هم ځيني ادبي، د ويلو وړ معاني لري چې د خوشحال خان په وېرنه کي يې دغه بيتونه په ادبي لحاظ ښه دي :

اوښکي هم د وچېدو له وېري ولاړې		له تودې تېغني مي ګرمه ټټر لا ده
د فراق په اور دي وسو نو مي وچ سو		اوس مي تل په وچو سترګو ستا ژړا ده
په بهانه د آه خپل دم راځني درومي		له همدغو بېهوده ګيله ځما ده

د خپل ورور د ځوانيمرګۍ او ښکلا تصوير داسي کوي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر هـــــغو رخســـارو پرېوتلې خـــــاوري
شـــــماتت يې چې په ګلـــــو د ګلاب شـــــو
چې دا هسې رنګ ځوانان پکښې پراته دي
په آســـــمان باندې ډېر فـــــخر د تراب شو
غـــــواصي کـــوم د اوښـــــيو په درياب کي
نه يې مـــومـــــم معـــــظم دُر نايا‌ب شـــو[15]

له دې لنډې څېړنې څخه په پای کي مورِ دا نتيجه اخلو، چې عبدالقادر شاعر دئ، خو مفکر نه دئ، پر الفاظو او ادبي تعابيرو قدرت لري، مګر د فکر غولی يې تنګ او محدود او په خانقاهي تلقيناتو کي نغښتلی دئ. له ځانه سره د فکر کوم خاص اسلوب او جوړښت نه لري، او لکه خپل پلار مورِ ته د يوې خاصي فکري دنيا نمايندګي نه سي کولای. خو که د عبدالقادر خان په شاعرۍ کي کوم کمال او ښکلا وي هغه نو د ده په غزل کي ده، چې د پښتو غزلي په څېړنه کي به مورِ ده ته بيا پوره برخه ورکوو.

سکندر خان ختک :

د خوشحال خان د درنې کورنۍ يو بل ستوری د ده زوی سکندر خان د دېوان خاوند ښه شاعر دئ. د ده له خپله کلامه ښکاري چې په (۱۰۹۰ هـ) کال د (۲۲) کالو ځوان و، نو يې د زېږېدو کال د (۱۰٦۸ هـ) کال په شاوخوا کي ټاکلای سوای. کله چې د (۱۰۷٤ هـ) کال په دريمه خورکي لوی خان د کورګاني پاچا نوکرانو ونيو او ډهلي ته يې واستاوه نو د ده کډې او زامن لکه جلال خان او سکندر خان او ګوهر خان او عجب خان چې کوچنوټي وو، د خپلو مندو سره له اکوړې څخه د يوسفزو په سيمه کي بائيزو ته ولاړل، دا مطلب خان په خپله فراقنامه کي داسي وايي :

هغه ملـــــــك واړه ټمر دئ
چې پکښې زما سکندر دئ

تر دې وروسته چې سکندر ځوانيږي، نو په اکثرو هغو واقعو کي چې د ده پلار او کورنۍ ته ور پېښيږي د ده نوم هم يادېږي، او په (۱۰۸۸ هـ) کال د امير خان صوبدار (حکمران) سره د خپل پلار په امرکابل ته ولاړ او تر (۱۱۰۰ هـ) او د خوشحال خان تر مرګه وروسته چې اشرف خان د ده مشر ورور د ډهلي پاچا اورنګزېب اته کاله بندي کی، د ختکو د خانۍ له پاره د خوشحال خان د ښيلي ښويښدلي زوی بهرام خان او د افضل خان د اشرف خان د زوی تر منځ شخړي رواني وې، سکندر خان د خپل وراره پر خوا و، دی پخپله وايي :

د پېښې وار اوس پر سکندر راوړه فلکه
رقص دي وکړ د منحوس بهرام په کام
په شلمه د رمضان په جان کړکي
افضل خان سره يکرنګ په اهتمام
که تاريخ د سن و سال غواړې له مانه
د ابجد په حروف عين غين، لام

جانه کړ له پېښوره شرقي پلو ته د چراټ په جنوب کي د آدمخېلو اپرېدو ځای دئ او دغه واقعه د (ع ۷۰ + غ ۱۰۰۰ + ل ۳۰ = ۱۱۰۰ هـ ق) ده. د ده د مړيني کال مورِ ته نه دئ معلوم، خو دوني پوهيږو چې تر شعبان (۱۱۱٦ هـ ق) پوري ژوندی و، چې په همدغه تاريخ يې د خپلو زامنو ويرنه (مرثيه) ويلې ده او د افضل خان په تاريخ مرصع کي هم د ده احوال لږ و ډېر راغلي

[15] دغه بيتونه (د پښتو ادب په تاريخ کي قصيده) نومي کتاب کي نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي.
د سکندر خان د شعر دېوان د پېښور ادارهٔ اشاعت چاپ کړی او دوهم ځل په (۱۹۶۲ م) کال خپور سوی دئ، چې د ښاغلي دوست محمد کامل په اهتمام او مقدمه ښکلی دئ، او غزل، قطعه، رباعي او قصاید لري.
د ده غزل لطافت او خوږوالی او پر مضمون آفرینۍ باندي قدرت ښیي، تعقید او ابهام نه لري، په ساده الفاظو او ترکیبونو کي مضامین ځایوي، دا غزل یې د نمونې په ډول زه انتخابوم :

غوږ کانې کړه د غمازو و پېغور ته		مزري نه ګوري د سپیو شر و شور ته
د یار خیال راغی و سترګو ته شرمیږم		چې دا څه عزیز مېلمه راغی وکور ته
نرګس هسي ستا شهلا سترګو بیمار کړ		په قوت شو د همسا له مزکي پورته
د هجران لمبې یې لا لیدې سوزاني		ځکه ځان هندوي واچوه و اور ته
له هغو خاورو د اعذار لاله پیدا شه		چې یې داغ د ښکلي مخ یوړ وګور ته
خط و خال چې یې رقیب وته څوک ستایي		د مصحف توري نقطې ښایي وکور ته
درست صورت مي لکه کسی شو له شوقه		چې دیدن د هغه یارکړم و هر لور ته
پر قوته لینده وشلوي ژر ژبه		زوره ور څه دئ د چرخ و هومره زور ته
حال دي هیڅ راځخه پټ نه دئ "سکندره"		په فراق کي نارې مه وهه په زور ته

"سکندر" زړه غم ته ورکړ راشئ ګورئ
په ســـــاتنه یې خس وســـــپاره و اور ته

دلته د چاپي نسخې په دریم بیت کي "ستا شهید سترګو" راغلی دئ، چې معنا نه لري، او باید صحیح یې شهلا سترګي وي. په آخر بیت کي " و غم ته" د بیت وزن ورانوي، باید (و) حذف سي.
د سکندر د کلام په ټولو اقساموکي د تصوف او عشق او مینې او اخلاقو ښه مضامین سته او داسي ښکاري چې د ده له شاعرانه طبیعته سره ادبي مطالعات او ګڼ معلومات هم مله وه، او وینا یې هم پوخوالی او صلابت لري او هم خوږوالی او سلاست.
د ده په ګرده شاعري باندي تبصره د دې ځایه سره مناسبه نه ښکاري، ځکه چې زمونږ څېړنه تش په قصیدو پوري اړه لري او دا د ده د دېوان دوهم ټوک دئ، چې له (۲۱۳) مخه شروع کیږي.
د سکندر ادبي او شاعرانه مړوچي او د هنر تجلا د ده په غزل کي تر قصیدې ښه ښکاري، نو دی په حقیقت کي غزل ویونکی شاعر دئ، چې کله کله قصیده هم وایي، خو قصیده یې نه د غزلو ښکلا لري، او نه د قصیده سرایۍ آداب او لوازم. دی پخپلو قصیدوکي نېغ په مطلب شروع کوي، تشبیب یا نسیب او تمهید نه لري، ړوبدې خپل مقصد وایي او دکاکړو په اصطلاح (یوګای) کوي، او هغه په څه پیرایه او تمهید خبروکي نه نغاړي. مثلاً اخلاقي قصیده او د نصیحت وینا یې داسي ده :

ته چې فخر په مردۍ کړې د بابا		رانښکاره دي شوه مردي دروسه بابا
دروغژن، زاني، ممسك به سردار نشي		هم بخیل، قول بیعت چې کا ابا
مه بدګوی شه مه فحاش شه مه زود رنځ شه		په ښه خوی کي آراسته اوسه زېبا
لکه زمکه هسي پست همېشه اوسه		چې ښه بد درباندي ځي سبا بېګا

په دې ډول دا قصیده شل بیته ده، خو نېغ نصیحت دئ ،کوم شاعرانه هنر یا د مضمون ښکلا نه لري، او لکه د یوه اخوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوندي وايي : "ښه کوئ بد مه کوئ!".
سکندر خان خو حساسه طبعه لري، شاعر دئ، د کلام قدرت يې په غزل کي ښه ښکاري، نکته آفرين دئ. د دغي غزلي په هر بيت کي يوه ښکلې معنا لري. په دوهم بيت کي د يار خيال او عزيز مېلمه او په څلورم بيت کي د نرګس ناروغي او په همسا پورته کېدل او د يار توري سترګي او په پنځم بيت کي د ستي کېدلو علت او په شپږم بيت کي له خاورو څه د لاله ګل راټوکېدل او په اووم بيت يوه صوفيانه نکته او د جهاني جمال ځلا داسي تخيلات دي، چي په پښتو کي يې د تعبير او تصوير او قوت بيان ښې نمونې ګڼلای سو. د اووم بيت جمالي ارزښت د دري د دې بيت سره اوږه پر اوږه درپېري :

در هر چه بنـــگرم تو پديدار بوده يی
ای نانموده رخ تو چه بسيار بوده يی

نه پوهېږم چي سکندر خان د خپل طبيعت دغه استعداد او قوت او نازکي او لطافت ولي په قصيده کي نه دئ ښکاره کړی؟ د ده د پلار او ورور هجري ځيني قصايد خو ادبي ښکلا په پېخرو پېخرو لري.
په دېوان کي تر اتيا بيته زياته يوه اوږده قصيده لري. په دې مطلع :

ځيني څه کارونه شي په دا جهان اوس
خصوصاً فتنه فســاد په دا ايوان اوس

وګورئ بې له کومه تمهيده يا نسيبه نېغ خپل مطلب ته ورننوزي. دی حق لري، چي د خپل عصر له ناوړو څخه شکوه وکي، ځکه چي د زماني غالبو ظالمو حکمرانانو يعني د دهلي پاچهانو د ټول هند ثروت او د مظلومو وينې زېښلې، او د دهلي او اګرې مانۍ يې په جوړولې او د ملوك الطوايف دمامې پرګرده نيمه وچه باندي دنګېدلې. دغه ټول فسادونه چي سکندر پخپله قصيده کي ځای کړي دي، تاريخي واقعيتونه دي او د فيوډالي نظام طبيعت او خاصيت هم دغه دئ.
وګورئ ! د شاه جهان زوی راولاړېږي او خپل پلار نيسي، په زندان کي يې غورځوي، خپل ورور تر غاړه نيسي او خوله يې ورپټوي، پرګرد هندوستان باندي د لمن الملکۍ (؟) نغاړې وهي. دلته به د مظلومو بزګرانو او خواريکښانو او بېوزلو رعيتو حال څه وي؟ سکندر په دغه قصيده کي وايي :

مروت، وفا، رښتيا له دنيا ولاړل — ځای (يې) ونيوه دروغ، مکر، بهتان اوس
که پخوا دهر بهار و اوس شو منی — چي هر لور آه و فرياد کا رنځوران اوس
نه هغه لولوګوهر له دريا ووزي — نه هغه لعل و ياقوت له بدخشان اوس
نه هغه باران په وخت له اورو اوري — چي تمامه مزکه وکا ګلستان اوس
د ماضي ايام شاهان به کوم کوم شمارم — په ښه نام واړه حيات دئ په دوران اوس
يو د دوی غوندي ځما په عصر نشته — چي لايق د سلطنت وي په دوران اوس

[16]

په دې ډول سکندر د خپل عصر ټول معايب او ناوړي په دې قصيده کي رابرسېره کوي، او د خپل چاپېر د خلکو اخلاقو او سلوك ته د انتقاد ګوته نيسي :

[16] په اصل (کي) مګر غلط چاپ سوی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په راتلل د تنګسې څه په اورېدل		لور په لور درځخه لاړ شي همرهان اوس
که د يار د ببلتانه په تير زخمي شي		په طلب يې طالب مشه د درمان اوس
درې څلور چي سره ناست وي مه ور درومه		سراسر دي په ورتلل کي وينم زيان اوس

د سکندر د عصر په ټولنيز ژوندانه کي د رياکارو او مغرضو شيخانو ډله هم د ګوتنيوي وړ وه، دی حقيقي شيخان او د صافو زړونو خاوندان او هغه رهنمايان چي په فساد او ناوړو ککړ نه وي ښه بولي، خو پر رياييو او کرغېړنو مدعيانو باندي داسي انتقاد کوي :

که بازيد و که ذوالنون واړه ښکاره وه		هسي نه وايم چي نشته بزرګان اوس
د عالم له بدخويۍ پوشيده اوسي		په جبال او په ځنګل په بيابان اوس
پکښې اور دئ د ټګۍ ويسا پر مکړه		چي لړلي په ايرو ويني جوګيان اوس
پنداروونه يې پراته پر سجاده دي		په دا مکر فن اکثر وينم شيخان اوس
شب و روز چي تسبيح اړوي په لاس کي		خپل حساب کاندي د زرو عالمان اوس
د دنيا په جمعيت په فکر و غم دي		په زانو مراقبه شي متقيان اوس
روايت د معتبر کتاب منسوخ کا		چي سکه د زرو ووينې قاضيان اوس

دا خو د رياکارانو او زاهدنمايانو او رشوت خورو قاضيانو غندنه وه، چي د سکندر خان د عصر د ټولني په ورانۍ او اجتماعي فسادونو کي ېې برخي نه وه، اوس د دغي اجتماع د فساد بل اړخ وګورئ :

بېګانه ورته قرين وينم تر خپلو		خوی خصلت د سردارانو شو دا شان اوس
جاهلان ورسره خوښ په مسند ناست وي		د عالم التماس نه وروړي دربان اوس
سيه تور داغ يې ښکاره د زړه په سر شي		چي له کوره د ده ووزي سوې نان اوس
وينې سرې د مظلومانو نه دي څه دي؟		چي پرې سقف ستني رنګ کا د ايوان اوس
رحمدل، خدا ترسان به عامل نکا		دا ظلم به علمدار وي ظالمان اوس
په کښتونو يې د ملك باران نه ووري		چي په ځای د ابر ژاړي يتيمان اوس

دا قصيده د سکندر د عصر د اجتماعي حال او د خلکو د ژوندانه او مسلطو طبقاتو د تېريو او ناخوالو هينداره ده، او که يې مور په قديم ادب کي نظير وغواړو، نو د ناصر خسرو يا سنايي د ځينو قصيدو سره به شباهت ومومي. ځکه دغه دواړه شاعران دغسي د خپل عصر ناوړي غندي او سخته انتقادي ژبه لري.

د سنايي ځيني اخلاقي او اجتماعي ګټه وري قصيدې هم کوم تشبيب او تمهيد نه لري، نېغ په نسيب او انتقاد پيل کوي، او سکندر هم په قصيده کي د سنايي غوندي نقاده او نېغه لهجه لري. تاسي دلته د سکندر د قصيدې منتخب يو څو بيتونه وکتل، چي د حضرت سنايي يوه دري قصيده هم دغه شانته مضامين لري، او ګمان کېږي چي سکندر دغه قصيده ضرور لوستلې او خپله پښتو قصيده به يې هم د سنايي د انتقادي او اخلاقي وينا تر اثر لاندي ويلې وي، واورئ د سنايي څخه يو څو بيته :

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای مسلمانان خلایق حال دیگر کرده اند
از سر بی حرمتی معروف، منکر کرده اند
کار و جاه سروران شروع در پای او فتاد
زانکه اهل فسق از هر گوشه سر بر کرده اند
پادشاهان قوی بر داد خواهان ضعیف
مرکز درگاه را سد سکندر کرده اند
ملك عمر و زید را جمله بترکان داده اند
خون خشم بیوگان را نقش منظر کرده اند
عالمان بی عمل از غایت حرص و امل
خویشتن را سخرهٔ اصحاب لشکر کرده اند
خرقه پوشان مزور سیرت سالوس و زرق
خویشتن را سخره قیماز و قیصر کرده اند
گاه خلوت صوفیان وقت باموی چو شیر
ورد خود ذکر برنج و شیر و شکر کرده اند
خون چشم بیوگانست آنکه در وقت صبوح
مهتران دولت اندر جام و ساغر کرده اند

د سنایي دغه قصیده د خپل عصر هینداره ده، او دا د شاعر هنر او د مړوچ کلام اثر دئ چي مور د اخلاقي او انتقادي شاعرئ په ښېګڼو رودړو، او تر ده وروسته ډېرو شاعرانو پخپلو ژبو کي د ده اغېزه منلې او د عصر د اجتماعي او واقعي مناظرو عکاسي یې کړېده. سنایي په پای کي وایي :

ای مسلمانان دگرگشته است حال روزگار
زانکه اهل روزگار احوال دیگر کـــــرده اند
ای ســـــنایی پندکم ده کاندرین آخـر زمان
در زمــین مشتی خـــر وگا سر و برکرده اند

سکندر هم خپله قصیده داسي ختموي، چي د سنایي له کلامه سره بې شباهته نه ده :

چي په دا مـــــــکر فســاد زمـانه وینم
لا عجب که سلامت یوسم ایمان اوس
نندارہ د نېك و بدو کړه ســـکـــــندره
چي څه چاري کا عالم په دا آوان اوس
و هر بیت وته یې ګوښي ګوښي ګـوره
آیینه ده د سکندر ګوره جـــهان اوس

اشرف خان هجري د سکندر ورور، پخپله یوه انتقادیه قصیده کي د ده شعر داسي ستایي :

د سکندر شـعر له څه سره مخې کـــړم
طبـــــیعت یې ډېر تر درو مـــــنور دئ
د اشعارو ملك یې همه په ژبه خپل کړ
په سریر د نظم شـــاه بل ســـکندر دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

(د هجري خطي دېوان، ٤٤ مخ)

لنډه يې دا چې سکندر خان د خوشحال خان د زامنو شاعرانو په
لومړي صف کې درېږي او په تېره يې بيا غزل خورا خوږه او د سهلو وړ او خوندوره ده.

ګوهر خان خټک :

د خوشحال خان د درنې او د ستايني وړ کورنۍ چې پښتو ادب ته کوم خدمتونه کړي دي، د دوی په سبب د خټکو کام د احترام وړ دئ.

ما د دې کورنۍ پر قصيده سرايي باندي څېړنه اوکتنه تر دې ځايه رارسولې وه، چې متأسفانه د دماغي او قلمي کارونو د ډېرښت په سبب داسي ناروغي راته پېښه سوه، چې بايد د طبيعت په سپارښت قلم کښېږدم، کتاب اوکاغذ هم پرېږدم. ځکه نو پر سکندر خان باندي هم لنډ لنډ ورغېدم او د دې له پاره چې د خوشحال خان د زامنو څخه يو بل قصيده ويونکی ناپېژندلی نه وي پاته سوی، ناچاره يم چې دا بحث پوره کم او يو څو ټکي پر ګوهر خان باندي هم وکاږم.

راسئ چې لومړی خو ګوهر خان لږ څه وپېژنو :

دی د خوشحال خان له زامنو څخه دئ، چې د خپل پلار سره له کوچنيوالي څخه تر ځوانۍ پوري په اکثرو سفرونو او جنګي واقعو کي ملګری و، (تاريخ مرصع، ٣٢٢ – ٣٩٦)، اوکله چې خوشحال خان په (١١٠٠ هـ ق) کال وفات سو، ده په دغه مثنوي کي د وفات تاريخ ووايه :

خان خانان و قدوۀ افغان		آن حکيمی سر خردمندان
چون به هفتاد و هشت سال شده		چو الف بود، همچو دال شده
روز آدينه بود چون زجهان		رفت و ماندیم ما به آه و فغان
غرۀ ماه مهر بود آن حوت		که به لب می نهاد مهر سکوت
بيست و هشتم ربيع آخر بود		که امين جان پاك او بر بود
چون زتاريخ فوت خان خبرم		شده "زما رفت زين جهان پدرم"

(تاريخ مرصع، ٤٨٢ مخ)

تر خوشحال خان وروسته چې په قبيلوي رقابتونو کي افضل خان د اشرف خان زوی او د ګوهر خان وراره بريالی او د خټکو خان سو، نو ګوهر خان هم د خپل وراره سره ملګری و، خو د سياست چاري يې هغه ته پرې اېښي وې. وخت يې په علمي او ادبي چارو تېراوه، د ده دېوان ما نه دئ ليدلی، خو يو غونډ او ضخيم منشورکتاب يې د قلب السير په نامه (٤٠٠) پاڼې ما د پېښور په موزيم کي کتلی دئ، چې په دېرش بابه کي يې د حضرت محمد) سير او انساب او احوال او د خلفای راشدينو تاريخ د ډېرو عربي او فارسي معتبروکتابو په حواله ترجمه کړی دئ، او د پښتو نثر په غورو آثارو کي راتلای سي.

ګوهر په دې کتاب کي ځای پر ځای خپل اشعار لکه غزل، قطعات، رباعيات او تغزلات او قصايد راوړي او د کتاب نثر په ښکلی کوي.

دا کتاب يې په (١١٢٠ هـ) کال د خپل وراره افضل خان په نامه کښلی او د دغه اديب او مؤرخ او مقتدر خان ادب پالنه او د پښتو کتابونو را ژوندي کړنه يې ستايلې ده.

دی وايي :

"اګر چه پښتو ژبه په علت د دورنشينۍ هونبره لذت نلري چه عربي او فارسي سره نسبت شي، ليکن از راه ضرور پښتنو ته هم په پښتو ويل بهتر دي، او سنت الهي هم پدا جاري دئ. هرکتاب چې به نازلېده، هم د هغه قوم په ژبه به نازل شه، دا پدا چې د هر چا پخپله ژبه فهم کېږي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه یاران چې راز د زړه تر بله نمایي
بایده دئ چې پخـــــــــــپله ژبه وایي
د فارسیانو کن مکن ویل څه سود کا
پښـتنو ته کړه مـکړه ویل ښه ښـــایي

د کتاب د مضمونونو په ترڅ کي ځيني مفيدي اخلاقي او اجتماعي ټوټې داسي ځايوي :

مال چې دي وخوړ، هم هغه ستا دئ
چې له تا پاتو شي نور د نور چا دئ
که دي څه وښنده د خدای په لـوري
مال دي هم دا دئ مال دي هم دا دئ

د ګوهر خان د فکر جولانګاه هم هغه ديني او مذهبي چاپېر دئ او دغه کتاب يې هم په ديني احساس او روحاني داعيه د ديني لويو لارښوونکو پر احوال کښلی دئ. نو ځکه د ده قصيده هم دغسي رنګ لري او په ديني پيرايو سبمالېږي.
د قلب السير په سريزه کي د حمد و ثنا يوه ډېره اوږده قصيده لري چې د حضرت محمد) پر نعت او دعا ختمېږي، او داسي ښکاري چې سړی په مسجد کي د يوه ژبور اخوند خطبه اوري، دا قصيده داسي شروع کېږي دلته نو په صنعت التفات لوی ځښتن ته خبره اړوي :

نه د خيال د عقل کار شته ستا و ذات ته
انبيا دي سرګـــــشته په دا اســـرار شي

وروسته بيرته له مخاطبه، غايب ته ملتفت کېږي :

څه عجب خرګاه يې روغ کړ بې ستونه
پکښې نورکارونې ... چې يې رفتار شي (؟)
څه عجبه فرش ترو لاندي غوړولی
بيا پر جوړ، جبال، اشجار، دريا ثمار شي
ډېر تأثير يې په آفتاب مهتاب کي ايښی
هم له نوره يې روشن ليل و نهار شي

دا دئ له دغي قصيدې څخه د نعت څو بيته :

محمد يې کړ پيدا له خپله نوره
عرش و فرش يې کل روشن پدا انوار شي
دی سلطان دئ اولوالعزم د انبياوو
د آدم او د حوا پرې افتخار شي

قصيده خورا اوږده ده، دلته نوره نه ځايېږي. مقطع يې په شاعرانه ويار ختمېږي، مګر ښاغلي لوستونکي په ذوقي توګه دا ټاکلای سي چې ګوهر خان به په دغه افتخارکي څونې برخه لري؟

ښه يې وپېيل ګـــــــوهر په تار د نظم
آفرين دي پدا هسي شان اشعار شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

(د قلب السير له خطي نسخې څخه)

تر هغه ځايه چې د ګوهر خان نظمونه او نثرونه ليدل سوي او پيدا سوي دي، مورږ ده ته د خوشحال خان په شاعرانو او ليکوالو زامنو کي دريمه برخه ورکولای سوای، ځکه چې د ده په تخليقاتو کي هنري ښکلا او شاعرانه لطافت لږ ښکاري، او په فني لحاظ يې ناظم بللای سو، نه شاعر.

د ګوهر خان د وفات نېټه نه ده معلومه، خو د قلب السير له سريزي او د ده له ويناوو څخه ښکاري چې په (۱۱۲۰ هـ ق) کال سپين ږيری او د کورنۍ مشر و. خپل وراره افضل خان ته د کشر په خطابونو سره دعاوي کوي، او د ده توفيق د قوم او ژبې په خدمت کي غواړي.

کاظم خان شيدا :

کاظم خان شيدا د خټکو د کورنۍ د ادبي ګلستان وروستی ګل او د هغه آسمان آخرنی ځلاند ستوری دئ، دی د خوشحال خان کړوسی او په څلور پښته د خپلي کورنۍ د ادبي روایاتو حامل و.

کاظم خان په داسي محيط کي پيدا او لوی سوی و، چې نيکه او پلار او ټول تربرونه يې شاعران او ليکوال او مؤلفان وو او له دغسي ادبي چاپېره حتماً په ټولو ادبي روایاتو او فني عنعناتو خبر سړی راوزي.

اما د کاظم خان په شاعري کي چې غزل يې لويه برخه ده يو راز لفظي او معنوي بدعت ښکاري، ځکه چې ده د فارسي ادبي تعبيرو او د عربي غريبو الفاظو راوړلو کي داسي افراط کړی دئ چې يقيناً يې د ده شعر د پښتو له ادبي معمول سبکه ليرې کړی دئ.

د کاظم خان د دې فکري او لفظي تحول د تحليل له پاره مورږ مجبوره يو چې د ده د ژوندانه محيط او د عصر ادبي جريان وڅېړو او ويې ګورو.

د شيدا د ژوندانه دوره د هند د مغولو د آخرينو سوګليو وخت دئ، د ده مخي ته د فارسي د سبك هند د مقتدرو استادانو لکه کليم او عرفي او فيضي او نظري ښکلي تخليقات پراته وه، مګر هم په دغه عصر کي د سبك هند افراطي شاعرانو لکه بيدل او ناصر علي د شعر پر ادبي جريان دروند تسلط درلود، چې دغو استادانو په فارسي ژبه کي د تعبير او ادا او موشګافۍ او نزاکت آفرينۍ او شاعرانه تلازماتو او استعارو يو نوی ور پرانيتی و. حتي چې ځينو پخو د فارسي ادب استادانو دغه جريان کورټ بدعت ګڼلې او سخت يې غانده.

محمدعلي حزين چې له فارسه هند ته راغلی د ادب منلی استاد و، د دغه جريان داسي مخالف و چې ده به ويل :

"که زه بيرته وطن ته ولاړ سم نو د خپلو ملګرو او دوستانو د خندا او ملنډو له پاره د ناصر علي ترکلام بل بهترين شی نه سم وړلای".

مګر ميرزا عبدالقادر بيدل چې يقيناً د خپل عصر لوی پوهاند او صوفي او پوخ شاعر و دغه سبك يې داسي مقبول او د منلو او سهلو وړکړ، چې وروسته دغه استاد ډېر پيروان او عقيدت مندان ومومندل او يو خاص د ادب مکتب يې وپرانيت چې حقاً بايد د ده په نامه د بيدل مکتب وبلل سي.

په پښتو ادب کي همدغه هندي سبك اغېزې وکړې او لومړی پلا حميد ماشوخېل مهمند د دغه سبك ادبي موشګافي او تلازمات د نظيري او عرفي په پيروي خو په معتدل ډول پښتو ادب ته راوستل.

مګر د حميد استادي دغه ده چې د پښتو د تعبير قوت او رنګ او جوله يې پکښې خوندي کړه، او په دې کارکي يې له بې ځايه افراطه ځان وژغوره.

اما شيدا خو د خپلي کورنۍ په فيوډالي کړاوکي د سياست ښکار سو او د عمر اکثره برخه يې په کشمير او هند او رامپورکي له وطنه ليرې تېره کړه او د سبك هند سره مستقيماً مخامخ سو او د هند د ادبي جريانه څخه يې درنې او سِده اغېزې قبولي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي[۱۷].
نو که د ده په شعر کي مور يو ډول بدعت او افراط کاري او د سبك هند د آخرني عروج نخښي وينو، دی به ډېر نه ګرموو، ځکه چي محيط خو حتماً د شاعر په فکر او سبك کي اثر کوي، او پخپله شيدا هم دې نکتې ته متلفت و، چي ويل به يې:

که نکات مي عجايب دي		عبارات مي غرايب دي
خاص به حسن د کلام وي		د معنی دقت يې عام وي
خالي نه وي له صنعته		عاري نه وي له رفعته
په لوستنه يې ابتهاج کړه		آفرين مي په مزاج کړه

رشيتا دا ده چي شيدا د فنان ذوق او مضمون آفريني قريحې خاوند او ده په پښتو کي هغه کارکړی دئ چي بل چا نه وکړی. نو لکه په فارسي کي چي د حضرت بيدل تخليقي ادب خاص مقام لري او حتی مخالفين يې هم د فکري يوې خاصي ذخيرې په ډول مني او دغه ګران بها پانګه نه سي هېرولای، دغسي هم د شيدا شعر او په خاص کړه بيا غزل يې د پښتو يوه خاصه او خوندوره پانګه ګڼل کېدای سي.
د شيدا پر شاعرۍ باندي څېړنه او ړغېدنه ډېر وخت غواړي، خو دلته زما د دې څېړني سره يوازي د ده قصيده اړه لري.
ښاغلي ببنوا څوکاله مخکي د ده دېوان ترتيب او چاپ کی، چي فقط د شيدا دوې قصيدې لري او يوه يې نزدې دوه سوه بيته ده.
د دې قصيدې تشبيب د منظرنګارۍ او د شاعر د نکته آفرينۍ يو اوږد سجل دئ چي داسي پيل کېږي :

بيا تحول شو د حمل ګوره آثار		شګفته په هر طرف تازه بهار
څه بيان وکړم د ګلو له افراطه		يا انواع کړم د ګلونو درته شمار
يا چه چه د عندليب په ښاخ د ګلو		يا جلوه د روان آب به سبزه زار
يا خوبي په هر طرف د خرميه		سرسبزي د باغ و راغ هم د کوهسار
يا په سر د هر زلمي زېبا ګلونه		يا په غاړه د خوبانو رعنا هار
يا له خياله آشفته د دستار ولونه		بې شماله توري زلفي تار په تار
يا لباس د دلبرانو قسم قسم		يا يې ټيك په تور اوربل باندي آشکار
يا يې دور د خلخال او د څېړيه		په خرام کي يې ادا د ژرنګهار
يا نغمه د مغني په څو څو رنګه		ترانه يې د شيدا رنګين اشعار
يا شوخي د رقاصانو په اداکي		يا ګرمي د حريفانو په خپل کار
يا هر دم باده نوشي د ساقيانو		منعدم وينمه هوش د باده خوار

دا قصيده د شيدا فکري مجرا ښه رابښيي چي د هندي ژوند نخښې پکښې تصوير سوي او داسي ښکاري چي شاعر د هندي بزم په رنګ پوره رنګېدلی و او هر څه چي وينې او هر څه چي وايي، ته وا ړغ يې د يوه هندي موشګاف ويونکي ړغ دئ. وګورئ په دې بيتو کي شرري تخم او د بنفشې ړمنځ، او د غنچې پرده، او د برقي شعلې ګرم بازاري او د ګلو د اور لمبې ټوله

[۱۷] د پښتو ادب تاريخ، د څلرم ټولګي له پاره، پر همدغه ځای پای ته رسېږي، وروستني ټول مطالب مي (د پښتو ادب په تاريخ کي قصيده) نومي کتاب څخه رانقل کړي دي. (م. روهيال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه تراکیب او تعابیر دي چي فقط هم د هندي سبك د آخرني عروج په وخت کي د بیدل او ناصر علي له خولې اورېدل کیږي. خو د نورو په غوږو کي داسي ږغونه حقیقتاً غرابت او وحشت لري، او د محمدعلي حزین په تعبیر فقط د خندا او منلېو وړ دي، شیدا په دغه قصیده کي وایي :

د غنچې له پردې مخ ګل ښکاره شي		د عروس غوندي په ډېر زیب و سینګار
چي په سر لکه شعله یې حواله شي		پس شرر ډګلو تخم کړ ګل کار
توري زلفي یې پرېشاني په سبا شوې		شانه هیڅ د بنفشې نه ده په کار
پرېشاني ډګل خرمن کړ ګل فروشو		که د برق په شعله ګرم دئ بازار؟
په لمبه یې لکه دود د بهار ابر		افروخته په باغ و راغ ډګلو نار

د هندي نځا یو منظر داسي تصویر کوي، چي د دې فن کمال دئ، خو رنګ یې داسي هندی سوی دئ چي له پښتني ذوقه او د پښتو له تعبیره ډېر لیري ښکاري:

څرخ وهل د دل آرام دي راته وایه		که فلك دئ نن زما په کام د وار
په رنګین قالین رفتار کوي د رقص		که صبا دئ په ګلشن کاندي ګذار
حنایي قدم چي اوس په قالین کیږدي		د کاشان اهل صنعت شه ځني زار
په صفا یې د لقا قالین مرآت شي		د توتي نقش ګفتار کاندي چغار
په صدا یې د هر زنګ او د کنګرو هم		هر نفس د شاهد باز خاطر افګار
د مهتاب په چپ و راست په پیش و پس هم		لکه خاص شي کواکب په انتشار
د سیم تن په هر طرف افراط د نقد		چي حاصل یې وي د فن کامل عیار

شیدا د دغو موشګافیو او صناعیو وروسته ځینو اخلاقي مطالبو ته ګرېز کوي، او خپلي قصیدې ته د پند او موعظت رنګ ورکوي. مګر دلته هم منفي او فراري فلسفې ته هڅه کوي، چي دا هم د هند د روحاني محیط او د ده د ژوند د اوږدو محرومیتونو نتیجه ده، وایي :

د دنیا اوج لړلی په ډېر غم دئ		لکه کښېنوي عاصي په سر د دار
اعتماد یې هیڅ په داد و ستد نشته		کجبازي یې ده په مثل د قمار
انقلاب د زمانې تنده سېلۍ ده		چي په هند یې وه راغلې دند وکار
طاوسي تخت یې په شان د بنې واخیست		بیا یې تېر کړ ترکابل و قندهار
خپله خونه لکه مرغ د پیرکاه کړه		چي محتاج نه شي په عمر د معمار

د شیدا دا فکري فراري اړخ خو اوس زمور له پاره اخلاقي سرمشق نه سي ګرځېدلای، مګر د ده ادبي زیار او رنګارنګ مضمون آفرینۍ او نوي تعابیر خو زما په خیال پښتو ادب ته د یوې پانګې په ډول ډېر غنیمت دي، او که ده څه بدعت کړی وي، نو هغه به هم د بداعت حصه په شمېر راتلای سي او دی به د ادبي شریعت په حکم په دې خپل کړاو کي مأخوذ نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه په ژبه کي بايد تل د توسيع او ارتوالي وسايل موجود سي او د هر راز تخيل د تصوير له پاره الفاظ او تعابير ولري. نو د مرحوم شيدا سخنګويي چي د پښتو په بحار کي د سوسن ژبه سرمه سايه کوله پر خپل ځای د قدر وړ ده، او مور د شيدا زيار او مښود د پښتو ادب په تاريخ کي کورټ نه سو هېرولای.

د سوسن ژبه حيرت کړه ســـرمه ســـايه
چي شيدا په دا بحار کي سخنګوی شو

شيدا پياوړی آرټيسټ و، خو افسوس چي د ده د آرټ ذوق له خپله محيطه ليري د هند په مځکه کي پرورښت وکی او هندي اداکارو په دې ساده پښتون نوري چاري وکړې، دی پخپله وايي :

په هندي ادا يې وکړې په ما چـــاري
زه شيدا په زړه ساده د روه افغان يم

د نورو شاعرانو قصايد

د خواجه محمد بنګښ قصيدې :

د يوولسمي هجري پېړۍ دغه نازکخياله شاعر مور هغه وخت و پېژاند، چي د ده (٢٤) غزلي او شپږ قصيدې راورټي پخپل کتاب ګلشن روه کي په (١٨٦٠ م) کال د انګلستان په هرټفورډ کي چاپ کړې، او بيا فادر هيوز په کليد افغاني کي هم ځای ورکی، (د لاهور طبع ١٨٩٣ م).

کله چي په (١٣١٩ ش) کال ما د پښتانه شعراء لومړی ټوک سره راټولاوه، نو مي د بنګښ پر احوال او شاعرۍ باندي فقط د ګلشن روه او کليد افغاني په حواله لږ څه وليکل، خو وروسته د ده د دېوان يوه خطي نسخه د مردان د پښتنو يوه پوه ښاغلي حبيب الرحمن ما ته راوليږله، چي تر اوسه راسره پرته ده، څو چي په (١٩٨٥ م) کال د پېښور پښتو اکاډيمۍ د پرېشان ختګ د مقدمې سره چاپ کړه.

خواجه محمد د خوشحال خان د زمانې سړی دئ، چي هم د شاه جهان او بيا د اورنګزېب معاصر ګانه سي، پخپله وايي :

هسي خـوښ د تخـــت د پاسه خـــرم نه دئ
چي عاشق د ستا په درکي خوښ خرم دئ
(د دېوان ٩٣ مخ)

خرم خو د شاه جهان نوم دئ، چي په (١٠٦٨هـ ق) کال خپل زوی له تخته راوغورځاوه. په بل بيت کي خپل معاصرت د اورنګزېبه سره هم داسي ښيي :

د اورنګ په پاچهي کي مي نياو نه شي
زه خواجه محـمد به ووزم و بل لـــور ته

نو مور د ده د ژوندانه حدود له (١٠٣٠ هـ ق څخه تر ١١٠٠ هـ ق) پوري ټاکلای سوای.

دغه مطلب په لاندي دليل هم ټينګېږي چي بنګښ په چشتي صابري طريقه کي د ميا عبدالرحيم مريد و او د دې سړي پلار ميا علي د شېرپاو اوسېدونکی بيا د اکبر پورې د اخوند پنجو مريد و، پخپله وايي :

چي ســـاکن د چشـــتيانو په سرير دئ
شيخ حضرت عبدالرحيم زمورې پير دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اخوند پنجو بابا د مړ کال (۱۰۷۳ هـ ق) دئ (خزينة الاصفيا، ۱/۷۹ مخ). نو بنګښ په درو وسيلو د اخوند پنجو د طريقت په سلسله کي داخل بلل کيږي.

د خواجه محمد بنګښ غزلي خو په لفظ او معنی کي د هنر ښکلا لري، هم يې قالبونه ښه دي هم يې محتوی ښکلې ښکاري، د تصوف په رنګ کي عاشقانه غزلي لري چې کله کله په اخلاقي او عرفاني ګډو هم پسوللي سوي دي، لکه د زړونو ماتول (نه آزارول) چې شاعرانو راز راز مضمون آفرينې پکښې کړي دي، خواجه محمد يې په دې بيت کي څنګه په يوه حسي تشبيه سره تلقين کوي :

زړونه مه ماتوه لعل د بدخشان دي
بيا مشکل دي رغول د شکسته وو

په دې بيت کي د جناس او استعارې او تضاد اقسام څنګه سره يو ځای سويدي :

ګوتې توري کړې په ما يې کړې راپوري
زه حيران يم ستا د سپـــينو ګـــوتو تور ته

د ښاغلي پوهاند رشاد په حساب د ده خطي دېوان (۱۸۱۳) بيتونه اوګرده (۱٤۲) غزلي او (۳۱) قصيدې لري، (وړمه مجله، ۲ ګڼه ۱۳٤۸ ش)، او دغه نسخه چې په (۱۳۲۰ هـ ق) د حميدالله په بد خط کښلې سوېده، ډېر نواقص او ادبي عيوب هم لري، چې سړی ورته اريانيږي. ځکه چې د خواجه محمد ځيني غزلي خو د ده بشپړه ادبي استادي او پر لفظي او معنوي ښيګڼو باندي احاطه څرګندوي چې په عروضي اصطلاح يې خرم بولي.

او د ځينو بيتونو ضروري هجاوي يې کمي دي، يعني پزپرې کړي بيتونه لري. داسي ګمان کيږي چې دغه به د کاتبانو ګناه وي، چې د ده د ځينو بيتونو پزي يې ور پرې کړي دي.

د ده له يوې اوږدې قصيدې څخه د اخو بيتونه ولولئ چې د شاعر د هنري کمال ځلا ځني ښه ښکاري :

زړه راڅخه وړی دئ جمال د چشتيانو
سرې سترګي، سرې شونډې مجذوب حال د چشتيانو
واړه شهبازان د لا مکان سيرونه کاندي
هسي رنګه تېز دئ پر و بال د چشتيانو
پټ په زړه کي تل لکه لاله وينه د زړه خورم
نشته دئ په ژبه قيل و قال د چشتيانو
دا څه سپورمۍ نه ده چې ځليږي په آسمان کي
تللی په آسمان کي د آس نال د چشتيانو
زړه به د دردمنو لکه ګل پرې وغوړيږي
کله به راوالوزي شمال د چشتيانو
هيڅ ورته څرګند شوه د دنيا واړه شالونه
هر چې يې اغوستي شړۍ، شال د چشتيانو
سر و مال به ورکړم کې يوه ذره ترې راکړه
ډك جامونه ګرزي مالامال د چشتيانو
واړه ښايسته په مثال ستوري د آسمان دي
ما پکښې موندلی دئ هلال د چشتيانو

(ص ۸۲ خطي دېوان)

قصيده اوږده ده، او سړی د شاعر د استعداد نښانې پکښې ليدای سي، خو ټوله د يوه مخلص ارادتمند له زړه راوتلي کلمات

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي، چي د نورو په درد نه خوري.
خواجه محمد د تلقين او وعظ و پند قصيدې هم لري چي د کلام قوت او رواني يې ځني ښکاري، دا د سنايي غوندي زهديات دي، چي د شرقي ادب يوه لويه برخه ګرځېدلې ده، لکه دا قصيده :

د دنيا عمر دي تېر که ببهوده		که شپېته و، که اتيا و که زياده
بختورو له دنيا فايده يووړه		تا بې زيانه هيڅ ونه کړله فايده
د مجلس ياران همه درځخه لاړه		نظر نه کړې په رنړو سترګو اوده
په سړي باندي چي غم پرېوزي خوب نکه		ته چارپا يې که سړی آدم زاده؟
پلار، نيکونه دي همه په مرګ تمام شوه		خلاص به نه شې يکتنها علاحده
زنده سر به په دنيا کي پاتي نه شې		چا اخيستې ده غافله ستا هوده
په پيرۍ دي ږيره سپينه شوه ملا تېته		لا ترکومه به پاييړې جك زده
ستا شپېته کلونه تېر شوه زوړ بوډا شوې		ته لا ځان ګڼې تر اوسه چهارده
که عاقل يې دنيا پرېږده قلندر شه		فقيران په دواړه کونه آزاده
د ګمان پرده دي ليري کړه له مخه		رضا کېږي د صاحب په اراده
د مغان د دروازې د در خادم شه		چي د عشق له جامه درکاندي باده

دا زاهدانه قصيده په مناجات داسي ختميږي :

هدايت وکړه و ما ته يوه خدايه		چي و تا ته ځم په سم لار رسېده
ما بد وکړه زه بنده يم بې ادبه		ته بخښش کوه پخپله قاعده
ګناه کار خواجه آزاد کړه غني خدايه		غنيان تل آزادوي زاړه برده

(ص ۹۲ خطي دېوان)
په دې قصيده کي د عشق او مينې د مرموزي دنيا ځيني اسرار او دردونه يا خوندونه او شواخونونه څرګندوي، او داسي ښکاري چي دی پخپله په عيني ډول له دغو وارداتو سره آشنا و :

(c) ketabton.com: The Digital Library

عاشقان نظر په مخ د قمر نه کا		ببله یاره و بل مخ ته نظر نه کا
شپه و ورځ د ده په فکر مستغرق وي		غیر فکر (یې) په زړه کې ګذر نه کا
نور عالم چې سپورمۍ وویني اختر که		عاشق بې د یار له مینې اختر نه کا
هغه لاف د عاشقۍ کا په دروغو		چې بلبل غوندې فریاد په سحر نه کا
د هجران اغزی مي سخ دئ په پهلو کې		عاشقان ببغمه خوب په بستر نه کا
پروانه له بلې شمعې نه جاروزي		څو آخر پرې دړې بشر نه کا
که یار سر ورځخه غواړي ترې (یې) ځار که		هیڅ د سر په پرېکولو خطر نه کا
عاشقي د تن پرورو خلکو نه ده		خر، ټټو به خدای د آس برابر نه کا
په خوله تشي لافې کا د عاشقۍ		معشوقه چې ورته وایي اثر نه کا
که هر څو ورباندې کا ناڅاري چاري		عاشقان د یار له جوره حذر نه کا
مستغني د قناعت په خزانو شي		جستجوی د دنیا دارو په در نه کا
هم سفر هم یې مقام دئ پخپل کور کې		و بل لوري ته هیچري سفر نه کا
که په هر وښته یې وي هزار هنره		بې له عشقه عارفان بل هنر نه کا
د عشق تاج به د هغه پر سر حرام وي		چې د یار له پاره خاوري په سر نه کا
په دا لاري ډېر خطر دئ لاړ به نه شي		څو چې توره د اخلاص په کمر نه کا
له دې غمه به هرګز ببغمه نه شي		څوګردن د غلیم غوڅ په خنجر نه کا
د عاشق نامه به کله وي پر روغه		څو په سرو لنبو کې ځان سمندر نه کا
بحروبر یې دواړه بیا مونده په کور کې		عاشقان سفر د بحرو د بر نه کا
د تهمت له ناپاکیو به خلاص نه شي		څو پناه ورته د صبر سپر نه کا
که تندی په دواړه لاس وهي له غمه		نور به کښلې د محفوظ د دفتر نه کا
په یوه نظر یې زړه راڅخه یووړ		یار و ما ته نظر بار دیګر نه کا
پرهرونه مي د زړه واړه زون شوه		طبیبان مي هیڅ علاج د پرهر نه کا
زه په یار پسې په غلا ژاړم له خلقه		چیري نه وي چې رقیب راخبر نه کا
ما به سر له تنه غوڅ د رقیب پرېکړ		ملګري راسره چرغ اخضر نه کا
آه فریاد کوم له درده سره ژاړم		د آه غشی مي هرګز پرې اثر نه کا

۱۸۱۹

د خواجه محمد که سر ځي لاړ به نه شي
څـــــو یوه بوســـه یار ده لـــــــره ور نه کا
(خطي دېوان، ۷۰ مخ)

دا وې د خواجه محمد د قصیدو یو څو نمونې چې دلته راغوره کړه سوې.
ښاغلي لوستونکي که دغه د عشق او زهد بیانوونکي قصیدي ولولي، او بیا یې د ده د غزلو سره پرتله کي نو به دا له ورایه ورښکاره سي چې غزلیات یې ډېر ښکلي او مستانه او لطیف دي، خو په قصیدو کې یې د زاهدانه تقشف ډېري اغېزې لیدلي

[۱۸] مراد د نقشبندي صوفیانو سفر در وطن دئ. چې صوفي پخپل نفس کي یون کوي، او خپل باطن تصفیه کوي او ځان پېژني.
[۱۹] زوی : هغه د وینو سره ګډې اوبه چې په زخم کي وي. زون : هغه پرهار چې اوبه واخلي او زوي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کيږي.

مور به خواجه محمد په دې واعظانه قصيدو او مريدانه ويناوو نه کړو، دی د خپل عصر د روحاني فضا نمايندګي کوي، او دغه کيفيت د دغه عصر په اکثرو هنرمندو شاعرانو لکه د عبدالقادر خان او ګوهرخان او نورو په ويناووکي هم سته.

لنډه يې دا ده :

که مور د خواجه محمد د ځينو غزلو طراوت او ښکلا او مضمون آفرينې او بيا د ځينو قصيدو واعظانه ډول يا د مضمون اوچتوب ګرده سره راټول کو او ده ته د پښتو نورو شاعرانو په کوم پوړ کي د درېدلو ځای وټاکو، نو به په مټې د هجري او عبدالقادر ځای ته ورسيږي.

وګورئ ! د بنګښ دغه د وعظ او زهد مطلبونه که د غزل په قالب کي توی سي، نو داسي ګټوره، ښکلې او موثره وينا ځني جوړيږي :

چي بازار لره خالي لاسونه درومې — اټکل نه کيږي چي سود به ځني راوړې
ته د وړاندي ځې دنيا دي کړه د وروستو — په تورتم کي مشال ولي پسي شاوړې
عاقبت به يوه ورځ درځخه مات شي — که هر څو په احتياط لوښي متيا[20] وړې
چي دي تخم پر پټي کرلی نه وي — د غلې په وخت به واخلې ځني خاورې

نصيحت و بل ته کړې خواجه محمده !
ته يې ولي د خپل زړه په غوږو ناورې؟

(خطي ديوان، ٤١ مخ)

د علي اکبر اورکزي په ګلشن افغان کي قصيدې :

د اتحاد جماهير شوروي د ارمنستان د جمهوريت د مرکزي ښار ايروان په کتابخانه کي يو ډېر خوشخطه او ښکلی او منقوش او مذهب (طلاکاري) او مصور ديوان سته، چي په هغه کتابخانه کي يې نمبر (٥٣٨) دئ.

نه پوهيږم چي دغه قلمي ښکلې او مصوره نسخه څنګه له پښتونخوا او کشميره ارمنستان ته وړل سوېده؟ د دې نسخې يو ميکروفلم د کابل په عامه کتابخانه کي سته.

د نسخې خط ښکلی نستعليق دئ او ځيني مصور مخونه هم لري، د تصوير او تذهيب سبك يې کشميری او متأخر دئ، خو د ښکلا او رنګ او تصوير او تذهيب اټکل يې په تور ميکروفلم کي ښه نه کيږي او فقط دوني ښکاري، چي يوه ښکلې او ښه خوشخطه نسخه ده. علي اکبر په قام اورکزی دئ، دا پښتون قام په تيرا او د کورمي په سيمو کي له قديمه اوسي او دا هغه وادي ده، چي تر اسلام دمخه د کوشانيانو د وروستنيو شهزادګانو او د کابلشاهانو په لاس کي وه، او اکثر د هندوستان تجارتي کاروانونه او د فاتحانو لښکر به له دغو سيمو تېرېدل.

کله چي امير تېمور لنګ په (٨٠٠ هـ) د هندوستان د نيولو له پاره له دغو سيمو څخه تېرېدی د دې ځايو مشران شيخ احمد، خواجه اوغاني او ملك محمد او لشکرشاه اوغاني او شيخ عبدل وو[21]، او مؤرخان د دې ځای د ايرياب او شنوزان درې يادوي، چي هلته يوه اوغاني قبيله اورکزې اوسېده.

له دې تاريخي سنده ښکاري چي اورکزي اوغانان اوه اته سوه کاله دمخه له امو په دې ځای کي اوسېدل[22].

علي اکبر اورکزی له دې ځايه د (١١٥٦ هـ ق) په حدودو کي هندوستان ته تللی او په اکثرو ښارو ګرځېدلی دئ، د ده وظيفه غالباً عسکريت دئ، خو په پښتو او دري ژبو ښه شاعر او ليکوال هم و. د ده ديوان مردفي پښتو او پارسي برخي لري او يو

[20] متيا : له مات څخه صفت دئ، يعني ماتي قبلوونکی لکه بسيا، لګيا او نور.

[21] ظفرنامه، ٢/٣٤، ٣٧.

[22] روزنامۀ غزوات هندوستان ٥٨، د پتروګراد طبع ١٩١٥ ع، په دې کتاب کي دا نوم غلط اورکزنی(؟) چاپ سوی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سني مذهبه حنفي او نقشبندي طريقې پيرو باذوقه او اديب پښتون ښكاري. د خپل دېوان مقدمه يې په دري داسي ليكلې ده :

"سپاس و ستايش بی پايان و حمد و ثنای فراوان، مر متكلمی را سزاوارست، كه زبان هر حامد به چندين لغات مختلفه گويا گردانيد، و هر قومی را معنی لغات تازی و دری[۲۳]، و افغانی دانايند ... اين فقير احقر مولای سيد علی اكبر بن قاسم خان اوركزی قوم افغان ساكن تيرا خيبر، در حداثت سن و آوان طفلی كه طبيعتش مانند كف مفلسان، از نقد فن شاعری عاری بوده ... به فرمايش سلطان شوق به تسويد غزل چند، بزبان افغانی كه محاوره اسلام و مانوس الاستعمال بود، چند صفحه را سياه ساخت و برقعات متفرقه مرقوم شده ... بعد از ان در عنفوان شباب در تعليم و آموختن اين فن نزد اكثری از اولوالالباب سعی و فور بكار برده ... و چون اين گلدسته مشتمل بر ازهار الفاظ رنگين و متضمن اشعار معانی شيرين است به اتقای حضرت يزدان به "گلشن افغاني" موسوم گشت ...".

د ګلشن افغان لومړۍ غزله

زړه مي بل هغه دلبر په اور د غم كا		چې مي ورك په دغه اور د سترګو نم كا
هسي ما غوندي يې ډېر عالم خراب كړ		كرشمه و ناز پېشه چې يې صنم كا
د عالم په باب ژوندی له مړو بتر يم		كه څوك شمار زما په عين د عالم كا
سرو مال تالا كوي پروا يې نه شي		كه جهان سره برهم په يوه دم كا
لكه دی كاندي د هر عاشق په باب كي		د ازل حكم نه لوحه، نه قلم كا
په دغه ساعت يې زړه له ما نه يووړ		اوس په خپله غلا انكار راوړي قسم كا
د سپين مخ په عكس هر شي ته به ګوري		د مضمون په نمايش يې جام د جم كا

هر ســـــاعت به د يار ذكـــــر كا په ژبه
كه "اكبر" د زړه د زخم څوك مرهم كا

اكبر د هند په ښارو ګرځېدلی، او هلته هم د پښتنو سره محشور و، او له هيواده يې خپل سلامونه د وطن يارانو ته را استول. دی په يوه اوږده قصيده كي خپل ياران يادوي. چې څو بيته يې دا دي :

باده والوزه وطن ته په رفتار شه		د هر چا له حاله ببل ببل خبردار شه
لكهنو له ښاره كوچ وكړه بهار ته		په كتهيرو پښتانه باندي ګذار شه
د سردار سرفراز خان پرسش لازم دئ		چې څښتن يې هم ياور هم مددګار شه
د حاجي اخون په قبر دعا وكړه		د يوسف په حال دانا او خبردار شه

[۲۴]

وروسته د پېښور د سيمي ځيني ياران يادوي او د ميا عمر څمكني دوه زامن داسي ستايي :

كشر ميان ته په دوه لاسه تعـــــظيم وكه
محمدي صاحب ته هم په تعظيم پار شه
د اكـــــــــبر سلام په هر چـــــا باندي وايه
په دعا مي يادوئ چي برخـــودردار شه

[۲۳] د دري د نامه استعمال دلته د پارسي پر ځای د غور وړ دئ.

[۲۴] كوچ بهار د هند يوه سيمه ده، او دلته د كوچ په معنی كي يو راز ابهام موجود دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اکبر چې د تيرا د غرو او بڼو خوشنوا بلبل و، په هندوستان کې له ژوندونه په عذاب سوی او خپل وطن يې داسې ياداوه :

نور توبه مي له پنـــــجابه هم له هـــــــنده
په نصيب زما که خپل ملك و وطن شي

له دې لاندې بيته ښکاري چې په کابل کې هم څو عمر اوسېدلی دئ :

چې خاطر مي دي بندي په تور اوربل کې
ځـــــکه نه مي شي اســـــتوګه په کابل کې

اورکزی د پښتنو شاعرانو له کلامه سره آشنا دئ، ډېر شاعران يادوي او خوشحال خټك داسې ستايي :

نور د شعر مزه مه غـــــــواړه له چـــــا نه
پوهنده د هر کلام ښه ســـــــخندان ولاړ
د خوشحال خټك ارمان به اکبر يوسي
چې د مينې د اخلاص کان له جهان ولاړ

د اکبر په دري او پښتو اشعارو کې د ده د عمر ډېر وقايع ذکر سوي دي، دی په پښتو ژبه کې د متوسطي درجې شاعر ګڼل کيږي، اوکله نامانوس الفاظ هم راوړي. اکبر په خپل دېوان کې شاه عبدالرحيم نقشبندي خپل روحاني پير ستايي او بل خپل استاد شاه معظم[۲۵]، ښيي چې د هغه يوه موعظت نامه په دري نثر هم ليکي. په دې ډول اکبر اورکزی زمور د ادبياتو د تاريخ د دوو ژبو شاعر او ليکوال او باذوقه سړی دئ، چې د ده دغه مستانه بيت د ده د ذوق ښه نمايندګي کوي :

هر ساقي چې د طرب پياله کـــه پورته
ميخواران به واړه ودانګي دې لور ته

او دا غزل د خواجه محمد بنګښ د هغې غزلې جواب دئ، چې يو ښکلی بيت يې دا دئ :

ګوتي توري کړه په ما يې کړه راپوري
زه حيران يم ستا د سپينو ګوتو تور ته

د اورکزي دېوان قصيدې، غزلې، مثنويات، ترجيع بندونه او رباعيات لري. د شعر قالب او محتوی يې دواړه کومه خاصه ښېګڼه نه لري، په دوهمه درجه ناظمانو کې درېدلای سي. کله کله عشقي، اخلاقي، حماسي او صوفيانه مضامين د ده نظمونو ته تنوع وربخښي، خو قصيدې يې اکثره د واقعه نګاری ډول لري، او دا هغه يو راز بيان دئ چې خوشحال خان او د ده زامن هم کله کله د ژوندانه د واقعاتو په څرګندونه کې کار ځني اخلي، بې له دې چې خپل نظم د شعر په ښېګڼو او هنري ګڼو ښکلی کې، مثلاً په يوه قصيده کې د خپلې زېږېدنې وخت داسې ښيي، چې فقط يو نظم دئ نه شعر :

زه چې راغلم په دنيا کې
له عـــــدمه په اظـــــــهر
پادشاهي د نادرشاه وه
په عـــالم کې لـــکه لمر

په دې ډول د ده د تولد نېټه د (۱۱۵۰ هـ ق) حدود ټاکل کېدای سي، چې د تېمورشاه تر زمانې پورې (۱۱۹۰ هـ ق) هم ژوندی و.

---

[۲۵] پير معظم شاه د پير محمد فاضل زوی د پښور د پير سباك اوسېدونکی و، چې په هند کې د حافظ رحمت خان برېڅ په خدمت کې داخل و، او د ده په خواهښت يې د خواجو مليزي د پښتو تواريخ افغانه د تواريخ حافظ رحمت خاني په نامه په (۱۱۸۱ هـ) کې لنډ کړ. تاريخ افاغنه په (۱۰۳٦ هـ ق) په پښتو ليکل سوی و، داکتاب د خښې او غوري او يوسفزي قبايلو تاريخ دئ، چې اووه مقامه لري، د پير روښان او د ده د مريدانو حال هم لري، تاريخ حافظ رحمت خاني په (۱۹۷۱ ع) کال او خلاصة الانساب د حافظ رحمت خان تأليف په (۱۹۷۳ ع) کال د پښور اکاډمۍ چاپ کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سن زر سل نوي وايه شه
چي له کوره شـــوم روان

په دغه قصيده کي بې له کومه تشبيبه رډبډ پخپل حال داسي شروع کوي :

نن به وايم يو يو حال درته د ځان		ته يې واوره په نامه د پاك سبحان
نوم د خدای او د رسول مي درته واخيست		غوږ پرې کښيږده که بنده يې د رحمان
دا خبره وه مشهوره په عالم کي		هر څه وکړې بيا رهبې هغه شان

دلته وزن هم سپکيږي، او ناظم يې په بل ډول په هغه قافيه پسې ځي :

د نېکۍ عوض نېکي ده		بدي وي د بدخواهان
د ښه خدای څه ښه قدرت دئ		چي له چا نه شي بيان
ښه کارونه په قدرت کا		دی پرې ښه رسي يکسان
ځای دګفت و شنود نشته		په رضا د پاك يزدان
که له خاورو ګل پيدا کا		يا له ګل پيدا خاران
مدعا غرض خپل وايم		غوږ پرې ونيسئ دوستان
د ښه خدای له شفقته		هم له فضله د ديان؟
په کشمير کي وم څو کاله		و حاکم نورالدين خان
په قسمت مي نصيب (و) شو		ښه ديدن د بزرګان
په زيارت د پير مرشد شي		خدای عطا کړ دين ايمان

داسي ښکاري چي علي اکبر د اورکزو مشر و، او په لښکري لاموکي به يې د عسکري يا ملکي حکمران په څېر برخه لرله :

له وطنه را روان شوم		د لښکرو په سامان
لك مي کړ د خدای په فضل		په کامراج کي خپل نښان
د سلطان اساني وشو		په دښمنه شولم ډېر ګران

د تېمورشاه له درباره حاجي کريمداد خان (د کشمير خان د احمدشاه بابا د دربار د عرض بېګي لمسی د کهندل خان زوی) د کشمير حکمران مقرر سو او علي اکبر ورسره ملګری و، خو چي کريمداد خان ولاړ، نو دی هم خپل وطن تيراه ته راغی :

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل د وروستو مي ږغ راغی		چې حاجي کريم داد خان
شو سردار کشمير يې واخيست		شوم امير ته لوی آسمان
امير بيا شو په ځای پاتو		بيارته لاړ کريم داد خان
زما هم دا ملك تر فهم		نهايت شو ډېر ويران
ځني ولاړمه وطن ته		په فراق، غوغا، ځريان

علي اکبر دوه کاله په کورکي و، څو بيا تيمورشاه وغوښت،
او د اورکزو د لښکرو سره يې په (۱۱۹۰ هـ ق) کال د کشمير خوا ته واستاوه :

آخر بيا پس له مدته		سلطان شو راپسې پښېمان
په طلب يې کړ ځان ستړی		هم سړی يې خپل ستومان
زما هم پرې خدای وار جوړ کړ		دا مي غوښته له سبحان
د لښکر سامان مي سازکړ		ښايسته، ښکلي سپايان

چې کامراج ته ورسېدی، نو يې جنګونه شروع سوه، د يوه جنګ مناظر داسې ښيي :

يوه ورځ له همه راغلو		په مورڍ باندې دښمنان
جنګ تر ميان شولو صاحبه !		د توپکو د سنان
بيا په توره شوه تمامه		کل لښکر راته حيران
رفيقان راڅخه وتښو		مورڍ يې پرېښوو په ځان
بې له خدايه څوك مل نه و		يا مدد و بزرګان
که ميدان يارانو بای کړ		خو مورڍ بيا لك کړ نښان

په دې ډول د اورکزي قصيده په حقيقت کي د واقعه نګاریِ يوه نظم کړې او بې خونده منظومه ده، چې هيڅ شاعرانه هنر کاري او د تخيل او لطافت او عاطفې رنګينيو څخه برخه نه لري.
اوس نو تاسي پخپله ووايئ، چې دی شاعر بولئ اوکه تش يو ناظم؟
بايد دا هم وويل سي، چې د ده فارسي او پښتو غزلي دوني بې خونده نه دي، لکه قصايد. مورڍ د ده په پښتو غزلوکي د ځينو غزلو نمونې دمخه ولوستلې، او د پارسي غزلو دغه نمونه يې هم ولولئ :

(c) ketabton.com: The Digital Library

به مشتاقان رویت قصه هر جا میتوان گفتن
حدیث حسن یوسف با زلیخا میتوان گفتن
چو احوال شهیدان از طبیبان کس نمی پرسد
زبیمار نگاهت با مسیحا میتوان گفتن
فتاده نیم بسمل بر سرره همچو من صدها
جفای ابرویش قضا را میتوان گفتن
چمن گل گل شگفته از نسیم صبح نوروزی
زحال غنچه دلها کسی را میتوان گفتن
خراب بادهٔ لعل تو شد امشب اگر بخشی
که حال "اکبر" بد مست فردا میتوان گفتن

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لومړۍ دورې د ادبي جريان لنډيز

د غوريانو زمانه د پښتو ادب يوه ښه دوره بلله کيږي او علاوه پر هغو شاعرانو، چې دمخه ذکر سول، دغه لاندي شاعران هم په لنډ ډول ذکر کوو :

۱ - قطب الدين بختيار :

دا سړی د احمد زوی او د موسی لمسی په قوم پښتون بخيتاری و، چې په بختيارکاکي مشهور دئ، په ٦٣٤ هـ په ډهلي کي وفات سوی دئ او قبر يې تر اوسه هم مشهور دئ. د سلېمان ماکو په تذکرة الاولياء کي د ده يوه عشقي سندره نقل سوېده او يو فارسي ديوان هم لري.

۲ - شيخ متي (٦٢٣ – ٦٨٨ هـ) :

شيخ متي د عباس زوی او د خليل د قوم څخه و، د ده کورنۍ د ترنک په وادي کي اوسېدله او قبر يې تر اوسه د کلات پر غونډي د کلات بابا په نامه مشهور دئ. شيخ متي يو لوی عرفاني شخصيت و، د پښتنو مؤرخين يې د اولياوو په جمله کي شمېري. د ده کورنۍ هم متيزي بلل کيږي، چې ډېر شاعران او مؤلفان پکښې تېر سويدي او په پېښور او کندهارکي لوړ علمي شهرت لري. د پښتو مؤرخ شيخ کټه د لرغوني پښتانه مؤلف هم د ده له لمسيانو څخه دئ، (د ۷۵۰ هـ حدود).

بل شيخ قاسم د تذکرة الاولياء مؤلف په ۹٥٦ هـ زوکړی دئ او د ده زوی شيخ امام الدين د تاريخ افغاني مؤلف په ۱۰۲۰ هـ پيدا سوی دئ. د شيخ متي له اشعارو څخه فقط يو شعر د پټي خزانې مؤلف رانقلوي او وايي چې شيخ متي يو ديوان درلود، چې نوم يې و : (د خدای مينه)، دا شعر په پښتو ادب کي يو شاهکار دئ او شيخ متي د کاياناتو ښکلا او د جمال تصوير په ښه ډول په دې ښعر کي کښلی دئ او دا هغه خبره ده، چې صوفيان تل په خپلو اشعارو او آثارو کي د جمال بيان کوي. د شيخ متي دغه ښکلی شعر په لاندي ډول دئ :

پر لويو غرو هم په دښتو کي په غاړه ږغ او په شپېلو کي		په لوی سهار په نيمو شپو کي يا د ويرژلو په شپېلو کي

ټول ستا د ياد نارې سورې دي
دا ستا د مينې نندارې دي

جُنډَی زرغون که په بېديا دئ ترنك چې خړ دئ په ژړا دئ		د بر بڼ خوا ته په خندا دئ دا ټول اغېز د مينې ستا دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټوله ښکلل دي ستا له لاسه
اې د پاسوالو پاسه پاسه !

که لمر روښان مخ ئې سپين دئ که غر دئ ښکلی پرتمين دئ		يا د سپوږمیه تندی ورين دئ لکه هنداره مخ د سين دئ

ستا د ښکلا دا پلوشه ده
دا ئې يو سپکه نندارہ ده !

دلته لوی غرونه زرغونيږي بوراوي شاوخوا کړيږي		د ژوند وږمې پکښې چليږي سترګې ليدو ته يې هېښيږي

لويه خاونده ! ټوله ته يې
تل د نړۍ په ښکلېده يې

خاونده ! ښکلی ستا جمال دئ که ورځ که شپه که پېړۍ کال دئ		ښکاره ئې لور په لورکمال دئ ستا د قدرت کمکی مثال دئ

ستا د لورونو يو رڼا ده!
دلته چې جوړه تماشا ده!

زړه مې دا ستا د مينې کور دئ رپ ئې و تا ته ستا پر لور دئ		سوی د عشق په سوځند اور دئ ببله دې هيڅ دئ ورك ئې پلور دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا د جمال په لیدو ښاد دئ
که نه وي، دغه نور برباد دئ

په غروکي ستا د عشق شپېلکی دئ که غټ که ووړ، که پتلۍ نری دئ		د دې نړۍ په عشق سمی دئ ستا د جمال ځری هر شی دئ

چې پر دنیا مي سترګې پرې سوې
ستا د جمال په نندارې سوې

نه هسك نه مځکه وه تورتم و نه دا ابلیس نه ئې آدم و		تیاره خپره و، ټول عدم و ستا د جمال سوچه پرتم و

چې سو ښکاره ښکلې دنیا سوه
د پنځ پر لوري ئې رڼا سوه

زه چې څرګند پر دې دنیا سوم ستا پر جمال باندي شیدا سوم		د ښکلي مخ په تماشا سوم له خپلي ستې راجلا سوم

په ژړا ژاړم چې ببلتون دئ
یمه پردېسی بل مي تون دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وګړيو ولي "متي" ژاړي؟ څه غواړي، څه وايي، څه باړي		سورې ئې اوری غاړي غاړي خپل تون او کور وکلی غواړي

چونې چي ببل سي نيمه خوا سي
تل ئې د بڼ په لور ژړا سي !

پښتو ادب ته يوه لنډه کتنه

تر ۱۰۰۰ هـ پوري

د شيخ متي تر زمانې را وروسته د پښتو ډېر شاعران لرو، چي د دوی اشعار حماسي يا عشقي يا اخلاقي يا تصوفي دي. په دې اشعارو کي کله ملي اوزان او کله هم مثنوي يا قصيده يا رباعي يا غزل سته، مګر دغه اشعار د خپل ادبي ارزښت له رويه د غوري دورې له پاته سوو آثارو سره مقابله نه سي کولای، که څه هم د غوري دورې پاته آثار فقط يو دوې قصيدې دي، مګر د دغو قصيدو ادبي ا و هنري ارزښت دومره ډېر دئ، چي په وروستنۍ دوره کي تر خوشحال خان پوري څوک د هغو مقابله نه سي کولای. په دغو شاعرانو کي بابا هوتك د بارو زوی او د تولر لمسی دئ. د ده ژوند له (٦٦١ - ٧٤٠ هـ) پوري و. دغسي هم شيخ ملکيار د هوتك بابا زوی د (٧٤٩ هـ) په حدودو کي ژوندی و او اکبر زميندااوری د (٧٨٠هـ) په حدودو کي په زميندااور کي اوسېدی. دغسي هم سلطان بهلول لودي، چي د هندوستان لوی پښتون پاچا و (جلوس ٨٥٥ - وفات ٨٩٤ هـ)، د پښتو يو ښه شاعر و، چي دا يوه رباعي د ده د کلام نمونه پاته ده :

ملك به زرغون کړم په ورکړه راسه
ګـــــــوره اوريځي د داد له پاســـه
خـول مي د عـــــدل په درو رونړ دئ
جهان به زېب مـــــومي زمـا له لاسه

خليل خان نيازی هم د (٨٩٠ هـ) په حدودو کي د دغه پاچا د دربار پښتون شاعر و.
دغسي هم زرغون خان نورزی د (٨٩٠ هـ) په شاوخوا کي د پښتو دېوان خاوند شاعر دئ، چي د زميندااور په نوزاد کي اوسېدی، او له ده څخه يوه ساقي نامه په مثنوي کي پاته ده.
د دې دورې درې پښتنې شاعراني هم د يادولو وړ دي.
اول زرغونه کاکړه، بله شاعره رابعه د (٩٢٠ هـ) په حدودو کي په کندهار کي اوسېدله. بله مېرمن نېك بخته د (٩٦٠ هـ) په حدودو کي د شيخ الله داد لور وه، چي د پېښور په اشنغر کلي کي يې يو کتاب د ارشاد الفقراء په نامه ليکلی و. دوست محمد کاکړ د ږوب اوسېدونکی د (٩٢٠ هـ په حدودو کي) د تذکرۀ غرغښت ناظم او شيخ عيسی مشوانې د (٩٠٠ هـ په حدودو کي) په هند کي اوسېدی، شيخ بستان بړېځ د محمداکرم زوی، چي دی هم د (٩٦٠ هـ په حدودو کي) ژوندی و. بل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاعر علي سرور لودي د (۹٦۰ هـ په حدودو کي) د ملتان د کهرور په قصبه کي اوسېدی. شیخ محمدصالح الکوزی د (۱۰۰۰ هـ په حدودو کي) د کندهار په جلدك کي ژوندی و. پیر روښان د پښتنو یو مجاهد او آزادي غوښتونکی ادیب مشر و، چي په (۹٤۲ هـ) زېږېدلی او ټول عمر يې د آزادۍ په جنګ او ادبي او تبلیغي کاروکي تېر کړی او د (۹۸۵ هـ په حدودو کي) وژل سوی دئ. د بایزید روښان په ژوند کي دوې نکتې د یاد وړ دي :

اول دا چي داسي حرکت ئې په پښتونخوا کي د هندوستان د مغلو د سیاسي اقتدار په مقابل کي منځ ته راوست، چي هدف ئې د پښتنو د یوه آزاد حکومت تاسیس و.

دوهم : پیر روښان د خپلو تبلیغي مقصدونو له پاره پښتنو ته په پښتو ژبه خیرالبیان کتاب لیکلی دئ، چي د پښتو ژبي قدیم لیکلی کتاب دئ، چي اوس يې یوه نسخه سته، د پیر روښان دغه سیاسي او ادبي مجاهده د پښتنو په تاریخ کي ډېر اهمیت لري، مګر د ده د نوشتو ادبي ارزښت ډېر لوړ نه دئ. ځکه چي ده په خیرالبیان کي د نثر یو داسي ډول غوره کړی دئ، چي هغه ته مور نه روان او ساده نثر ویلای سو او نه یو خوږ او تکړه نظم. د پیر روښان نثر یو مصنوعي او د تکلفه ډك نثر دئ، چي د پښتو د پخواني نثر سره ډېر تفاوت لري، مثلاً په (٦۱۲ هـ) چي سلېمان ماکوکوم نثر په تذکرة الاولیاء کي لیکلی و، هغه نسبتاً ساده او روان او سپیځلی و. مګر پیر روښان د جملو په اخر کي په مصنوعي ډول سجع رعایت کوي، چي هغه د پښتو له اصلي بیانه سره اختلاف لري او دغه نثر و، چي وروسته اخون دروېزه او د ده کورنۍ او نورو لیکوالو تر ډېره وخته پوري پیروي کاوه، ځو چي پس له (۱۰۰۰ هـ) ځخه خوشحال خان خټك پیدا سو او ده هم لکه پیر روښان په ژوند که دوه واره په مبارزه شروع وکړه :

اول د پښتنو د آزادۍ د ساتني له پاره د خوشحال خان مجاهده د هندوستان د مغلو سره روانه وه او دې توریالي ادیب د افغان په ننګ توره ټرلې وه :

د افـــغان په نننـــګ مي وټرلـــه تـــوره
ننګیالی د زمانې خوشحال خټك یم

دوهم : د خوشحال خان په نظر کي د پښتنو د سیاسي اقتدار او آزادۍ د ساتني سره سره د پښتو ژبي ساتنه او روزنه هم یو مهم مقصد و، نو ځکه ده له توري سره قلم ملګری کی او د پښتو د نثر او نظم پالني ته يې ملا وټرله. د نظم خو يې ډېر ښکلی او وسیع او د ارزښت خاوند کړ، مګر په نثر کي د خوشحال خان ابتکار او هنر دا و، چي بیرته يې د نثر لیکلو سبك د پیر روښان له مصنوعي او د تکلفه ډك طرز ځخه سادګۍ او روانۍ ته راوګرزاوه او د خوشحال خان دغه ادبي ابتکار و، چي تر اوسه پوري هم په نثر او نظم کي تعقیب کیږي. په دې دوره کي د پښتو ادب درې لویي کورنۍ تېري سوي دي، چي هره کورنۍ د پښتو ادب په روزنه کي لاس لري. خو یوه د خوشحال خان کورنۍ داسي ده، چي د هغوی ادبي تخلیقات د هنر له پلوه ډېر ارزښتونه لري.

اول د پیر روښان کورنۍ، چي پخپله پیر روښان او انصاري او دولت او ارزاني ئې ارکان دي.

دوهمه کورنۍ د اخون دروېزه ننګرهاري ده، چي کریم داد او نور د دې کورنۍ رکنونه دي.

دریمه د خوشحال خان خټك کورنۍ ده، چي د ده زامن لکه عبدالقادر خان او اشرف خان هجري او صدرخان او سکندر او لمسی ئې کاظم خان شیدا او افضل خان د دې کورنۍ تکړه ادیبان دي. د پښتو ادبي سیر په نثر او نظم کي تر خوشحال خان را وروسته روان پاته سو او مور وینو، چي زبردست شاعران او لیکوال په ټوله پښتونخوا کي پیدا سوي دي، لکه :

رحمان بابا او حمید مومند، علي خان، عبدالرحیم هوتك، پیرمحمد کاکړ او نور ډېر شاعران، چي عدد ئې تر سوو پوري رسیږي. دغه دوره چي تر ۱۲۵۰ هـ پوري رارسیږي دغه لاندي خاصیتونه لري :

اول : په پښتو شاعري کي د شعر ظاهري ډول هم ملي او پښتني وزنونه لري او هم د فارسي او عربي د عروضو اثر پر سوی دئ، مثلاً : ملي لنډۍ اوکسرونه او بدلي او چاربیتي او نور آثار هم سته، خو د فارسي غوندي قصیده، غزل، مثنوي، رباعي او نور ادبي فنون هم پښتو ته راغلي دي.

دوهم : د فکر او موضوع له پلوه هم پښتو ادب پراخ سوی دئ، یعني هر ډول ادبي، تاریخي، ديني، فلسفي، تصوفي، اخلاقي، عشقي او داستاني ادبیات پکښې موجود سوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دريم : د پښتو شاعرۍ خپل پښتني او حماسي رنګ هم ساتلی دئ، يعني په پښتو ادب کي د حماست او پښتونوالي او آزادۍ غوښتلو پلوشې او تجليات ډېر برېښي او دا هغه محيطي خاصيت دئ، چي د پښتو شعر ته يې ډېر خوند ورکړی دئ.
څلورم : خوشحال خان په خپله دستار نامه او نورو منثورو ليکنو کي د پښتو نثر و محاورې او د پښتنو عمومي ادا ته را نزدې کی. د ده لمسو همدغسي کوښښ وکی، ګوهر خان خپل کتاب (قلب السير) او افضل خان خپل (تاريخ مرصع) پر دغه سبك وليکل، چي وروسته نو پټه خزانه او نور ډېرکتابونه په پښتو نثرکي ميدان ته راغلل او دغه حرکت و، چي په ټوله پښتونخوا او افغانستان کي تر (١٢٦٠ هـ) پوري راورسېدی او په دغو کلو کي د احمدشاه بابا د کورنۍ پاچاهي ختمه سوه او امير دوست محمد خان د محمدزو د کورنۍ څخه پاچا سو. دغه وخت د پښتنو سلطنت ته چي له پنجاب او کشميره تر هرات پوري خپور و، يو نوی خطر د هندوستان له خوا متوجه سو، چي هغه د انګرېز استعمار و. کله چي په (١٨٣٩ م) د انګرېزانو ايندس ارمي يعني د اباسين لښکر د بولان څخه پر کندهار حمله وکړه، نو د افغان او انګرېزانو لومړۍ جګړه شورو سوه.

د پښتو خاصيتونه
په وروستنۍ دوره کي

له (١٢٥٠ هـ) را پدېخوا په يوه پېړۍ کي د پښتو ادب لوی تحول وموند او د دې تحول اصلي سببونه، چي د پښتو ادب ته يې نوې جوله او قيافه ورکړېده په لاندي ډول ښوول کېږي :
(١) په دې وخت کي د اروپا د مدنيت صنعتي دوره شورو سوې وه او پر هندوستان باندي د انګرېزانو استعمار بشپړ سوی و او هندوستان ته د نوي مدنيت او صنعت اثرونه رارسېدلي وو، د انګرېزانو حکومت په هندوستان کي د اداري او انضباط او امنيت او تنظيم نوي دودونه او اصول رواج کړي وو او په ټول هندکې د تګ راتګ لاري او د اورګاډي خطونه جوړ کړي وو، نوی فکر او د مدنيت نوي دودونه او نوی معارف او مکتبونه په ټول هندکي موجود سوي وو. جراید او مطبوعات هم په انګرېزي ژبه او هم د هند په ژبو کي خپرېدل.
چاپخانې او دکتابونو د خپرولو وسايل هم ډېر سوي وو، انګرېزان د دغسي يو قوي مدني تشکيل سره د اباسين غاړو ته راورسېدل، دوی د پښتونخوا يو مهم د فرهنګ مرکز يعني پېښور هم ونيو او په (١٨٣٩ م) يې پر افغانستان هم حمله وکړه، دلته نو د دغه اجتماعي او سياسي کيفيت اثرونه د پښتو پر ژبه او ادب او ثقافت باندي لازمي وو. نو ځکه د پښتو نظم او نثر دواړه تر دغو لاندي راغله. په نثرکي رواني او د محاورې سره برابره ليکنه چي خوشحال خان يې اساس ايښی و، ښه رواج سوه او ځيني پښتو کتابونه يا اخبارونه هم په دغه ډول منځ ته راغله. نظم هم په هغه قديم قالب کي نشو و نما وکړه او ځيني نوي سبکونه هم رواج سول.
(٢) د اروپا د مدنيت او صنعتي غورځنګ اثرونه پر پښتونخوا باندي د اېران له خوا او د شمالي روس له خوا هم راغلل، تجارتي تګ راتګ او سياسي روابط د روس او اېران سره موجود سول او د شمالي له خوا هم د روس د اورګاډو خطونه تر بخارا او خيوا پوري راورسېدل، دلته نو د يوې خوا له روسه او د غربي خوا څخه له اېرانه داسي قوي اثرونه پښتونخوا ته راورسېدل، چي د پښتنو فکر او ادب يې حتماً تر قوي اثر لاندي ونيوه، دلته نو اوس مورِ وينو، چي په پښتو ادب کي نوی فکر او د نوي مدنيت اثرونه پيدا کېږي. خلك د وطن او آزادۍ او د نوي ژوندون په فکرکي لوېږي او کله چي د (١٩١٤ په حدودو کي) لومړی عمومي جنګ شورو سو نو دلته پر شرقي ټولو ملتو باندي، لکه : هندوستان، افغانستان، اېران، دولت عثماني او عربو باندي د اروپا د استعمارچيانو يا مستقيم سياسي تسلط و يا دا چي دغه مملکتونه تر اقتصادي او کلتوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

اثرونو لاندي راغلي وو.
نو په په ټولو مملکتو کي يو د داخلي آزادۍ فکر پيدا سو او لومړی پلا سيد جمال الدين افغان له کنړه وپاڅېد، ده په هندوستان، ايران، مصر او ترکيه کي داسي يو فکر پيدا کړ، چي دغه بيده ملتونه يې راويښ کړل او په دوی کي يې د مبارزې دوه قسمه حرکتونه پيدا کړل :
يو دا چي بيده ملتونه بايد د پردو د استعماره څخه ځانونه آزاد کړي.
دوهم دا چي دغه مظلوم ملتونه له داخلي استبداده څخه ځانونه وژغوري او داسي حکومتونه جوړ کړي، چي هغه حکومتونه د خلکو د ديموکراسي حقوقو حامي وي او دغه مظلوم خلك وکړای سي، چي خپل ملي قوتونه د ځان د سعادت له پاره په کار واچوي.
د سيد جمال الدين دغه تبليغ و، چي په هندکي د آزادۍ حرکت پيدا سو او هغه پښتانه چي د افغانستان په شرقي خواکي د انګرېزانو د استعمار تر اثر لاندي سوي وو په هغوکي د آزادۍ احساس وخوځېد او د پښتو ادب ته ئې د آزادي خواهۍ او وطن دوستۍ قوي جذبه راوړه او دغه اثر و، چي د پښتو ادب په نثر او نظم کي د فکر له پلوه نوی تحول راغی.
(۳) په دې وروستنۍ دوره کي د پښتو په نظم او نثر دواړو کي د ترجمې حرکت هم پيدا سو، ځيني کتابونه له اردو او انګرېزي څخه او ځيني هم له عربي او فارسي څخه په پښتو ترجمه سول، مثلاً : نعمان الدين احمد کاکاخېل د ابن بطوطه سفرنامه او قاضي عبدالقادر پېښوري عسکري نومونه او اصطلاحات له انګرېزي څخه په پښتو ترجمه کړل، غلام محمد پوپلزی چي د چارسدې اوسېدونکی و د مولانا حالي اردو مد و جر اسلام ئې په پښتو منظوم کړ او منشي احمدجان د افغانستان تاريخ له انګرېزي څخه په پښتو راواړاوه، د ترجمې دغه حرکت و، چي د ځانه سره ئې نوي فکرونه او د نوي مدني ژوند اساسونه هم راوړل او پښتو ادب ته يې يو نوی ادبي تحول وروباخښه، په دې ترجمه کي شاعران او ليکوالان دواړه مجبور وو، چي په داسي ژبه خبري وکړي چي لوستونکي يې په مطلب ښه پوه سي. نو له دې جهته هم په نظم هم په نثر کي رواني او شګفتګي موجوده سوه، خلك خپل قديم تاريخ ته متوجه سول او د اروپا د مدنيت او د ژوند نوي فلسفي فکرونه هم په نظم او نثر کي وارد سول او هغه فکري انقلاب چي د ۱۹ قرن له ملي او قومي نهضتونو سره راغلی و د پښتو ادب ته يې هم نوې ښکلا، نوې مفکوره او نوي تغيرونه وروبخښل.
(٤) په دغه دوره کي ځيني شاعران او ليکوال داسي هم وو، چي دوی داستاني ادب ته توجه وکړه، ځيني ليکوالو هغه قصې او داستانونه نظم کړل چي په خلکو کي مشهور وو. د دې ډلي مشهور استاذ ملا نعمت الله د نوښار اوسېدونکی و، چي دغه کتابونه د ده چاپ سوي دي :
(۱) د ليلی او مجنون کيسه، (۲) د فتح خان کيسه، (۳) د موسی اوګل مکی کيسه، (۴) د حضرت علي جنګنامه، (۵) شاهنامه، (٦) الف ليلی، (۷) د حاتم طائي کيسه.
د دې ډلي بل شاعر ملا احمد جان د پېښور اوسېدونکی و، چي د ورقه ګلشا کيسه، د ممتاز کيسه، د بهرام اوګل اندامي کيسه، د امير حمزه داستان او د يوسف او زلېخا کيسه يې ليکلي دي. بل د دې ډلي شاعر احمد په قوم اخوندخېل دئ، چي د جمجمې کيسه او قصص الانبياء د ده اثرونه دي، د دې ډلي ادبي اثرونه د تاريخ او مفکورې له پلوه کوم ارزښت نه لري خو ادبي او شعري ارزښتونه ئې د يادولو وړ دي.
(۵)په دې دوره کي ځيني کتابونه د تعليم او ښوونې په مقصد هم ليکل سوي دي، په افغانستان کي د پښتو د زده کولو له پاره ځيني داسي کتابونه وليکل سول او د پښتو ژبې قواعد اوګرامر ته هم توجه وسوه. د پښتو لومړني لوست کتابونه د کابل په مدرسه حبيبيه کي مولوي صالح محمد کندهاري وليکل او بيا په پېښور کي هم دغسي نور کتابونه چاپ سول، چي دا حرکت هم د پښتو د ژوندون له پاره ډېر مفيد و.
کوم کتابونه چي د ديني تعليم له پاره په پښتو ليکل سوي دي هغه هم په دغه نوعه ادب کښې داخل دي، لکه : د ملا عبدالباقي افغان تبيين الواجبات يا د دوست محمد خټك تفسير بدر منير او بحرالعلوم، يا د فيض محمد لوګري روضة المجاهدين يا د کامې د مرادعلي صاحب زاده تفسير يسير.
(٦) په دې دوره کي د شعر او ادب يوه بله عامي او وګړني ډله هم سته، چي د پښتو په کلو او بانډوکي ناخوانه امي شاعران

(c) ketabton.com: The Digital Library

موجود دي او دوی د خلکو په عامه ژبه شعر وايي او کله کله د ملي تاريخ بعضي مهم وقايع او د ملي پهلوانانو کردارونه په خپل شعر کي بيانوي، دا ډله يقيناً د عامو خلکو د فکر او ژبي او اخلاقو نمايندګي کوي. دغه نوع ادب د پښتو خاص شعري وزنونه او ادبي بحرونه هم راښيي او مور په پښتو ژبه کي په سوو داسي ملي او وګړني شاعران لرو، لکه :
کمال، نوروز، ملا ميران او نور. د دې ډلي شاعري بې تکلفه او ارتجالي او ساده ده. دوی د ژوندانه مختلف وقايع په ساده ژبه د عوامو د فهم سره برابر تصويرکوي او د ملي ژوند پټ اړخونه لوڅوي، مثلاً کله چي په اول وار انګريزانو کابل ونيو، دلته نو دغسي يوه وګړني شاعر د خلکو د زړه درد په يوه بدله کي تصويرکړ، او ويې ويل :

خالقه لايزاله! ايمان مي خطا مه کړې		بې شريکه بې زواله! فرنګ ورک کړې له کابله !

زاري مي نشته بله

د افغانستان د استقلال په جنګ کي يو بل وګړنی شاعر د پښتنو مېرمنو اشتراک په جهاد کي داسي بيانوي :

چا ئې پلو ليدلی نه و
اوس د جمرود پر غاړه ځي سرتور سرونه
په کابل جنګ دئ

د پښتو ادب ارزښتونه
په دغه دوره کي

پښتو ادب د پخوانۍ او متوسطي دورې له ډېرو ارزښتونو سره دې اخيرنۍ دورې ته راورسېدی. د ژبې بياني او بديعي خاصيتونه او د مفکورې ذخائر چي پښتو ادب له قديمي او متوسطي دورې سره راوړي وو هغه ټول د شاعرانو او ليکوالو مخي ته پراته وو. دلته نو اوس د دوی وظيفه دا وه، چي له هغه ټولو قديمو ذخيرو څخه د نوي ادب په تخليق کي کار واخلي او نوي مفکورې او د نوي ژوند لوازم او ضروريات پښتو ادب ته را واردکړي. يقيناً چي نوی عصر او د ۱۹ قرن سياسي او اقتصادي او فکري تحولاتو پر پښتون قوم باندي ژور اثرونه وکړل او دلته نو مورګورو، چي په پښتو ادب کي ځيني نوي ارزښتونه موجود سول. د پښتو غزل د فارسي ادب په تقليد په عشقي موهومو خيالاتو کي تباه سوې وه. شاعر په خپل ذهن کي د عشق يوه موهومه دنيا فرضوله او د هغې په بيان کې په ډول ډول خيال بافي کوله، د غزل ډېره حصه د معشوق د وروځو او سترګو او سراپا توصيفونه وو او په دې کي به داسي مبالغه امېزه شعرونه ويل کېده، چي تل به درواغجن شاعر د سترګو په ګولیو ويشتلی يا به د بنو په غشي ژوبل سوی و. دی به د هجران په اورکي لولپه و، مګر هيڅکله دا ونه ليده سوه، چي دی دي حقيقتاً د ژوند له يوه جزوي نعمت څخه محروم سوی وي. ډېر داسي شاعران وو چي په خپل عمر ئې د شرابو څکه نه وه کړې مګر د شعر په تخيلي دنيا کي به تل په باده پيمائي بوخت و.
قصيدې هم دغسي يو اغراقي او مبالغه وي د مداحۍ رنګ درلود او شاعر به کوښښ کاوه، چي په څه ډول اوکومو الفاظو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولای سي، چي خپل ممدوح تش په الفاظو وغولوي او جایزه ځني واخلي. دې ادبي جریان خو پر پښتو ادب هم ژور اثر درلود او د لفاظیۍ او سخن وریۍ او خیالبافیۍ له پاره ئې ډېر مواد پیدا کړل مګر مفکوره او معنوي ښېګڼې ډېري پکښې لږ وې، د پښتو شعر د موهوماتو او ایډیالیزم په تیارو کي لاس او پښې وهلې اما د الفاظو ذخیره او د خبرو قالبونه او د ظاهري وینا ښېګڼې یې درلودې. د اوسنۍ زمانې شاعر له دغسي یوه په ظاهر ښکلي او په باطن تش پس منظره سره مخامخ و او د زمانې انقلابي جریان هم دی نه پرېښود، چي په شلم قرن کي د وروځو په لېنديۍ کي د بانډو غشی وولي یا د ملا په نري تار غټ غټ غرونه وځړوي. نو پښتو شاعري په دې دوره کي د شاعرۍ د قدیمو اسلوبونو پیروي لږ کړه او د خیال بافیۍ له دنیا څخه د حقیقت لدني او ریالیزم میدان ته راغله، د فراق او مهجوریۍ د درد او نارو پر ځای قومي درد او د ټولنې اجتماعي ضرورتونه ودرېدل، هغه موهوم معشوق چي رسا قد به یې تر سبر هم جګ و او ناز و خرام به یې د شاعر زړه ورسولاوه اوس د هغه پر ځای د وطن او مملکت او مسلك نوی معشوق پیدا سو او دغه حرکت په پښتو ادب کي ځینې نوي ارزښتونه راوستل، چي هغه د دې عصر له سیاسي جریان او تحولاتو سره برابر وو او دغه کلیه په ښه ډول ثابته سوه، چي انسان د خپلو ټولو مادي او معنوي متعلقاتو سره د زمانې د تحول په لاس کي دئ او حتماً بې له زاړه حال څخه نوي حال ته را اړوي، که مور د پښتو ادب په دغه زمانه کي له اردو او فارسي سره مقایسه کړو نو دا نکته راڅرګندېږي، چي د شعر پر ډګر د پښتو ادب بالکل نوی رنګ موندلی دئ، ځکه چي د اردو او فارسي غزل تر اوسه لا هم د مفکورې او موضوع له پلوه په هغه قدیم اسلوب باندې د خیالیت په دنیا کي سیر کوي او تر اوسه لا هم غزل ګوی شاعران پر هغه زړو لارو باندې روان دي، مګر د پښتو شعر معنوي ارزښت بالکل اوښتی دئ او د زاړه سبك او فکر پیروي ډېره لږه لیدل کېږي، په پېښور کي ځینې داسي غزل ګوی پښتانه شاعران لرو، چي دوی د اردو ژبې د خیالي شاعرۍ پیروي کله کله کوي، مګر پر دوی باندې پښتني تخیل دومره غالب دئ، چي په غزل کي د شاعر د تخیل سلسله هم ضرورت مشغول کوي، حمزه شینواری وایي :

وایي اغیار چي د دورخ ژبه ده
زه به جنت ته د پښتو ســـره ځم

په دې اخیرنۍ دوره کي چي د ادبي تجدد او نوي فکر دوره ده، په پښتو ادب کي دوې ډلې شاعران او لیکوال لرو :
یوه هغه ډله ده، چي پر زاړه اسلوب روان دي او لکه پخواني شاعران او لیکوال زاړه افکار د شعر په زاړه قالب کي ځایوي. دوی کله کله ځینې نوي فکرونه هم په هغه پیرایه کي ادا کوي، چي د شعر عنعنوي زوړ قالب دئ. له دې ډلې څخه غلام محی الدین افغان، مستغني، سید محسن، مخلص کندهاری، مولوي صالح محمد خان، خادم، الفت، رشتین، عقیق زاخیلي؟، سمندر بدرشوی، سید راحت زاخیلي، محمداکبر خادم او نور ډېر شاعران دي چي د پښتو ادب د وروستنۍ دورې لویه برخه په دوی پوري اړه لري.
مثلاً د مستغني ځینې نوي اشعار نوی فکر روزي، مګر قالب یې قدیم دئ، د کندهار سید محسن هم د دې عصر د نوي فکر خاوند شاعر دئ، چي د استقلال تر جنګ پورې لا ژوندی و. دی په اول عمومي جنګ کي، چي په (۱۹۱۸ میلادي) کي ختم سو د اسلامي مملکتو مغلوبیت د اروپا د استعمار په مقابل کي او بیا د ترکانو د اسلامي خلافت سقوط د حسرت په سترګه وینې او داسي وایي :

پر اسلام ډېر اضطراب دئ لا ترکمه
هم د دین حالت خراب دئ لا ترکمه
هم راحت مو سدالباب دئ لا ترکمه
ظلم و جور تل کامیاب دئ لا ترکمه

ټول وطن مو مست له خواب دئ لا ترکمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

عاقلان به مو ترکمه سر په جېب وي
چې مدام به دوی په صبر په شکېب وي
د اغیارو به ترکمه مکر و فرېب وي
د غرض په پښو به ځغلي دا يې زېب وي

مور به غرق د خورد و خواب یو لا ترکمه

چې قلم مو په قبضه کې د کفار سو
ملك و ځان مو په قبضه کې د کفار سو
نوم نښان مو په قبضه کې د کفار سو
ټول اسلام مو په قبضه کې د کفار سو

مور بیده یو په غـــفلت کې لا ترکـــمه

ټول یورپ په اتفاق راته بلا سو
زمور په غوښو په املاکو مبتلا سو
دښمني يې کړه ظاهره برملا سو
لا په کورکې ورته ګورو ها لالا سو

ربه ته به مـــــو بیدا رکـــــړې لا ترکمه

هند و مصر بریټش یوه ګوله کړه
په مور نه سو پر بغداد باندې حمله کړه
پر اېران او عثماني ئې غلغله کړه
مقدس ځایونې ټوله په قبضه کړه

هوښ غیرت له موره ولاړی لا ترکمه

مسلمان چې مبتلا په عیش و ناز سو
اشفته و پرېشان د هر طناز سو
چاپلوسي د اجانب کاندي غماز سو
په سودا د ګلرخانو بې نماز سو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاهـلي يې په رڼـــو سوه لا ترکـــمه

ټول اسلام نن ګرفتار په مصيبت دئ
غوړېدلی پر جهان ټوله ظلمت دئ
اسلام ولاړی په بلا او په نقمت دئ؟
هم دا واړه زمور د خپل عمل شامت دئ

د يورپ ظلـــمونه ګورو لا ترکـــمه
د طلوع افغان لومړی کال، دريمه ګڼه، ۱۳۰۰ شمسي کال.

منشي احمدجان

د (۱۳۰۰ هـ ق) په شاوخوا کي د پښتو په نثر ليکلو کي لږ څه تحول پيښ سوی دئ، تر دې دوړې مخکي د پښتو د نثر کومه شپوه او سبك چې د خوشحال خان په کورنۍ کي پالل سوی و، هغه په کندهار کي د پټې خزانې د مؤلف محمد هوتك له خوا لږ څه اصلاح سو، يعني د خوشحال خان د کورنۍ په نثر کي جمله بندي او ترکيبونه او د لغاتو استعمال ډېر د فارسي يا عربي تر اثر لاندي و. مګر محمد هوتك په پټه خزانه کي د نثر د اصلاح له پاره يو بل قدم واخيست، ده کوښښ وکړ چې جملې او ترکيبونه د پښتو رنګ ولري او ځای ځای د فارسي او عربي کلماتو په مقابل کي پښتو لغتونه او تعبيرونه هم استعمال سي. تر دې زمانې را وروسته سل کاله په همدغه ډول د پښتو پر نثر باندي تېر سول، په احمدشاهي دوره کي چې کوم نثر په کندهار کي پيرمحمد کاکړ يا د احمدشاهي فتاوی ليکوالو کښلی دئ هغه هم د خوشحال خان د کورنۍ او بيا د محمد هوتك د اصلاحي اقدام تر اثر لاندي ښکاري او سړی ويني چې د پښتو نثر ورو ورو د فارسي او عربي له تقليده څخه آزادېږي او څه نا څه د پښتو خپل رنګ مومي اما د دې اصلاحي حرکت قوي محرك د (۱۳۰۰ هـ په حدودو کي) منشي احمد جان دئ، دې سړي په پښتو ادب کي کوم فکري تحول نه دئ راوستی او د ده په آثارو کي کومه داسي ذخيره نه ښکاري، چې هغه دي فکري ارزښت ولري، دی د انګرېزانو د پښتو معلم و او د استعمار په کړۍ کي ننبتی و. مګر د نثر د ظاهري شکل په اړولو او د پښتو محاورې ته په نزدې کولو کې لاس درلود او داسي آثار يې ليکلي دي چې هغه د پښتو په نثر کي ښه کتابونه بلل کيږي، کوم کتابونه چې ده ليکلي يا ترجمه کړي دي مشهور ئې دا دي :

د قصه خوانۍ ګپ، چې په ۱۹۳۰ م چاپ سوی دئ.
ګنج پښتو په ۱۹۳۰ م د لاهور چاپ.
تاريخ افغانستان، چې په همدغه کال په پېښور کي چاپ سوی دئ او له انګرېزي څخه ترجمه سوی دئ.
له فارسي تاريخ فرشته څخه هم ده د سلطان محمود د تاريخ ترجمه کړېده.
هغه دغه ، هم د ده يو مشهور کتاب دئ.

د منشي احمد جان په ټولو آثارو کي د نثرنويسۍ دغه خاصيتونه شامل دي:
دی کوښښ کوي چې د پښتو د نثر د ليکلو ژبه د خلکو محاورې او عامي لهجې ته رانزدې کړي او د ليك او وينا تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځ موافقت ومومي.
د فارسي او عربي ژبي مستعمل او پېژندل سوي کلمات او لغات له خپله نثره څخه ارادتاً نه باسي، مګر د پښتو تعبيرونه او د ادا کولو خاص خاص قالبونه هم نه هېروي، نو له دې جهته دی يو معتدل او د ذوق خاوند ليکوال ګڼل کيږي، مثلاً په کوم ځای کي چي د جنګ مشترکه پښتو او فارسي کلمه استعمالېدای سي، هلته هندۍ جګړه نه راوړي، خو په کوم ځای کي چي دغي کلمې د پښتو په محاورو کي ځای نيولی او د استعمال حق ئې موندلی دئ هلته نو د دې کلمې له استعمال سره کوم تعصب نه ښکاره کوي.
منشي احمد جان په خپل نثر کي اوږدې اوږدې جملې نه راوړي او داسي کار نه کوي، چي د څو جملو خبر د اخرنۍ جملې په پای کي راوړي، بلکي هره جمله ئې خپل خبر لري او دا د پښتو د اصلي بنسټ سره سم کار دئ.
د منشي احمد جان د نثر يوه بله ښېګڼه دا ده، چي د ده د کتاب له ويلو څخه د اعلی ادبي ذوق خاوند هم نه ستړی کيږي او که يې د ابتدايي سواد خاوند هم لولي نو په فهمولو کي مشکل نه ورپېښيږي. نو له دې جهته ده ته يو معتدل او د ذوق خاوند ليکوال ويلای سو، اوس به د ده د نثر يو څو نمونې راوړل سي :

له ګنج پښتو څخه

نقل دئ چي يوه سړي آس ساتلی و او ډېره مينه ئې ورسره کوله، شپه او ورځ به په خدمت ورته ولاړ و، سحر مازديګر به يې لمباوه، ګراره(؟) به يې وخت په وخت کوله. د اوربشو د ارداوې غور به ئې په ښه شان کاوه او ناری به ئې مساله دار ورله مدام تياراوه او هره ورځ بې د ولو په غاړه باندي په شنو شنو واښو کي ګرزاوه، او چي چرته به ډېر واښه پېښ شول نو هلته به يې لويه رسۍ پکښې واچوله او موړی به يې ټک واهه او رسۍ به يې په موړي پوري وترله، نو دغه آس به يې په هغه واښو کي پرېښود، بيا دی به پکښې کله چريده اوکله به رغړېده اوکله به يې لکۍ پورته کړله ټوپونه به يې وهل او خاوند به يې په تماشا خوشحالېده. يوه ورځ له ورځو وه، چي دې سړي دغه آس بهر بوت ! ناګهانه چي ترې کوز شو چور آس ودنګل، سرکښي يې وکړله زين، واګي، جلب، ترسيري واړه اسباب يې د ځان سره وتښتاوه. خاوند پسې تمامه ورځ وځغلېده، مګر هغه آس و او دی سړی و لاندی يې نکړای شو، اخير سړی سترې شو او آس لاړ له سترګو يې پنا شو. چي مابنام شو سړی غريب سترې ستومانه کور ته راغی، بې طاقته په کټ کي پرېوت او په آس باندي چي وخت د داني شو نو وړی شو، چي خوله يې واښو ته کښته کوله واګي په زين کي نښتي وې، خوله يې واښو ته ونه رسېدله، چي نيت يې د رغړېدولو وکړ زين پرې دپاسه پروت و هغه کار هم برابر نشو، چي په يوه ډډه به يې آرام کاوه يو رکاب به ترې لاندي شو، په بله ډډه به يې بل رکاب ورته وړاندي شو، دا خبره هم ونه شوه. تمامه شپه لکه څوکيدار په ولاړي پرې تېره شوه، سبا بيا په هغه ميدان کي حيران ګرزېده، ناګاهانه يې يوه واله په محکښي راغله، چي دا ورګډ شو هغه واله ژوره وه اوبه پکښې ډېرې وې، ټول اسباب يې په اوبو کي لوند شو، چي په ډېر کوښښ سره بهر راووت او لمر پرې ولګېد، هغه تسمې د اسباب د ده ټولي د اومې څرمني وې خو چي وچي شوې نو ډېرې کلکي شولې. بيا هر ځای چي د ده په تسمه لګېده هغه ځای به غوڅېده، غرض دا ده چي ګيډې ته يې زخم ورسېد، ملا يې خوږ شوله، څټ يې غوڅ شو، چي څه سختي په دنيا کي يادېدله هغه ورته پېښه شوله، چي ډېر وړی، کمزوری او عاجز شو، نو په يو ځای باندي ولوېد، ناګهانه خنځير وربانديې پېښ شو اول خو ورته په قهر شو، ولي چي د ده خواره ورځ يې وليدله نو زړه يې پرې وسو او ترې يې پوښتنه وکړله چي دا ولي دي داسي حال شوی دئ؟
آس ورته وويل : "چي دا ټول زين او د اوبو او د تسمو سبب دئ". بيا آس ورته وويل که لږ کوتې ما له دې بنده خلاص کړې نو ډېر ښه به وي، ثواب به دي وشي، خنځير ورته وويل چي زه خو داسي هيڅ ګناه خپل ځان ته نه ګڼم چي د دومره سختۍ لايقه وي، خنځير ورته وويل چي داسي نده يا ته دروغ وايې او يا جاهل يې نه پوهيږې چي ګناه څه ته وايي نو که دروغ وايې خو زه دي نه خلاصوم پرېږده چي کړېږې او بيا مړ شې او نه دي اشنايي کوم ځکه چي خلك وايي چي د بدخوی سړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره اشنايي ښه نده، د سړي خوی خرابيږي او که نه پوهيږې نو بيا ستا دپاره دغه بند ښه دئ، ځکه چي ناپوهي داسي څيز دئ چي له دې سختي نه به دي په زياته سختي کي پرې باسي.
بيا آس زاري وکړله ويل يې چي خلاص مي کړه. خنځير ورته وويل چي ما ته رښتيا ووايه نو به دي خلاص کړم. آس ورته له سره خپله قصه شروع کړه. نو خنځير وويل چي اوس پوه سوم، چي ته لوی جاهل ئې او په تا کي شپږ ګناوي جمع شويدي : ړومبی د خاوند پرېښوول، دوهم د هغه احسان هېرول، دريم هغه ځان پسي ځغلول او ستړی کول، څلورم اسباب د ځان سره تښتول، پنځم په ځان باندي دا ګمان کول چي زه به يوازي ګذاره وکړای شم، شپږم همېشه په ګناه کي پاتي کېدل او توبه ورنه نه ايستل او خاوند له بيرته نه ورتلل.
آس وويل چي اوس پوه سوم، چي زه له دې عذابه دوچند لايق يم. خنځير وويل چي اقرار دي وکړ او ځان ته دي ملامت وويل نو اوس به دي خلاص کړم، بيا ئې هغه تسمې پرې کړې او آس ئې له بنده خلاص کړ.

ملا نعمت الله

د پېښور د نوښار اوسېدونکی و او تر (۱۲۸۰ هـ) وروسته د ده د ژوند زمانه ده او دغه سړي په پښتو اوسني ادب کي د داستان ليکلو په سلسله کي ډېر کارکړی او متعدد داستانونه ئې نظم کړي دي. د ده اشعار خواږه او روان او د ويلو وړ دي، د ليلی او مجنون قصه، د نيم بولا او تيم بولا قصه، د فتح خان قصه، د موسی او ګلمکیِ قصه، د حضرت علي جنګنامه، د حاتم طائي قصه، د شهنامې پښتو ترجمه او الف ليلی د ده مشهور او نشر سوي کتابونه دي. ملا نعمت الله په خپلو ټولو آثارو کي د ژبي سلاست او خوږوالی ساتي او د هري قصې په نظمولو کي دا خبره په نظر کي نيسي، چي د داستان ټولي خواوي په قوي نظم او د پښتو ژبي د اساسي تعبير پر اصولو باندي برابري وي. د ده د بيان قوه داسي منظمه او تکړه ده، چي هيڅ وخت ظاهري ادبي ښېګڼې تر معنی نه قربانوي او هم معنی په ښه ډول افاده کولای سي نو ځکه د ده هنر د ظاهري او معنوي ښېګڼو جامع دئ اما د افسوس ځای دا دئ، چي دغه هنرمند شاعر ټول خپل هنري او ادبي استعداد د داسي شيانو په ويلو کي صرف کړی دئ، چي په ژوند کي لږ په کار راځي، يعني د ده په آثارو کي د فکر ذخيره ډېره لږه ده، خو د لفاظۍ او داستان ليکلو استاد دئ. حقيقت دا دئ که د ملا نعمت الله هنر د ژوند له پاره استعمال سوی وای نو به حقيقتاً شاهکار وای، دی عادت لري چي د هري قصې د هري برخي په سر کي يو ادبي تمهيد ږدي او بيا د هغه څخه د اصل داستان خوا ته هڅه کوي، په دې تمهيد کي د الفاظو قوت او خپل ادبي مهارت په ښه ډول ثابتولای سي او د ده قصې د پښتو د باندې والو د مشغوليت لوی سبب دئ. د ملا نعمت الله د هنر قوت هلته ښکاري، چي دی د شهنامې مطالب په پښتو مثنوي را اړوي، مګر دی پر خپل بيان دوني غالب دئ، چي د ترجمې هيڅ اثر نه پکښې ښکاري، مثلاً کله چي رستم په يوه جنګ کي په نافهمي خپل زوی سهراب وژني دغه تراژيدي ملا نعمت الله په داسي ډول تصوير کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اور مي بيا نن لګېدلی په خاطر دئ
چي په غوږ مي د سهراب د مړګ خبر دئ
د وجود باغچه په غم زما تالا شوه
د ببلتون د محصلانو حوالا شوه
په هر ځای د ببلتانه له لاسه ویر دئ
د هر چا مړګ ته فلك استاده خیر دئ
کوراکور د ببلتانه ناړې سورې دي
د خزان له لاسه مړاوي منجرې دي
دا فلك د ستم ژرنده ګرزوي بیا
ککرۍ پکښې د خلکو غورځوي بیا
لا بوستان نه وي تازه د نوبهار
چي خزان ورپسې سم راسي دوبار
لا خورکړی بنفشې نه وي اوربل
چي بورا سي د خزان د لاس غوبل
ګلاب نه وي پورته کړی سر له خواب

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي خزان يې کړي په غم سينه کباب
لاله نه وي اوچت کړی سر په باغ
چي خزان ورباندي کېدي د غم داغ
بلبل هم نه وي په ديد دګلو موړ
چي فلك يې بيا په وژلو کړي زړه سوړ
د اسمان ناکردي څو به درته وايم
که يې ستايم تمام عمر به لګيا يم
پدا شان ما ته راوي ويلي صاف
د سهراب لښکر چي ولاړ په خپل اطراف
رستم هم ترېنه رخصت شو په ماتم
په طرف (يې) د سيستان کېښود قدم
د سهراب تابوت ئې هم يوړه له ځانه
دا خبر چي ورغی خاص تر سيستانه
کور وکلی په نارو په ژړا سر شه
تا به وې ګويا قايم هلته محشر شه
ووړ (و) لويو د سيستان به کړې کوکاري
چي هر څوك به خبرېده له هسي چاري
د واريه د رستم مور راغله سرتوره
د سهراب په غم کي پرېوته نسکوره
په ژړا يې (و) ګرېوان د اوښکو ډك
د افسوس فرياد ئې تلو په پاس فلك
په سيستان کي کور په کور کېده ويرونه
د سهراب په ماتم ناست وو عالمونه
چي دفن شو هغه ښکلی نازنين
تهميته هم چا خبر کړه په يو حين
چي سهراب قتل له لاسه د رستم شو
د سيستان په ښارکي ښخ په ډير ماتم شو
د خبر په اورېدو پرېوته کوزه
ډېر ساعت پرته بې خوده هغه چوزه
تار په تار ئې کړه ويښته د اوربل واړه
سترګي سرې کړې په ژړا خماري دواړه
اور يې بل کړو وې چي ځان پکښې ستي کړم
ځان ملګرې د سهراب سره دستي کړم
الغرض چي ځان ئې کړو پکښې ګوزار
چي ناګاه ورباندي خلك شو خبردار
په تلوار يې دا له اوره کړه بهر
لاس و پښې وښته يې سوي وه د سر
د دې سپين بدن چی و دګلو باغ

(c) ketabton.com: The Digital Library

فیض محمد اخوندزاده

پر افغانستان باندي د انګرېزانو لومړۍ حملې د دې ملت پر ژوند درانه اثرونه وکړل، په عملي ژوند کي يې خلك د آزادۍ ساتني ته چمتو کړل خو له بلي خوا يې د دوی توجه د ژوندانه له نورو کارو څخه فقط د استقلال ساتني ته راوګرځوله اما په پښتو ادب کي دغه حرکت ډېر ښه اثرونه پرېښول. مثلاً د پښتنو د کلو شاعرانو د جنګ واقعې په حماسي شکل نظم کړې او له بلي خوا عالمانو او پوهانو هم په دغه حرکت کي برخه لرله او دوی داسي کتابونه وکښل چي هغه خلکو ته د آزادۍ د ساتني په لار کي ګټور وي، له دغو پوهانو څخه يو هم فيض محمد اخوندزاده و، چي د لوګر په موسهي کي اوسېدی او ده د امير شېرعليخان په اوله پاچاهي کي يو کتاب د روضة المجاهدين په نامه په پښتو مثنوي جوړ کی او مقصد يې دا و، چي خلك په ديني تبليغ سره د جهاد او د وطن د ساتني خوا ته راوبولي. دا کتاب تقريباً پنځه زره بيته او ښه تبليغي او اخلاقي مضامين لري، د ده د نظم ژبه ساده او روانه ده چي هر څوك بې تکليفه په پوهېږي او د قرآن او حديث مضامين په پښتو ژبه ښه نظم کولای سي او د ده کتاب د هغه عصر په پښتو ادب کي ښه ځای نيولای سي، دی خپل ملت ته د يووالي ډغ داسي رسوي :

همه واړه يو وجـــــــود شئ
په طلب کي د مقصود شئ

ملا فيض محمد په دې کتاب کي غواړي، چي د مملکت عسکرو ته د دوی مهم اجتماعي مقام وښيي او خپلو مسئوليتونو ته يې توجه ور واړوي، مثلاً د يوه مسلمان عسکري مشر وظايف داسي ښيي :

په لښکر کي چي افسر وي		می بايد چي دلاور وي
شجاعت لري کرار وي		په صفوتو کي جرار وي
هم عاقل او مدبر وي		ښه ديندار ه مذکر وي
دلسوزي لري ناصح وي		هم انصاف لري صالح وي
سخاوت لري ښه دادکا		له لښکر سره امدادکا
چست چالاك وي ثقيل نه وي		هم ظالم او بخيل نه وي
کبرجن او جاهل نه وي		بدکردار ه غافل نه وي
له لښکره باخبر وي		پخپل کار کي باهنر وي
تېښته نه کاندي صابر وي		په نعمت د رب شاکر وي
له سلطانه طاغي نه وي		له الله نه باغي نه وي
د پاچا په خدمت راست وي		د الله په طاعت ملاست وي
نه شراب خوري نه زاني وي		نه رشوت خوري نه جاني وي
حکومت ئې سراسر		په کتاب وي برابر
داسي نه چي دولت ټول کا		دی خپل ځان وربانديمورکا
عالم واړه در په درکا		خپل مخ تور خاوري په سرکا

له دې يوې نمونې څخه سړی دا معلومولای سي، چي په افغانستان کي هم پس له اوله جنګه څخه يو فکري حرکت په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلکو کي د دې له پاره پيدا سوی و، چي دوی د خپل ژوندانه لارو چارو ته متوجه سي او دغه فکر و، چي د امير شېرعليخان په زمانه کي پښتو ژبي او د عسکرو تنظيم ته توجه وسوه او په مملکت کي لومړۍ پلا يوه کابينه تشکيله سوه او يو اخبار د شمس النهار په نامه نشر سو.

د دغه حرکت ادامه :

په افغانستان کي لومړۍ پلا مدني حرکت امير شيرعليخان شروع کړی و او دغه پاچا د مملکت د نوي ژوندانه له پاره ځيني ښه اساسونه کښېښودل، د خپلې کابينې نومونه ئې پښتو کړل، عسکري قوماندې (بولۍ) يې له انګرېزي څخه په پښتو راواړولې او په خارجي سياست کې هم غوښته چې له ټولو دولتونو سره دوستانه روابط ولري او د روس او دولت عثماني سفيران ئې په خپل دربار کي ومنل مګر انګرېزانو نه غوښتل چې د هندوستان له څنګه د پښتنو يو قوي حکومت موجود سي، نو دوی دوهمه پلا پر افغانستان حمله وکړه او امير شېرعلي خان کابل پرېښود او په مزارشريف کي پاته سو او تر ده وروسته يو داسي سخت او قوي لاس پر افغانستان باندي مسلط سو، چې هغه د امير شېرعلي خان حرکت ئې په سرعت تعقيب نه کړ، نو ځکه د پښتو ادب هم تر شل کالو پوري لکه چې لازم و هغسي وده ونه کړه، مګر د امير حبيب الله په زمانه کي بيرته هغه حرکت لږ څه سره وښورېدی او يو څو مکتبونه په کابل کي جوړ سول او يو اخبار د سراج الاخبار افغانيه په نامه له کابله خپور سو.

په دغه وخت کي مورږ کورو چې پښتو ليکوالو او شاعرانو هم قلمونه راواخيستل او په افغانستان کي د پښتو حرکت بيرته شروع سو، سراج الاخبار د پښتو ژبي اهميت ته خلك متوجه کړل او يو څو ليکوال داسي پيدا سول، چي دوی په پښتو ژبه څه ليکل يا به ئې شعرونه ويل، د دې ډلې په سر کي ملا عبدالباقي افغان کندهاری او سيد محسن کندهاری او غلام محي الدين او مستغني او د سراج الاخبار ليکوال دي، چي لومړی مدير او مؤسس يې مولوي عبدالرؤف کندهاری و.

او بيا محمود طرزي هغه چلاوه او ملګري يې عبدالهادي داوی او عبدالرحمن لودين وو، دغو خلکو د پښتو ژبي د نوي ژوند فکر په مملکت کي وروزه او لږ و ډېر يې په پښتو کي شعر او ادب ته هم خدمتونه وکړل. دلته مورږ د هغو ليکوالو نومونه او ادبي تخليقات ښيو، چي دوی د پښتو په نوي حرکت کي لومړۍ برخه اخيستې ده.

ملا عبدالباقي افغان

د پښتو د اخيرنۍ دورې په ادبياتو کي چې کوم فکري تحول راغلی دئ د هغه يوه برجسته نمونه د دغه سړي په کلام کي ليدله کيږي. دی تر (۱۲۷۰ هـ ق) وروسته د کندهار په ښار کي پيدا سوی او په (۱۳۰٦ هـ ش) کال وفات سوی دئ. په شعر کي يې تخلص افغان و او د خپل عصر يو باعمله عالم او صوفي شمېرل کېدی، په وارو وارو يې له وطنه څخه تر مصر او حجازه پوري پياده سفرونه کړي دي او ترکلکتې پوري هم تللی دئ.

د هند مشهور عالم مفسر او سياسي رهنما مولانا ابوالکلام آزاد خپل ترجمان القران تفسير د دغه سړي په مجهول نامه اهداء کړی دئ، ځکه چې دغه عالم د قرآن د تفسير د ځينو پښتنو له پاره ترکلکتې پوري پياده سفرونه کړي وه، دې فکور عالم د پښتنو د بدو عاداتو د اصلاح او انتقاد له پاره د (۱۳۲۰ هـ ق) کال په شاوخوا کي يو منظوم پښتو کتاب ليکلی دئ، چي وزن ئې اورد مثنوی او نوم يې تبيين الواجبات فی التخريب العادات دئ، دا کتاب تقريباً (٦۰۰۰) بيته لري او د کتاب په سر کي داسي وايي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

را اخيستی مي شهباز دئ د خپل عشق رباب وهمه
نغاره د اسلام کوك سوه دواړه برېته تاوومه
سو شراب ساقي له عشقه عالم ټوله سو ګل رنګه
خوشحالي د هغو چې يې زړه پاك سو له زنګه
څه نغمې څه ترانې دي قسم قسم آوازونه
قمريان پر ښاخو ناست دي مطرب نوي کړه سازونه
خم په جوش پياله په دور قلقلي سو د صراحي
مستانه په رقص راغله درب دروب د پاکوبي
خورا پسته پښتو وايه بلنده مه درومه افغانه !
که قلم بافضولي کا تېنګ ئې نيسه له بيانه
التماس د سعادت کړه پښتانه لره د خدايه
د نېکۍ خښته ئې کښېږده ښه محکمه له تهدايه

افغان د پښتو په اجتماعي عيبونو انتقادکوي او د دوی د اجتماع په منځ ورننوزي او د يوه اجتماعي نقاد جوله پيدا کوي، مثلاً پښتانه سوداګران په مالو کي ناوړه شيان ګډوي او خالص مال بازار ته نه راوړي، دا کار لکه چې شرعاً ناروا دئ په اجتماعي او اقتصادي لحاظ هم غندلی دئ او د تاجر اعتبار ورکموي، افغان وايي :

خيانت له مسلمانه سره منع دئ په دين کي
فريبنده او حيله ګر سو په انګار آتشين کي
چا چې غش په مال کي وکی هغه نه دئ زمور له ډلي
دا حديث له مصطفی سو چا له نسته چې دا ولي
که موچنه که څپلی سوه چې په منځ کي وي خرڅوړي
د کومك لحاظ يې نه وي په قيامت به کښته ګوري
د لندن کافران ګوره غوټې خلاصي کړي دلته
پر هغه قرار ښکاره سي چې ليکلي وي هلته
د عراق وړې غوزې دي د ورېښم په شان پېچلي
په دوه چند قيمت خرڅېږي سپيني پاکي صافي ولي
ستا دونيم په يوه شمار سي پاکېده يې خرڅي غواړي
د دنيا فهم چې دا سو حق تعالی دې وله نغاړي
يو د بله کړي نسبت چې د پټان پټان دروهلې
دين دي سپك په نظر ورکی داسي مه کوه نتلې
ته بايد چې مقدا او رهنما ئې و ملت ته
لمر خاته لوېده رابولي صفوت او شريعت ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا د غش په چپلاخه د لويانو مخ خوړپري
ځکه مور ته رسول وايي چي له ډلي دي ببلپري
سترګي رونې کړه ناکسه ځان وګوره بيدار سه
خس؟ دزدي د مړه عيب سو له خپل ځانه خبردار سه

پښتانه په کلو او کوڅو کي ناپاکي پاشي او د نورو د صحت مراعات نه کوي افغان دغه اجتماعي او صحي عيب ته هم متوجه دئ او داسي انتقاد پر کوي :

که د ځا اوبه راتلې و داسي ځای ته چي ضرر و
د بوده او د سړيو پر خټ ببل د ده ممر و
د حساب تخمين يې وکړه هر حيوان چي پرې تېرپري
په لحد کي يې عذاب دئ څو ابرو يې کوره کيږي
انبارونه د بامو چي د کوڅو و ميان ته پاشو
د دوزخ د اور ازغي دي د لحد دپارې تراشو

افغان کله کله د خپل قوم د عظمت په يادکي مستي کوي او ځوانانو ته د مړاني او سلاحشورۍ درس وايي :

توپك ښه اسباب د دين دئ
خوار سړي له تبرزين دئ
پڅه توره دي تېره کړه
که دي رب ته تندی سپين دئ
بدن آس دئ پر سپاره سئ
په يوه ګراتۍ پوره سئ
توپك واچوئ اوږو ته
يو بل په نندارە سئ
زما نوبت په کله راسي
ربه غم مي زړګی تراشي
چي د توپ ګولۍ مي درومي
د مکاب کنګرې تراشي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غلام محمد پوپلزی

د پښتو ادب په نوې دوره کي چې کم فکري تحول پيدا سوی دئ هغه د نورو ژبو څخه د نوو ادبي آثارو د ترجمې په برکت راغلی دئ، کله چې د نولسم قرن په وروستنۍ برخه کي په هندوستان کي انګرېزي تمدن خپور سو، نو په اردو او هندي ژبو کي داسي کتابونه تأليف يا ترجمه سول، چې موضوع يې د نوي عصر خبري وې، د هندوستان ټول قومونه خپل ذلت ته متوجه سول او هر چا کوښښ کاوه، چې د نوي عصر له جريان سره ځان ملګری کړي.

په مسلمانانو کي هم دا فکر پيدا سو، چې دوی ولي متفرق او خپاره او ذليل دي؟ د اردو يو مشهور شاعر الطاف حسين حالي چې د پاني پت اوسېدونکی و، يو کتاب د مد و جزر اسلام په نامه منظوم کړ، چې په هغه کي يې مسلمانانو ته د دوی د تاريخي ارتقا سببونه وروښوول او د اوسني ذلت او خوارۍ علتونه يې هم په خوږه ژبه بيان کړل. دې کتاب په اردو ادب او د هندوستان په مسلمانانو کي يو نوی روح پوکړ او د هر چا سترګي خلاصي سوې. په پښتو ادب کي هم په دغه زمانه کي نوی فکر پيدا کېدونکی و او د نوي ادب په فکري طليعه کي غلام محمد خان د پېښور د چارسدې اوسېدونکی ودرېد او په پښتو مثنوي يې د حالي مد و جزر ترجمه کړ او پر هغه باندې په نثر يوه مقدمه هم وليکله، دا کتاب په (۱۸۹۳ ميلادي) چاپ سوی دئ او د پښتو نوي ادب د اغاز يوه ښه نمونه ده.

د کتاب په سر کي وايي :

"د ټولو مسلمانانو په خدمت کي عرض دئ، چې دا کتاب مدوجزر اسلام چې الطاف حسين صاحب انصاري پاڼې پټي مقيم د دهلي چې حالي يې تخلص دئ په اردو ژبه کي چې د مسلمانانو د ترقۍ او تنزل په باب ليکلی دئ په دې ورځو کي محض په خيال د خيرخواهۍ د اسلام او د مسلمانانو خصوصاً د پښتنو له اردو نه په پښتو ژبې کي ترجمه کړای شو. دا هغه کتاب دئ، چې په ليدو يې په تام هندوستان کښې يوه زلزله پرېوتې ده او چا چې دا کتاب په غور سره کتلی دئ او لږ کوټې شان تعصب يې په ډډه کړی نو هغه ته معلومه شوېده چې د مسلمانانو اوس څه حال دئ او مخ کي پرې څه حال راتلونکی دئ او په چا کي چې څه قدر لحاظ د احکامو د قران مجيد او د حديث د پاك نبي شته په هغو کي د همدردۍ يو جوش پيدا شوی دئ او د خپل طاقت په موجب يې لاس پښې وهل شروع کړي دي. دا خبره ظاهره ده، چې لوی عبادت په دنيا کي هغه قدم شمېرلی شي چې ضرورت ئې ټولو نه زيات وي، مثلاً په هغه وخت کي چې مسلمانانو باندې يو هسي ظالم دښمن په ظلم سره راوخېژي چې د دوی په مال او عيال، په دين او په ايمان لاس اوږده کا هغه وخت د هغه دفع کول په ښځو او نرو لازم وي او د دغه کار دپاره په نمانځه او روژه کي تاخير کول جايز شمېرلی شي دغه رنګه که ملك په قحط کي مبتلا وي نو دغه وخت چې څوك د لوړي مري د هغو همدردي کول په نورو ډېرو عبادتونو ډومبی شمېرلی شي او چې بېړۍ ډوبېږي او خلك پکښې ډوبېږي نو هغه وخت د ډوبېدونکو ويستل په نورو ثوابونو زيات دي".

غلام محمد خان په دې پښتو ليکنه کي خپل د نثر ليکلو قوت هم ښودلی دئ او داسي نثر ليکي، چې د پښتنو عام لوستونکي به هم ښه په پوهېږي، دی وايي چې د مسلمانانو د تنزل سببونه دا دي :

"اول - ورکېدل د علم د دين او د دنيا.

دوهم - بې اتفاقي د قوم.

دريم - بې ځايه تعصب يعني ضد او جهل په خپله خبره او د يوه بل نه نفرت او کرکه کول.

څلورم - غفلت د اسبابو د تنزل نه.

پنځم - د اولاد تربيت او تعليم نه کول.

شپږم - خرابېدل د اخلاقو او د خويونو.

اوم - په محنت او مشقت کي سستي کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس پاتي شوه دا خبره چي مور له څه کول مناسب دي د دې ځواب ډېر اورد دئ او په هغي زمور د قوم د زاړه خيالاتو خلك يعني هغه چي د نوي تعليم د نوو خيالاتو نه واقف نه وي ډېرکم پوهيږي، دا ظاهره ده چي په هر قوم کي چي اتفاق او قوت او علم وي هغه همېشه په نورو قومونو باندي غالب وي او ملك او دولت د هغوی په قبضه کي وي او په کوم ځای کي چي څو قومونه يو ځای اوسي نو په هغوی کي چي په کوم قوم کښې اتفاق او علم او محنت کشي او دوراندېشي وي هغه قوم همېشه آسوده او په عزت کي وي".

د مدوجزر اسلام ترجمه داسي شروع کيږي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

له بقرات حکیم نه وکړه چا پوښتنه
چې هوښیار د کامل عقل څښتنه
کوم یو رنځ دئ چې سړی پرې هلاکیږي
په دنیا کې یې دوا نه پیدا کیږي
وې دا هسې ناجوړتیا په جهان نشته
چې دوا یې مونده نه شي هولته هیشته
که وړیا دي که اسان دي که مشکل دي
هر مرض له پیدا کړي خدای درمل دي
بې له هغه چې اسان ورته ښکارېږي
چې طبیب ښیي علاج وایي ترېږي
که د رنځ نخښې سبب ورته څرګند کا
په خندا شي په طبیب پوري ریشخند کا
نه دارو خوري نه پروا یې په پرهېز شي
په ورو ورو هغه کمزوری مرض تېز شي
د طبیب له نزدېکته یې نفرت شي
تر هغه چې له دنیا ځني رخصت شي
دغه حال به په دنیا د هغه قوم وي
چې په سپینه رټه ورځ وده په نوم وي
په جهان کې وي پراته طوفان یې راوړي
په ګرداب کې یې کړي بند بادبان یې راوړي
غاړه لري وي سیلي زیاتېږي(؟)
ګمان دا دئ چې جهاز دا دئ ډوبېږي
د بېړۍ خلك په هغه شان پراته وي
اړخ نه اړوي د مرګ په خوب ویده وي
وریځ ګوره یې په سر د بدبختۍ وي
په موسم نوې راغلې د سختۍ وي
د نېستۍ نخښې یې په سترګو ورلیده شي
دا اواز له وړاندي وروسته اورېده شي
چې پرون مو څرنګ حال و نن په څه شوې
لا تر اوسه پوري ویل وې اوس بیده شوې
ولیکن د دې غافل قوم غفلت هم
هم هغه وي هغه صبر په ذلت هم
که شو خاوري فخرتوب یې هم هغه وي
سپینه ورځ شوه ولي خوب یې هم هغه وي
نه ارمان افسوس چیري د خپل ذلت کا
نه سیالي د نور قومونو د عزت کا
هیڅ فرق نشته د ډنګر دوی تر حاله
په هر حال کی چی پراته دي وي خوشحاله

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې ډول غلام محمد خان یو روښان فکره او د قوم همدرده شاعر و، چې پښتنو ته یې د خپل فکر اثر پرېښود، نو ځکه دی د اوسنۍ زمانې د منورو ادیبانو په لومړي صف کې درپېري.

غلام محی الدین افغان

دی اصلاً د کندهار و، خو تر (۱۳۰۰ هـ ق) کال دمخه هند ته فرار سوی و او خپل تحصیلات یې هلته تکمیل کړي وه، په اردو، پنجابي او انګرېزي هم پوهېدی. کله چې د (۱۳۳۰ هـ ق) په حدودو کې کابل ته راغی دلته د دارالمعلمین مشر او په یوه ډله کې شامل و چې نوم یې (اخوان افغان) و.

ده په کابل کې ډېر ځلمي په نوي فکر او د افغانستان د آزادۍ له پاره وروزل او یو له هغو خلکو څخه و، چې په کابل کې یې د پښتو د روزلو

تحریك چلاوه. غلام محی الدین په (۱۳۳۹ هـ ق) وفات سوی دئ، چې د ده ملګرو یوه پښتو شناخته د ده پر مزار درولې ده، قبر یې په شهدای

صالحین کې دئ او دا لومړۍ پښتو شناخته ده، چې د مړي پر سر باندې لیکل سوېده.

غلام محی الدین افغان د وطن د آزادۍ په تحریك کې لویه برخه لرله. د ده پښتو اشعار انتقادي او اصلاحي خواوي لري، د وطن د مینې جذبات پکښې ښکاره دي، په (۱۳۳۲ هـ ق) کال ده یو شعر ویلی دئ چې د آزادۍ او ملیت خصوصي جذبه لري. دی له هندوستانه چې د انګرېزانو تر اسارت لاندې و خپل وطن ته راستون سو، دلته که څه هم خارجي استقلال موجود نه و، مګر د افغانستان خلکو د وطن داخلي چاري په خپل اختیار کې لرلې، ده دغه حال غنیمت وباله او شکر یې پر کاوه. مګر د افغانستان د کامل استقلال له پاره یې هم د دې ځای له نورو منورو خلکو سره یو ځای کوښښ شروع کړ او د خپلې سعي نتیجه یې هم د افغانستان د استقلال په اخستلو کې ولیدله، او له دنیا څخه ولاړی، په دې یوه غزله کې دغه حال داسي بیانوي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

شکر شکر باغ مو خپل باغبان مو خپل دئ
ګل مو خپل بهار مو خپل بوستان مو خپل دئ
سروه خپله بلبل خپل چمن مو خپل دئ
لاله خپل ارغوان خپل دامان مو خپل دئ
نشه خپله خمار خپل پیاله مو خپله
بزم خپل ساقي مو خپل دوران مو خپل دئ
کلی خپل بازار مو خپل وطن مو خپل دئ
ځمکه خپله رود مو خپل دهقان مو خپل دئ
شاه مو خپل ګدا مو خپل قاضي مو خپل دئ
سپاه خپل رعیت خپل دهوان مو خپل دئ
غل مو خپل قاتل مو خپل مقتول مو خپل دئ
عسکر خپل مفتي مو خپل زندان مو خپل دئ
شکر شکر بېګانه په میان کي نسته
مدیر خپل اخبار مو خپل دوران مو خپل دئ
عجب عصر دئ افغانه نظر وکړه
ژبه خپله قلم خپل بیان مو خپل دئ

"سراج الاخبار، څلورم کال، دریمه ګڼه"

عبدالعلي مستغني

په (۱۹) قرن کي چي په افغانستان کي د دري ژبي یو ډېر نامتو او مقتدر شاعر تېر سوی دئ هغه یو پښتون او په پښتنو کي روزل سوی سړی دئ، چي ده پښتو شعر لږ ویلی دئ، مګر د دري غزلیات او قصیدي او رباعیات یې په زرو دي او که دغه سړي خپل هنري استعداد پښتو ته
وقف کړی وای نو به یقیناً په پښتو کي د ده آثار نه هېرېدونکي او نه ورکېدونکي وه.
د دې سړي نوم عبدالعلي په قوم هوتك او د ملا رمضان زوی و، چي تخلص ئې "مستغني" و. دی په (۱۲۹۳ هـ) کال د کابل په بالاحصار کي زېرېدلی او د (٦۰) کالو په عمر په (۱۳۱۲ ش) کال وفات سوی دئ، د مستغني پښتو اشعار په سراج الاخبار او د کابل په مجله کي نشر سویدي، د فارسي ژبي د کلاسیکي رویې په پیروي یې پښتو اشعار هم هغه ډول جوړ کړي دي او د دې عصر په پښتو شاعرانو کي هم ځای نیولای سي. د ده د کلام نمونه دا ده :

(c) ketabton.com: The Digital Library

علم زده کړه ګوره جهل په کار نه دئ
که دي پلار دئ چې جاهل دئ په لار نه دئ
که بې علمه خبردار دئ بې خبر دئ
که هوښيار د زمانې دئ هوښيار نه دئ
که څوك سود غواړي د علم سودا ښه ده
په ګرمي د دې بازار بل بازار نه دئ
که سودا کړي دوکاندار د علم ګوره
با انصافه تر ده بل دوکاندار نه دئ
خوار هغه سي چې د علم نه غافل سي
چې د علم دولت مومي بيا خوار نه دئ
کافران ګوره په علم جهانګير سول
ما وتا لره دا ننګ او دا عار نه دئ
مړ ويده دواړه يو رنګ وي په غفلت کي
مړ يې بوله هر سړی چې بيدار نه دئ
تر غفلت پورته خونخواره بلا نسته
که زمری څوك خونخوار بولي خونخوار نه دئ
موافق د زمانې سره رفتار کړه
مخالف د زمانې ښه رفتار نه دئ
زمانه وي کله ګرمه کله سرده
تل تر تله په چمن کي بهار نه دئ
که فلك د غير په کام سو غمګين مه سه
په دې ژرنده همېشه د چا وار نه دئ
مستغني زه دي مين په خپل ګفتار کړم
ستا په شان ګفتار د هيچا ګفتار نه دئ
مستغني يم زما نوم عبدالعلي دئ
زه پښتون يم په بل قوم مي څه کار نه دئ
فارسي شعر مي مشهور دئ په جهان کي
په پښتو ژبه مي شعر شعار نه دئ

سراج الاخبار، څلورم کال، شپږمه شماره
عقرب ۱۲۹۳ هـ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

مولوي صالح محمد کندهاری

د دې زمانې له لیکوالو څخه چې په پښتو نثر یې د مکتب حبیبیه له پاره درسي کتابونه لیکلي او هم د پښتو لومړنی معلم و، مولوي صالح محمد کندهاری دئ، چې د پښتو د تحریک د لومړیو خدمت ګارانو څخه و او کله کله به یې شعر هم وایه، ده په پښتو مثنوي د مولوي بلخي له مشهوره دري مثنوي څخه په خورا خوږه پښتو ځیني داستانونه نظم کړي وه، چې په اوسني پښتو ادب کي ښه ارزښت لري.

مولوي صالح محمد کوښښ کړی دئ، چې د پښتو نثر خوږ او بې تکلفه ولیکي، نو دی لکه د پېښور مولوي احمدجان د افغانستان په لیکوالو کي د ساده نثر لیکلو پېشقدم سړی دئ، چې د مړک تر وخته پوري د پښتو په خدمت مشغول و، دلته د ده د نثر یوه نمونه راوړو :

همت

هر څوك چې په صدق او رشتیا و یو شي ته متوجه سي تر پایه یې رسولای سي او عاقل سړی له هر څه پند اخلي. یو نوی ځوان و، نظر یې پر میړي ولوېده چې د غنمو دانه یې په خوله کي اخیستې وه پر دېوال یې خټوله ځني ولوېده، راکښته سو وایې خیسته پورته یې کړه، بیا ځني ولوېده بیا راکښته سو وایې خیسته. الحاصل چې پنځلس شپاړس واره ځني ولوېده او اخر یې په خپل همت د مطلب و ځای ته ورسوله، ځوان په تعجب ورته کتل فکر واخیست چې میړی هم په خپل عزم او همت و مطلب ته ورسېد، نو انسان چې بهتر د مخلوقاتو دئ او هر څه کولای سي که په صدق و یو کار ته متوجه سي ایا وکمال ته به یې ونه رسوي، ټینګ عزم یې وکی د علم و تحصیل ته متوجه سو، په لږه موده یې ډېر علم حاصل کی، بلې ! که څوك په صدق متوجه سي هر څه کولای سي.

د مـــــــېړي همت ته ګـــــوره
عزم ټینګ کړه زما وروره !

بله نمونه :

"چې کري هغه به اخلي"

هلك په غره کي ناره وکړه هغسي آزانګه سوه، خیال یې سو، چې بل هلك دئ، بیا یې ناره کړه ته څوك یې دغسي آواز یې تر غوږ سو، یقین یې سو، چې بل هلك دئ. ښکنځل یې وکړه هغه خپل ښکنځل یې واورېده، وېرېدی او په ځغاسته پلار ته راغی ویل یې :

بابا په غره کي یو هلك ما ته ښکنځل وکړه، پلار کیفیت وپوښته، پوه سو ویل یې اې زویه ! که تا څه ویلي وای هغه به دي اورېدلي وای، ولي دي ښه ونه ویل.

نظم
که دي بد ویل و چـــا ته
خـــود به بد وایي و تا ته
که ښه وایې ښه به اوري
او که بد هـــــغه به اوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان عبدالغفار خان
او د پښتون مجله

کله چې په دنيا کې لومړنی جنګ په (۱۹۱٤) کې شروع سو نو په هندوستان کې د آزادۍ له پاره ډېر مؤثر حرکتونه ورسره پيدا سول. د هندوستان آزادي غوښتونکو خلکو د کانګرس او خلافت او مسلم ليګ په نومو سياسي ډلې جوړې کړې وې او په ټول هند کې مسلمانانو او هندوانو په ګډه د خپل استقلال له پاره سياسي شديده مبارزه په ډول ډول روانه کړې وه، په دغه سياسي حرکت کې د سرحد پښتنو هم پوره برخه لرله.

او لومړی پلا خان عبدالغفار خان او د ده ملګرو په پښتنو کې د اجتماعي اصلاح له پاره يوه ډله د "مجلس اصلاح الافاغنه" په نامه جوړه کړه، چې په پښتنو کې د اصلاح او اجتماعي سمون له پاره يې کوښښ کاوه او وروسته دغه ډله د يو سياسي ګوند په ډول تبديله سوه، چې نوم يې د خدايي خدمتګارانو ګوند و. دې سياسي ګوند د هندوستان د نورو سياسي ډلو په همکاري د آزادۍ په تحريک کې قوي لاس لاره او د سياسي فعاليتونو سره سره يې د پښتو ژبې خپرولو ته هم توجه وکړه. د خدايي خدمتګارانو رسمي ترجمان يوه پښتو مجله وه، چې د اتمانزو څخه په پښتو خپرېده. دې مجلې پښتو ادب ته ډېر ښه خدمتونه وکړل، په پښتو کې د ساده نثر ليکلو او د اصلاحي او سياسي شعر ليکلو ور يې پرانيست او ځينې اصلاحي ډرامې يې هم په پښتو ادب کې زياتې کړې. د دې مجلې په ليکلو کې په خپله خان عبدالغفارخان يو بهترين ساده ليکونکی او سياسي او اصلاحي ليکوال ګڼل کېږي، چې علاوه پر سياسي تاريخ د پښتو په ادبي تاريخ کې هم مهم ځای لري.

عبدالغفار خان د خپل نثر ليکلو اساس پر هغه معيار ايښی دئ په کوم چې پښتانه په خپلو دېرو او حجرو کې خبرې کوي. د عبدالغفار خان په نظر کې ليکنه او ادب فقط د خپل اصلي مقصد له پاره چې هغه د خلکو پوهول دي استعمالېږي او د ده د ليك مقصد صرف دا دئ، چې په خپل اصلاحي او سياسي فکر عالم خلك وپوهوي. نو ځکه دی تل په داسي ژبه ليکنه کوي چې په کومه ژبه دی په حجره کې د پښتنو سره ږغېږي، د ده نثر داسي ساده او روان او بې تکلفه دئ، چې هر پښتون ښه په پوهېدلای سي او هم د دغه سبك په تعقيب ډېر نور ليکوال راوتلي دي، چې نور پښتو اخبارونه او مجلې يې نشر کړي دي، لکه (ازاد پښتون) چې ميراحمدشاه نشراوه، يا د خيبر مجله چې د اسلاميه کالج څخه خپرېده، يا (سترې مه شې) مجله چې سيد راحت زاخيلي خپروله.

په پښتونستان کې چې تر اوسه پوري د نثر ليکلو طرز او ډول روان دئ هغه د عبدالغفار خان او د ده د ملګرو لکه ماسټر عبدالکريم مرحوم او قاضي عطاء الله خان مرحوم کړې لار طی کوي.

د عبدالغفار خان مسلسل مضمونونه چې د "زه په جيلخانه کې" تر عنوان لاندې خپرېدل ډېر خواږه او د واقعيت نګارۍ ښه مثالونه دي، دی شاعر او خيالپرست ليکوال نه دئ، مګر د اجتماع د ژوندانه واقعيتونه د يوه ريالیسټ په ډول په ساده ژبه ښه ليکلای سي او هر وخت ادب د ژوند له پاره استعمالوي.

د ده د نثر يوه نمونه دا ده :

اکثره خلك پوه دي مګر د حکومت داسي مدحه خوانان اوس هم شته چې انګرېزانو ته عادلان او رحم دلان وايي، زه د داسې ورونو د سترګو پرانستلو دپاره يوه تازه واقعه ليکم :

تقريباً دوې مياشتې به کېږي چې يوې سرکاري لارۍ چې په هغې کې د پوليسو کپتان د سپايانو او يوه تحصيلدار سره سپور و. دې لارۍ بالامانۍ سره زمور يوه پښتنه خور په ګاډۍ ووهله او في الحاله مړه شوه وائي چې د دغې لارۍ د ډرايور نه ډېرو خلکو اورېدلي دي، چې ويل ئې : ما خو لارۍ تېزه نه وهله مګر د پوليسو کپتان او تحصيلدار زه مجبور کړم او ده ويل چې تېز يې بيايه پروا مکوه که څوك تړې لاندې شي. په دغه وخت کې چې لارۍ زمور دغه مظلومه خور ووهله نو يو څو خدايي خدمتګاران راغلل او لارۍ يې ودروله او وې ويل صبر وکړئ چې د دې واقعې د تحقيق دپاره څو سرکاري افسران راشي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هسي نه چي دوی لاړ شي او سبا دغه ملزمان د دې نه انکار وکړي او بل چا ته بې ګناه ضرر ورسوي. نو دا صفا ظاهره خبره وه، چې د خدايي خدمتګارانو دا څه جرم نه و، داسي خو همېشه مورِ وينو چې چيرته لارې څوك ووهي نو لارې او د هغې سورلي تر هغه نشي تلای چې سرکاري افسر نه وي راغلی، مګر دلته د خدايي خدمتګارو او دوی ته د خدايي خدمتګارۍ نوم لويه ګناه وه. پدې وخت کې کمیشنر ته تليفون وشو هغه راغلی او د راتلو سره يې بې د پوښتني چې اصله واقعه څه ده څه مصيبت پېښ شوی دئ په خدايي خدمتګارانو سترګې راښکلې چې تاسي زما لارې ولي درولې ده، هغوی ورته په جواب کې وايي چې ته خو د لارې غم اخيستی يې مګر دلته زمورِ يوه بې قصوره خور د اجل ښکار شوه لاکن ډېټي کمیشنر ته زمورِ د خور مرګ څه ښکارېده دا خو څه فرنګۍ نه وه، چې د هغه زړه ته پرې څه صدمه رسېدلې وای دا خو يوه غريبه پښتنه وه نو که مړه شوه څه خبره ده.

مختصر دا چې د دغې مظلومي د مرګ الزام خو په هيڅا رانه غی البته دا قدر انصاف وشو، چې خدايي خدمتګار ته د قيد سزا ورکړه شوه.

ما ته ښه په ياد دي چې يو ځل په مردان کې د يو خان د موټر لاندي يوه بوډۍ اوکړه فرنګۍ راغله او مړه شوه نو هغه مقدمه لوی جج (قاضي) ته وړاندي شوه او تر هغه ځايه ورسېده او په اخر کې د ډېر تکليف او د زرګونو روپو د خرڅېدو نه علاوه د هغه خان څخه په زرګونو روپۍ د هغې فرنګۍ د مرګ معاوضه واخيستله شوه. نو هغه وخت خان خلاص شو، حال دا چې هغه فرنګۍ دکټوالي په سبب مړه شوې وه او دلته خو د يوې پښتنې وينې بربادي توی شوې او د هغې چې چا همدردي کوله نو هغوی ته بې قصور و تشريفاتو د قيد سزا ورکول شوه دا دئ د غلامۍ او آزادۍ فرق.

فخر افغان د پښتون مجلې څخه

قاضي عطاء الله خان

د عبدالغفار خان د سياسي حرکت يو تکړه ملګری قاضي عطاء الله خان و، دی د مردان د يوې درنې کورنۍ څخه د سياست ميدان ته راوتلی او د پښتنو په علمي حرکت کي هم د ډېرې برخي خاوند و، قاضي عطاء الله خان د (۱۹۰۰ م) کال په شاوخوا کي د قانون درس تمام کړ او د وکالت پېشه ئې لرله، مګر د فخر افغان په سياسي ډله کي هم د يو غښتلي کارکن په حيث شامل و او کله چې لومړی پلا په سرحد کي سرخ پوشانو انتخابات وګټل نو ډاکټر خان لومړی کابينه جوړه کړه، په دې کابينه کي عطاء الله وزير معارف و، ده د خپل وزارت په دوره کي دوه مهم کارونه وکړل :

اول دا چې په ټول سرحد کي يې ابتدايي مکتبونه پرانيستل.

دوهم دا وه چې د پښتو ژبه يې په ابتدايي تعليم کي داخله کړه او درسي کتابونه يې ورته جوړ کړل.

د قاضي عطاء الله خان د عمر ډېره برخه په سياسي جد و جهد کي تېره سوې او د انګرېزانو حکومت په وارو وارو دی محبوس کړی و، مګر د ده د حبس دوره تر سياسي جد و جهد لا ډېره مهمه وه، ځيني بنديان وي چې په بنديخانو کي لمونځونه کوي او يا قرآن يادوي دا خو به د هغه بندي شخص له پاره ښه وي، مګر قاضي عطاء الله خان په بنديخانه کي هم يو لوی اجتماعي خدمت کړی دئ، ده له انګرېزي مهموکتابو څخه يو د پښتنو تاريخ په څلور جلده کي ليکلی دئ، چې په پښتو تأليفاتو کي لومړۍ درجه لري، داکتاب دوې لويې ښپګنې لري : اول دا چې ژبه يې روانه او خوږه او عام فهمه مګر د ادب پر اصولو برابره پښتو ده. دوهم دا چې دکتاب موضوع هم د تاريخ ليکلو پر عصري معيار برابره ده، يعني دی له ځانه تاريخ نه جوړوي، بلکي د مستندو کتابو په حواله خبري کوي، د پښتنو مفاخر او د پښتونوالي ښپګنې په ښه ډول په دې تاريخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي ساتي، نو دی که له يوې خوا د عصري علومو سره اشنا محقق او مؤرخ دئ له بلي خوا پښتون هم دئ نو ځکه د ده تاريخ د پښتنو په دنيا کي ډېر ارزښت لري، ژبه يې داسي روانه او خوږه ده چې فارسي زبانان هم له هغې څخه ښه استفاده کولای سي او دا يګانه کتاب دئ، چې د فارسي وانانو په کورنيو کي لوستل کېږي اوس به د دې کتاب څخه يو څو کرښې د نمونې په ډول رانقل کړو:

"د دوست محمد خان د قيد په ايامو کي انګرېزي حکومت په هغه باندي د خپل فوځي او مالي طاقت او د انتظامي جاه و جلال د رعب اچولو په غرض هغه ته په کلکته کي خپلې ټولې جنګي او صنعتي کارخانې، جنګي نندارې، جهازونه، اسلحه خانې، فوځي پرېډونه، توپخانې وښودل هر کله چې هغه د هندوستان انګرېزي عدالتونه، محکمه، بلديات او دفترونه، د پوليسو انتظام او د امن و امان واقعات او حالات وليدل نو د هغه په زړه کي رښتيا د فرنګيانو د قوم يو لوی رعب او هيبت او خوف کيناستو او د خپل قوم د خلکو نه يې يوګونه په زړه کي حقارت پيدا شو، تر اوسه پوري د پرنګيانو پوليټکل ايجنټان (سياسي نماينده) په دې پاليسي باندي پابند دي او خودمختاره علاقو نه چې کومي د هغوی د لاندي دي د هغه ځای لوی لوی واليان، رياست، ملکان او خانان ښکته ملکونو ته بيايي چې پر هغوی باندي د خپل حکومت د زور او طاقت او د څه انتظام رعب او دبدبه کينوي، هغوی د خپل فوځونو پرېډونو تماشې ته د توپ او ټوپکونو او د کارتوسو جوړولو کارخانې ته بيايي او د دې غرض دا وي چې د هغوی په زړونو کي د فرنګيانو دومره وېره کينې، چې بيا هغوی د مقابلې او د مخالفت خيال هم په زړه کي رانه ولي.

څه وخت چې دوست محمد خان کابل ته واپس راغلو، نو هغه به د خپل قوم د مشرانو په مخکي هم کله دا شان خبري وکړې چې د هغه نه به دا معلومېده چې هغه ته د خپل قوم تهذيب، استوګنه او اخلاق د پرنګيانو په مقابله کي ډېر لاندي ښکاري. هغه به په دې سلسله کي د پرنګيانو د طريقه زندګي ښه او د خپل قوم د ټولو عادتونو بد ويل، ورو ورو د افغانستان په ټولو خودمختاره قبايلو کي دا خيال پيدا شو، چې د دوست محمد خان په زړه کي د هغه د قيد په سبب د پرنګيانو رعب ناست دئ او ځکه هغه په هره موقع کي د هغوی مدحه وايي، مګر د دې په مقابلې کي چونکه دې قبايلو انګرېزي فوځونو سره ډېري مقابلې کړي وې او په جنګونو کي يې هغو له شکستونه ورکړي وو نو د هغوی په زړونو کي د پرنګيانو خلاف نفرت او حقارت پروت و، له دې کبله د دوست محمد خان دا قسم خبري به په هغوی باندي بالکل ښې نه لګېدې او هغوی ورو ورو په دې سبب هغه ته سپک کتل شروع کړل، اکبر خان هم د نورو عامو پښتنو په شان د انګرېزانو نه متنفر و او په دې خبره کي د هغه او د هغه د پلار په رايه کي ډېر اختلاف و، هغه به دا ويل چې اګر که پرنګيان د جنګ او د حکومت په انتظامي امورو کي ډېر ښه ماهران دي مګر هغوی د نورو ملکونو آزادي په زور باندي سلب کوي او د هر چا په زړه کي د خپل رعب او خوف کينولو کوښښ کوي، په دواړو کي د دې اختلاف راى نتيجه دا شوه، چې هر کله دوست محمد پرنګيانو سره په هر حالت د دوستۍ او د مصالحت تعلقات اوسېدل غوښتل نو د اکبر خان دا منشا وه، چې هغوی سره په هر حالت دوستي ساتل او په هغوی باندي په قومي معاملاتو کي پوره اعتماد کول د پښتون قوم تباه کول دي. په دې راى کي محمداکبر خان په حقيقت کي د ټول قوم د راى ترجماني کوله او هم دغه وجه وه، چې د خپل پلار په مقابله کي هم هغه ته د اولس په خلکو کي زياته هر دل عزيزي حاصله وه او د هغه په خبره باندي به خلکو په نسبت د دوست محمد خان زيات غوږ ايښوده. د محمداکبر خان په زړه کي دا شك پای ته رسېدلی و، چې پرنګيان به يو ځل بيا په افغانستان کي د خپل اقتدار د قايمولو کوشش کوي ځکه چې د هندوستان انګرېزي مقبوضاتو ته د روس د سرحد رانزدې کېدل هغوی په هيڅ شان نه شو برداشت کولای او په دې کوشش کي همېشه شپه او روځ مصروف وو، چې د روس ټول ګاونډي حکومتونه دې زير اثر وي. پس اکبرخان هغه وخت په دې کوشش لګيا شو، چې هم د قوم او هم د فوځ په سپايانو کي دا خيال پيدا کړم چې د پښتنو د آزادۍ د برقرار ساتلو دپاره دا ضروري ده، چې په يوه مناسبه موقع کي د انګرېزانو دا شان زور مات کړی شي، چې هغوی بيا په افغانستان باندي د فوځي پېش قدمۍ خيال پرېږدي".

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماسټر عبدالکریم

د پښتور د سیمې په سیاسي بیداري کې د خدایي خدمتګارانو له ډلې څخه د ماسټر عبدالکریم سیاسي او ادبي شخصیت هم د هېرولو نه دئ.
نوموړی د چارسدې په اتمانزوکي په (۱۹۰۸ م) کال زېږېدلی او د پلار نوم یې منتظرخان و، په (۱۹۳۰ م) د ډهلي په جامعه میلیه کې خپل تحصیل پای ته ورساوه او په اتمانزوکي د آزاد سکول سرمعلم سو، د ده ژوند د یوه معلم په ډول شروع سو خو دی یوازې معلم نه و، بلکې یو سرګرم سیاسي سړی هم و.
د آزادۍ په جنګ کې لومړی سپاهی او د سیاسي لیکوالو په ډله کې هم پېښقدم و، او په وارو وارو په خپلو سیاسي فعالیتونو کې محبس ته تللی او عمرونه یې په قید کې تېرکړي وه، څو چې په پای کې په همدغو بندیخانو کې مریض سو او له دغو ناجوړیو څخه د ځوانۍ په عمر تر دنیا تېر سو.
ماسټرکریم د پښتون مجلې د ننني دنیا تر عنوان لاندې ډېرې سیاسي مقالې لیکلې دي، دی یو سیاسي او اجتماعي لیکوال په دې معنی ګڼل سوی چې په خپله هم تر مرګه پورې یو رښتینی د اجتماع خدمتګار او سیاسي سړی و. د ماسټر د نثرونو یوه مجموعه چې "ځولۍ ګلونه" نومېږي په (۱۹۵۷ م) کې له پېښوره نشر سوې او د ده د نثر ښېګڼې دا دي :
دا چې سادګي لري، یعني په داسي ډول خپل مطلب لیکي، چې عام خلك په وپوهېږي او په نثرکي یې ډېر لږ د نورو تاثیر ښکاري او سړی داسي ګومان کوي، چې د چارسدې په بازارکي دوه پښتانه خبري کوي.
د ماسټر نثر د پردیو ژبو نامانوس لغات نه لري او د عربي یا فارسي یا اردو هغه لغتونه استعمالوي، چې په پښتو کې رواج لري.

د ماسټرکریم د نثر نمونې :

بې ګناه

داسي خو چې به څوك د جېل په تورو تنبو را دننه شو ما به ترېنه تپوس اوکړو، چې دا په څه، نو ویل به یې خدای شته اول به وې چې نه خبر نه اتر خالص په دښمني راسره شوي دي، ولي په نوروز غریب خو ډېر زیاتی شوی و، تش په دریو مړوکي پوره لس کاله راغلی و او مړي یې هم خپل مړي وو، یو مړی یې سکه د تره ځوی و او خور چې غله کاسره نه وي نو هم څوك وژني او ماشوم خوریي له به څنګه د چا لاس ورشي، پښتانه هسي بخت بد نام خلق دي، بادام کاکا څه د واره د لاسه مړ شو، چې بس اوس به خلق نور څه نه کوي. خو تره، تربور به وژني، تربور خو سړیه د سړي متې دي په غم ښادي کې ورته همه جا ولاړ وي.
نوروزګورئ ډېر قابل سړی و، د مزکي نه یې ځان خلاص کړی وګني په زمینداري د نوروز نه څوك ښه نه پوهېدل او ولي جایداد څه د خپلې حیا نه ګران دئ څه؟ چې خلقو به په جواري کي شرمولو نو خود به یې مزکه خرڅوله او چرس؟ دا خو د سړي غم غلطوي او چې سړی خدای په چرسو راواړوي شېږ اته چیلمه د ورځي وهي اوکارکسب نه کوي. نو اخر دا پیسې به دکومه راځي، د چا کورکي څه د روپو مشین خو نه وي لګېدلی، چې بس روپۍ دي چې جوړېږي به، او چې خدای د سړي په کمي شي نو خود به ځان دګورکفن نه خلاصوي د پلار نیکه هډوکي به خرڅوي او پوکلی برغی به ګرزي.
د نوروز د تره ځوی ښه په معاش مزوکي ګرزېدو شپېته منه جوار، څلوېښت منه غنم، شل څټې ګوړه به یې اوچته کېده، ښځه یې هم د خپل کاکا لور د نوروز خور وه، نه پخپله چښېرخوره وه او نه یې خاوند بې ځایه خرڅ ته پرېښودو، دوه درې لنګي به یې هر وخت په اخور ولاړي وې، که ډېر غوړي، ډېر بسیار پیو مستوکي به یې غړغړې کولې، ژرنده، جوړه، روپۍ، کالي هر څه سل سل وو، نوروز چې خدای څه وخت په لعنت کړو نو ده به پکښې هم کله ناکله د وسه وهله خو چې یوه ورځ یې د ماشوم خوریي د غاړې اوړې کوزه کړه او په جواري کي یې پرېښوده نو د تره ځوی ي بهر په هوجره کي راګیر کړو، حیا یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترښه ټوله کړه، ګرېوان يې ترښه کوز واچولو او ورته يې ووې، چې په کوڅه مي رانه شې.

وايي د جواري ډېر بد تا و وي او لا چې سړی په هوجره جماعت کي د خلقو مخکښې ملامته شي او بيا د خپل تره، تربور د لاسه نو راشه که يې ګوري. شپه له د چم ګاونډ د خلقو ډزي د غوږه شوې او چې صبا شو نو نوروز ږيره په موټو ويسته وئيلې چې ورور، خور او ماشوم خوريې مي بېګاه چا ظالمانو اوويشتل د نوروز د تره ځوی يو بې ازاره غوندي بنيادم و د چا ملاسته غوا يې پاسولې نه وه. د کلي په پروجنبو خو هډو د سره پوهېدو نا، بس د مزکي يو غويې و او لکه د جهانګير شادولا کاکا دی يې يو خپل کور پېژندو او بل خپل پټی، نو د مړګ ورسره د چا څه و، جنازې اوچتې شوې، مړي سنبال شوو، نوروز په زړه کي پټ پټ خاندل وئيلې ماموته ! بيا دي موته څه لوی فضل دربانديِ خدای اوکړو ښايسته ډک په ډک کور درته سره د شپېته جريبه مزکي پاتي شو، بې د خدايه او بې د نوروز نه نور د مړو غريبانانو څوک وو؟ ته راځه څه راځه نوروز ته لاس نيوه کوه، نوروز خان د مشرۍ په ځای ناست هر چا سره به يې د خبري دنبال رانيوو، چې خدای دې اوبښي او ښلي به يې وي په غريبانو ډېر لوی ظلم شوی دئ سخات اووته، خيرات ورکړی شو فقير فقرا خپله برخه هم يوړه، شپې له نوروز د ماښام پولاو ورکړ غوږې يې لکه د اوبو اوبهول پر دې غوږ هسي هم لکه د ټکوري شليږي او چې داسي بې کړاوه چا ته پاتي شي نو هغه يې په قدر څه پوهېږي، زر خو په هغو خلقو ګران وي چې ګټلې يې پخپل ځان وي او چې د ملا صاحب د څنګلونو نه غوږې اوبهېدل نو د بيلمازه غلچکي او جوارګر نوروز نه ښه سړی په کلي کي بل چرته و؟

څوکيدار لاړ تانې کي رپوټ اوشو څه د دېوالې د سر څپياکه خو نه وه د رب العلمين روغ درې تنه اشرف المخلوقات مړه شوي وو غونډ ربوبيت خدای خبر چې څومره موده لګيا وو دې خړي مزکي او دې شين اسمان نه،پوهېږم چې څومره سنبالي کړي وو، نوروز څه خبر وو چې د يو پليت مطلب دپاره ده څومره لويه ګناه کړې وه، خو رښتيا چې پټ غل باچا وي د شپې مړګ و د موقعې ګواه شاهد هم نه و، بل نوروز له څه لږ مال خو په ګوتو نه وو ورغلی. شپه په شپه په تانې تحصيل د "سپين ږيرو" جرګې اوګرزېدلې، مقدمه خو افسرانو ډېره اوزنګوله خو اوښ چا چرته په بډه وهلی شو، نوروز جرګه شو، په دويم ګذار بيا په جرګتيانو د "سپين ږيرو" جرګې اوشوې او نوروز په دريو مړو کي ايله لس کاله قيد شو، دی لا په دې هم خفه و، وئيلې خپل مړي مي وو، د بل چا راسره څه کار وو، ګوتي يې مروړلې، وئيلې که زه خبر وی چې د مسلم ليګ باچايي را روانه ده نو لږ وار به مي کړی و، د تره ځوی به مي نور حساب هم جمع کړی وو، څوک شمس الحق به مي چا قيوم له کتلي وو، نو سپين باز به ګرزېدم. د مسلم ليګ په حکومت کښې به مي په مقدمو دومره ډېر څه لګېدلي هم نه وو، تانې ببل سپين کړم، قچرو کي خو خلق په لږ څه نه رضا کيږي او جرګتيان خو د سړي نه سمه څرمن وباسي، اوس خو د خدای ∘ فضل دئ، د مسلم ليګ حکومت خو ځمونږ خپل حکومت دئ، غونډ د محمد ۲ کليمه ګو يو، غټ افسر وي او په لږ څه رضا شي، دا يو نيم بدنيته هسي د مسلم ليګ بد غواړي.

نوروز کال نيم په جبل کي ډغري اوخوړې خو ډېر ژر پرې د جبل افسران مهربانه کړل، ټيمکی غوږې، بورۍ نيمه اوړه، شپږ اته چرګان به په بهر دنيا د چا د نظره څه راځي، ناولي په جبل دننه ډېر لوی برکت دئ. ورانه په هغه چا شي چې په جبل دننه شي او د ملاقات درک يې نه لګي د جبل په ژبه کي د قيدي ليدو ته ملاقات نه وايي، ملاقات هغه وي چې د قيدي خپلوان د جبل د چاوړوکي لوی افسر سره د هغه په کور کي درنه ځولې او ډکه منګل ووينې. کال چې تېرېده نو نوروز د جبل وړوکی، لوی افسر هر يوه ته ځان ښودلی وو، نوروز د اسپتال په لنګر کي د لنګريانو مشر (چارجي) لګېدلی وو، او ښه دروند پړ يې هم چلېدو، په جبل دننه د اوښيار سړي خود ډېر ژر سر له راشي، او پنځه واړه بيا پخپله خوله نه ورمنډې، دی پوه شي چې د جبل دا تنګه تُرشه دنيا يوائي د ده نه ده، دې کښې ورسره د شين پوښ نه واخله تر صاحب بهادره پوري ټول شريک وي، نوروز به ټولو افسرانو ته خپله خپله نصيبه ور رسوله، په جبل دننه سړی ځان له هم ښه ګلدار شي، د جبل نه بهر چې کوم څېزونه ستا دپاره روا وي، هغه په جبل دننه ناروا شي، دلته خو هر څه بُرو خو عادت نه برو، نوکه بهر چا په خطا هم غلا نه وي کړې په جبل دننه به يې بې د غلا نه ګذاره چرته کيږي ځکه چې د کلونو عادتونه خو به ارو مرو پوره کول غواړي، نو خود به يې په غلا پوره کوي، بس په لږه موده کي د سړي نه پوخ غل جوړ شي نن سبا ځيني ډېر سم خلق څه د کلي د پروجنبو او څه د حاکمانو د ښه انتظام د لاسه په ناچاري جبل ته لاړ شي ولي ځار شم په جبل دننه د افسرانو د ډېر ښکلي بندوبست نه چې د سم دم سړي نه مکمل بدمعاش جوړ کړي او چې بهر راځي نو په ځای د دې چې څه سړيتوب يې زده

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړی وي په کلي اولس کي د خدای د مخلوق دپاره یو لوی افت جوړ شوی وي او چي د نوروز غوندي حلالي جېل ته لاړ شي نو د هغه نه خو څه سم شی جوړ شي، ځکه خو د نوروز د پړ سره سره د چرسو او اپیمو ښه غرق دوکان هم چلېدو.
خبره دا ده چي دنیا کور په بهر د شته مندو ده، نوروز له خدای په بدو کي ښخ کړي وه هر ځای به ئې بې کړاوه د سوك د سره مونده خو دا وه چي هر چا ته به یې لاس سوري ساتلو، کال نیم د جېل معافي کال دوه د پاکستان معافي او ډېره د جېل د افسرانو مهرباني، نوروز چي په جېل زړه کېښوده نو قید یې خلاص و، د مړو لا د چا په شان د تختې اوبه هم نه وې اوچي شوي چي "بې ګناه" نوروز د خپل ښه ځلمیتوب په برکت پوره په دریو مړیو کي ایله پنځه کاله پس کور ته راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغانستان کي
د سياسي شعر نمونه

دمخه مو وويل چي د لومړي جنګ په وخت کي د سراج الاخبار او د اخوان افغان د ډلي په واسطه د افغانستان د کامل استقلال تحريك په پښتو ادب کي هم ښکاره سو او له همدغه وخته په پښتو شاعري کي اصلاحي او سياسي افکار داخل سوه. له هغو اشعارو څخه د مرحوم مولوي صالح محمد قندهاري يو شعر دئ، چي د بلبل ژړا نومړي.
دا سړی چي دمخه يې د پښتو په نثر کي د خدمتونو بيان وسو د فيض محمد زوی په قوم هوتك او په (۱۳۰۷ هـ ق) د کندهار په ښار کي زېږېدلی او په (۱۳۳۹ هـ ش) کال په کابل کي وفات سوی دئ. دې سړي لکه د پښتو د نثر درسي کتابونه چي تأليف کړي وو ښه او روان شعرونه يې هم ويلي دي.
دی په (۱۲۹۹ هـ ش) کال د طلوع افغان د جريدې مؤسس او په کابل او کندهار کي د ابتدايي مکتبونو لومړنی مدير و، کله چي په کابل کي په افغاني ځوانانو کي د استقلال د ګټلو فکر خپور سو نو د هغه وخت حکومت د خپلو منافعو له پاره دا نه غوښته، چي د انګرېزانو له سياسي تسلط څخه ځان وژغوري، مګر په خلکو کي د خپلي آزادۍ له پاره تاوده جذبات موجود وو، په هغه وخت کي افغانستان فقط يو اخبار درلود او هغه هم د حکومت تر سخت سانسور لاندي و، نو هيڅا داسي نه سوای کولای چي په ښکاره د استقلال غوښتنه وکړي.
مولوي صالح محمد د ملت دغه د زړه خواهش او آرزو په يوه منظومه کي په سمبوليك ډول نظم کړه، چي د يو ګرفتار بلبل له خولې يې د آزادۍ له پاره د ده د زړه هيلي تصوير کړلې او هم دغه موضوع په فارسي کي ښاغلي داوي هم نظم کړې او نشر کړې وه.
دغه دوې منظومې په پښتو او فارسي په سراج الاخبار کي خپرې سوې او په هغه وخت کي يې اثر دوني و، چي په کندهار کي به ښځو هم لوستلې او د انګرېزي استعمار پر کار يې هم دوني اثر کړی و، چي د هغه وخت حکومت يې له دغسي نشرياتو څخه منع کی او کله چي په سراج الاخبار کي يوه سرمقاله د حی علی الفلاح تر عنوان لاندي د افغانستان د کامل استقلال په غوښتنه کي نشرېده نو امير حبيب الله خان هغه مقاله سانسور کړه او د سراج الاخبار مدير يې تهديد کی، د مولوي صالح محمد دغه تاريخي منظومه په دې ډول ده :

يو سحر زما تر غوږ سوله بلبله چي بندي سوم د صياد له سخته دله		چي قفس کي يې ژړل دا يې ويله ولي نه پوښتي څوك حال زما يو له بله

ولي نسته بې فغانه کار و بار زما ولي حبس ابدي راغی په وار زما

نه محرم چي د زړه حال ورته بيان کم نه ملګری چي چمن ته يې روان کم		نه مي وس چي خبرداره بلبلان کم بيا بيان ورته د ګل و د ريحان کم

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل ډك زړه د ارمانو ورته خالي كم
ټول مرغان د چمنو په ځان حالي كم

چا ته وژارم پر چا باندي فريادكم چا ته وګورم په څه شي زړګی ښادكم		چا ته خاوري پر خپل سر باندي باد بادكم د صياد له لاسه چا ته عرض و دادكم

څه راوسوه چې د تور فقس بندي سوم
نه خلاصيږم په دا بندكي ابدي سوم

ولي زه له خپله سيله راجلا سوم ولي زه په وير اخته په واويلا سوم		ولي زه له خپل وطنه راجدا سوم كور وكلی مي سو پاته خوار تنها سوم

كم ظالم كړمه بندي خدای دې بندي كي
خدای دې زما غوندي اخته په جدايي كي

اوس به زه لكه ها نور په هوا تلمه پر غنچو به دګلانو مسېدمه		په هوس د آزادۍ به بالېدمه روځ په روځ به غوړېدمه لويېدمه

چا بندي كړم خدايه تې په ځان اخته كې
په قفس كې د زندان جګرسوخته كې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس به ګرزېدم آزاد په چمنوکي ښه به ګرزېدم خوشحال په شګوفوکي		الوتم به په صحرا او په باغوکي ولي اوس يم په غمو په اندېښنوکي

چي بندي دي د قفس کړمه صياده
خدای دي ما غوندي بندي کړه اې آزاده

الغرض چي ده وهلې دا نارې چي ناګه د چمن باد راغی دکښې		د قفس له لاسه و په غلبلې چي پر ونښت دا يې وواته له خولې

مګر دا باد د وطن د خوا راغلی
چي زما صبر و آرام يې راڅخه وړی

يو ساعت متفکر و حيران پاته چي بيا باد د چمن راغی د ده خوا ته		نه يې شکر و شکايت کاوه و چا ته اه يې وکيښ عرض يې وکی خپل مولا ته

لکه زه هسي بندي سې اې صياده!
د وطن په جدايي سې اې صياده!

زه چي فخر د چمن زېب د بوستان وم د باغو د ښو باغچو روح روان وم		نغمه خوان د خپلي ځالي او اشيان وم د سروګلو پر ښاخو به نغمه خوان وم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پولادو په پنجه کي دي بندي کړم
د هر کس و د ناکس دي ریشخندي کړم

زه به تل د باغ پر سر ښه په هوا وم د ګلانو پر سرو به په خندا وم		ښاخ پر ښاخ به بیا په څه ناز و ادا وم په ځالۍ کي به وم ناست یا په صحرا وم

نه بندي وم د قفس نه مي هیڅ غم و
نه مي اوښکي بهېدې نه مي ماتم و

چي سحر به زه له ځالي په هوا سوم چي له پورته به پرګل باندي راتا سوم		په ګلشن کي به د عشق نغمه سرا سوم و سمن و یاسمین ته به ګویا سوم

آیا څوك لري دا عیش و عشرت نن زما
چي ندیم مي ګل خانه ده په چمن زما

د نرګس او شګوفو ګرم بازار دئ په چمن کي د بلبلو چورهار دئ		هغه ګل هغه پسرلی هغه بهار دئ د طوطیانو په ګلشن کي چغهار دئ

پرګلانو الوته کا په خندا
زه بندي یم د قفس او په ژړا

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه ژر مي خلاصوې له دې زندانه بیا مي ورسوې ژر تر خپل بوستانه		زړه مي ډك دئ سره چوي له ارمانه نور مي مه پرپردې په دې ځای کي سبحانه

که دي زه یمه قفس ته پیدا کړی بیا وزر دي ولي ما ته دئ راکړی

څو تر څو به یم په دې جوروستم کي څو تر څو به په ژړا یم او په غم کي		څو تر څو به یم په اه و په الم کي څو تر څو به یم دا رنګه په ماتم کي

چي امید مي د خلاصی نسته هیڅکله نو بهتر دئ مړګ تر دې ژوند یو په سله

بیا نو چپ سو یو ساعت په تامل سو بیا یې ناري کړه همرازه د سورګل سو		زما خیال سو چي د غم متحمل سو ویل اه چي د صیاد لا تغافل سو

ځان که مړ چي له ذلته نجات مومې په ګوښه کي د عدم به حیات مومې

که څه نه دئ ښه و ماته په دا شان مړګ خو د ژوند له پاره ښه دئ ناګهان مړګ		ولي ځوان یم او د ځوان وي د ارمان مړګ په هزار ځله بهتر دئ تر زندان مړګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دا هر سهار خپل مرګ په قفس وینم
ولې نه مرم چې به بیا زه قفس وینم

په حسرت او په افسوس یې دا ویله د قفس و دروازو ته یې ځغستله		وګلشن ته یې کتل بیا یې ژړله لار یې نه وه وزرونې سرپوله

په هـــــــوا سو سر یې ونښت له قـــــــفسه
ویني توی سوې سوړ پوړ ولوېد له هوسه

سر تر پایه په سرو وینو کې غرقاب و یا ببهونبه یا پر هونښ په اضطراب و		ځان بایللی زړه زخمي حال یې خراب و چې پر هونښ به سوګویا په دا اسباب و

سر مې بایلو په هوا د آزادیٔ
شکر شکر سوم فدا د آزادیٔ

یا
په هـــــــوا د آزادیٔ مې وزر پرې ســـــو
شکر شکر آزاد سوم که مې سر پرې سو
یا
نبه چې زه د آزادیٔ په هوا مړ سوم
نه چې پاته په ذلت د ټولو پرې ســوم

صالح محمد، اومه د دریمي خور، سنه ۱۳۳۵
صفحه ٦، شماره ۲۰، سال ٦، سراج الاخبار افغانیه،
۲ جوزا، ۱۲۹٦ ش، ۲۳ می ۱۹۱۷ م

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخلص کندهاری

حاجي ولي محمد مخلص د (۱۲٦۰ ش) کال په حدودوکي د کندهار په ښارکي زېږېدلی او مروج علمونه يې همدلته لوستي او بيا په سياحت د هندوستان او عربو په منطقوکي ګرزېدلی و. په (۱۳۲۰ ش) کال د (٦۰) کالو په عمر په کندهارکي وفات سوی دئ.

نوموړی علاوه پر پښتو او فارسي په عربي او اردو او انګرېزي ژبو هم پوهېدی، مخلص يو فکور او نقاد سړی و، د پښتو اشعارو دېوان يې تر (۳۰۰۰) بيتو رسېږي، غزل، رباعي، مخمس او د شعر نور اقسام لري، مخلص د پښتو په نوي ادبي حرکت کي لويه برخه لري، دی شاعر و په حقيقي ډول د زمانې ترجمان او عالم او ليکوال او نقاد و، ظريف سړی و او بالآخره مخلص و.

د مخلص نقاده او هم ظريفه طبعه مشهوره وه، په کندهارکي خپلو ښاريانو د يوه دوست او رهنما په ډول پېژانده.

د خلکو سره خواخوږی ملګری و، هر ځای او هري طبقې دی په درنه سترګه ليدی، په ادبي جرګوکي صدرنشين و، د عوامو په مېلو او دېروکي محبوب و، خوږې خبري او د ظرافت ويناوې هر چا خوښولې.

په اجتماعي او علمي خلکوکې خپل شخصيت ښووی، د موسيقۍ سره يې مينه درلوده اوکله کله به يې خپل خواږه شعرونه د موزيک په پردوکي ږغول، فصيحه او بليغه وينا يې درلوده. د دين او اجتماع په اسرارو خبر و، د عصر او تمدن د ښېګڼو مبلغ و، د اسلافو زاړه مآريث يې د قدر په سترګه ليدل. مخلص (۳۰) کاله پخوا په پښتو ادبکي د انتقاد روح پيدا کړ، دی طبعاً د ظالم او اجتماعي ناوړو مخالف و، د خلکو خواخوږی و او پخپل ادبکي د اداري فساد او عنعنوي ناوړو پر خلاف يې تکړه جهاد شروع کړ.

د رشوت خور او ظالمانو دښمن و، د اجتماعي بې عدالتيو او پرسېدلي ثروت پرده ځيرونکی و او د بدو عنعنو او رواجونو سخت مخالف و.

د مخلص شعر د دغو اجتماعي ناوړو په مخکي يو د اجتجاج آواز و او د خورمن او خواخوږي زړه د يو شريف احساس ترجماني وه. خو دغه تند احتجاج د خلوص او ورورګلوۍ او همدردۍ سره ملګری و، دی وايي :

اې زما زړه ته راتېر وروره پښتونه!
ولي پروت يې په غفلتکي سرنګونه!
په کار نه دي دا اوږده درانه خوبونه
پاڅه ويښ سه په همت وکړه کارونه!

کـــــــــړه ودانه د وطن خـــــــرابه خونه

ته پخپل وطنکي خپل يې پردی نه يې
د سر سترګي يې د پښو مو اغزی نه يې
په خدمت د قوم بادار يې مريی نه يې
اوکه نه مور ږغ کوو چې سړی نه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راسه چـــيري ځې خالي کوټ او پتلونه

که خاين او نفس پرسته رشوت خور يې
يا آزار کوې رضا په شر و شور يې
يوه ورځ به شرمنده ولاړ مخ تور يې
يا به پاته وي دنيا ته به په ګور يې

ډېروه يې خدای دي خسف که قارونه

د مخلص شعر د عصر هنداره ده، او په هغو واقعيتونو اړه لري، چې روزمره د خلکو په ژوندانه کي ليدل کيږي، د ده له نقاد نظره جزئيات هم نه پټيږي او د پښتنو هغه لوړي خبري چې بالآخره غرور ته رسيږي په سخته ژبه انتقادوي او دوی خپل اوسني کښته والي ته ملتفت کوي :

اې پښتونه پروت يې ناخبر پر څه
هسي ګرځې بې پروا اوتر پر څه
يوه ورځ تر بله سوې بدتر پر څه
لکه وچه ونه بې ثمر پر څه

بې حاصله وايې فـــــــــيل او غـــــــر پر څه

په دغو اصلاحي انتقادو کي حتی هغو اوضاعو ته هم ګوته نيسي، چې خلك په بازارو کي د ترافيکي قوانيو مراعات نه کوي او د خطرناکو ګاډيو په مخ کي ځغلي راځغلي :

چې لس کاله يې دروښوده عاقله
چې پر لار سم ځه له دې مه سه غافله
هدايت د حکومت ولاړ بې حاصله
د پوليس نوکان دي وايسته جاهله

ته لا دروميې پـــــــر لار لـــــر و بر پر څـــــــــه

مخلص په آزادو پښو ژوند تېراوه، کله نجاري، کله سوداګري او کله دوکاندار و، او کله به په وړه سوداګري په کلو کي ګرزېدی هم به يې حلاله روزي ګټله او هم به يې کليوالو ته د ژوندانه لاري چاري ښوولې او د حکومت مامورين او کارداران به يې د خلکو خدمت ته رابلل او د بدو اعمالو نتايجو ته به يې په دې ژبه ملتفت کول :

له حسده که ولاړ سې څوك زهير کړې
غريب سړی په خاورو کي خميرکړې
يا نسبت چا ته په لفظ د تصغيرکړې
مور دي څه کوو لالا ځان به تحقيرکړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوار بنده يې ځان دي جوړ کړ اسمان ولي؟

د بد تخم ښه حاصل نه اخيستل کيږي
مکافات د عمل هر چا ته رسيږي
نن که ظلم پر مظلوم وکړې تېريږي
نتيجه يې آخرت ته پاته کيږي

شرموې ځان د رشـــــــــتيا پر ميدان ولي؟

د عيال رازق دي خدای دئ بې همته!
راسه تېر سه د مردار منحوس رشوته!
ته بې واخلې بل يې وخوري بې محنته!
د قيامت جواب پر تا دئ بې غيرته !

خـــــــرځـــــــــــوې د بل دپاره ايمان ولي؟

مخلص ډېر دغسي مخمسونه او مسدسونه لري، چې ټول اصلاحي او انتقادي دي، مګر د ده په شعرکي په سوو مردف ځلوريځ شعرونه ډېر درانه او خواږه دي هره ځلوريځه يې يوه ښېله اجتماعي او اخلاقي موضوع ده، چې ټول په ژوندانه او اجتماعي حالاتو اړه لري، چې مثالونه يې دا دي :

د نفاق نتيجه :

هغه قـــــوم به تل اخـــــــته وي په بد رنځ
چې نفاق توره بلا يې وي تر مـــــــــــــنځ
سره غـــونډ د سر وېښـــــــتان چې ښلوي
خدايه ! ماته لا ډومبی کړې هغه ډمونځ

د خودخواهی نتيجه :

ماته ســــــــوه يوه هـــــنداره په حـــسرت
ټوک ټوک پروته وه په خاورو کي لـت پت
ځان لـــــــــيدونکي تې په حـــــال سره ويل
راته وګـــــــــورئ په ســــــترګه د عـــبرت

تيك مغزی :

ولي لږ لوړتيا د وخت کړې هسي شوخ
چې په تيك مغزي دي زړه د هر چا پوخ
ليده سوي دا رنګ ډېر چې سي بېـــکار
غـــلي غـــلي ځي په لاره باندي چـــــوخ

لږ ظلم او ډېره وراني :

چيرته خدای که دي تر نورو کړي لږ غټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو په ظلم قـــــــورمې مه غـــــواړه پر بټ
څو ســـــتا نس و ته درلـــــــــوپرې تر هغو
زرکــورونه به خــپاره سي لـــــــکه مټ
د پزې پرچ :
ته چې تل کړې پر غـــــــريب د پزې پرچ
له تريخوالي ستونی سوځي لکه مرچ
يوه ورځ به په ســــــوکه دکـــــوم مړه
په غوږ واورې د مـــغزې د هډو خــرچ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتونستان
مشهور شاعران او ليکوال

دمخه مو وويل چې په پښتونستان کې سياسي شعور د لومړي جنګ په زمانه کې د هندوستان د آزادۍ د تحريك سره پيدا سو او پښتنو د هندوستان د آزادۍ په تحريك کې د خلافت او کانګرس او مسلم ليك د ډلو سره همکاري درلوده.
مګر کله چې هندوستان آزاد سو او د پاکستان په نامه يو بېل مملکت هم د پښتنو په ګاونډ کې جوړ کړ سو، نو دلته د پښتنو ليکوالو او پوهانو د خپل ژوند له پاره يوه جلا نظريه پېش کړه او هغه دا وه، چې بايد پښتانه د پښتونستان په نامه يو مملکت ولري، دغه حرکت پر پښتو ادب يو نوی اثر وکړ او ليکوالو د پښتو ادب مخه و دې خوا ته وګرځوله، چې په پښتنو کې د يوه آزاد او مستقل ژوند احساس پيدا کې، نو ځکه د پښتو ادب په دغه زمانه کې له درو خواوو څخه مطالعه کولای سو :
اول - شعر : چې اکثرو شاعرانو داسې اشعار ويلي دي، چې د پښتنو مظلوميت او د دوی د استقلال د حقوالي څرګندونه وکړي او خلك و دغو حقايقو ته متوجه کړي.
دوهم : اخباري نثر هم په مجلو او اخباروکې د دغه مقصد له پاره استعمال سو او ليکوالو سياسي او اجتماعي مضمونونه وليکل، چې له دې پلوه هم د پښتو د نثر ليکلو لمن پلنه سوه.
دريم : د پښتنو ځيني ليکوال داستان ليکلو ته هم متوجه سول، ځيني ډرامې په سياسي او ملي رنګ وليکلي سوې او ليکوالو لنډ داستانونه هم وليکل چې په دغه فن کې د انګرېزي او اردو ادبه څخه د داستان ليکلو پر فني تکنيك برابره استفاده وسوه، او د لنډو داستانو ليکنه په پښتو ادب کې ښه رواج سوه، په دغه وخت کې مورږ له دغو درو ډلو څخه مشهور ليکوال دغه کسان لرو :

سيد راحت زاخيلي، شاعر او سياسي ليکوال.
دوست محمد کامل، مؤرخ او ادبي نقاد.
سيد رسول رسا، پوخ شاعر.
حمزه شينواری، د پښتو غزل نامي شاعر.
سمندرخان سمندر، اجتماعي او مسلمان شاعر.
فضل حق شيدا، دردمند او نقاد شاعر.
اجمل خټك، هغه شاعر چې په شعر کې يې حرکت او نغمه او آرزو سره يو ځای سوي دي.
حبيب الرحمن قلندر، شاعر او داستان ليکونکی.
مير مهدي، پوخ داستان ليکونکی او شاعر.
ولي محمد طوفان، شاعر.
حسين بخش کوثر غورياخېل، د پښتو ژبو پوهاند.
ميان احمدشاه، سياسي ليکوال.
ماسټر عبدالکريم، د خدايي خدمتګارانو سياسي ليکوال.
عبدالخالق خليق، سياسي ليکوال.
روغ لېونی، سياسي ليکوال.
ډاکټر نورالحق، د پښتو د لغت محقق.
امير نواز جلياه، د سياسي انګار اخبار مدير او شاعر.
غني خان غني، نقاد وطني شاعر.
علاوه پر دغو مشهورو ليکوالو او شاعرانو ځيني پښتني مېرمني هم په دغه ادبي حرکت کې برخه لري :

(c) ketabton.com: The Digital Library

زيتون بانو، مبارك سلطان شميم، بشرابيګم، قانته بېګم او الف جانه خټکه.

اجمل خټك

په اوسنۍ زمانه کي که سړی په پښتو شاعري کي يو حقيقي شاعر او هنرمند غواړي نو به هغه اجمل خټك وي. نوموړی د حکمت خان زوی او په (۱۹۳٦ ميلادي) کي د خټکو په اکوړه کي زيږېدلی دئ.
دی پس د تحصيله په سياست کي ونښت او په وارو وارو انګرېزي او پاکستاني حکومتو ګرفتار کی. د اجمل ژوند له شور او ولولې څخه ډك دئ. د پښتونستان په ټولو سياسي او ادبي او فکري حرکاتو کي لويه برخه لري.
دی ليکوال دئ، شاعر دئ، خطيب دئ او هم سياسي فعال سړی او لېډر دئ. په کم مجلس کي چي اجمل خټك شامل سي خلك د مينې په سترګه ورته ګوري او د پښتو د اوسني فکري هيکل شمزۍ ګڼل کيږي.
د اجمل ادبي آثار څو جلده نشر سوي دي. د ده د منثورو آثارو مجموعه د کچکول په نامه په (۱۹٦۰ م) په پېښور کي چاپ سوه او د شعر يو دېوان يې په (۱۹۵۸ ميلادي) کي د پېښوره نشر سوی دئ، د اجمل د هنر د قدر ټاکلو له پاره به بهتره دا وي، چي د ده کتاب د غيرت چغه ولولو او په کومو الفاظو چي ده پخپله شعر معرفي کړی دئ، همغسې وپېژنو، دی د کتاب په مقدمه کي وايي :
"د ژوبل احساس يو څو څېړيکي، د زخمي غيرت يو څو غروځنګونه، د سړې وينې يو څو ترم څاڅکي، د اولسي جونګړيو څو شنه اسويلي، د غيرت يو څو ترخې تجربې، د سرمايې يو څو ناکړدي، او ورسره د پښتنولۍ احساس چي زما شاعر زړه يې د پښتني فن په سور رباب وترنګولو.
نو زه پوه نه شوم چي خوږې سندري ترې جوړي شوې او که سوي ساندي، ولي دومره پوه شوم چي د زوراورو د سپينو قبرونو، څربو مجاورانو واورېدل نو تندی يې تريو کړل او چي د غريب اولس او باشعوره طبقې تر غوږ شول نو په سوي زړه يې لکه د دسمالي ولګېدل".
په دي ډول د اجمل شاعري حقيقتاً شاعري ده، ځکه چي دی تل له خپل خوږمن احساسه څخه ږغېږي، د زړه درد او زخمي جذبات پخپلو اشعارو کي نغاړي او لکه چي د ده شعر سړی واوري نو په رښتيا متأثر کېږي او په هغه ډول چي يو فارسي شاعر ويلي و :

سخن کز دل بيرون آيد
نشيند لاجـــــرم بر دل

نو د اجمل شعرونه هم د زړونو سره کار لري. د غيرت چيغي لومړی شعر دا دئ :

د خوشحال د خاوري پورته يو نغمه شوم
بل مـــــــــثال په اباســـــين او تاتره شوم
سړې پوه شوې د غيرت چغه سور اور وم
چي تا خومره رانغړدلـم سره لـــــمبه شوم

اجمل طوفاني احساس لري او هر شعر يې د متروکې کار ورکوي، دا شعر يې هم د کتاب په سرکي ليکلی دئ :

ملـــــګرو تش په لوګـــــــېدو ونه شوه
ځئ چي لمبه شو دا خپل ځان اوسوزو
د نـــــــــوي ګل د خـــــــسمانې دپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اجمل د شعر او هنر مخه تش د قوم د ښېګڼې خوا ته ده، دی داسي شعر نه وايي چي د خلکو په درد ونه خوري، د ده هنر خو دا دئ چي شعر يې د ژوند له پاره استعمال کړی دئ، مګر شاعرانه هنر او د الفاظو ښکلا هم لري. نو ځکه هنري اثرونه هم هنري ښېګڼې لري او هم اجتماعي او اولسي دي، پخپله وايي :

"د احساس د زخمونو نه مي لا ويني څاڅي، د غيرت پرهارونه مي لا تازه دي، اوس ژوند راته هغسي ازغی ازغی دی او د زړه د د رباب تارونه مي شکر دی لا سست شوي نه دي، اوس هم چيرته چي زه او زړه مي يوازي شو نو داسي محسوسوم لکه چي د سوي نغمو باران کي ناست يم.

نو که ژوند او حالاتو دومره مهلت راکړی و چي دغه نغمې مي د اشعارو جامه کي ايسارولای شوې نو که خير وي د پښتونخوا د غرونو او ميدانونو نه به د غيرت يوه بله چغه هم واورېدی شي، د زړه د دنيا خوږې ترخې تجربې، واردات او جذبات يا د احساس جمال رنګ چي د غزلو، نظمونو، سندرو، قطعو او رباعياتو شکل کي وخت بې وخته ظاهر شوي دي هغه زه نه د خپل ژونده نه ښلولای شم نه د شاعرۍ نه".

د اجمل د شعر يوه خاصه ممیزه دا ده، چي دی د جامعې په لوړ قشرکي نه ګرځي، دی د يو همدرد انسان په ډول د محرومو طبقاتو په کوډغلو کي ورننوزي او د دوی ژوند ته ځير کيږي. د دوی بدبختۍ وينې، د دوی بدحال او فلاکتونه شمېري او د مقتدري ښايي طبقې پر خلاف پخپلو اشعارو کي سرې لمبې ځايوي :

غـــتان غـــتان نېکان نېـــکان پيدا دي
دوی خـــو له ځايه جنـــــــتيان پيدا دي
ځئ ! هـغي خـــــوارو له جنت وګـــــتو
څوك چي له موره دوږخيان پيدا دي

په يوه منظومه کي دغه طوفاني احساس په داسي ډول څرګندوي :

چي د څربو څربو جوشو شراب شي
د داسي وينې په سرخي مي قسم
چي د غټانو د سيخو کباب شي
د داسي هډ په بې وسي مي قسم
د پخوانو ځلو په شنو خزو کي
د اوسني رګونو مړوچو کي
چيرته توده وينه به نه وي چي و اوري
چرته کي سره وينه به نه وي چي و اوري
زه د وطن د شهيدانو وينه
يو ارماني غوندي فريادکومه
دا چي زمور د پلار نيکه په ځلو
نن دنګوي د خپل هوس اسونه
دا د ذاتي اقتدار وږي سترګي
چي لګوي مو په هر هډ چکونه
بس د دوی سترګي غړول غواړي
دکبر جام نسکورول غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اوسني پښتو شعر کي د ژوند څپې

شعر او شاعر د قومي ژوند هينداره ده، او ادب د ژوندانه د څپو سره مل روان وي. کوم اجتماعي تحولات چې پر انساني ټولنو راځي دغه تحول د ادب مخه وراړوي. د کومو ژبو ادب چې د تحولاتو او اوښتنو سره ملګری سي هغه نو مترقي ادب ګڼل کېدای سي. اساساً ادب يوه اجتماعي پديده ده، او د انساني ټولني د ژوند ډولونه او دودونه ښکاره کوي، او هر ادب چې د ژوندانه سره مل نه وي نو هغه ژوندی ادب نه سو ګڼلای. د پښتو ادب په خپلو منځنيو دوروکي د خوشحال خان له جنبش سره د پښتنو د سياسي او اجتماعي ژوندانه سره ربط پيدا کړی و، خو دغه حرکت وروسته د نورو ادابو تر اثر لاندي ضعيف سو، او زمور شعر د تصوف او ادبي هوسونو په کږو وړوکي هغه د ژوندانه د اصالت رنګ لږ څه بايلود.

رحمن بابا دغه حياتي متاع د مادې له چارچوبه يوه آسماني او روحاني فضا ته ورسوله، شيدا او حميد د لفاظۍ او نازکخيالۍ او ادبي هوسناکۍ په چاپير کي سره رادې خوا او هغې خوا ته کړه، او حتی ځيني خلکو خوارکی ادب د مضمضې او استنشاق او استنجا په احکاموکي راونغښت.

رحمان خو په خپله اقرارکوي، چې د بېخودۍ څپو لاهوکړی دئ او نه پوهيږي چې دغه جذبه اوکشش له کومي خوا دئ، وايي :

زه دا هسي دېوانه او مجـــنون چاکـــــــړم؟
له رواجه له رســومه بېرون چاکـــــــــړم ؟
نه پوهـيږم چې دا چاري په ما څـــــــوک کا؟
لـــېونی د خپل نګاه په افسون چاکـــــــړم؟
رحـمان هـــيڅ له خـــپله ځانه خـــــــــبر نه وم
چې دا هسي رنګ زبون او محزون چاکـــړم؟

د شيدا او حميد نازکخيالۍ او لفاظۍ خو د يوه صنعت کار په ډول بدي نه دي، مګر د دوی شعر د شعر له پاره و اوکوم لوړ هدف او عالي موخه نه لري.

خوشحال خو هم دغسي بزمي اشعار لري، اوکله د خالص فنان جوله مومي. مګر ژوند او اجتماع هم د ده په شعرکي خپله څېره ښکاره کوي، او د مقصديت لوري ته متمايل کيږي.

رحمان بابا هم مقصد لري خو هغه به لږ څه لاهوتي او آسماني وي مګر د شيدا او حميد هنر د هنر له پاره دئ. دوی صنعتکاران دي.

دوی ښکلي او رنګين لوښي جوړوي، مګر داسي لوښي چې د ژوندانه په چاروکي نه په کارږي او هغه چيني منقش لوښي دي، چې فقط د تزئين له پاره يې په صالون کي د هوس او آني خوند له پاره ايښولای سو، شيدا په شاعرانه تخيل کي د ځان له پاره د ماښام او هلال منظره داسي جوړوي :

تل په دا خمو ابرو په شهلا سترګـــو
د خپل يار شام و هلاله راشه کښېنه

مګر دی پخپله هم په دغه نازکخيالۍ قانع دئ او صنعت يې تش د صنعت له پاره دئ که د يار طبعی نازکي موزونه کاندي نو به ډېر خوښ وي :

نازکي د يار د طبعي کړه موزونه
اې شيدا نازکخياله راشه کښېنه

حميد له لړمونه خپل زړه د ترکو په لاس داسي راکاږي :

دا يې ښاخ د ګل سره په تلوار پرې کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

که له زړه سره مي ترکو لړمون وکړښ

وګورئ منظر څوني فجيع دئ او که د شاعر خوارکي زړه په داسي قساوت له لړمونه راوکړښ سي دا نه خوند لري او نه حسن منظر او د اجتماعي او انساني احساس له رويه به هم داکار د غندني وړ وي. مګر د شاعرانه هوسبازۍ له پاره خو يوه ښکلې موضوع کېدای سي، او حميد هم فقط په دغه جذبه ځان په داسي بلا لړلی دئ.

دلته د حضرت جامي يوه مشهوره لطيفه را په يادېږي : بابر وايي چي د ده معاصر او شاعر شيخم سهيلي دا بيت ووايه او د جامي څخه يې وپوښتل چي څنګه دئ؟

شب غـــم ګرد باد آهم از جا بردگـــــردون را
فرو برد اژدهای سيل اشکم ربع مسکون را

جامي چي واورېد، ورته وې ويل :

"وروره ! ته شعر وايي او که خلك بېروې؟"

د حضرت جامي دا انتقادي لطيف نظر د حميد پر دغه بيت هم واردکېدای سي، سړی چي دا بيت لولي نو حتماً مور مړی عاشق په وينو لڑند سړي ته تصويرکېږي، چي ظالم عاشق يې په سينه په قساوت ور ځيري، او د ده لړمون او زړه راکاږي، نو دا به څوني نفرت راوړنکې او مستکره منظره وي، مګر حميد پخپله شاعرانه هوسکاري کي دغه تشبيه هم روا ګڼلې ده. حال دا چي دغه شاعرانه قصابي په ژوند کي زمور هيڅ په درد نه خوري.

د پښتو شعر د منځنۍ دورې اکثر آثار همدغه فن تازي او نازکخيالي ده، چي له فارسي شعره سره اوړه پر اوړه ځي او دا هم د اجتماعي احوال او د سياسي جوړښت يوه ښکاره نتيجه ده، چي د فکر سير د ژوندانه له مجرا څخه منحرف کړ سي، او خلك د زور او جبر په وسيله له ژوندانه څخه بېزاره سي، نو به ضرور افکار لاهوت او آسمان ته متوجه کېږي، يا به تش هنر د هنر له پاره وي. ځکه د انسان فکري فعاليت خو هر وخت ځانله اول په ماده او ژوند کي مجرا مومي، مګر کله چي دغه لاره ترلې ووينې، نو ځانته حتماً نوري مجاري پيدا کوي.

د پښتو شعر له منځنۍ دورې څخه په داسي اجتماعي جريان کي نوي عصر ته راووت، او په نولسم قرن کي بيرته له ژوندانه سره مخامخ سو.

پښتون قوم د ايشيا يو فعال او ښورېدونکی او نه مړ کېدونکی قوم دئ، دوی هر وخت په تاريخ کي ځانته نوی مجاري موندلي دي او د ژوندانه له پاره پوره استعداد او تکړه توب لري. په نولسم قرن کي دوی د استعمار سره سختي ډغري و وهلې، او خپل حياتي او دفاعي استعداد يې ثابت کړ، دوی خپل ژوندانه ته متوجه سول، او د خپلي آزادۍ د ساتني يا بيرته ګټني په فکر کي ولوېدل.

د ژوندانه دغه جريان د دوی په ادب کي هم اثر وکړ او د پخوانو د ادبي هوسونو پر ځای يې خپل ادب ژوندانه ته توجيه کړ، نو ځکه د پښتو نوی ادب د ژوندانه مل سو او د قديمو صنعتي فن تازيو پر ځای د قومی ژوندون او آزادي خواهۍ او اجتماعي اصلاح او سمون زيات افکار د ادب په هنداره کي ښکاره سول.

په نولسم قرن کي د طباعت او صحافت فن هم په پښتونخوا کي رواج وموند. نثر او نظم دواړه خپاره سول، او پښتو د پښتنو له نهضته سره يو ځای د نوي ادب او نوي فکر او نوي ژوند په ډګر کي په وده او پرورښت کښېوته. دلته هوس او خيالبافۍ خپل ځای واقعيت او فکر ته ورکړ. ليکوال او شاعر دواړه د ژوندانه واقعي مسايلو ته متوجه سول. د لاهوت او آسماني فکر پر ځای د اباسين او خيبر او ارغنداو مناظر ودرېدل، د بڼ او زلف وکاکل پر ځای د قومي ژوندانه خبري د غور وړ سوې. دا تحول په پښتو ادب کي عصر او زمان او د تاريخ جبر قهراً راووست. د پيرمحمد او شمس الدين پر ځای يې مخلص او الفت ودرول، د رحمان بابا او حميد پر غولي يې اجمل او طوفان ميشته کړل.

دا تحول فکري او عقلي تحول و او مور ويلای سوای، که دا اوښتنه نه وای راغلې، نو به قوم له ژونده مړ ته تلای، اوکوم حرکت چي اوس په پښتنو کي د ژوندانه له پاره ليدل کېږي، د مړه ادب په مردګانيو اسويليو به بدل سوی وای.

ما دمخه و ويل چي زمانې په ادبي تحول کي خپل کار پوره وکړ، او اوسنی شاعر او ليکوال يې د ژوندانه نوو زوايواو ته ملتفت کړ. د مثال په توګه وايم : د چرګ ږغ د پښتنو په کليو او کورو کي اورېدل کېږي، او دغه موضوع له قديمه په شرقي

(c) ketabton.com: The Digital Library

شعر کي داخله سوې ده.
سعدي هم ويلي دي :

ای مرغ سحر ! عشق ز پروانه بیاموز
کان سوخته را جان شـــد و اواز نیامد

تر سعدي دمخه لا دا رباعي عمر خيام ته منسوبه وه :

دانی که سفیده دم خروس ســـــحری
هر لحظه چرا همی کند نوحه گـــری؟
یعنی که نمـــودند در آئینه صـــــبح
کز عمر شبی گذشت و تو بی خبری؟

د سهار له چرګه سره د قديمو شاعرانو مخاطبې په عشقي ماحول يا د تنبيه او وعظ په چاپېر کي محصوري وې، خو په شلم قرن کي د ژوندانه له تحوله سره دغه مضمون آفريني هم واوښته، او يوه عصري شاعر داسي و ويل :

ای مـــرغ سحر ! بنـــــالهٔ دورا دور
بیهوده مـــکن تو خویشتن رنـــجور
زینسان که گرفته خواب غفلت ما را
بیدار نمی شـــویم، تا نفـــخهٔ صور

پښتنو شاعرانو هم پخوا پر دغه موضوع باندي مختلف تعابير پيدا کړي او هر چا د خپل تخيل په چاپېر کي د سهار چرګ ته خطاب کړی دئ .
پر يوه چا چي شپه يې په خوښي کي سبا کړې وه، د چرګ ږغ د ماتم اواز سو، ځکه چي د وصل شپه يې لنډه کړه، نو ده په ډېره غصه داسي و ويل:

د سحر چرګه کومي دي غوځ سه
په ما دي لنډه د وصل شـــپه کړه
ښايسته ملاله، په ميو مسته وه
چي تا را ږغ کړ، دا دي خـــپه کړه

دا ځلوريځه د خدايرحم اکاخېل کندهاري ده، چي اويا کاله دمخه د کلات په سيوري کي اوسېدی، خو د دغه عصر يو بل شاعر عيسی آخوندزاده د مرغ سحري له اوازه ځخه داسي الهام اخيستی و، چي :

سحري مرغه په خـپل آذان کي وايي
ولاړپره ! هـخه کړه چي شپه سوه تېره
سپېدې وچاودې انوار يې راخپرېږي
رڼايي د ورځي ســـوله را برســـــېره

د شلم قرن پښتون شاعر اجمل ختګ چي د خوشحال د دېرې رونې ځراغ دئ په خپل يوه شعرکي د ميرې چرګ ته خطاب کوي، مګر دا شعر د عصر هينداره ده، او شاعر د شلم قرن په ژبه چرګ ته ګڼي دئ، اجمل په دې سندره کي د خپل قوم د محروميت نقشه راکاږي، او د خيال پرستۍ پر ځای واقعيت ته درومي، او خپل اولس ته د واقعبينۍ درس ورکوي. دوی خپل اصلي حال ته ملتفت کوي، او له غروره او تيرو تلو يې د ژوندانه واقعي حالت ته راکاږي. دی چرګ ته خطاب کوي، خو په دې خطاب کي د ژوندانه ډېر پټ، مګر واقعي ځنګونه روښانه کيږي، او ادب له ژوند سره نښلوي، اجمل ختګ د ميرې چرګ ته وايي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاته به سحر ښکاري خو پام ګورئ ماښام نه شي
ته به يې آغاز ګنې خو پام ګورئ انجام نه شي
ته به څه مستئ ګوره بې وخته را ځوان کړی يې !
ته به چا په بادو پرسولی روان کړې يې !

نو اې د مـــــيرې چـــــرګه !
په ماښام بانګونه مه وايه !

دا منم چې تا سره، څانګونه ښه درانه شته دي
دا منم چې ستا دوه خاروګان پاخه زاړه شته دي
دا منم چې ستا آواز تر ليري رسيدی شي نن
دا منم چې ستا په کرکره به څوك غولېدی نه شي

يادکړه ! دا څانګونه ګوري ستا د الوتو نه دي
يادکړه ! ګوري ستا دا خاروګان د جنګېدو نه دي
ستا دا لوی اواز به ګورې تاته مصيبت وي بيا
ستا دا کرکری به دي هم تاته لوی آفت وي بيان

نو اې د مـــــيرې چرګـــــــه !
په ماښام بانګونه مه وايه !

دا شعر خو لس کاله پخوا ويل سوی او د اجمل د غيرت په چيغه کي نشر سوی دئ او زمور په پښتو اوسني ادب کي هم اکثره برخه دغسي د ژوند خبري او د عصري ژوند نقاشي او نقادي ده، او دا حرکت په ټولو پښتنو کي مشترك دئ.
په افغانستان کي هم پښتو ادب له پنځوسو کالو څخه پر دغه خوا روان سوی دئ، ملا عبدالباقي افغان کندهاری کاکړ خپل کتاب تبيين الواجبات په همدغه رنګ د امير عبدالرحمان په عصر کي شروع کی، او د سراج الملة والدين امير حبيب الله په نام يې ختم کړ، دی وايي:

د ضياء په نور روښان وم، مقتبس سوم له سراجه
را اخيستی مي قلم دئ، ببلوم دين لـــــــه رواجه

په سراجي دوره کي څلويښت کاله دمخه، دغه د فکر مکتب سراج الاخبار وروزه، د مولوی غلام محی الدين افغان او مولوی صالح محمد او مستغني او سيد محسن کندهاري او عبدالهاد پرېشان، ډېر اشعار او آثار د عصر او زمان په رنګ رنګېدلي او پسوللي سوي دي، چې وروسته حاجي ولي محمد مخلص او بېنوا او خادم او الفت او رښتين او زمريالي او جلالي او سليمي او مجروح او نورو هم خپل ادب او هنر له ژونده سره ونښلاوه، او اوس مور ډېر څه داسي پښتو اثار لرو، چې د اوسني ژوندانه تجليات په ښکاره ډول پکښې بريښي.
فضل حق شيدا د دې مکتب يو تکړه استاد دئ، ده دېرش کاله پخوا د دغه ادبي تحول او د ژوندانه د ترجمانۍ افکار داسي پېودلي او د زمانې نوي شيان يې په دې ډول ښوولي وو :

(c) ketabton.com: The Digital Library

زلميه په وطن قربانېدل زده کړه بل شان
د مرګ چل دي خطا دئ مړه کېدل زده کړه بل شان
چې مړ شې نو ډېوې ته فايده ورسېده څه؟
پتنګه ته په شمع سوزېدل زده کړه بل شان
هر څېز چې زوړ شي خوند نه کړي، زړه خندا دي پرېږدي
بلبل له اې ګلابه ! خندېدل زده کړه بل شان
مور نشې تېولی جوړ اثر درکي نشته دئ
اې تاره ! د رباب ته تېېدل زده کړه بل شان
که نه وينې ليلا د آزادۍ نو ستا قصور دئ
ولاړه ده هغه خو ته ليدل زده کړه بل شان
تا داغ ونه وينځلی شو، لمن نه د غوټيه
شبنمه ! په ګلونو ورېدل زده کړه بل شان
تا زخم د لاله د زړه جوړ نکړای شو تر اوسه
ملهمه د شبنم ! ته لګېدل زده کړه بـــل شان
دا ولي د ښکاري زړه په تا نه سوزي بلبلي؟
پخپله پنجره کي ژړېدل زده کـــــړه بل شان
دښمن تا هغه شاني خس ګڼي ګورې ازغيه !
په سترګو د دښمن کي غړېدل زده کړه بل شان
ستا اور څوک سوزلی نه شي اې اور اورکيه !
که خس خاشاک سيزې نو ځلېدل زده کړه بل شان
جرس نه دئ شيدا، چې قافله دي نه کړي ويښه
که ځان جرس کوې، نو غږېدل زده کړه بل شان

په دې ډول په پښتو ادب کي د نوي ژوندانه څپې له پنځوسو کالو را په دې خوا په ښکاره ليدل کېږي، او پښتو ادب له حياتي تحولاتو سره اوړه پر اوړه روان دئ.
مګر دا حرکت په نوي ډول روزنه او تودونه غواړي، او داکار د قوم د پوهانو او ادبي ټولنو او ژبنيو مؤسسو دئ، چې څنګه نوی ادب په نوي فکر مجهز، د نوي ودي او پرورښت پر خوا روانوي.

د جرس غوندي فقط خوزول غواړي
يقين وکړه ! هره خوله کي تـرانه ده !

په اوسني پښتو شعر کي نوی څرک :

ادب د انساني ژوند يوه ښکلې پديده ده. نو په هره اندازه چې ژوند سره اوړي، او له يوه حاله بل حال ته تحول مومي، ادب هم هغسي د اوښتلو تر قانون لاندي په هره زمانه کي نوی رنګ، نوی خوند، نوی طرز او نوې ښکلا پيدا کوي. او دا چې د هري ژبې په ادب کي خاص خاص سبکونه او دورې موجودي وي، او هره دوره ځانته ځينې خصايص او ټاکلي ټکي لري هم يوه طبيعي خبره ده.ځکه چې هره زمانه د ځانه سره نوي نوي تعابير، او نوي فکرونه، او نوي اندېښنې راوړي او هرو مرو د اديب او شاعر فکر پخپل چوکاټ کي اچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هري ژبې ادب دغه مختلفې دورې لري، او هره دوره يې ځانته په ځينو خاصو خاصو ټکو له نورو دورو څخه ممتازه وي، او دا د ادب ډېر غښتلی جبر دئ، چې اديب بايد پر يوه زاړه عنعنوي ډول پاته نه سي بلکې د زمانې له سيره سره پر مخ ولاړ سي.

شعر او شاعري هم د انسان د ژوندانه له تحوله سره هرو مرو اوښتونکې او ګرزښدونکې او نوي ډول قبلوونکې ده. د مثال په توګه به د فارسي ادب تحول ته وګورو، چې لومړۍ مرحله او د سامانيانو په دوره کې څنګه و؟ او بيا د غزنويانو په دوره کې څنګه سو.

د رودکي الفاظ، اداء، د کلماتو تلقين، معاني او فکري اړخ بالکل د سنايي يا مولوي څخه بېل دئ. حال دا چې د دوی تر منځ دوه درې قرنه فاصله ده، اما هر قرن پر ژبه او ادب او فکر باندې دوني اثر کړی دئ چې فرق يې برالا ښکاري او هيڅوک له دې حقيقته سترګې نه سي پټولای. د پښتو شعر هم د اسلامي دورې له ابتداء څخه مختلفې مرحلې تيري کړې دي، خو دا څلور قرنه د (۹۰۰) هـ را په دې خوا ادبي تسلسل لري او د پير روښان تر ادبي اجتهاد وروسته د خوشحال خان او خټکو ادبي نهضت شروع سوی و، چې دا دئ لمن يې اوس مور ته رارسېږي. د پښتو نوې دوره او د ژوندانه په حرکت شروع زه د شلمې پېړۍ له ابتداء څخه ګڼم.

تر دې دورې دمخه پښتو ادب پر هغه لاره تګ کاوه، چې قدماوو ټاکلې وه، د شعر قالب هغه ګڼل کېدی، چې په مدون ادب کې تر خوشحال خان وروسته شاعرانو جوړ کړی و. په فکري لحاظ هم شاعرانو هغه لار غوره کړې وه، او د پښتو ادب د عشقي او اخلاقي او ديني اشعارو په غولي کې محصور و.

نوی يعنی څه ؟

کله چې د نوي صفت پر شعر باندې تطبيق کېږي نو زما په خيال تر دوو مقولو لاندې راتلای سي :

اول : د شعر معنوي اړخ او د تخيل چاپېر او هغه څه چې شاعر يې د خپل چاپېر شمزۍ ګڼي او د ده د هنر اصل او موضوع وي چې په فرانسوي يې فوند (Fond) بولي.

دوهم : د شعر لفظي اړخ او ظاهري چوکاټ چې قدماوو به د بلاغت اصول ګڼل، او په بديع، عروض او قافيه کې به يې بيانول، او دغه برخه يې په نوې اصطلاح فورم (Form) بولي. د پښتو شعر د شلمې پېړۍ دوره چې شروع کېده د محتوی او موضوع له پلوه يې ډېر نوي عناصر او د عصر او زمان سره برابر معاني او مطالب په ځان کې ومنله او د پښتو شاعرانو په ډله کې مور تر نيمي زياته برخه داسي شاعران لرو، چې د دوی د فکر مدار نوی و، دوی د کلاسيکو شاعرانو په ډول ځانونه د زلفو په کمند کې پېچلي، او دتورو څنډو په پېچ و خم کې ننښتي، او د ګل او بلبل سره همنوا او د ميو او د جام په دور او تسلسل کې ګرفتار نه کړل، بلکې د دغو مکررو او ډيرو استعمال سوو او پوده سوو مضامينو پر ځای يې ملي دردونه، اجتماعي او سياسي خبري بيان کړې. خو د دوی د شعر او وينا قالب هغه و، چې قدماوو ټاکلی و. يعنی دوی د عصر او زمانې نوي ترنګونه او زمزمې په هغه قديم رباب کې ورغولې، هغه غزل، او مثنوي او رباعي او نور پخواني قالبونه يې په نوو موادو او افکارو ډک کړل. که د دوی فوند نوی و، فورم خو يې زور و، نو ځکه د دې ډلې په هنر کې کوم ابداعی او تخليقي رنګ نه ښکاري. دوی د تبليغ او تلقين له پاره کومه نوې لاره نه کړه جوړه خو بيا هم د زمانې جبر د دوی په فکر او د شعر په محتوی کې ضرور دخل وکړ، او دا هغه زمانه وه چې پښتنو د استعمار ناوړې او کروړې ليدلې وې او په مشرق کې د آزادۍ وړمه چلېدله. لومړی بين المللي جنګ خلاص سوی و او په ټولو شرقي ملتو کې د آزادۍ جنګونه له استعمار چيانو سره په مختلفو شکلو شروع سوي وو او په افغانستان کې د استقلال د بيا موندلو مبارزه په کاميابي سره ختمېده.

د دغو شاعرانو څخه چې زمور په ادبي حرکت کې پيش قدمان دي د مثال په توګه : غلام محی الدين افغان، عبدالهادي پرېشان او سيد محسن کندهاری، سيد حسن او مخلص کندهاری، غلام محمد پوپلزی، سيد راحت او ميان احمدشاه، فضل محمد مخفي، او امير نواز جليا، او فضل احمد غر، او هلالي نومونه راوړلای سوای. دې ډلې خو په ادبي حرکت کې غټه برخه اخيستې ده. اما له قديمو زولنو او روایاتو څخه يې ځان نه دئ ژغورلی. ډايرکټ او نېغ خپل مقصد ته ورغلي دي او په هنر نمايي او ابداعي مرحله کې پل نه دئ ايښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه دغه ډله نه غندم، او د دوی فکري خدمتونه پر سر او سترګو منم، مګر کله چې د تاریخ ادب په تحلیلي او انتقادي مرحلو کې هنري آثار پلټل کیږي او پر فني معایرو باندې د هر هنري اثر قیمت ټاکل کیږي نو دغسې اشعار له نوي هنري ښکلا څخه تش ګانډه سي، او د زاړه سبك په ډله کې شمېرل کیږي. د مثال په توګه زه د هلالي یو شعر وړاندې کوم، چې د مضمون له پلوه نوی او خوږ او مفید او د نوی نسل یو ښکلی ارمان دئ خو د اداء او څرګندوني قالب او طرز یې هغسې کلاسیك او زوړ او مستقیم دئ :

ارمان یو

اې پښتنو پوه شئ دئ ستاسو نوم نښان یو
څانګې ببلي ببلي دي، دئ ستاسو د ذات شان یو
دا یوسف زیي، خټك، بارك احمدزیي ، مهمند
دا غلجي، شینواري، افریدي دئ خاندان یو
سیل نه جدا شوي مرغۍ لاړه شي د مرګ په خوله
راشئ د مقصود منزل لپاره کړئ کاروان یو
لاس یا پښې او سر بللي چا په بنیادم نه دي
ببل ببل اندامونه غونډ شي جوړ شي تړې انسان یو
اې پښتونه خدای لپاره، ولي ته یو نه شولې؟
خدای دئ یو، کعبه یوه ده، او ښکلی قرآن یو
ته که عزت غواړې په دنیا د نور اقوام په شان
ستا دي په دنیا د سیاست کي وي میدان یو
اې پښتونه ! پوهه که خپله ځان د وروړلې په راز
ستا ګټه یوه ده په دنیا کي او تاوان یو
کاشکي چې زما په ژوند پښتون یوه منګول شولې
زه هلالي بس په زړه لرمه دا ارمان یو

وګورئ دا د نوي شعر یو اعجاز دئ، دا بیتونه دېرش کاله پخوا ویل سوي وه، مګر اوس دغه ښکلی ارمان د پښتونستان په نامه عملي مبارزې ته راوتلی دئ، نو تاسي له شاعره بله څه معجزه غواړئ؟
مګر ښاغلو لوستونکو !
دلته زما مقصد د نوي شعر اجتماعي او سیاسي موقف نه دئ، بلکي یوازي د هنر ارزښت څېړنه او پلټنه ده، چې دا مقصد به په آینده کي پسې وخېړم.

په پښتو کي نوی هنري حرکت څنګه شروع سو؟

د افغانستان د استقلال جنګ د ایشیا په دې برخه کي یوه ویښوونکې او خوځوونکې پېښه وه، لکه په ډیرو اجتماعي او سیاسي او مدني چارو کي چې تحول راغی، دغسې هم د فکري او ادبي اړخه یوه مثمره او اغیزه ناکه حادثه وه.
د پښتونخوا په ختیزو برخو کي چیري چې د خوشحال او رحمان او شیدا غوندې بلبلانو خواږه ږغونه اروېدل سوي وو، اوس هم د پښتو شعر نشوونما بیا مونده، او د ادبي تجدد مکتب لومړی پلا هلته وپرانیست سو، او دا د پښتونخوا هغه ښکلې سیمه ده، چې شیدا په زاړه نامه "بګرام" داسي ستایله :

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بګرام خـــطه دلـــکشه
د بهار د خاطـــر خـــوښه
سرترپايه رنګ امـيز دئ
رنګينه خيال انګـــېز دئ
په بهارکي يې د ګـــــــلو
ناريې اورم د بلبـــــــــــلو

د دې ښکلي ادب خيزي سيمي زلمو د اروپايي مترقي ادبه سره اشنايي ومونده، او په پښتو شاعري کي يې نوي افکار، نوي الهامات، او نوي اسالیب رواج کړل، د دې ډلې پېشوايان : سيد رسول رسا، فضل حق شيدا، برق کاکاخېل، سمندر، غني، بيزاري، طوفان، اجمل او سليم غوندي شعراء دي، او دلته مونږ اوس د دې ښکلي بوستان رنګين ګلونه لکه : الفت، ببنوا، لايق، شپون، رشاد، ريدی، محمود، پسرلی لرو.

نوو شاعرانو د خپل هنر فورم او فوند دواړه نوي کړل، اوکه يې هم کله د پخوانو قوالب او هنري اسالیب وساتل په هغوکي يې لاس وواهه، او په نوې ګډه او نوي پسول يې وښکلل، او په دې ډله کي د الفت ابتکار دا و، چي نثر ته يې کټ مټ د منظوم او پيودلي شعر رنګيني ورکړه، او زه چي د ده منثوري وړې ټوټې لولم ګمان کوم چي نثر نه دئ، بلکي د يوه خواږه او پيودلي کلام په څېر خوندکوي.

د (رسا) د بېلتانه سندره دېرش کاله پخوا ويل سوې ده، خو هم يې موضوع نوې شانتي ده، او هم يې اداء نوې ده :

د اوښکو سترګي خون فوارې وې
ګرد و غبار وې، توري ايرې وې
په تندر سوي، سرې ايرې وې

رېزې رېزې وی، او تر او تر وی
يو چي په غيږ مي ښکلی دلبر وی

بيدياوي ، تړي هولناکي غرونه
تاوده بادونه سوي رېګونه
ناست په غرموکي، سره وي ډاګونه

شونډې مي وچي، سوی ځيګر وی
يو چي په غيږ مي ښکلی دلبر وی

په پای کي دا شاعرانه آرزو د ژوندانه او د مينې په خطرناکو مناظروکي داسي پای ته رسوي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مرګ سلګۍ مي ورو ورو راماتي
خولې راماتي، ساه رانه پاتي
رانه وې پاتي دنيا ميراتي
ژبه مي بنده لاړ مي نظر وی
يو چې په غېږ مي ښکلی دلبر وی

لحد کې پروت وی، زېر مخ کفن کې
د ژوندون ساه مي، نه وی بدن کې
دردمنده زړه مي خاموشه تن کې
مرګ مي په ژوند وی، کاش چې خبر وی
سرته ولاړ مي، ښکلی دلبر وی

په دې ادبي تحول او تجدد کې د سید رسول رسا د خیبر له خوا ماښام، د شیدا د ماښام سپورمۍ، د برق د زړه ټوکرۍ، د سمندر ارمان دئ زلمیتوبه، او د الم پر څوکه ناست یم، د بیزاري ستړی له دنیا نه یم، د یادولو وړ دي.
د برق کاکاخېل د زړه ټوکرۍ، داسي یوه ټوټه ده، د قالب او فورم له مخې آهنګي او مستي او طنان وزن هم لري او محتوی یې هم د احساساتو په تصویر کې بده نه ده او یو څو ټوکرۍ یې دا دي :

غر په لوري په ګلزار
بهار راغی په یو وار
ټول وطن سو لاله زار
بلبلان په چغار سر
بوراګان اوتر اوتر
نوی شان دئ په دنیا
غر په سمه په ښېدیا
نن چې ټول عالم مسرور
ځیني سم، ځیني مخمور
دا یو زه یمه مجبور
په زړګي مي دم په دم
غلبه ده د تورتم
آشنایان رانه ټول ځي
نوی غم راته راځي

دلته شاعر تول او وزن او آهنګ هم ساتلی، او نوی قالب یې هم اختراع کړی دئ. د سمندر ارمان دئ زلمیتوبه ! هم دغسي موزونه او پېوډلې ټوټه ده . دی وایي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

آرمان دئ زلميتوبه !
په تېرېدو وې چي راپاڅېدم له خوبه
آرمان دئ زلميتوبه!

چي را په خود سوم مازديګر و
په پرېوتو کي زېړی نمر و
دغه د توري شپې خبر و
ببغمه خوب د غم بستر و
چي مي تر غوږ شولو آواز د نی له چوبه
آرمان دئ زلميتوبه!

وروستي شي پاته چي ويده شي
په حرکت باندي کړه وړه شي
ديدن په پټو سترګو نه شي
پرونۍ ورځ به بيا رانه شي

که مي سيلاب جوړ شي د اوښکو له څخوبه
آرمان دئ زلميتوبه!

د سمندر بله ټوټه شعر د الم په څوکه دوه دېرش کاله پخوا جوړه سوې ده، چې د شاعر د نوي قالب جوړولو او موزوني او مضمون آفرينې ښکاره دليل دئ، د منظر نګارۍ کمال دئ، د لوړ تخيل معراج دئ او نتيجه يې يوه محکوم قوم ته ډېره مفيده او مثبته ده او تر اوسه لا هم د محکومو او مظلومو پښتونستانيانو پر حال صدق مومي، د دې نوي شعري ټوټې آغاز داسي دئ :

لکه والوزي له شوقه		آسمانونو ته کوتره!
چورلنډي خوري په فضا کي		کوزه ګوري ګرزي بره
مرغ دل مي دئ خوشحاله		سيل کوي د غره له سره
د دنيا له درد و غمه		دا ساعت دئ ناخبره
د الم په څوکه ناست يم		زه له ټول جهانه پورته

په دې آسماني سير او جګوالي کي چې د شاعر تخيل ډېر لوړ الوتنګ کوي او خپل ټول مناظر په اوږده بيان او مهارت تصوير کوي او د منظر نګارۍ اوج ته رسېږي، نابېره ځانته ملتفت کېږي چې زه خو مريې يم، او پردو ته په سلام ولاړ يم، نو دا ټوله خيالي اعتلا او لوړېدنه د ځان غولونه ده، وايي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

د الم په څوکه پورته		هوش مي راغی چي غلام يم
په تندي مي لاس تړلی		شپه او ورځي په سلام يم
دا ټوپونه په درياب کي		که وهم ماهی د دام يم
په دنيا کي پست ترينه		لکه خس د راه عام يم
د الم په څوکه ناست يم		زه له ټول جهان نه پورته

د پښتونستان په متجددو شاعرانو کي چي د خپل زړه درد او
سوځنده احساس په ډېر ادبي قدرت ښکاره کولای سي، او د خونين زړه ټوټې د شعر په پاڼکيو کي نغښتلای سي، بېزاري دئ. نه پوهيږم چي دا تکړه او خوږمن شاعر څوك و؟ دی لږ پېژندل سوی دئ، خو دېرش کاله پخوا د پېښور د خيبر په مجله کي د دې مقتدر او متجدد ويونکي ويناوي خپرېدې، چي ما يې هغه وخت د پښتو شعر په تاريخچه کي نوم او آثار ليکلي وه.

دا شاعر کاملاً پسيمست او بدبين ښکاري خو په وينا کې قدرت او مهارت او طراوت او جدت سته او لکه د فارسي کرماني د آرمانجن زړه د اورنيو احساساتو ترجماني ښه کولای سي. (ستړی له دنيا نه يم) د ده يوه ډېره د آرمانه او احساسه ډکه ټوټه داسي ده :

مه راوړه ساړه لاسونه ستړی له هر چا نه يم		ستړی له دنيا نه يم
اې د صبحدم نسيمه ! ما سره نخرې مه کوه		ټوکي مسخرې مه کوه!
خوښ يوازي ځانته د سروګلو د بستانه يم		ستړی له دنيا نه يم
څو به غږوې مطربه ! خوږ سرود په زير و بم		لا مي زياتوې ته غم
ستړی د فراق د سرودونو نه بې شانه يم		ستړی له دنيا نه يم
اې د آسمان ستورو ! ولي بد بد راله ګورئ نن		ډېر له قهره ښورئ نن
ځای په زمکه نشته ځما، ليري له آسمانه يم		ستړی له دنيا نه يم
اې ښايسته سپوږمۍ ! په سر مي ولي غمازي کوې		لا مي دلسوزي کوې
زه دغم لمبو وژلی ټول ستی سوزانه يم		ستړی له دنيا نه يم
اې د يار د مخ جلوې ! چي بيا جلوه نما نه شې !		بيا عکس نما نه شې
پرېږده چي جل بل ستی لمبو کي د هجرانه يم		ستړی له دنيا نه يم
نور دي زه پاللی نشم، چوه زړګيه چوې که ته		مره زړګيه مړې که ته !
بس کړه ځان کړه صبر زه موږ شوی له جانانه يم		ستړی له دنيا نه يم
اې د يار بې مثلو، دل آزارو، دلربا سترګو !		نورو د آشنا سترګو !
روی د رب دئ ، نور په قهر مه ګورئ پښېمانه يم!		ستړی له دنيا نه يم
روی د رب دئ، اې رقيبه ! ما پوري خندا مه کوه!		لافي د آشنا مه کوه !
يار دي ستا نصيب شي زه بېل شوی له جانانه يم		ستړی له دنيا نه يم

تر دې ځايه ما د لري پښتونخوا د نورو شاعرانو د هنري تخليقاتو څو نمونې در وړاندي کړې، او تاسي ګورئ چي دا شاعران د شعر په نوو قالبونو کي خپل افکار او د زړه دردونه تويوي، د دوی د فورمالیزم تخليقي احساس هغوني نوی دئ، لکه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

فکري الهام اخیستلو او محتوی مواد چې یې په نوي ډول او سینګار سره اوډلي دي. اما دا ډله په دواړو خواوو کي بیا هم معتدله ښکاري، په دوی کي د تحول افراطي میل نسته، د شعر د توټو یو له بله تناسب او توازن ساتي، او بیخي ځانونه له قالبه نه باسي او ښایي چې د نوی شعر ځینې افراطي لېوالان دغسې اشعار اصلاً نوي هم ونه ګڼي، مګر زه یې د نوي شعر طلیعه بولم. ځکه چې نوی شاعر د فورم په ټاکلو او جوړولو کي آزادي او په ژبه کي نوي تعابیر او تراکیب هم پیدا کولای سي.

اجمل ختټك :

د لري پښتونخوا په نوې ډله کي یو ډېر ځلاند ستوری او د لوړې قریحې خاوند اجمل ختټك دئ. د ده د فکر برېښناوي د پښتنو کوډغلي روښانه کوي، د ختټکو د عالي استعداد او رانږه محیطه او د اکوړې د تاریخي پلوشو رڼاوي او ځلاوي اوسني عصر ته رارسوي. زه چې به کله د لنډې سین پر غاړه د کابل د رود ځپاندو نځاوو ته په پسرلي ناست وم او د اکوړې منظر به ښکاره کېدی، نو ماته به د خوشحال خان نغمې د شیدا او هجري سوځوونکي کریږي، او د اجمل د دردناکو ږغونو انګازې نسیم راوړې او ما به په اکوړه کي د خوشحال له ځنګه سره اجمل لیدی، چې په شلم قرن کي په عصري رنګ او نوې ځلا د اکوړې پر کنډوالو برېښېدی.

دی خپل اشعار" د ژوبل احساس یو څو څړیکي، د زخمي غیرت یو څو غورځنګونه د سړې وینې یو څو ټرم څاڅکي، د اولسي جونګړیو څو شنه اسویلي، د غاوره اقتدار یو څو ږندې لتي" بولي.

خو زه اجمل د پښتنو د زړو ارمانو ممثل، د دوی د مړو او ځپلو غورځنګونو ژوندی کوونکی، او د پښتني ټولني د اجتماعي روح او احساس پېژندوی ګڼم، دی په نوې ژبه او نوي ډول د قوم مړ احساس راخوځوي. د خوشحال خان د کهاله د ادبي روایاتو حامل دئ. د خوشحال خان جاویدانه نغمه اوس د پښتونخوا په فضا کي د اجمل په رباب انګازې اچوي، دی وایي:

د خوشحال له خاوري پورته یوه نغـــــمه یم
بل مشال په اباســـــین او تاتـــــــــره یم
سړې ! پوه شوې د غیرت چیغه سور اور وم
چې تا خومره رانغړدلم سره لمبه ســـــــوم

د غیرت چیغه، د اجمل د ابتکاري ادب او ابداع ډېره ښه پلوشه ده. دی څپانده روح لري او د هر استعماري ټونګ مخالف دئ. که مور د پښتونستان په پښتنو کي د دوی د اروا د زوایاوو ترجمان وغواړو، باید اجمل یې بهترین پوهاند و څرګندوي وبولو. اجمل وایي، او ځنګه ښه وایي :

ملـــــګرو ! تش په لوګـــــیدو ونه شوه
ځئ چې لمبه شو، دا خپل ځان وسوځو
د نوي ګل د خســـــمانې له پاره
دا زوړ خوږلی ګلستان وسوځو

په سیاست کي خو اجمل د پاکستاني استعماره سره جنګېږي، او دا وروست نظام ورانوي، مګر د هنر د نوي ګل د خسمانې او پرورښت له پاره هم ښایي چې زاړه او وراسته اسالیب وغورځوي. د اجمل په چیغه کي ځینې د نوي ادب شهکارونه هم سته، چې د اوسني ادب د ویاړ شمله ده. د شهیدانو د وینې فریاد، د زلمي سندره، احتجاج، چرګ ته، بین مار ته، ګوجر، جنت، زلمي شاعر ته، د زمانې باد ته، پېغله داسي هنري شهکارونه دي، چې د شاعر د غورځنده زړه څخه راوتلي اوازونه دي.

د هنر، د جمال، د وینا، د ښکلا، د احساس، د تلاطم او د یوه مواج روح مظاهر دي او هرکله چې د پښتو د اوسني شعر او هنر خبري کېږي، نو د اجمل دا آثار یې په سرکي درپږي.

په یوه مسته نغمه کي د خیبر د شپېلۍ ږغوونکي سره داسي خبري اتري کوي، د زړه اور او طوفاني احساس داسي پکښې ځایوي، چې د پښتونستان مجاهد ملت ته د ژوندانه ږغ دئ :

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا د سوز و ساز پردو کي
سړې لمبي دي را خورې کړې
ستا سوري سوري کوڅل کي
څو نغمې دي راخورې کړې
دا سړه سړه فضا دي
په نغمو لمبه - لمبه کړه
دا اوده - اوده دنيا دي
په دې بين نغمه - نغمه کړه
په دې چپه چپايي کي
غلبلې اودې پرتې دي
د دې تړو په ځولۍ کي
زلزلې اودې پرتې دي

په دې بين دي ګوتي کېده !
دغه غرونه په ګډا کړه
د خيبر د سر دپاسه
تندرونه په ګډا کړه
راشه پورته يو تپه کړه
له دې سوي - سوي غره
اې بين ماره د خيبره !
اې شپونکيه د تور غره
راشه پوك وهه دا بين دي !

په دې بين کي راته واړوه
يوه داسي ګرمه لوبه
چې اوده زړونه راويښ کړي
له دې ډېره غرقه خوبه
لېونی اتڼ شروع کړي
ورته کانې بوتې ژاړي
په ګډا شي په نڅا شي
غرونه - غرونه، غاړې - غاړې
د دې بين له سوي سازه
سره بڅري رابهر شي
د سړې ويني رګونه
دلته بيا په ګډا سر شي
د دې تړو د رغو نه
بيا مستياني راپيدا شي
د واورينو سر درو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيا بجلياني را پيدا شي
لړزنده شي په دې ساندو !
هر خبر او ناخبره !
اې شپونکيه د خيبره !
اې بين ماره د تور غره !

راشه پوك وهه دا بين دي

د سندري په پای کي وايي :
د دې ټولو سوو زړو نه
شين لوګی پکښې لمبه کړه
ګڼي اور د غيرت واخله
دا خيبر پکښې لمبه کړه
بين ته داسي پوکی ورکړه
يو کړه لوړي او ژوري

په يو تار دي زړونه ګډ کړه
که نږدې وي او که لري
دغه شاړي - شاړي کندي
ټول خوږه - خوږه نغمه کړه
دغه جاړي - جاړي غر دي
يو پسته - پسته ورمه کړه
د آواز سره دي تاو کړه
د تنکو زلمو روحونه
د نغمو سره دي ګډ کړه
د نوخيزو قدمونه
پردې ټولي تار په تار کړه
که څو لر وي او که بره
اې بين ماره د خيبره !
اې شپونکيه د خيبره !

راشه پوك وهه دا بين دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو نوی شعر په افغانستان کي :

په افغانستان کي د استقلال له غورځنګه سره د ژوندانه نوی تحول په ښه توګه لیدل کیږي، د دې نوي حرکت تاداو تقریباً یو قرن پخوا د مرحوم امیر شېر علي خان له زمانې څخه د ستر سیاسي مفکر سید جمال الدین افغاني په ظهور او په بالاحصار کي د نوي مکتب په تأسیس او د شمس النهار په تنکیو پلوشو په خپرېدنګ ایښود سوئ و، خو دوهم جنګ او د استعمار هولناکو څپو دا ملي حرکت د فکري خوا څخه پر ځای ودراوه او زمور ملت له استعمار سره په خونینه مبارزه لاس پوري کړ او تقریباً نیم قرن وروسته، چې کامل سیاسي استقلال بیا مونده سو، نو هغه فکري تجلاوي بیا زمور د وطن پرکوړغلو چې له استعمار سره په اول او دوهم جنګ کي بالکل وراني سوې وې بیا وځلېدې. مور استقلال وګاټه، خو پنځوس کاله له فکري پرورښته او له نوي پیشرفته څخه تر شا پاته سوو. په اول او دوهم جنګ کي زمور ملت دا ثابته کړه، چې مور دا وطن ساتلای سو، او د خپل ملي موجودیت له پاره د دنیا له قویترین او غښتلي سازمانه سره هم ډغري وهلای سو او په هر حال کي خپل مرکزیت خوندي کوو.

مګر یو قوم چې د خپلي خاوري او خپل ملي موجودیت په دفاع کي یو قرن توره په لاس پر ډګر ولاړ وي او په سرو وینو کي رغړي، هغه خو د فکر او ادب او علم او پوهني، روزني ته ابداً فرصت نه مومي.

په پښتو ادب کي د شعر په شکل، نوي افکار او نوي محتویات په زاړه فورم او ډول، مور لومړۍ پلا په سراج الاخبار کي وینو، چې عبدالعلي مستغني او غلام محی الدین افغان او پرېشان او مولوي صالح محمد او ملا محمد افغاني نویس ځیني اشعار نشر کړي دي په دغو ادبي ټوټو کي د وطن خواهۍ نوی احساس، د افغانیت او ملیت نوی فکر او د عصري تجدد نوی حرکت ښکاري او دغه افکار وه، چې د استقلال د نهضت له پاره یې ډېره ښه زمینه برابره کړه.

زما ښه په یا دي، چې د استقلال تر جنګ دریې څلور کاله دمخه ښاغلي پرېشان (اوسني داوي) د بلبل ګرفتار مسدس په فارسي ژبه نظم کړ او د استقلال له پاره یې د خپل ملت آمال د یوه ګرفتار بلبل په ژبه تصویر کړل او عین دغه ادبي ټوټه مرحوم مولوي صالح محمد په پښتو نظم کړه. دې دواړو ادبي ټوټو پر باسواده طبقه باندي داسي اثر وکړ، چې د بلبل ګرفتار منظومه به په کندهار کي له سراج الاخباره څخه ښځو هم لوسته. هغه وخت زه کوچنی وم، خط مي نه سوای لوستای، مګر دغه ادبي سندره مي اورېدلې وه، چې ښځو به په پښتو لوستله، خو سترګي به یې له اوښکو ډکي وي، ساړه اسویلي به یې له سینو څخه راختل، اما د وطن د آزادۍ قدر په دغو مجلسو کي پېژندلی و.

په دغه وخت کي ځیني نور پښتانه شاعران هم وو، چې د دوی آثار په سراج الاخبار کي نسته، مګر نوي افکار، او د وطن مینه، او ملي درد لري، لکه دکندهار سید محسن آغا او ملا عبدالباقي افغان، چې خپل پښتو کتاب یې په تقریباً پنځه زره بیته کي د امیر حبیب الله خان په نامه اهداء کړی دئ او ډېري اصلاحي او انتقادي او ملي برخي لري.

د وزن او ظاهري فورم په لحاظ خو د دغو شاعرانو په آثارو کي کوم نوی توب نه ښکاري، مګر په فکري لحاظ یې مضامین نوي دي، له نوي ژوندانه څخه رغیږي، ملي دردونه بیانوي او غواړي چې شعر د ژوندانه سره ونښلوي، او په دې لاره کي مؤفق هم دي، ځکه چې هم د دغې ډلې مقبوله سعیه او نېکمرغه فکري حرکت و، چې د استقلال د بیا موندلو هنګامه یې توده کړه، او مور کورټ د دوی دغه ادبي جهاد او زیار نه هېروو، او هم د دوی دغه فکري سلسله ده، چې په اوسني نسل پوري نښلي.

د استقلال تر بیا موندلو وروسته، مور ډېر شاعران لرو، چې په فکري لحاظ نوي، او د فورم له خوا زاړه دي. مګر په دغه ډله کي مرحوم حاجي ولي محمد مخلص د خاص امتیاز خاوند دئ. دې سړي په کندهار د پښتو شعر نوی مکتب پرانیست، ډېر اصلاحي او انتقادي اشعار یې و ویل. خو ده ځان د پخواني مکتب په قید او وزن پوري پوره مقید نه کړ. خپل افکار یې په داسي قالبونو کي واچول چې د عوامي ادب له اوزانو څخه اقتباس سوي وه.

مخلص د عصر او زمان سره ځیني تعابیر او نوي استعارات هم ومونډل، چې د ده شعر ته یې عوامي رنګ هم ورکړ، مثلاً په بین المللي لومړي جنګ کي چې عثماني ترکانو د اروپا حکومتونو ته د المان په طرفداري د جنګ اعلان ورکړ، مخلص له دغي واقعې څخه په عشقي دنیا کي الهام واخیست، او داسي تعبیر یې ځني جوړ کړ :

(c) ketabton.com: The Digital Library

تورکان سترګو دي بيا ماته اعلان کړی د جنګ
مژګان دي زما و قــتل ته ولاړ تيار يکرنـــــــګ

په دغه ډله کي مرحوم سيد حسين سيد او رحمت الله پوپلزی، او ملا جانان کاکړ او خواجه محمد زهير هم د يادولو وړ دي، ځکه چي د دوي اشعار هم اصلاحي او وطني رنګ لري او مسلسلاً ما څوکاله په طلوع افغان کي خپاره کړي دي.
د اعليحضرت محمد نادرشاه غازي تر دورې وروسته، چي د پښتو ادب کوم انکشاف او پرمختګ موندلی دئ، دا تنکی نهال يې ښه روزلی دئ. پخوانی انجمن ادبي او اوسنی پښتو ټولنه د پښتو شعر او ادب روزنتون سو، او په هغه دوره کي مور لکه : امين الله زمريالی، غلام جيلاني جلالي، قيام الدين خادم، صديق الله رښتين، عبدالرؤف بېنوا، ګل پاچا الفت، عبدالشکور رشاد او محمد ارسلان سليمي غوندي شاعران لرو، چي په فکري لحاظ خو بالکل نوي دي، اما د فورم له پلوه د دوی په ځينو آثارو کي د نوي توب څرکونه وينو.
د پښتو ادب په تاريخ کي دغه درنه ډله د پخواني کلاسيک مکتب او نوي مکتب تر منځ د منځګړو حيثيت لري. دوی د ګذشتګانو د ادبي روایاتو حامل دي او هغه زور ادبي ميراث يې نوي نسل ته رانقل کړی دئ او د پښتو ادب تاريخ هيڅکله د دوی مشکوره سعيه نه هېروي. دوی د خپل عصر او زمان سره مطابق په پښتو شعر کي نوي افکار داخل کړل. دوی نوی نسل له وطني او ملي حقايقو سره آشنا کړ، دوی د پښتو شعر تنکی نهال وپاله. په ادبي روایاتو کي چي کومه وظيفه د دوی پر غاړه وه، هغه يې په لکه غاړه اجراء کړه او د پېشقدمی عالی مقام يې وګاټه. مګر د زماني سير خو نه درپېږي او په کاينناتو کي د تجدد او تحول قوي لاس خپل کارکوي او د بشر فکري کاروان هر وخت روان ښکاري، نو که اوس د نوي نسل زلمي ځانته د نوي شعر نوې دنيا جوړوي، دوی هم په هغه اندازه حق لري لکه دېرش کاله پخوا چي مور ځانونه له پخواني فکري جريانه څخه وايستل او په پښتو شعر کي مو اصلاحي او انتقادي او عصري مواد داخل کړل.
يو مثال : پنځوس کاله پخوا زمانه در په يادکئ ! هغه وخت چا پښتو شعر نه وايه، اوکه به څوک په دې فکر کي و، هغه به د خوشحال او رحمان پيروي کوله، د تورو زلفو په شکنجه کي به نښتی او د بانو په غشي به ژوبل و، د شعر موضوع او محتوی يو زرکاله دغسي راغلې وه او خلک هم پر دغه لار تلل، يو وار نابېره غلام محی الدين افغان د شعر مجراء بدله کړه او په (۱۳۳۳ هـ . ق) يې په سراج الاخبار کي دکوم خيالي محبوب د اوږدو زلفو او ښکلي مخ او هلال آبرو د ستايني پر ځای د وطن په حقيقي دلبر پوري داسي سندره وويله :

زړه زمـــا ډك دئ له مينې د وطـــــــــن
خپل وطن ماته عزيز دئ تر خپـــــــل تن
هر يو ګل مي د وطن پر ما ډېر ګران دئ
ترکشميره، تر پاريسه، تر لـــــــــــندن
که څه ډېر دي په جـــــهان کي عـــــزتونه
ډېر عـــــزت دئ په خـــدمت کي د وطـن

دا موضوع اوس مور ته نوې نه ښکاري او ښايي چي ډېر زلمي يې د بيان يو مبتذل او فرسوده طرز وبولي، او له فکري پلوه يې هم خوښ نه کړي، مګر په هغه وخت کي بالکل نوې وه، او ښايي چي شاعر به د پخواني خيال او د زاړه مکتب پيروانو ډېر غندلی وي، چي ولي د رحمان بابا لاهوتي فکر، په داسي زميني موضوع تبديلوي؟
نو که مور په هغه وخت کي مرحوم افغان د دغه نوي فکر په راوړلو نه پرکوو، بلکي د نوي عصر په فکري تحول کي دی د پيش قدمانو په ډله کي درووو، ښايي چي د اوسني عصر نوي شاعر ته هم دغه حق ورکو.

تر پنځه ويشت کلن سير وروسته :

ما دمخه وويل چي په پښتو شعر کي د فکري تحول نوې دوره له (۱۳۱۰) شمسی کال څخه شروع سوې وه، او دا د يوه قرن څلورمه برخه تر ۱۳۳۵ ش پوري زه د منځګړو دوره ګڼم ځکه چي دغه دوره د پښتو دکلاسيک شعراو نوی غورځنګ تر مينځ د يوې منځنی دورې حيثيت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې دوره کي د پښتو شعر فورم او قالب هغه د خوشحال او رحمان او د دوی د ملګرو په څېر و. خو فکر يې نوی و. د شعر محتوی اوښتې وه. وګورئ ! پيرمحمد کاکړ د بېلتانه سندره په داسي قالب کي اچولې وه :

هجران انبارکړه پر مـــا غـــــمونه
ضعيف نحيف سوم په تن زبـــونه
اور مي بيا بل سو د زړه په خـــونه
ګهی ژړا کړم، ګهی آهـــــــــونه
اوښکي مي څاڅي له ځيګرخونه
رنځ مي زياتيږي له دې تاخـــونه

ښاغلي الفت په همدغه پخواني قالب کي نوی فکر څای کی، او وې ويل :

ګرانه وطنه ! څومره زيبا يې!
جنت د ځمکي، زړه د دنيا يې!
ښاغلی تاج ته، د ايشيا يې!
وړ د ستايلو ته په رښتيا يې!
لعل وګوهر شته ستا بدخشان کي
تمدن خور شو، ستا په جهان کي

پنځه ويشت کاله پښتو شعر د پخواني فورمالیزم په غولي کي خالپوڅي وکړې او د منځګړو تر ډلي وروسته په دې وروستيو پنځو شپږو کلو کي يوه زلمی ډله شاعران راووتل، چې دوی په فکري خوا کي له منځګړو سره لږ و ډېر مشترک دي. خو د شعر فورم او قالب او تعابير او د اداء طرز يې نوی ښکاري. له دې ډلي څخه ښاغلی سليمان لايق د خاص استعداد او ادبي ذوق خاوند دئ او د ده نوی کلام د پښتو شعر د نوي غورځنګ شمله ده. هم فکري ښکلا لري، او هم د فورم او آهنګ په ايجاد کي ګړندی ښکاري. لايق لکه نوی زلمی چې دئ افکار يې هم زلمي دي، کوم هيجان، کوم تلاطم او غورځنګ او نڅا چې د ده په اشعارو کي د اورنيو احساساتو سره ښکاري، د ده د شعر او نوي فورم او آهنګه سره اوړه پر اوړه ځي او زه داسي ګمان کوم چې د آرامو زړو او مړاو احساساتو خاوندان به هم له خپله شعره سره خوځوي، او په خپله شعري نڅا کي يې له ځانه سره ملګري کوي.

دلته به زه د نمونې په توګه د ده يو پيغام راوړم. وګورئ څوني څپان، او څوني متلاطم او څوني تود دئ، دی وايي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېر به شي کلونه مګر نه به شي
زما دغه رنګيني تراني هېري
محوه به شي ګور زما
کلی زما کور زما
مړ به نه شي اور زما
تل به زه ږغيږمه شعرونو کي له کامه سره

دا د بيداری او ناپوهۍ څپې
زما هنر او مينه غرقوی نه شي
تل به د افغان بچي
پورته د بامیان بچي
ښکته د سيستان بچي
لولي زما سندري له آغاز او له انجامه سره

زما ولس به يو شي هيوادونو ته
زما د تراني ښکلي رنګين ګلان
تل به د پښتو ژبه
دا د لويو غرو ژبه
دغه د درنو ژبه
ساتي زما شعر له فکرونو او مرامه سره

د شعر په پای کي لايق د زلميتابه تودې هيلي د خپل هنر د ښکلا له پاره رابولي. د ده يقين دئ چي دا هنر نه مړه کېدونکې او جاويدانه او پايېدونکې پديده ده او هرو مرو به دا ږغ د فضا په تېپدونکې څپه کي آيندګانو ته رسېږي او خپل اثر به کوي، او وايي:

اې زما د ځوانۍ تودو هيلو !
ننوزئ د شعر ابدي کـــور ته !
يوسئ ولولې زمـا
پټې زلـــــزلې زمـــا
اوښکي قافلې زما
وروسته زمانو ته د دې عصر له پيغامه سره

ببنوا خو ما د منځګړو په ډله کي شمار کی، خو دی کله په نوي اتن هم کښېوزي او د فورم او فوند په لحاظ نوی شعر هم وايي. د ده يوه خوږه او د شعر ښکلې ټوټه په خپله د دغه تجدد او نوي توب حکايت کوي، او د زمانې نوی رنګ او نوی څېر راښيي. دی وايي :

نسيم و وې د ګل غوږ کي :
بدل ســـــــو د يارانې رنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

غـلی شـــــانته انقلاب دئ
بدلـــــوي د زمـــانې رنګ

ورســـــــره نوي رنګـــــــونه
رنګا رنګ تحـــــــولـــــــونه
کړي سمسور به راغ راغـونه
موسم بل دئ هـم بـــل سوی
د بلبل د ترانې رنـــــــــــګ

دړي وړي زوړ ربـــــاب دئ
زړو مطرب خانه خـــراب دئ
زوړ آهنګ د روح عذاب دئ
نوی ساز نـــــــــوی آواز دئ
هم سو نوی د نغـــــمې رنګ

هنر تل له صفا او سپېځلتوبه سره مل وي. د ښکلا سره ټول وي او هر څوني چې دغه سپېځلتیا او ښکلا ولري هغومره يې فني ارزښت زیاتېږي، نو هنرمن تل په ځیرو سترګو د زمانې کرغېړنو ته هم ګوري او نه غواړي چې د هنر ښکلې او ځلانده څېره په ځینو تورکنو آلوده اوککړه سي. ښېنوا د نوي نسل توجه دې نکتې ته هم راګرځوي، او وايي :

طلايي جام کي د دور
شراب زهر دي په دور
نوشېدل يې غواړي غور
ای سرمست زلميه پام کړه!
بل راز سو د ميخانې رنګ

په دې ډول په پښتو شعر کي زموږ د نوي شاعر کار ډېر نوی دئ او دا ښکاره ده چې نوی شاعر خپل پراخوالی او نضج ته نه دئ رسېدلی او دا يې د صباوت اوکوچنیتوب دوره ده، مګر دکانټ په قول د هر هنر ايجاد د هنرمن په ظريف استعداد پورې اړه لري او انساني دماغ د نوي روش او نوي لارې د پيدا کولو يو خارق العاده استعداد هم لري. نو که زموږ زلمي شاعران او د نوي طرز لېوالان په آينده کي د فورم او فوند په لحاظ د نوي شعر نوزاد وړونکي په ښه ډول وروزي ګمان کېږي، چې پښتو به په ادب کي د نوي هنر له پلوه هم يوه غني ژبه سي. د اوسني پښتو نوي شعر د تنکي بڼ يو بل غوړېدلی ګل فاراني دئ. دی په فارسي کي هم د دغه مکتب له پيروانو څخه دئ په پښتو خو لږ شعر وايي، اما هغه لږ يې هم ښه ښکاري. فاراني په نوي مکتب کي د فورم په لحاظ پخواني اسالیب نه هېروي، او د وزن او حتی قافيې په ساتلو کي محتاط او متوسط ښکاري. د ده يوه ټوټه شعر د غرو غروب نومېږي خو زه يې د نتيجې له پلوه عنوان د تېر يادونه ږدم. په دې پاڼکي کي شاعر د پښتني عوامي ژوند مناظر پېش کوي او بيان يې هم خوږ دئ، د فکري جولان ساحه يې بالکل وګرځنې ده او د فوند په لحاظ هم دا ټوټه بې ارزښته نه ده، دی وايي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سپينو دنګو غرونو شـــــاته
زيړی لمر ورو - ورو پټيږي
ځما هېر او مړه يـــــــادونه
بيا مي زړه کي ژوندي کيږي

مازيګر ورمه چليږي
رڼوي وحشي ګلونه
سردرو کي انګازه کړي
د زړو شپنو ږغونه

د کېږدۍ مېرمني پيايي
سيرلکي په شنو وښو کي
يو کمکی ماشوم ويده دئ
کيږدۍ لاندي په ځانګو کي

د نښترو ګڼ ځنګله کي
ګډونکي سندري وايي
صحرايي ښايسته پېغله
يو جونګی اوبو ته بيايي

د نښترو ځانګي باندي
ځنګلي مرغان چغيږي
د تور تم راتګ نږدې دئ
ګوندي دوی ورنه ډارپږي

د شفق وروستۍ وړانګي
مچوي اوچت ښاخونه
زه لا هسي چرت کي ناست يم
زوروي مي تېر يادونه

د همدغه نوي مکتب يو بل شاګرد شپون دئ، دا زلمی هم د نوي فکر استعداد لري او د خپل فکر د ښکاره کولو له پاره د بيان نوې لاره پيدا کوي. د ده نظر د نوي شعر په شاوخوا کي د يوې نوي شعري ټوټې څخه ښکاري، چې همزولي شاعر ته خطاب کوي او داسي وايي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته د دنيا د کاروانو جرس
د تمدن د قافلو زنځير
ستا له تېز بينو سترګو ډډه کوي
د هندوکش د آسمانونو کجير
هو ! ته شاعر يې، قلم سم چلوه !

چې يې د چا د لاس رانجه خوړلي
د هغو ږغ ستا له ستوني راځي
چې په کړاو په ببکسۍ کي ومري
دا ستا قلم يې جنازې پسې ځي
چې يې چاړه په سينه ننوځي
ستا له قلمه ورته آخ وځي
هو ! ته شاعر يې، قلم سم چلوه !

شپون نوی شاعر، د نوي دنيا جوړونکی، او د نوي فکري تحول ښکاره کوونکی، او د سبا پر ژوندانه يو مؤثر عامل ګڼي، او د همزولي شاعر د خطاب په پای کي وايي :

د ژوند د ذوق پاکه هنداره ته يې
ته چې خندا کوې دنيا خاندي
ته نو چې خاندې رښتينی خانده!
که نه تاريخ به بيا پر تا خاندي
ستا د هري اوښکي په اثر
يو زرګلونه په سبا خاندي
هو ! ته شاعر يې، قلم سم چلوه!

د نوي شاعر د فکر يوازنۍ جولانګاه د خپل وطن ځمکه ده، دی که څه وايي، نو له خپله ژونده وايي د وطن له هري پرښي او بوټي څخه د مينې الهام اخلي. د شپون د کوکچي سيند، يوه داسي سندره ده چې د نوي شعر د دغه مزيت نمايندګي ښه کوي او دا وطن جنت ورته بريښي دی وايي :

کوکـــچه زما د آرزوګانو د اســـــــــــــــرو سيند دئ
چې خاخکي خاخـکي د پامير له سپينو څوکو رغړي
په هر يو خـــاخـــکي کي د دې وطـن هســـتي غوټه ده
وچه يې مه کـړې، دغه خاخـــکي دي همېش بهـــېږي
په هر يو مـــــوج او هر شـــکن کي يې رازونه ګـــورم
او تا ته وايم : د اســـــــــرو او امـــــــيندونو ربه !
زه خـــــــبر نه ومـــه، چې مـــــاته دي جنت راکـړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نوي شاعر نهايي آرزو دغه ده، چي د يو لوی افغاني مليت په تکميل کي لومړنی وي. د ده پخوانی تاريخ مخي ته پروت دئ، او زلمی نسل د دغو پاڼو لوستونکی ګڼي.دی غواړي چي تل دغه ځاځکي د يوه بهاند سيند په څېر سره راټول و وينې او هيڅ ځاځکی د لوی افغان د فياض او عظيم سيند له غيږ څخه وتلی نه وي، نو د دې سندري په پای کي دغه هيله داسي د شعر په څپو کي راوړاندي کوي:

چيرته د زړه د کوم يو ګوټ نه مي لمسون غوندي دئ
چي ، هه ! شپونکيه له دې ګاري ځان لاهو کړه سيند ته
بيا چي لاهو شې لمبو مه وهه کرار پرېوځه
يوه قطره شه غاړه ورکړه د همزولو سره!
زه وايم سينده ! صبر وکړه، زه خوبونه ګورم
او تا ته وايم : د اسرو د امينډونو ربه !
زه خبر نه ومه چي ماته دي جنت راکړی

داسي ښکاري چي د نوی شاعر متلاطم او ځپان احساس د يوې ورکي آرزو په تلاښ کي دئ، او زلمی نسل د يوه زړه خوځوونکي خوب تعبير ته لالهانده دئ. دغه هيله، دغه آرزو او دغه ښکلې غايه څه ده؟ د دې نېکي آرزو تعبير د نوي مکتب د يوه بل ملګري ښاغلي شفيق له خولې واروئ، چي په څه قوت او ټينګار يې په ښکاره کولو کي بريالی سوی دئ :

پاکي جذبې د زړه انګړکي د وحدت لـــــــــــــرم
مخکي څراغونه بل د دين او د ملت لـــــــــــــــرم
زه يم چي مغزو کي رڼايي د حـــــــــــــــقيقت لرم
اوس مي که لاس تش دئ نور څه نشته يو همت لرم
شته ده په تاريخ کي د مېړاني افســـــــــــــانه زما
ما کي ټګي نشته هـــــــــــو مي هو او نه ده نه زما
کور مي د زړه تود دئ په تودو جذبو د قام د عشق
زه د قام په مينه کي ختلی يم پر بام د عشق
مينې دي پښتونه ! ننبلولی يم په دام د عشق
غواړم په قومي عروج رڼا،تياره ماښام د عشق
ګرزم سرګردانه لی په لی قومي اختر پسي
ځان سره چي راوړي سعادت هغه سحر پسي

ټينګ اميد کېدای سي چي زلمی شاعر به دغه ملي اختر ضرور ووينې، او د ده هنر به و دغه لومړي معراج ته د رسېدلو له پاره د يوه محرك په ډول رهبري وکړي. هيله ده چي نوی شاعر به تل د خپل کاروان سره د يو خورو ږغي حادي په ډول د ملي سعادت پر لوري ملګری وي او د ده تودې نغمې به تل د تلونکو په زړو کي ګرمي پيدا کړي او دا به يې يقين وي، چي د ده هنر په ملي يون کي د لاري روښانه څراغ، او په زړه پوري توښه ده او ښاغلي الفت ډېر ښه ويلي دي چي :

ښه آهنګ چي په هر ساز کي وي موزون وي
که رباب وي، که شپېلۍ وي، که داريا وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ننـــــــــدارو او تماشـــــــو ته بـــه ورځـــمه
د هـــــر چـــــا په ساز چې ښـکلي په ګډا وي

د دې څېړنې په پای کې زه د یوه بل نوي معاصر شاعر ښاغلي رشاد یو بل شعر هم راوړم. دی بالکل نوی فکر لري مګر قالب یې هغه پخوانی دئ، ځکه چې د ده آثار فکري ارزښتونه لري نو د نوي شعر په صفت کې ښه ځای نیسي او د ده هنر د هنر له پاره دئ نه مجرد هنر :

پیره !

پیره ! ته شمع زمورږ د تورو شپو یې
شمع څه چې زمورږ کسی د لېمو یې
بویه دا چې دي د پښو خاوري رانجه کړو
وایي: ته مسیح د جهل د ړندو یې
وایي: ژوی ستا په دم د غفلت مړی
وایي: ته حکیم د زړونو د رنځو یې
وایي: ته د بغل ځای په مینه نیسې
وایي: ته خضر د دې تورو تیارو یې
وایي: ته ایسته کوې کین له کوڅلو
وایي: ته پوه د ناولو زړو په ولو یې
وایي: ته ښایسته کوې صفا زړونه
ته صیقل د دې زنګنو آئینو یې
وایي : ته د بدبینې د لچ توتیا یې
ته اکسیر د خودخواهۍ د مرضو یې
چې جنون د مال و جاه و نسب بیایې
وایي : ته عامل د هغو اورادو یې
چې پېښېږي د حرص و سودایي ته
وایي : ته دافع د هغو اندېښنو یې
چې ترې زېږي خرخښې نفاق جنګونه
ته ماهر د هغو بدو رواجو یې
وایي : ستا په لاس بې لاري پر لارکېږي
وایي : ته مصلح د کینو او کږو یې
وایي : ستا په خوله دښنه سره رغېږي
وایي : ته د دوستۍ تومنه د تربرو یې
وایي : ستا په تلقین زړونه سره ننبلي
مکمل د عشق د ټولو طریقو یې
وایي : ستا له ساه سیځي ریښې د رخي
ته طبیب د وړو سترګو تنګو زړو یې
زړونه کاږې د دني مینو له ړغومو[1]
وایي : نوح د نفسانیو توپانو یې
وایي : ستا په تربیت بخل ورکېږي
وایي : ته مصدر د رحم او پېرزو یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي : ته ژړوې سترګي پر مظلومو
په زړه غوځ د نامېنديۍ له اسوېلو يې
وايي : ستا د خولې ګوله ده په شريکه
ته خواخوږی د بېوزلو بې اسرو يې
وايي : ته د خدای پر پار د حق له پاره
تېر د ځان تر هر مطلب هري ارزو يې
نه د مال تمه لرې نه د سر بېره[۲]
وايي : ته آزاد له دې ټيټو قيدو يې
ته د هر نمرود ميرځي تمه لېځي غړې
په طلب د حق راضي په سرو لمبو يې
وايي : سر نه کږوې طاغي طاقت ته
ته قاطع د ظلم او جبر د ريښو يې
وايي : ته د باداریۍ له نامه بد وړې
ته له کبره تښتېدونکی په مزلو يې
وايي : ستا سره همېش دا کرامت سته
چې خارق د رياکارو د پردو يې
د رښتيني سړيتوب مزله تې بيايې
ته هادي د ژوندانه د قافلو يې
که رښتيا وي دا چې وايي ستا په باب کې
رارسېږه ! ته مهدي د دې قومو يې
په جلوکي دي اصلاح ځي د ټولنو
ته خاوند د بختورو قدمو يې
مور به ستا تر قدم لاندي ايږدو سترګي
ته رهبر د دغو ورکو کاروانو يې
مور به ستا مخ ته سرونه نذرانه ږدو
ته لايق پيره ! د لوړو دروږو يې
اوکنه نو خوشي ټګ يې نور څه نسته
ټولوونکی د نذرو د شکرانو يې
غوړولي دي دامونه د سلوک دي
ته صياد د څو سپېدلو پښتنو يې
د عزت او د ارام بتان په زړه کې
په دې څه سي چې محراب ته پر سجدو يې
چې له ښې ارشو دي زړه بل لور ته نه ځي
د نس مينې بترکړی تر څاروو يې
د خداي مينې ته دي زړه په څه فارغ سي
ته چې غرق د مال په مينه تر غوږو يې
شپه و ورځ پر تسپو شمېرې غوا و غېلي
په لمانځه کې په تلاښ د ښايستو يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه د ذکر په پلمه پټوې سترګې
ډوب په فکر د پټو د پالنړو یې
په ښکاره مراقبه له خلګو ګوښې
پټ اخته د شکرانو په حسابو یې
په ښکاره وچه ګوله په اوبو نغړې
پټ سېځلی تر سېرمو په نعمتو یې
په ښکاره ژغورې نظر له خپلو ښځو
پټ لګیا د نامحرمو په ورنو یې
ښکاره نورو ته غندې د دنیا مینه
پټ مخکښ د دې لیلا د لړونو یې
ته په سپینه ورځ لوټې کلي کورونه
په جامه کې د پېرې مشر د غلو یې
خدای دي وساتي قومونه ستا له غدره
ته پیر نه یې مبتکر د شعبدو یې

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library